LIBRARY OF CONGRESS
0 013 444 196 3

MAR 1959
"Bound To Please"

کلیدِ افغانی

یعني

منتخبات د نثر او د نظم د پښتو ژبي

مُرَتِّب

پادري هیوز صاحب ساکنِ پښاور

په مفیدِ عام مطبع کښې د لاهور پاهتمام

د منشي گلاب سنگه اینډ سنز چاپ شه

دویمه ځله

سنه ۱۸۹۳ عیسوي

140

فهرست د کلیدِ افغانِي

نثر

صفحه

۱ کتابِ گنجِ پښتو ۵

۲ تاریخ د سلطانِ محمودِ غزنوِي ۱۲۹

۳ تاریخِ مرصّع ۲۰۵

نظم

۴ قصه د شهزاده بهرام ۲۴۱

۵ انتخاب د دیوان د عبد الرّحمان ۲۹۷

۶ انتخاب د دیوان د خوشحال خان ۳۲۹

۷ چمنِ بي نظیر ۳۶۱

ملحقات

۸ انشاء د پښتو ۴۰۳

کتاب

گنجِ پښتو

تصنیف دَ مولوي احمد

ساکن دَ تنګي تپه دَ هشت نګر

کتاب
گنج پښتو

حکایت اول

په یو ځای کښې یو عالم وه چه ډیرې زړې زړې چیرې ئې ټولې کړې
وې او په پګړۍ خپلې کښې ئې نغښتلې وې ظاهره خلقو ته غټه پګړۍ
ښکارېدله او په کښې ئې له زړو چیرو نه بل څه نه وُو + یو وار په وقت
د لوې سحر کښې لا تیاره وَه چه مدرسې ته روان شه دپاره د دې چه له
خلقو نه څه حاصل کا + ناګهانه په لار کښې یو غل ولاړ وه عالم ته
ئې لاس ور واچاوه پګړۍ ئې تر وتښتوله + چه غل څه قدر لاړ شه
نو عالم ورته آواز وکړ ویل ئې چه څوانَ دغه پګړۍ ولټوه که پس له
لټولو ئې وړې نو بې شکَ ئې وړه ما در بخښلې دَه + غل په وړاندِ زغلیده
لیکن هغه پګړۍ ئې وسپړودله که څه ګوړې یو ګز کپړه په کښې مښلې شان

وختَه نوري ټولي زړي چيرې وي + له قهرَ ئي هغه کز ټوکړه هم وغورزوله
عالم ته ئي ووِ چه خداي دِ خوارکړه زه دِ په دي زړو چيرړو له کارَ
و ويستلم دومره نه شرميږي چه په داسي ټکيِ سره دِ زه وغلولم + عالم
ويل چه ته ډيره ښَه خبره کوي ليکن دا کار ستا په حق کښ لوي
نصيحت شه چه ته پوه شي چه د دنيا کارونه ټول دَ لباس او دَ ټکيِ دِي
او چه څوک په دنيا مينه کوِي هم داسي به غلبرِي +

حکايت دويم

يوه ورځ محمودِ غزنوِي بادشاه دربار ته راوُوت يوه مرغلره ئي په
لاس کښ وه + يو وزير له ئي ورکړه ور ته ئي ووِ چه دا مرغلره ستا
په فکر کښ دَ څومره قيمت لايقه دَه + هغه ووِ چه صاحبَ ځما خو
يقين دي چه که په کروړونو روپئيِ وِي هم دَ دي مرغلري قيمت به ترِ زيات
وِي + بادشاه ورته حکم وکړ چه باري ماته ئي کړه + وزير ووِ چه
دَ بادشاه له خزاني نه يوه پيسه کميږي نو ځما زړه ورسره کډوډ کيږي
بيا داسي مرغلره به څه رنګ ماتومَ + بادشاه ووِ شاباش ته ډير
نيک خواه سړي يي نو ښه خلعت ئي وله ورکړ او مرغلره ئي ترِ ولخستله +

بیا ئې یو ساعت سره نور مجلس کاوه + بیا ئې هغه مرغلره یو بل امیر له
ورکړله او ویل ئې چه وایه چه څومره قیمت به دا مرغلره لرې + هغه وو چه
بادشاه مهربان ځما په فکر کښې خو د نیمې بادشاهئ قیمت لرې + بادشاه
ورته وو چه باري ماته ئې کړه + هغه وو چه توبه قربان د شم داسې
مرغلره به هم څوک ماتوې هډو قیمت ئې مه حسابوه لیکن داسې بنائست
او رنګ او صفائې به بیا چرته پیدا شې ځما لاس وله کله ورځې چه دا
ماته کړم دا خو د خدای ټول عمر د بادشاه په خزانه کښې لرې +
بادشاه هغه له هم خلعت ورکړ او مرغلره ئې تر واخستله + داسې هر چا
له چه به ئې ورکوله هغه به هم په دغه ترتیب سره ثواب کاوه +
ناګهانه وارد ایاز راغې چه ایاز له ئې مرغلره ورکړه نو ورته ئې وو چه
وایه تا ته ددې مرغلرې قیمت څومره ښکاریږې + هغه وو چه ځما صاحب
دا معلوم ځیږدې چه ډیر لوې قیمت لرې نو زه به څه ووایم + بیا بادشاه
ورته وو چه ماته ئې کړه + هغه دستې دوه کاږې راواخستل په
یو ئې مرغلره کیښوه او بل ئې پر دا وکرزاوه هغه مرغلره ئې پوټې پوټې
ذرې ذرې اوړه اوړه کړه + چه دا کار ئې وکړ هلته امیرانو او وزیرانو

وربانديِ شور جوړ کړ ټولو ووِ چه دومره احمقي او داسي ناداني او دا رنګ
بي‌وقوفي او دا شان بي‌باکي لکه تا چه وکړه هيڅوک به و نه کړي + يو به
ويل چه قسم مِ دِ په خداي وِي که به دا کار کافر هم چري وکړي +
بل به ويل چه سوګند خورمَ که دا معامله دَ دښمن له لاسَ چري
شوي وِي + بل به ويل چه خداي بو که ليوني هم په دي خبره راضي شي +
هر يو له خپلَ خپلَ قهره سره مناسب خبري وکړي + چه دوي ستړي
شول او شور ئي لکوټي کَم شه نو اياز ورته وُ ويل چه اي اميرانو
اي سردارانو ستاسو عقل او پوهه او هوښيارتيا منم او په دي هم
قايل يم چه دا مرغلره لايقه دَ ماتولو نه وَه ليکن زه بت‌پرست نه وم
چه په کانړي به مِ مينه کوله او دَ خاوند خبره به مِ نه منله او که
رښتيا وايم خو مرغلره تاسو ماته کړله څکه چه دَ بادشاه حکم له مرغلري
نه په زرځلَ بهتر وه هغه تاسو رد کړ + بادشاه له اياز نه ډير راضي
شه او وزيرانو ته په غضب شه ليکن اياز په ډيرو زارو او عرضونو
له بادشاه نه ددوي امان وغوښت + نو بادشاه دوي وبخښل او
اياز له ئي ډير عزّت ورکړ +

حکایت دریم

نقل دي چه یو دولتمند سړي وه ولي په هسي شان شوم وه چه له ډېرې شومتیا نه به ئې غوښه نه خوړله او که چرې به ئې ډېره مینه ورته وشوه نو له قصاب به ئې سلامت سر دَچېلي یا دَ کډورې په خدمتګار باندِ را وغوښت + نو په هغه سر به ئې دَ غوښو مینه ماته کړله + حاصل دا چه ټول عمر ئې دغه ګذران وه + یوه ورځ ورته یو آشنا ووِ چه څه سبب دي چه په اوړي ژمي ته بې له سرَ بله غوښه نه خوري + ده وُوِ چه دا مِ ډېره خوښه دَه څکه + هغه وُوِ چه دا خبره نه منم خو که څه فایده په کښې وِي هغه راته وُوایه ولي رښتیا وایه ستا دِ قسَم وِي چه دروغ وُ نه وایي + ده وِ چه دا حال خو ما هیچا ته نه وایه لیکن چه تا سوګند راکړ نو اوس به ئې درته وُوایم خو ته ئې چا ته مه وایه + هغه وُوِ چه څه له به ئې وایم + ده وِ چه رښتیا خبره دا ده چه سر ډېر ښه څیز دي + یو خو دا چه نرخ ئې معلوم وِي نوکر په کښې هیڅ نه شي پټولي + بل چه پخلي کوِي نو که نوره غوښه وِي خو دي ترِ په غلا خوړي شي او که سر پخوِي نو ترِ نه شي خوړلي څکه چه که سترګه

پټه کړي معلومیږي او که بل ځاي کم شي سړي پر پوهیږي نو دا وسواس م هم نه پیدا کیږي چه څه به تر کم کړي + او بل داسي کار دي چه سر خورم نو دَ ژبي بیل خوند وي او د سترګو بیله مزه وي او دَ غوږونو بل شان او دَ مغزو بل رنګ + داسي په هر ځاي کښ بیله بیله فائده ده نو قیمت پر لږ لګیږي او کار تر ډیر حاصلیږي + نو په دا سبب م سر خوښیږي او بله غوښه نه راوړم + هغه و چه قسم دَي چه ستا په شان شوم م تراوس نه دي لیدلي +

حکایت څلورم

سړي له مناسب دي چه بي له دلیلَ په تش ګمان سره دَچا په ویل باندِ باور نه کوي او که کوي نو نقصان به ئي دَځان شي او خدا به ور پوري دَ جهان وي + لکه دَ هلکانو یو استاذ وه چه ډیر بدخوي وه او هلکان به ئي مدام وهل + نو هلکانو سره یو بل ته وویل چه ډیر تنګ شُو راځئ چه څه علاج وکړو چه له دي بلا نه خلاص شُو + او په دوی کښ یو مشر وه هغه وُو چه که تاسو څما خبره منئ نو بي شک علاج به ئي وشي + هلکانو ورته وویل چه هر څه چه ته وایي هغه

څمونږ قبول دِي + ده وُوِ چه مصلحت دا دَي چه صبا له سبق له ورشُو
نو هر يو به استاذ ته وايُو چه استاذَ خير دِ وِي رنګ دِ زيړ دي جوړ نه يي
که څه سبب دي بيا نور څه مه وايئِ + چه صبا شه هلکان به مدرسي له
تلل او هر يو به استاذ ته ويل چه استاذَ خير دِ وِي رنګ دِ زيړ دي +
استاذ به ورته ويل چه هيڅ نشته زه خوجک جوړ يم + ليکن په زړه کښ
به يئ لکوټي وسواس پيدا کيده + ورستي له ټولو نه هغه مشر هلک راغي
چه استاذ ته يئ کتاب وغوړاوه په تلوار سره يئ بيا پورته کړ + استاذ
ورته ويل چه هلکَ ولي دِ کتاب پورته کړ + هلک ورته ويل چه صاحبَ
هرڅوک خپل خپل مطلب کوِي او انصاف په هيڅا کښ نشته او نه زړه سوي
څوک لرِي ته داسي ناجوړ يي چه زه دِ خراب حال او زيړ رنګ ته وګورم نو
زړه مِ خوږ شِي څما سبق دِ هيڅري ونه شِي خو چه ته جوړ شي نو دغه څما
سبق سبق دَي + استاذ اوچت پاڅيده او په ډير قهر سره کورته روان شه
ښځي ته يئ آواز وکړ ويل يئ چه راشَه دروازه لري کړه + هغه په خوشحالئِ
راغله دروازه يئ لري کړله څه کوِي چه استاذ غمجن زهير ولاړ دي +
ښځي ورته ويل چه خير دِ وِي ولي داسي بي وقتَ له مدرسي نه راغلي +

استاذ ورته ویل چه ولي ته ړنده یي نه ویني چه دا څما څه حال دي دَ پردو
خلقو را باندِ زره سوي پیدا شه او ستا دومره کینه او بدنیّتي ده چه په کور
کښې یي او څما دَ حال پوښتنه دِ چري کړي نه دَه او نه دِ دا قدر راته ویلي دِي
چه دا ولي + هغي ورته ویل چه زه څه وُوایم ماته خو جوړ ښکاریږي +
هغه وُوِ چه اي دښمني ښځي په دي دِ لا هم خوا یخه نه دَه + هغي وِ
چه ته وار وکړه زه به آئینه راوړم ته خپل مخ په کښې وګوره هیڅ نشته
وسواس څه له کوي + استاذ ویل چه څه ته ورکه شه ستا آئینه دِ ورکه شي
لکه چه ته یي داسي به ستا آئینه وِي مه ئي راوړه نه ئي ګوړم خو زر شه
کټ راته جوړ کړه چه پرِ پریوزم + هغي لا په کښې څه فکر کاوه ده بیا قهر
ورته وکړ او ویل ئي چه ډیري خبري راته مه کوه خو کټ راته سنبال کړه +
هغي ورته کټ واچاوه بیچاونړه ئي پرِ وغوړوله + استاذ پرِ دَ پاسَ پریوت
او هلکانو ته ئي ویل چه دلته څمونږ کره سبق وایئ + هلکان ناست
وُو سبق ئي وایه لیکن حیران شول ټولو ویل چه دا څه وُو او څه وشُو
ربړ دومره وشه چه نور پرِ نه کیږي او له قیدَ مونږ خلاص نه
شولُو + اوس بله حیله په کار دَه چه له بندَ خلاص شُو هغه مشر هلک

ورته ووِ چه باري داسي وکړئِ چه تاسي ټول زورَ زورَ په چغو چغو سره سبق شروع کړئِ + خو چه دوي شور ونښلاوه او زوک ئي جوړ کړ نو هغه مشر هلک ورته وويل چه بي انصافو ولي دومره شور کوئِ تاسو نه پوهيږئِ چه په داسي شور کولو دَ استاذ سرخوکيږي + استاذ ويل چه رښتيا وايي لاړ شئِ شور مه کوئِ ټول آزاد يئِ + هلکان په خوشحالئِ سره لاړل په لارو او په کوڅو کښ به ئي مستي کوله + چه يوڅو ورځي تيري شوي نو دغو هلکانو ته ميندو ووِيل چه بي‌عقلو دا مُده دَ علم زده کولو ده او تاسو ئي عبث په خوشو تيروئِ + هغو ووِ چه څمونږ څه تقصير دي چه استاذ ناجوړ دي نو مونږ چا څخه سبق ووايو + ميندو ئي وويل چه خير صباح به مونږ لاړي شو چه حال ئي زده کړو چه ستاسو رښتيا او دروغ معلوم شي + چه صباح شه دَ هلکانو ميندي دَ استاذ پوښتني له رواني شولي + چه ورکره ورغللي څه کوري چه استاذ پروت دي دوه دري برستني پرِ دپاس پرتي دِي سر تر پښو په خولو کښ لُوند دي په واي واي سره ناري او فريادونه کوِي + دَ دوي وار خطا شه ټولو وويل چه استاذَ خير دِ وِي دا څه چل دي مونږ خو هډو خبر شوي نه يُو + استاذ ويل چه زه

هم پوه شوي نه وم څما فکر نه وه لیکن په کښې سخته قصه وَه که چرې
له اولَ پوه شوي وي نو خواه مخواه څه علاج به ئې په آسانئِ سره شوي وه
مګر اوس دِ هم خدای خیر کړي خو خبره ګرانه دَه + دَ هلکانو میندو دعا
کوله او ویل ئې چه استاذَ خدای دِ دوغ کړه + استاذ ویل چه آمین تاسو
سره دِ خدای ښه شي + دَ هلکانو میندې لاړلې او استاذ په کټ کښې پاتې
شه + بیا چه څو ورځې تیرې شوې نو دَ هلکانو له خولې نه دا خبره مشهوره
شوه چه استاذ د دوې په ټکئِ او په دروغو ویلو ناجوړَ شوې دې + نو
یو بل ورته ووِ چه کمبختو سړې به مړ شي او خون به ئې ستاسو په غاړه
شي فکر وکړئِ اوس ئې څه علاج پکار دې چه جوړ شي + دَ هلکانو هم
په زړه کښې رحم پیدا شه هغه مشر ته ئې ووِ چه راشئِ چه څه علاج
ئې وکړو + هغه ورته وُویل چه راځئِ چه یو یو ورځُو ولې هر یو چه ورځې
نو ورته دِ وائې چه استاذَ اوس خو جوړ یې که خیر وِي داسې هر هلک به
ورته او استاذ ته به ئې ویل چه استاذَ اوس خو جوړ یې که خیر وِي + بیا
په واړو پسې ورستې هغه مشر راغې چه و ئې کتل نو ویل ئې چه استاذَ
شکر دې اوس خو دِ رنګ جوړ دې لیکن لکوټې ګرزیدل تا له په کار دِ

څکه چه سړي له رنځ روغ شي نو په يو ځاي ناسته هم وله ښه نه ده
اوس پاڅيدل پکار دي چه بهر لاړ شو يو خوا بل خوا وګرزو +
استاذ پاڅيد هلک ورسره دي بهر روان شول + چه يو سړي
به وليد ورته به ئي ويل چه استاذ په خير پاڅيدلي + بل به ويل چه
شکر دي چه روغ شوي چه څوک به مخي له ورتلل مبارک شه مبارک
شه به ئي ورته ويل او استاذ به خوشحاليده او هلک به پټ پټ
خندل + بيا ئي نه رنځ وه نه ئي بيماري وه خير خيريت وه +

حکايت پنځم

د کم عقل سړي دوستي له دښمنئ سره برابره وي + لکه يو بادشاه
شاهين د ښکار دپاره ساتلي وه او ډير فهم به ئي ورباندې کاوه + ناګهانه
يوه ورځ والوت او د يوي بوډئ په کور کښې ولګيده + بوډئ زر لاس ور
واچاوه شاهين ئي ونيوه چه ورته ئي وکتل نو منبوکه ئي ورته کړه ښکاره
شوله + نو بوډئ وويل چه هئ هئ عاجز په دي منبوکه باندې به ته څنګه
خوراک کوي + جوړ چاره ئي را واخستله پاسنئ منبوکه خو ئي ورنه
پري کړله + چه ئي ښکته او پورته منبوکه يو شان برابره کړله نو وئي

ویل چه وشوه اوس به پر دانی اخستلي شي + چه پښتو ته ئي نظر وکړ
دواړه منګلي ئي ورته ښکاره شولي + و ئي ویل چه اي غریب ستا له
نصیب دومره څوک نه وُو چه ئي ستا نوکونه پریکړي وي ته خو په پښتو
شل یي ددي نوکونو له سبب + نو زر زر ئي نوکونه هم ورته وتراشل +
دي غریبي خود مینه کوله او د هغه عاجز ئي بیخ وکښه + بادشاه
خبر شه چه شاهین الوتلي دي نو حکم ئي وکړچه که چا راوست انعام
به ورکړم + چه خلقو لټاوه د بوډئ کره ئي بیاموند + جوړ بادشاه
له ئي بوت او حال ئي د بوډئ د مینې او د مدار ورته بیان کړ +
چه بادشاه شاهین ته وکتل ډیر خپه شه ولي نور ئي هیڅ ونه ویل مګر
حکم ئي وکړچه دي بهر وباسئ او ډنډوره وګرزوئ چه دا به ئي حال وي
چه څوک په هغه چا پیښیږي چه په قدر ئي نه پوهیږي +

ای یارانو واړه واورئ دا بیان چه دوه ظلم مقرر دي په جهان
یا نادان آشنا په یار کوي ستم یا دښمن رسوي خلقو ته ماتم

حکایت شپږم

زورآور له ښائي چه په کمزوري باندِ زور نه کوي اګرچه کار ئي خرابیږي +

لکه چه دَ روم د ملک بادشاه نوشیروان بادشاه ته قاصد لیږلي وه +
چه دلبار ته ورسید څه ګورِي چه یوه لویه مانړئِ دَه بادشاه په کښ
په تخت ناست دي او نور بادشاهان او امیران او وزیران ورته په کرسو
ناست دِي + لیکن چه قاصد تماشه وکړله یو ځاي ورته په هغي مانړئِ کښ
کوږ ښکاره شه + نو له یو سړِي نه ئِ پوښتنه وکړله چه دا ځاي ولي کوږ
دي + هغه ورته وویل چه دا دَ یوي بوډئِ کور وه په هغه وقت کښ
چه بادشاه دا مانړئِ جوړوله نو هغي بوډئِ ته ئِ وویل چه
دا کور په ما خرڅ کړه مګر دَ هغي رضا نه وَه او په زور سره
خود بادشاه دا کار نه کاوه + نو په دغه سبب سره دا ځاي په دي
مانړئِ کښ کوږ پاتې شوي دي + قاصد ووِیل چه رښتیا خبره دا دَه
چه دا کوږوالي ډیر ښه دي له هغه سم والي نه چه په ظلم سره شوي وي
او حق دَ انصاف دا دي چه دا کار نه په ورنبئِ زمانه کښ چا ویلي دي
او نه ئِ ورستو ګمان کیږِي چه به څوک له بادشاهانو نه وکړِي + بادشاه
چه دا خبري دَ قاصد واوریدلي ډیر خوشحالَ شه او انعام ئِ وله
ورکړ او په مدار او په عزّت ئِ رخصت کړ +

حکایت اوم

د یو شیخ په خلوت خانه کښې یو مسافر میلمه پیښ شه + نو چه وقت د خوراک شه هغه شیخ کور ته لاړ شه او یو څلور دوډۍ ئې راوړلې دغه مسافر ته ئې کیښودلې + بیا په تلوار لاړ شه چه وله پیټې راوړې چه شیخ پیټې راوړیه مسافر دوډۍ خوړلې وې + شیخ بیا په تلوار لاړ شه څلور دوډۍ ئې نورې راوزغولې + چه دې را رسیده مسافر پیټې ټوله کوټلې وه + شیخ بیا پیټۍ له لاړ شه چه راته هغه دوډۍ خلاصه کړې وَه + حاصل را دَې چه لَس ځلَ شیخ کور ته لاړ شه او چه یو څیز به ئې راوړ بل به مسافر خلاص کړې وه + بیا شیخ ورته وویل چه څوانَ خبر دِ وِې چرته څې + مسافر ورته یو ځای یاد کړ ویل ئې چه صاحبَ فلانې ځای له ځم + بیا شیخ ورته ویل چه څه مطلب دِ دې هلته په څه پسې ځې + هغه ویل چه اوریدلې مِ دِې چه په هغه ځای کښې یو لوی طبیب دې د هغه دَ لیدو دپاره ځم + شیخ ورته وُوِ چه څه ناجوړتیا دِ دَه چه طبیب له ورځې + مسافر وُوِ چه غلې ته مِ دیره مینه نه کیږې نو وایم که لاړ شم او هغه ماته څه دارُو راکړې چه خوراک ته مِ مینه

پیدا شِي + شیخ ورته ویل چه ډیره ښه ده خدای دِ ستا مطلب پوره کړي خو ځما هم دَ خدای دپاره تاته یو حاجت شته دي + مسافر ویل چه صاحبَ څه حاجت دي + شیخ ویل چه ته جوړ شي او کار دِ وُشِي نو بیا په دي لار مه راځه په بله لار لاړ شه +

حکایت اتم

ویلي شوي دِي چه یو بزرګ په غاړه دَ بوي ولي ناست وه او په اوبو دَ صبر ئي لاس له ګنده ګیرئِ دَ دنیا نه وینځلي وُو + یو تپوځ په هوا په هغه ځای باندِ تیریده یو مرګوري ئي له پنجو نه خلاص شه او دَ وړاندِ دَ بزرګ ولویده + بزرګ په ډیره مینه سره په زړوکي کښ ونغښت اوخپل کور ته ئي وړ بیا ئي دَ ځان سره وُویل چه نه بایده چه دکور خلق په لیدلو ددي مرګوري خپه شِي + نو په هغه ځای کښ دعا ئي وکړله چه دا مرګوري جنئِ شوي هم په هغه شان کار وشه لکه چه دده مطلب وه یعني په هسي شان ښائسته جنئِ ترِ جوړه شوه چه نمر د انګو ئي اور دَ غیرت په درمند دَ میاشتي پوري کاوه او تورو زُلفو ئي لوګي له زړه د شپي توري نه اوچتاوه + بزرګ په هغه ساعت

يو مريد راوغوښت او دغه جنيئِ ئې ورته وسپارله او ورته ئې وُويل
چه ددی پالنه او نمانځنه په ښه شان سره کوه خود چه لويه شِي پس
له هغه به ئې نور مصلحت کوُو + بيا چه څو مُده پس جنيئِ لويه شوله
نو هغه بزرگ را وغوښتله او ورته ئې وويل چه اي جنيئِ ستا خو
هيڅوک خپلوان نشته نو اوس اختيار ستا دي ووايه چه دچا سره ستا نکاح
وکړم + جنيئِ ورته وويل چه هسي څښتن ما له وگوره چه په قوّت او په
مرتبه کښ ئې سيال چرته نه وِي + بزرگ ورته وُوِ چه داسي لوي او
زورآور خو راته څوک نه ښکاريږِي مگر يو نمر که وِي نو به وِي + جنيئِ
وويل چه ډيره ښه ده + صباح وختِي چه نمر راوخوت بزرگ ورته
ودريده او و ئې ويل چه اي نمرَ داجنيئِ زورآور څښتن غواړِي نو مونږ
زورآور په خپل فکر کښ ته مقرّر کړِي يي نو ددي خبري به څه مصلحت
وِي + نمر ورته په جواب کښ وُوِ چه زه به تاسو ته له خپلَ څانَ زورآور
زيات وښيم + بزرگ ورته وُوِ چه څوک دي + نمر ورته وُوِ چه وريځ دَه
څکه چه لکوټِي وريځ راښکاره شِي نو څما مخ پټ کاندِ + بزرگ وريځي
ته وړاندِ شه چه حال ئې ورته ووايه نو هغي ورته وويل چه که د

زور خبره کوئِ خو له ما نه باد غالب دَي څکه چه په ما باندِ راشِي نو هر
طرف ته چه څِي هم هغه طرف ته مِ زغلوِي + بزرګ باد ته خپله مدّعیٰ
عرض کړله + باد ورته وویل چه څما به څه قوّت او طاقت وِي که څه
دي خوغر دي څکه چه په ځاي خپل باندِ ولاړ دَي او پښي ئِ په
خپل مقام باندِ محکمي لګولي دِي او ما غندِ که په زرګونو جمع شِي هم
له ځاي ئِ نه شِي خوځولي + بزرګ غره له ور روان شه چه حال ئِ ور
ته ووایه هغه ورته په ځواب کښ وویل چه انصاف دا دَي چه
زور او غلبه او قوّت او دبدبه که څه وِي خو دَ مړو به وِي څکه چه
څما زړه ئِ زخمِي زخمِي او سوري سوري کړ مګر زه ور نه نه تښتیدلي
شم او نه ئِ له ځانَ بهر وکښلي شم + بزرګ ورغي یو مړکوري ئِ وموند
ورته ئِ واړه قصه تیره کړله + چه هغه واوریدله ورته ئِ وویل چه
څما هم دَ ډیري مُدي شوق دي چه چرته واده مِ وکړلي لیکن ما له له
خپلَ قومَ جنئِ پکار ده دغه جنئِ به زه څه کړم + جنئِ وویل چه دا
خو آسان کار دَي څکه چه دا شیخ صاحب که اوس دعا وکړي نو زه به
ستا په شان شم + بزرګ په هغه ځاي کښ دعا وکړله جنئِ بیا

مږکوري شوله او دَ مږکورِي سره لاړله +

چه هر شئ رجوع خپل اصل وته کاندِ دِي لازم چه سړي ځان خاوري کا وړاندِ

حکایت نهم

هسي ويلي کيږِي چه په يوځاي کښ دوه تنَ سړِي وُو چه سره يوځاي ناست وُو ډوډئِ ئي خوړله + مګر يو سړِي څخه پنځه ډوډئِ وي او بل څخه دري وي + ناګهانه يو څوان په لاري تيريده چه دَدوي خوا ته نوږي شه السّلام عليکم ئي وويل دوي وُوِ وعليکم السّلام ځوانَ راځَه څمونږ سره ډوډئِ وخوره + هغه جوړ ورسره کښيناست او ډوډئِ ئي ورسره وخوړله چه له ډوډئِ خوړلو نه وزګار شول نو هغه دَ لاري سړِي دَ ډوډو خاوندانو ته اته روپئِ پريښودي او ورته ئي وُوِ چه واخلئِ دا ستاسو دَ ډوډئِ بدل دَي + چه دوي روپئِ واخستلي نو دواړه په جګړه شول دَ پنځه وُ ډوډو خاوند وويل چه پنځه روپئِ ځما شوي او دري ستا شوي ځکه چه ځما پنځه ډوډئِ وي او ستا دري وي + او دَ دري ډوډو خاوند وُوِ چه دا روپئِ نيمي ستا دِي او نيمي ځما دِي + چه جګړه ئي زياته شوله او يو دَ بل په ويل نه راضِي کيده نو په هغه زمانه کښ يو عادل ايمان دار حاکم

وه هغه له ورغلل چه حال خپل ورته دوارو وايه نو هغه حاکم هغه د
دري ډوډو خاوند ته وويل چه ځوان دا ځوان تا له په خوښه دري روپۍ
درکوي نو ته ئې ولي نه آخلي + هغه وويل چه صاحب زه په دي راضي نه
يم زه خو خپل حق غواړم + هغه حاکم ورته ووِ چه ته خپل حق غواړي
نو ستا حق يوه روپۍ کيږي او دري بل اووه روپۍ + سړي فرياد ونښلاوه
او وئې ويل چه صاحب څنګه ځما يوه روپۍ کيږي زه په دري هم نه
راضي کيږم او ته لا له يوه راکوي + حاکم ورته ووِ چه تاسو دري تن وئې
او ډوډي اته وي او هره يوه ډوډۍ چه دري دري ځاي شي نو
ځليږشت حصّي تر جوړيږي او تاسو چه برابر خوړلي وي نو اته اته حصّي
د سړي په سر راځي + نو ستا د دري ډوډو څه حصي شوي اته تا
وخوړلي او يوه پاتي شوه او دده د پنځه ډوډو پنځلس حصي شوي اته
ده وخوړلي او اووه پاتي شولي + نو چه دي سړي اته حصّي خوړلي وي نو
ستا په کښې يوه حصه لاړه او دده اوه لاړلي نو ستا يوه روپۍ رسيږي او
دده اووه رسيږي نو ته پخپله هم فکر وکړه چه څنګه حساب جوړيږي +
نو هغه سړي وويل چه بي شک اوس پوه شوم او په خپل حق راضي شوم

حکایت لسم

په یو ځاي کښې یوه چرچنړه په یو دام باندې پېښه شوله + نو ورته ئې وُوِ چه څه سبب دي چه له خلقو جدا پروت یې + دام ویل چه په کوښه کښې امان او سلامت راته ښکاریږي + چرچنړي ویل چه په خاورو کښې ولي پروت یې + دام ویل چه عاجزي کوم څکه چه لوئې خداي پاک له مناسبه ده + چرچنړي ورته وُوِ چه دا ولي دومره خوار یې + دام ویل چه دا په ډېر عبادت کولو سره + چرچنړي وِ چه دا پرې دِ ولي په غاړه کښې آچولې دي + دام ویل چه دَ فقیرئ جامه هم دا قدر بس دَه + چرچنړي وِ چه دا همسا څه کوي + دام ویل چه په دي تکیه کوم + چرچنړي وِ چه دا غنم ورته څه له پراته دِي + دام ویل چه دا څما له خوراکَ تېري دِي که چرته وبې راه‌روي فقیر پېښ شي نو هغه له به ئې ورکړم + چرچنړي وِ چه بل به داسي محتاج څوک وِي لکه چه زه یم ما له ئې راکړه + دام ویل چه شل څلَ خو راشَه له نورو خلقو نه ته ښَه یې چه ئې وخوري + چرچنړه ورغله خو چه مښوکه ئې داني له ورورله نو په غاړه پوري ئې دستي دام ونښت + چرچنړي وِ چه اي بدخويَ مکاره ټکَ چل‌بازَ داسي هم

څوک کوي لکه چه تا وکړل ٭ دي لا دا ويل چه ښکارِي راغي او دا ئي وينوله ٭ چرچنري ځان سره ويل چه هوښيارانو رښتيا ويلي دِي چه هر چا چه زړه ورتوب وکړ پښيمان به شي او هر څوک چه وويريده سلامت به پاتي شي اوس حيرانه يم چه په څه به خلاصه شم ٭ يو ساعت ئي فکر له ځان سره وکړ نو ښکارِي ته ئي مخ را وګرزاوه او ور ته ئي وُوِ چه اي سرِيَ يو څو خبري له ما نه واوره اميد دي چه به تا ته فايده وُرَسَوِي بياله ما سره هر څه چه کوي هغه کوه ٭ چه ښکارِي له چرچنري نه دا خبره واوريده يو ساعت حيران شه بيا ئي ويل چه وُوايه که نه ٭ چرچنري وِ چه ته خو پوهيږي چه په ما باندِ نه څوک څرپيږي او نه مريږي نو که زه دِ خوښه يم خو ما وخوره او که د حکمت خبري دِ خوښيږي نو ما پريږده چه يوه خبره ستا په لاس کښ وکړم او يوه د دي وُني په بيخ کښ وکړم او يوه د دي وُني په سر باندِ وکړم ٭ ښکارِي وِ چه ډيره ښَه دَه نور ئي پرينبودله وِ چه وُوايه ٭ چرچنري ويل چه يوه خو دا دَه چه څو چه ژوندی يي نو په شوِي کار پسي پښيماني مه کوه ٭ ښکارِی په زړه کښ وِ چه څه عجيبه خبره ئي وکړه ٭ چرچنره لاړه د وُني په بيخ کښ

کښيناستله بيا ئې وِ چه دويمه دا دَه چه يو څيز نه ويني نو باور پرِ مه کوه + چه دا ئې وُويل نو بيا لاره د وُني سر ته وختله او وئې ويل چه اي سړيَ څما په ججوره کښ شل نيمي روپئِ تول دوه مرغلري وي چه هغه ستا او ستا د اولاد بس دي ولي نصيب دِ په کښ نه وه + دي په ژړاشه ډير ارمان ئې کاوه لاسونه ئې مروړل بيا ئې وِ چه خير هغه خو لاړلي مګر هغه دريمه خبره خو وُوايه + هغي وِ چه په وړښو دواړو خبرو دِ کوم عمل وکړ چه دريمه هم غواړي + ما در ته ويل چه په شوِي کار پسي پښيماني مه کوه + او چه يو څيز نه وِي نو باور پرِ مه کړه + او چه ما ويل چه څما په ججوره کښ دومره دري مرغلري دِي نو تا پرِ باور وکړ + ته دومره نه پوهيږي چه زه د بترو سره هم په تول به د لسو روپو سره برابره نه شم + او بيا دومره ارمان او ژړا دِ وکړل چه نور پرِ نه کيږي + دا ئې وُويل بيا لاره والوتله او ښکارِي پاتي شه +

حکايت يُولسم

که څوک ډير کوشش وکړي خود چغلي خور له فسادَ به خلاص نه شي + لکه يو سړي وه چه مريي ئې خرڅاوه + يو څوان وله راغي ويل ئې چه دا

مريي د خرڅ دي + هغه خاوند ئي وُويل چه هو د خرڅ دي + هغه بيا
وُوِ چه څه عيب نقصان په کښ شته او که نشته + خاوند ئي ويل چه
بل هيڅ عيب په کښ نشته مګر يو عيب لرِي که دهغه عيب سره
دِ خوښ وِي خو ئي واخله او که نه وِي نو ئي پريږده + هغه څوان ويل چه
هغه کوم عيب دي ته ئي ما ته معلوم کړه چه زه پرِ پوه شم نو که له لاسَ
مِ کيږِي له هغه عيب به څان ساتم + خاوند ئي ويل چه چغلي خور دي
بي شانه ډيره چغلي کوِي چه سړي ورته حيران پاتي شي + هغه ويل چه دا
هيڅ خبره نه دَه سړي به د ده په خبره عمل نه کوي نور څه دي +
مطلب دا دي چه قيمت ئي ورکړ مريي ئي ترِ واخست کور ته ئي بوت
او په زړه کښ ئي محکم نيت وکړ چه د ده په ويل به باور نه کوم +
چه څو ورځي تيري شوي نو هغه مريي راغي او خاوند ته ئي وويل چه خبر
شه بي بي دِ دمرګ مصلحت کړي دي تا وژني او بل سړي په نکاح
آخلي + خاوند ئي ويل چه ته چه رنګ پوه شوي يي + مريي وُوِ چه زه پوه
شوي يم او که ستا باور نه کيږِي نو ته ورته څان اوده کړه چه حال در
ته معلوم شي چه زه رښتيا وايم که دروغ وايم + بيا بنځي له وراغي ورته

ئې ویل چه پېبي خبر شه څښتن دِ تاله طلاق در کوي او بله ښځه کوي + ښځي چه دا خبره واوریدله ډیره خپه شوله + ده ور ته ویل چه ولی خپه کیږي که ستا خوښیږي نو ماله یو دري ویښته د ده د زني د لاندِ راوړه چه زه ئې دم کړم نو د څښتن به تا سره مینه ډیره پیدا شي + هغی ویل چه ډیره ښه خبره ده + چه شپه شوه سوی کورته لاړ شه څان ئې په کټ کښې اوده کړ او تماشه ئې کوله چه څه پیښیږي چه د ښځي کمان وُ شه چه دی اوده دی نو د ویښتو پریکولو د پاره ور نزدي شوله چه زني له ئې لاس ور وړ د څوان یقین وشه چه ما وژني جوړ په تلوار پاڅید توره ئې واخستله او ښځه عاجزه ئې مړه کړله + مړي دستي ور دوکړ د ښځي ورونړو ته ئې وُویل چه زر راشئ ستاسو خور ئې بې ګناه مړه کړله + هغو نوري را واخستلي په تلوار راغلل او څوان ئې مړ کړ دواړه عاجزان د مړي په چُغلئ سره مړه شول +

حکایت دوه لسم

یو بادشاه ډیر څورب وه او وجود ئې بې شان غټ وه هسي حد ته رسیدلي وه چه له هر کار وتلي وه + نو طبیبان ئې جمع کړل د پاره د دي چه څوک

ئې علاج وکړي که غوښه ئې څه قدر کمه شي ٭ که هرچا به علاج کاوه
د بادشاه غوښه به زیاتیدله او وجود به ئې غټیده ٭ آخر یو هوښیار طبیب
پیښ شه چه د بادشاه لاس ئې وینو ورته ئې عرض وکړ چه که د
بادشاه مهربان خوښه وي نو زه به په علم نجوم کښې وګورم هر قسم دارو
چه د طبیعت سره برابر راغلل هغه به بادشاه له ورکړم ٭ بادشاه وو
چه ډیره ښه ده لاړ شه کتابونه د نجوم تول وګوره چه تا ته ښه ښکاره
شي هغه دارو ما له راکړه ٭ طبیب لاړ شه صبا له راغي عرض ئې وکړ چه
د بادشاه مهربان دارو موقوف دي ٭ بادشاه وو چه څه سبب دي ولي څما
دارو موقوف دي ٭ طبیب وویل چه په کتاب کښې وایي چه څلویښت ورځي
د بادشاه ژوندون باقي دي پس له هغه به مړ شي ٭ بادشاه ډیر په قهر
شه اوویل ئې چه دارو موقوف دي ولي دا طبیب بند کړئ که چري په دي
مده کښې زه مړ نه شوم نو دي به مړ کړم ٭ طبیب ئې بند کړ او بادشاه
د مرګ په فکر کښې شه شپه او ورځ به ئې خفقان کاوه او خپلوانو درستانو
به ور سره ژړل ٭ چه څلویښت ورځي تیری شوي د بادشاه زیړ رنګ را ختلی
وه غوښه ئې اوبه شوي وه خو چه د غوښي بار ترکم شه نو صورت ئې

برابر سم شه ٭ بیا طبیب ئي را وباله ور ته ئي ویل چه اوس دِ وژنم تا ولي دومره دروغ ویل ٭ طبیب وُوِ څکه چه د بادشاه علاج را ته په بل څیز کښ نه معلومیده ٭ بادشاه ډیر خوشحالَ شه او انعام او خلعت ئي ډیر ورکړ ٭

حکایت دیارلسم

ویلي شوي دِي چه یو سړي په رنګ ډیر ناکارَ وه او ښځه ئي په صورت ډیره ښائسته وَه چه د هغي ښځي په شان ښځه په هغَه زمانه کښ نه وه ٭ نو هغي ښځي یوه وژح هغَه خپل څښتن ته وُوِ چه په قیامت کښ به زه او ته دواړه په جنت کښ یُو ٭ څښتن ور ته وُوِ چه ته په کوم دلیل سره دا خبره کوي ٭ هغي ور ته وُوِ په دي دلیل سره چه زه ستا ښځه یم او ته څما څښتن یي ٭ هغه ور ته وُوِ چه په دا څه وشُو هر څوک سره ښځي څښتنان دِي نو دا به ټول جنتیان وِي څه ٭ هغي ویل چه ته پوه نه شوي زه داسی نه وایم چه ټولی ښځي او خاوندان به جنتیان وِي بلکه زه خپل ځان او تا یادَوم په دا سبب چه زه ستا په ناکارَ شکل باندِ صبر کَوُمْ او ته څما په ښائسته صورت باندِ شکر کوي او جنت له یا هغَه ځي چه شکر کوِي یا هغَه ځي چه صبر کوِي ٭

حکایت خوارلسم

هوښیار له مناسب دِي چه په زارئ د دښمنانو نه غلیږي او که نه وِي نو په بلاکښ به پریوزِي + لکه یو. سړي په اوښ سور وه په لارِ ته ناګهانه یو ځاي ته ورسیده چه هلته په ځنګل باندِ اور لګیدلي وه او یو لوي مار په هغه ځاي کښ بند شوي وه چه په هیڅ شان ئ لار د خلاصیدو نه موندله + چه دا سړي ئي ولیده ډیر فریاد او زارِي ئي ور ته وکړل او و ئي ویل چه که ما له دي اوږ وباسي نو نهایت مهرباني به وِي + سړي په زړه کښ فکر وکړ او و ئي ویل چه مار خو بي شک د سړو دښمن دي مګر نن ورځ ډیر عاجز دي نو بهتره خبره دا ده چه له دي اوږ ئي وباسم جوړ توبره ئي ور څوړنده کړله او مار په توبره کښ کښیناست سواره توبره راکښله مار ئي له هغه ځاي بهر وکښه + بیا ئي د توبري خوله پرانتله او مار ته ئي وُویل چه اوس ورځه له غمَ خلاص شوي مګر پس له دي څوک مه آزاروه + مار و ویل چه څو تا اوستا دا اوښ و نه چیچم همره به لاړ نه شم + سړي ور ته وُویل چه ما خو له تا سره بدکړي نه وُو چه ته اوس له ما سره داسي کوي + مار وویل چه بي شک تا

بنه کړي وو خو بي ځاي وو څکه چه څمونږ او ستاسو سره دښمني
پخواني ده نو ځما سره بنه کول ستا د ځان سره بد کول دي + سواره وو
چه د نيکۍ په ځاي بدي په هيڅ مذهب کښې روا نه ده + مار ورته وو
چه زه هم ستاسو په دستور باندې عمل کوم او تاسو خود نيکۍ په ځاي
بدي هميشه کوئ + سواره وويل چه دا خبره به هيڅري ثابته نه کړي او که
په دي خبره دې شاهدان تير کړل نو بي شک زه راضي يم چه ته م وچيچي +
مار چه يو طرف بل طرف وکاته بوه مينه ئي وليده دواړه ور روان شول
چه ورغلل نو مار ورته وو چه اي ميني جزا د نيکۍ څه ده + ميني
وو چه په مذهب د آدميانو خو جزا د نيکۍ بدي ده څکه چه زه ديو سړي
کره وم چه ځوانه وم او پيۍ م ورکول نو مدار م کيده چه بيا پيۍ م وچ شول
او بي طاقته شوم نو غور ئي ځما پرېښوده او زه ئي بهر د شړلم چه خو ورځي
بهر وګرزيدم او لکوټي غوښه م جوړه شوه نو پرون ئي قصاب راوست او
زه ئي پرې خرڅه کړلم نن به خود قصاب راشي ما به حلالولو له بيايي +
مار وويل چه اوس خو پرې شوي ځان را ته ټينګ کړه چه دې وچيچم +
سواره وويل چه شاهدان دوه پکار دي که بل شاهد پيدا شي نو هاله

به ستا خبره منظوره شي ٭ چه ماريو خوا بل خواه وکاته يوه ونه ئي وليدله و ئي ويل چه راڅه چه دي وني له ورشو ٭ چه ور نزدي شول نو مار ورته وُوِچه اي وُني بدله د نيکيِ څه دَه ٭ وُني وُويل چه په دستور د آدميانو خو بدله د نيکيِ بدِي دَه څکه چه زه دلته ولاړه يم او دوي نمر وهلي سترِي ستومانه راشي ځما په سورِي باندِ دمه وکړِي چه بيا په آرام شي نو را ته ګورِي او وايي چه دغه بناخ د يوم د لاسِتي د پاره ډير بنه دي او هغه ځانګه د تبرلاسِتي لايقه دَه او له دغه فلانِي ځاي نه به بني تختي وخيژِي او له هغه ځاي نه به بني دُرشلي جوړي شي او که آره يا تبر ور څخه وِي نو خواه مخواه څه خو را نه پرِي کړِي او د ځان سره ئي يوسِي ٭ مار وُويل چه اوس خودِ مقدمه بايلله ځان را ته ونسه چه چک در باندِ ولګوم ٭ سړِي حيران شه فکر ئي کاوه ناګهانه يوه لومبړه را بنکاره شوله او د دوي دا خبري ئي وړاه آوريدلي وي جوړ دغه سواره ته ئي وُويل چه ځوانَ تا د دي مار سره څه نيکي کړِي دَه چه دي در سره بدِي کړِي ٭ سواره ور ته نوله قصه د اور او د توبرِي وويله ٭ لومبړی وِ چه زه نه منم چه دا مار به په دي توبره کښ ځاي شي څکه چه دي لوي دي او توبره وړکي دَه ٭ مار وُوِ چه ته

کوره چه زه څنګه په کښې ځان ځایوم جوړ هغه ور ته توبره وینوله او مار په کښې ور ننوت لومړي سواره ته ووِ چه تلوار کوه د توبري خوله کلکه کړه چه مار در نه خلاص نه شي جوړ سواره توبره وینوله او په زمکه ئي وهله وهله چه مار ئي مردار کړ او ځان ئي تر خلاص کړ +

حکایت پنځلسم

حرصناک مدام ګرفتار وِي او صبرناک همیش په قرار وِي + لکه یو ښکارِي په صحرا کښې ګرزیده یوه لومړه ئي ولیدله چه ډیر ښایسته رنګ او صاف ویښته ئي ور ته ښکاره شول + په زړه کښې ئي فکر وکړ د ئي ویل چه که دا لومړه ونسم او پوستکي ترِ وباسم نو امید دي چه په ډیر قیمت به خرڅ شي + نو په دي طمعَ په هغي لومړي پسي روان شه او غار دهغی ئي معلوم کړ + بیا ئي ور ته یو ډوغل وکنوده او د پاسَ ئي پرِ وابنه واچول او د هغه وابنو د پاسَ ئي یوه مرداره کښېښودله او دي ور ته په یو ځاي کښې پټ شه + چه لومړه له غارَ وا ووتله او بوي پرِ د مرداري ونګیده په هغه طرف روانه شوله لیکن د ځان سره ئي وُویل چه بوي د مرداري خو را باندِ لګیږي مګر ګمان د بلاءِ هم په کښې کیږي او هوښیاران د ویري ځاي ته ځانونه

نه وړاندِ کوِي ٭ چه دا فکر ئي وکړ نو د مرداري سودا ئي له زړه نه لري کړله او بي غمه په يو طرف روانه شوله ٭ په دغه ساعت کښ يو وږي پړانګ د غره له سرّ راکوز شه او د مرداري بوي پرِ ولګيده چه خوراک له ورته ناګهانه په ډوغل کښ ولويده ٭ بنکارِي چه د پړانګ د غورزيدو غرب راوريده کمان ئي وشه چه ګنړه لومبړه ور پريوتله جوړ په تلوار راغي او ډوغل ته ئي ور ودنګل ٭ پړانګ چه وليد کمان ئي وشه چه ګُندِ ما له خوراکَ منعَ کوي جوړ په خيټه ئي وله پرق ورکړ دوه پرقَ ئي کړ ٭ بنکارِي په سبب د حرص په دام د هلاک کښ بند شه او لومبړه په سبب د صبر له بلا نه خلاصه شوله ٭

حکايت شپاړسم

په عربو کښ يو بنه سړي وه چه واړه خلقو به په هر کار کښ له هغه نه پوښتنه کوله او د هغه په نصيحت باندِ به هر چا عمل کاوه ٭ ناګهانه چه دي په کښ اوسيده د هغَه خلقو يوه شپه ټول سپِي مړه شول ٭ صبا له خلق هغَه بنه سړِي له راغلل او د سپو له مرګَ ئي خبر کړ ٭ هغه وُويل چه په دي کښ به خير وِي ٭ بله شپه د هغَه کِلي ټول بانګيان چرګان مړه شول ٭ خلق بيا صبا له راغلل هغَه بنه سړي ئي په

دي خبره خبر کړ ٭ هغه بيا وُرِ چه په دي کښې به خير وِي ٭ خلقو وِ چه عجيبه دَه سپو به ځوکيُ کوله چرګانو به بانګونه ويل وقت د صبا به معلوميده نو د دوي په مرګ کښې کوم خير دي ٭ هغه وِ چه په پټو کارونو خداي بنه پوهيږي ځمرنيز علم په دي خبرو نشته ٭ په دريمه شپه خلقو اور بلاوه ليکن اور نه بليده او لنبه ئي نه کَوُلَه ٭ هر چا وُويل چه خداي دِ خير کړي نه پوهيږُو چه څه بلا پيښيږي ٭ ناګهانه له بل طَرف نه پرِ لښکر ور وخوت ګير چاپير کلي ئي ټول وسيزل مال ئي ور نه لوټ کړ ٭ چه د دغه خلقو کلي ته نزدِي شول د لښکر خلقو په کور کښې سره وُويل چه نه رنړا شته او نه د سپو غپا شته او نه د چرګانو بانګونه شته معلوميږي چه خلق نشته تش کلي خالي کورونه به څه کړُو ٭ په دي ګمان سره لښکر بيرته لاړ کلي ته خير شه ٭ دهغه بنه سړي خبره رښتيا شوه ٭

حکايت اولسم

د بخيل سړي هم مال زيانيږي او هم ئي غم زياتيږي يعني دوه تاوان ور ته پښيږي ٭ لکه يو بخيل سړي وه چه ډوډيُ ئي د شاتو سره خوړله ناګهانه په کوڅه کښې چا ميلمه سړي ور ته آواز وکړ ٭ ده په تلوار سره هغه

دودیٔ لري کړله او چه شات ئي لري کول میلمه پرِ وړاغي شات ئي لري نه کړي شول ٭ لیکن د بخیل گمان دا وه چه دي به یواځي شات نه خوري نو ورته ئي ویل چه خوره که نه که شاتو ته دِ مینه کیږي ٭ میلمه ویل چه بنَه دَه شات خو ډیر بنه خیز دي ولي به ئي نه خورم ٭ جوړ لاس ئي پوري کړ شات ئي ختل چه څه قدر ئي وختل نو هغَه بخیل ته ئي وویل چه بي شانَ بنه خوند لري ٭ بخیل ویل چه ربښتیا دِي مزه ئي شته خو ډیر ئي مه خوره د سړي زړه سیزي ٭ میلمه ویل چه بي شکه ډیره بنَه وایي زړه سیزي لیکن ستا زړه سیزي ٭

حکایت اته لسم

له یو بخیل سړي نه سل اشرفیٔ په همیانیٔ کښ چرته ورکي شولی که ډیر ربړ ئي ور پسي وکړ خو ئي نه موندلی ٭ نو ئي ویل چه هر چا چه وموندلي او ماله ئي راکړلي نو په خوښه به لس اشرفیٔ په کښ هغه له ورکړم ٭ ناگهانه یو بنه سړي هغه همیانیٔ وموندله او هغه بخیل له ئي ورکړله او ورته ئي وویل چه ماله هغه لس اشرفیٔ چه تاویلي وي راکړ ٭ بخیل ور ته ړُوِ چه په دي همیانیٔ کښ خو لس د پاسَ سل اشرفیٔ وي لس در ورسیدلي

او سل دا دِي ما له دِ راکړلي نو نور را نه څه غواړي خپل حق خو تا ته در رسيدلي دي + هغه سړي قاضِي له لاړ شه په توله قصه ئي خبر کړ + قاضِي مدعيٰ عليه را وغوښت ور ته ئي وُويل چه د ده حق ولي نه ور کوی + بخيل وويل چه ده خو خپل حق پخپله له دي همبانيِ نه آخستي دي نو زه وله څه ورکړم + قاضِي همبانيِ طلب کړله چه و يُ کتله هم هغه شان ترلي وَه لکه څنګه چه وَه + نو بخيل ته ئي وُوِ چه ستا په همبانيِ کښ لس دپاسَ سل اشرفيِ وي او دا پوره سل دِي نو معلوميږِي چه دا همبانيِ ستا نه دَه ته ورڅَه په خپلي همبانيِ پسي کرزه او دا همبانيِ دي سړِي له ورکړه چه خاوند ئي راشِي نو هغه له به ئي ورکړِي +

حکايت نولسم

نقل دي چه سليمان پيغمبر له يو سړي راغي او ور ته ئي وُويل چه ما ته دعا وکړه چه زه د مرغانو په خبرو پوه شم + هغه ور ته وُوِ چه د مرغانو په خبرو به پوه شي ولي که چا ته دِ حال وُوايه نو په هغَه ساعت به مړ شي + هغَه سړِي وُويل چه ډيره بنَه دَه هيڅوک به ته خبروم + سليمان ور ته وُوِ چه ورڅَه په خبرو به دَ هر څيز پوهيږِي + سړِي کور ته روان شه چه

شپه شوه د ده په کور کښې یو غوایه او یو خر او یو چرګ وُو ٭ هغه خر له غوایه نه پوښتنه وکړه چه وایه څوانَ ورځ دِ څنګه تیره شوې دَه ٭ غوایه ویل چه ډیره سخته دَه ٭ خر ور ته وُوِ چه که ستا رضا وِي نو زه به تا ته یو چل وُښیم چه له ډیرَ کارَ خلاص شي ٭ غوایه ویل چه ډیره ښه دَه زه به ستا خبره وُمنم هر څه چه ته وایي ٭ خر وُوِ چه مصلحت دا دي چه بیکا له ګیاه مه خوره ٭ غوایه ویل چه ښه دَه جوړ د شپې ئې هیڅ خوراک و نه کړ ٭ او دغه سړي د دوارو خبري آورِي ٭ چه صبا شه نو سړي وُویل چه غوایه جوړ نه دي نن باري په خر باندِ اسباب واچوئ چه د غوایه په بدل کښې دي لاړ شي ٭ خر چه لاړ شه ورځ ئې تیره کړله چه شپې له خپل ځاي له راغي نو غوایه ترِ پوښتنه وکړله ویل ئې چه وایه څوانَ ورځ در باندِ څنګه تیره شوې دَه را ته ښکاریږي چه تا هیڅ کار نه دي کړي ٭ خر ویل چه بي‌شکه اول را باندِ داسې سختي راغلې وَه لکه چه پرون په تا وَه لیکن بیا خبر شه څکه چه دوي ستا د حلالولو په فکر کښې شول نو زه خود له کارَ خلاص شوم ٭ غوایه وُویل چه ما ولې حلالوِي ٭ خر ویل چه نور هیڅ خبر نه یم خو دوي سره په کور کښې ویل چه دا غوایه ګیاه نه خورِي راشئ

چه حلال ئې کړو هسې نه وِي چه مړ شي ٭ غوايه وُوِ چه اوس د دې خبرې څه علاج وکړم ٭ خر وُوِ چه کيا وخوره بيا هيڅ وسواس دِ نشته ٭ چه غوايه کياه ته خوله ښکته کړله سړي په خندا شه د دوي په خبرو پورې ئې وخندل ٭ چه سړي ته خپلې ښځې وکتل نو ور ته ئې وُوِ چه ولې خاندې ٭ سړي ويل چه هيڅ نشته ٭ ښځې ويل چه يا مِ له دې خندا نه خبر کړه او که نه وِي نو دوه خبرې دِې يا ليوني شوې او يا دِ بله ښځه خوښه شوې دَه ٭ سړه ډير څه وکړل خو ښځې ور ته وُوِ چه حرام شَه که دِ پريږدم ٭ چه پوره نه شوه نو سړي ويل چه وار کوه چه بارې زه وصيت وکړم نو به حال در ته وُوايم ٭ چه ده په وصيت شروع وکړه نو غوايه اوخر له غمَ خوراک او اوبه پرېښودل او چرک بې غمَ توپونه وهل او چغې ئې ويستلې او خوشحال کرزيده ٭ غوايه او خره ور ته وُويل چه څمونږ خاوند مړ کيږي او ته داسې خوشحاليږې ٭ چرک ويل چه پريږدئِ چه مړ شي ٭ هغو ور ته ويل چه ولې داسې وايې ٭ ده ويل څکه چه څما د لاندِ شل ښځې دِې او ما ټولې په ادب کړې دِې او د ده يوه ښځه دَه هغَه هم ده په ادب کړې نه دَه ٭ هغو وُوِ چه دا به څنګه وشي ٭ ده وِ خو کوتک دِ را واخلې او پرِ دِ را وګرزوِي چه اوس

ئي يا وُوژني او يا در ته توبه وباسي ٭ چه سړي دا واوريده اوچت پاڅيده کوتک ئي واخست خو چه يو دوه ګذار ئي وله ور کړل بخشي توبه کړله او چپ کښيناستله او سړي له مرګ خلاص شه ٭

حکايت شلم

له يو حکيم نه نقل دي چه ويلي ئي دي چه له هر څناور نه ړم يو يو خوي غوره کړي دي ٭ چا ور ته وُويل چه په سپي کښ در ته کوم خوي ښه ښکاره شوي دي ٭ هغه وُو چه ډيره مينه په خاوند باندِ ٭ بيا ئي ور ته وُويل چه په خنزير کښ دِ کوم خوي خوښ دي ٭ هغه وُوچه وختي په خپل کار پسي روانيدل ٭ بيا ئي در ته وُويل چه په قارغه کښ در ته کوم خوي غوره معلوميږي ٭ هغه وُو چه له هر چا ويريدل ٭ بيا ئي ور ته وُويل چه د پيشو در ته کوم خوي ښايسته ظاهريږي ٭ هغه وُو چه ډيره زاري کول په وقت د سوال کښ ٭

حکايت يوويشتم

يو سړي وه چه ډير دولت ئي لاره ولي دومره شوم وه چه خپل ځان ته به ئي خپله ډوډيئ نه زړ کيدله ٭ يوه ورځ چا وله ميلمستيا وکړه چه دي

لاړ شه هغه د کور خاوند وله قِسم قِسم خوراکونه راوړل + ده چه پرِ شروع
وکړله اول ئې غوښې وخوړلې ولې په سبب د ترشيۍ او د مصالې ده لره ئې
مزه ور کړله ډيرې ئې وخوړلې + بيا ئې ور پسې کِير ور ته کيښو هغه خود
نرم ښيز وه ښخوند ئې نه غوښت په هغه ئې لا شندې وکړلې + داسې هاګۍ
قرمه ماچې آچار چه ئې څه وموندل صرفه ئې و نه کړه + پس له خوراک
د ډوډۍ نه هغه د کور خاوند هر قِسم ميوه حاضرَ کړله لکه شفتالُو
ختکې انګور ناک + چه ده هغه ميوې وليدلې داسې ور ته هيبت واخست
لکه سړې د ډيرو ورځو ناهار وِې او څه ښيز ئې په سترګو نه وِې ليدلې +
حاصل دا دې چه په هغو ميوُو باندِ ئې هم خپله طبعَ صافه کړله + بيا چه
دومره کرم يخ سره په ګيډه کښې جمع شول نو خواه مخواه اوبه ښښل هم
پکار وُو چه د اوبو وار راغې نو يو جام به ئې وله ډک ورکاوه او بل به ئې
ترِ تش آخست دومره اوبه ئې وښښلې چه ګيډه ئې لکه شناز و پړسيدله او
له ځايَ خوځيدې نه شه ليکن چه لا قوّت ئې په ځاې وه نو په ډير تکليف
سره ځان ئې خپل کورته ورساوه چه کور ته ورسيده نو غلې وله هسې
زور ورکړ چه ساه ئې په خوارۍ سره په سپينمو آخستله + بيا چه سختې

پرِ زیاته شوه او مرګ ته نزدي شه نو هرچا ویل چه اوس ئي څانګندن دي مړ به شي + ناګهانه چا وله طبیب راوست چه طبیب ور ته وکتل وِ چه معلومیږي چه خوراک دِ ډیر کړي دي + ده وِ چه هو زه چا میلمه کړي وم د هغه کره مِ څه قدر ډوډيِ خوړلي دَه + طبیب ور ته وِ چه ظالمَ که کور پردي وه نو ګیډه خو دِ خپله وَه که نه وَه + ده وِ چه بي شکه دا رښتیا وایي لیکن نه را نه چا ډوډيِ پورته کوله او نه ئي ترِ زه پاڅولم او پخپله خود کبر کیده زه به له پخي ډوډيِ نه څنګه پاڅیدم + طبیب ویل چه خیر څه وشوه هغه وشوه لیکن اوس داسي دارُو پکار دِي چه ته وجارباسي + ده وِ چه دا خوراک خو څما نه زړه کیږي که چري داسي دارُو وِي چه دا هضم شي خو بنَه دَه او که نه وِي نو خیر دي په مړه کیده مرګ بهتر دي او دومره زیان مِ له مخَ نه کیږي ته ور څَه رخصت یي +

حکایت دوه ویشتم

یو سړي یو صراف ته ډیر مال وسپاره او په سفر لاړ شه + چه له سفرَ را وګرزیده نو له صرافَ ئي مال خپل و غوښت صراف منکر شه و ئي ویل چه ما له دِ مال هډو راکړي نه دي + هغه سړی قاضي له

لاړ شه او حال خپل ئې ور ته ووایه + قاضي ور ته وُوِ چه ته چا ته شور مه کوه زه به ستا غور وکړم + یو څو ورځې پس قاضي هغه صراف را وغوښت او ور ته ئې وُویل چه زه یواځې یم او کارونه را باندې ډیر دي را نه پوره کیږي نه + نو دا م په زړه کښې فکر وکړ چه ته یو دیندار سړي یې چه تا وکیل کړم نو ډیر به ښه وي + صراف دا خبره قبوله کړله او ډیر خوشحالَ شه + چه کور ته لاړ شه نو قاضي هغه سړي را وغوښت او ور ته ئې وویل چه اوس ورشَه خپل مال تړ وغواړه + سړي صراف له ورغي خو چه هغه له ورایه ولید ور ته ئې وُوِ چه څوانَ هر کله راشَه ډیر ښه وشُو چه راغلي ستا مال څمونږ کړه وه لیکن څما له فکرَ وتلي وه بیګاه را یاد شه + چه مال ئې وله ورکړ نو بیا په امید د وکیل توب قاضي له لاړ شه + چه قاضي ولید ور ته ئې وُوِ چه نن بادشاه له تلي وم په دلبار کښې م واوریده چه بادشاه تا ته یو لوي کار سپارِي نو ته امیدوار اوسه چه مرتبه به دِ ډیره لویه شي او زه به ځان له چرته وکیل بل وګورم +

حکایت دري ویشتم

نقل دي چه یو سړي آس ساتلي وه او ډیره مینه به ئې ور سره کوله او

شپه او ورځ به په خدمت ور ته ولاړ وه ٭ سحر نمازدیګر به ئې لښاوه کراره
به ئې په وقت وقت کوله د اوربوشو د آرداوي غور به ئې په بنه شان
کاوه او ناري به ئې مصاله‌دار وله مدام طیاراوه او هره ورځ به ئې د
ولو په غاړو باندِ په شنو شنو واښو کښې کرزاوه اوچه چرته به ډیر
واښه پیښ شول نو هلته به ئې لویه رسۍ په کښې واچوله او موږي به ئې
ټک واهه او رسۍ به ئې په موږي پوري وتړله نو دغه آس به ئې په هغه
واښو کښې پریښو بیا دي به په کښې کله څریده او کله رغړیده او کله به
ئې لکۍ پورته کړله توپونه به ئې وهل او خاوند به ئې په تماشه خوشحالیده ٭
یوه ورځ له ورځو وَه چه دي سړي دغه آس بهر بوت ناګهانه چه تړکوز شه
جوړ آس وُدنګل سرکښي ئې وکړله زین وآکي جلب ترسري واړه اسباب ئې
د ځان سره وتښتاوه ٭ خاوند ور پسي تمامه ورځ وزغلیده مګر هغه آس
وه او دي سړي وه لاند ئې نه کړي شه آخر سړي ستړي شه او آس لاړ له
سترګو ئې فنا شه ٭ چه نماښام شه سړي غریب ستړي ستومان کور ته
راغي بي‌طاقت په کټ کښې پریوت ٭ او په آس باندِ چه وقت د داني شه نو
وږي شه چه خوله ئې وانبو ته ښکته کوله وآکي ئې په زین کښې لښتي

وي خوله ئي وابنو ته و نه رسيدله ٭ چه نيت ئي د رغړيدلو وکړ زين پرِ د
پاسَ پروت وه هغه کارهم برابر نه شه ٭ چه په يوه ډډه به ئي آرام کاوه
يو رکاب به ترِ لاندِ شه په بله ډډه به بل رکاب ور ته ورانِ شه دا خبره
هم و نه شوه ٭ تمامه شپه لکه د ځوکيدار په ولاړي پرِ تيره شوله ٭
صبا له بيا په هغه ميدان کښ حيران ګرزيده ناګهانه يوه وله ئي په مخ
کښ راغله چه دي ورګډ شه هغه وله ژوره وَه اويه په کښ ډيري دي
ټول اسباب ئي په اوبو کښ لوند شه ٭ چه په ډير کوشش سره بهر راووت
او نمر پرِ ولګيده هغه تسمی د اسباب د ده ټولي د اومي خرمني وي خو چه
وچي شوي نو ډيري کاکي شولي ٭ بيا هر څاي چه به د ده په تسمه لګيده
هغه څاي به غوڅيده ٭ غرض دا دي چه ګيډي ته ئي زخم ورسيده ملا
ئي خوګ شوله څټ ئي غوڅ شه چه څه سختي په دنيا کښ يادبدله هغه
ور ته پيښه شوله ٭ چه ډير وږي شه او کمزوري شه او عاجز شه نو
په يو څاي باندِ ولويد ٭ ناګهانه خنزير ور باندِ پيښ شه اول خو ور
ته په قهر شه ولي چه د ده خواره ورځ ئي وليدله نو زړه ئي پرِ وسه او
ترِ ئي پوښتنه وکړله چه دا ولي دِ داسي حال شوي دي ٭ آس ور ته په

ثواب کښې وُويل چه دا ټول د دي او د وګو او د تسمو سبب دي ÷
بيا آس ور ته وُوِ که لکوټي ما له دي بنده خلاص کړي نو ډير ښه به وِي
ثواب به دِ وشي ÷ خنزير ور ته وُوِ چه څه ګناه دِ کړي وَه چه داسي
حال در ته پيښ شه ÷ آس وُويلُ چه زه خو داسي هيڅ ګناه خپل ځان ته
نه ګڼړم چه د دومره سختيِ لايقه وِي ÷ خنزير وُوِ چه داسي نه دَه يا ته
دروغ وايي او يا جاهل يي نه پوهيږي چه ګناه څه ته وايي نو که دروغ
وايي خو زه دِ نه خلاصوم پريږده چه کړيږي او بيا مړ شي او نه دِ آشنائي
کوم څکه چه خلق وايي چه د بدخويي سړي سره آشنائي ښه نه دَه د
سړي خوئ خرابيږي ÷ او که نه پوهيږي نو بيا ستا دپاره دا بند ښه دي
څکه چه ناپوهي داسي څيز دي چه له دي سختيِ نه به دِ په زياته سختيِ
کښې پريږاسي ÷ بيا آس ور ته زاري وکړله ويل ئي چه ما خلاص کړه ÷
خنزير ور ته وُويل چه ما ته رښتيا وُوايه نو به دِ خلاص کړم ÷ آس
ور ته له سَر خپله قصه شروع کړله او حال ئي ور ته وُوايه ÷ نو
خنزير وُويل چه اوس پوه شوم چه ته لوي جاهل يي او په تا کښې شپږ
ګناهَ جمع شوي دِي ÷ ورښيِ د خاوند پريښودل دويمه د هغه احسان

هیرول دریمه هغه په ځان پسې زغلول او ستړي کول څلورمه اسباب د ځان سره تښتول پنځمه په ځان باندې داګمان کول چه زه به یواځې ګذران وکړي شم شپږمه همیشه په هغه ګناه کښې پاتې کیدل او توبه ور نه نه ویستل او خاوند له بیرته نه ور تلل + آس وُویل چه اوس پوه شوم چه زه له دې عذاب دوچند لایق یم + خنزیر وُویل چه اقرار دِ وکړ او ځان ته دِ ملامت وُوایه نو اوس به دِ خلاص کړم + بیا ئې هغه تسمې پریکړلې او آس ئې له بندَ خلاص کړ +

حکایت څلیر ویشتم

په وړنیئ زمانه کښې یو سړی وه چه یوه ورځ بازار ته د مړې آخستلو دپاره لاړ شه + چه یو دُکان له ورغې څه ګورې چه یو مړې ولاړ دې + ده ور ته وُوِ چه هلکَ ستا خوښه دَه چه دِ واخلم + هغه وُوِ چه زه مړې یم څما هیڅ اختیار نشته + بیا ده ور ته ویل چه نوم دِ څه دې + هغه ویل چه ستا خوښ وِې هغه نوم را ته وایه + بیا ده ور ته وُوِ چه څه کار به کوې + هغه وُوِ چه دِ رضا وِې هغه کار را باندِ کوه + بیا ده ور ته وُوِ چه څه رنګ جامه به آغوندې + هغه ویل چه څه را کوې هغه به

آغوندم + بیا ده ور ته وُوِ چه څه به خوري + هغه وُرِ چه ستا څه خوښ
دِي هغه به خورم + دي سړي په زړه کښ وُوِيل چه دا خو ډير ښائيسته
مړي دي + جوړ د خاوند سره ئي بيع وکړه ترِ نه ئي واخست + بيا هغه
مړي ورته ويل چه يوه خبره زه هم کوم که ستا رضا وِي + ده وِ چه
بي شک وُوايه + هغه وِ چه زه به د ورځي ستا خدمت په ښه شان
کوم خو د شپي را باندِ غرض مه لره + ده ويل چه ډيره ښه ده + نو ور سره
هغه مړي روان شه دواړه کور ته لاړل + هر څه چه ده به ور ته ويل
هغه به کول او چه شپه به شوه هلک به لاړ شه تر سحر پوري به نه وه
چه سحر به شه بيا به راغي + حاصل دا دي چه هم په داسي شان به ئي
مدام گذران کاوه + چه څه قدر مُده تيره شو نو دي خاوند ئي فکر وکړ
او د څان سره ئي وُوِ چه دا حال خو معلوم کړم چه دي د شپي چرته
ځي + نو يوه شپه ور پسي روان شه که گوري په يو زوړ نمېدلی وران قبر
کښ ننوا ورته ښکاره شوه + چه دي ور نزدي شه يو فانوس ئي وليد چه
شمع په کښ بليدله او دغه هلک ولاړ وه نمونځ ئي کاوه + چه له نمانځه
نه وزګار شه نو خداي پاک ته ئي زاري کوله اوويل ئي چه اي د بادشاهانو

بادشاهَ ته په پټو او په ظاهرو کارونو خبر يي د دنيا طالبان دِ خپلو کارونو ته ورَسَول نو د آخرت طالبان هم خپلو مطلبونو ته وُرَسَوه اي ځما پاکَ خدايَ زه ډير عاجزيم ځما مراد حاصل کړه + هر کله چه خاوند يي دا حال وليد زړه ئي صبر ته شه ورغي د هلک په پښو پريوت او لاسونه ئي کښلول + هلک پورته وکتل و ئي ويل چه اي مهربانَ خدايَ ځما پرده ځيري شوه نور په دي ژوندون باندِ خوشحال نه يم + خاوند ئي لاسونه ښوِلي وُوِ چه مخ ته ئي وکاته دهلک ساه ختلي وَه +

حکايت پنځه ويشتم

يو سړي وه چه د بادشاه په دلبار کښ به ودريده او دا آواز به ئي کاوه چه د نيکانو سره نيکي کوه او بدانو ته به خپله بدِی پخپله ور رسيږي + او د يو سړي ور ته په دي خبره ډيره کينه پيدا شوله او په زړه کښ ئي دا فکر وکړ چه داسي کار وکړم چه دي د بادشاه له دلبارَ منع شي + نو بادشاه له ورغي او ور ته ئي وويل چه مهربانَ دا سړي چه دلبار له راځي او دا آوازونه هميشه کوِي د ده له خولي نه آوريدلي شوِي دِي چه خلقو ته وايي چه د بادشاه له خولي نه بد بوي ځي + بادشاه

ډیر په قهر شه او و ئي ویل چه څنګه به دا خبره معلومه شي + هغه
چغلي خور وویل چه بادشاه د ئي ځان ته را وبولي نو چه دي بادشاه ته نزدي
شي نو دا ئي نښه دَه چه په خپله خوله به لاس کیږدي + بادشاه وُویل چه
خیر اوس ته بي غمَ شَه زه به دا حال معلوم کړم + او دغه چغلي خور چه
لاړ شه نو هغه سړي ئي را وغوښت په خپل ځاي کښ ئي میلمه کړ چه
ډوډيُ ئي وله راوړله نو پیاز ئي ور سره هم کیښود + چه ده ډوډيُ وخوړله
نو پیاز روان شه دلبار له ورغي او په هغه خپل ځاي ودریده او آواز ئي
وکړ چه دینکانو سره نیکي کوه څکه چه بدانو له خپله بدي بس دَه +
بادشاه ور ته وویل چه دلته راشه خبره در ته کوم + چه دغه سړي ور
نزدي شه نو په خپله خوله ئي لاس کښیښو دپاره د دي چه بادشاه له د
پیاز بوي ور نه شي + د بادشاه یقین راغي چه هغه سړي رښتا ویل جوړ
زر زر ئي یو خط ولیکه او یو امیر ته ئي د دغه سړي په لاس ولیکه او
په هغه خط کښ ئي کښلي وُو چه هر وقت چه دا سړی در ورسیده نو
حلال ئي کړ او پوستکي ئي وباسه او له بوسو ئي ډک کړه بیا ما ته ئي را
واستوه + او دستور د بادشاه دا وه چه کاغذ به ئي بغیر له انعامَ بل د

هیڅ څیز د پاره نه ورکاوه + چه دي روان شه نو هغه چغلي خور ور لپسي لاړ شه او ور ته ئي وُویل چه دا کاغذ ما ته وبخښه + هغه سړي وله کاغذ ور کړ چغلي خور روان شه کاغذ ئي هغه امیر له ور کړ + چه امیر کاغذ ولوست جوړ جلاد ئي را وغوښت او حکم ئي ور ته وکړ چه دا سړي مړ کړه او پوستکي ئي وباسه + چغلي خور وُویل چه ولي داسي کوئ + امیر وُو چه د بادشاه حکم په دي شان شوي دي چه د کاغذ په در تلو دا سړي ووژنه + چغلي خور وُویل چه وار وکړه دا کاغذ د بل چا د پاره شوي دي څم چه هغه راولم + امیر وُویل چه دا په کښ بادشاه نه دِي کښلي چه کُنډ وار ور ته وکړه + پس له هغه جلاد ور پاڅیده او سر ئي تر پري کړ او پوست ئي ور نه وکښنه او له بوسو ئي ډک کړ بادشاه له ئي ور ولیکه + چه صبا شه هغه سړي بیا په دستور خپل راغي او وئي ویل چه د ښکانو سره مناسبه دَه چه سړي نیکي وکړي او د بدانو سره دِ سړي بد نه کوي په دا سبب چه هغه خپل خوي د هغه ډیر دي + بادشاه ور ته حیران شه وئي ویل چه هغه کاغذ دِ څه کړ + سړي وُو چه فلاني سړي راغي له ما نه ئي وغوښت جوړ هغه له م ور کړ + بادشاه وُو چه تا ویلي وُو چه د بادشاه له خولي

نه بد بوي ژي + هغه ويل چه نه ما خو هيڅري ويلي نه دِي + بادشاه وُرِ چه تا هغه ورځ ولي په خولي باندِ لاس کښيښود چه ما ته را نزدي شوي + هغه وُرِ چه ماله هغه فلاني سِړي پياز راکړي وه نو ما ويل چه هسي نه وِي چه بادشاه له بوي ورځي + بادشاه وُرِ چه رښتيا وايي بدان دخپلي بدئِ جزا پخپله موِي هغه ته خپله بدِي ورسيده او ته ور څَه خپل آواز په هغه شان کوه +

حکايت شپږ ويشتم

يو سړي په سفر روانيده نو له يو حکيم نه ئِ پوښتنه وکړه چه له چا سره ملګيرتيا کوم او له چا نه ځان ساتم + حکيم ور ته وُرِ چه له اته رنګَ سړو نه په ډډه ګرزه + اول هغه چه احسان نه مِني + دويم هغه چه بي سببَ قهر ورځي + دويم هغه چه له آخرتَ بي پروا وِي + څلورم هغه چه تګ وِي + پنجم هغه چه دروغ ګوي وِي + شپږم هغه چه شهوت پرست وِي + اووم هغه چه بي حيا وِي + اتم هغه چه بي هيڅَ په خلقو بد ګمان کوِي + او د اته قِسمَ سړو په دوستيئِ پسي کډه ګروزه + اول هغه چه په نيکيئِ قايل وِي + دويم هغه چه له آشنا نه په سختيئِ کښ لاس نه

آخلي ٭ دريم هغه چه ويل او کول ئې دواړه ښه وي ٭ څلورم هغه چه له کبرَ څخه ساتي ٭ پنځم هغه چه عقل ئې په قهر غالب وي ٭ شپږم هغه چه بي طمع سخاوت کوي ٭ اووم هغه چه ادب ناک وي ٭ اتم هغه چه دوست د صالحانو وي ٭ هغه سمي چه لار شه او په دي خبرو ئې عمل وکړ په ډيره خوشحالئ سره له سفرَ بيا راغي او له ناکارَ خوئَ بالکل خلاص شه ٭

حکايت اووه ويشتم

د چرګ او د چرغ سره آشنائي وَه ډيره مده ئې سره په يو ځاي ناسته کوله ٭ يو ورځ چرغ وُويل چه اي چرګَ ستاسو اصل ډير بي وفا دي او ډير بي پټ دي ٭ چرګ ور ته وُويل چه دا څه وايي په موږ کښې کومه بي وفائي او بي پټي دَه ٭ چرغ وُويل چه زه وينم چه دا خاوندان تاسو ته اوبه په لوښو کښې بږدي او جوار غنم اوربوشي د ډوډئ پوټي در ته آچوي او سره د دي تاسو له دوي نه داسي نښتئ چه نور پرِ نه کيږي ٭ او موږ داسي يُو چه څمونږ نه هر يو چه دي سړو له په لاس ورشي که باز وي که بابنه وي که شکري وي که کټه وي که جُرّه وي که چوز وي که تريناک وي نو دوي خو ئې اول ستګي وکندي او خوراک اوبه تر منع کړي او

شوګیري وله ورکوي مطلب دا دي چه په قسم قسم غدابونو ئي عذابوي او
بیا چه سترګي ئي پرانځي نو لږه لږه غوښنه وله ورکوي تر هغه پوري چه له
سړي نه نه ویریږي + نو بیا په کښ لوي مزي واچوي او په چرګ یا په تنزري
یا په زرکه یا په سیسئ یا په قارغه یا په ښاروني یا په نوږز یا په چرچنره ئي
ورپریږدي + او په هغه څیز کښ ئي هم تار آچولي وي او وزر ئي تر وکښلي
وي نو دي خود وږي وي په ډیره مینه سره ئي ونسي خاوند ئي په تلوار
پسي راشي او هغه څیز تر خلاص کړي + بیا چه بنه آموخته شي نو مزي
تر وباسي او په مرغئ پسي ئي پریږدي او ښکار پر کوي او کله کله داسي
طرف ته والوزي چه له نظر او د لیدو له حد بهر شي او که نه راځي
نو لاس پر د هغه نه رسیږي او سره د دي ټولو کارونو چه ما در ته وو
بیا هغه خاوند له راشي او بل طرف ته نه ځي + نو ته ګوره چه موږ څنګه
وفادار یو او نمک حلال یو + چرګ چه دا خبره واوریده نو دومره ئي وخندل
چه له ډیري خندا نه په شا لاړ شه + چوغ ور ته وو چه چرګ دا په څه
سبب دومره خندا کوي ما څه خطا خبره وکړله او که دروغ م وو + چرګ
وویل چه هسي ستا په دي ناپوهئ پوري خندا راغلله نو م وخندل + چرغ

ویل چه څنګه ٭ چرګ ویل چه ګوره که چري ستاسو له ذات سره داسي وکاندِ چه هره ورځ یو یو ښي او حلالوِي ئي او سر تر پریکوِي او پوستکي ترِ وباسِي او په اور ئي ورتوِي یا په کتوئِ کښ ئي پخوِي نو رښتیا وایه که چري طاقت دِ کیږِي نو آسمان ته به والوزي او که نه ٭ چرغ وُویل چه بي شک حق ستا په طرف دي خما فکر هدو دی خبري ته نه وه اوس پوه شوم ٭

حکایت اته ویشتم

په کتابونو کښ لیکلي کیږِي چه لقمانِ حکیم په اَوّلْ حال کښ مریي وه په رنګ تور او په شکل ناکارَ مګر په هوښیارتیا کښ پوره وه ٭ یوه ورځ خاوند دپاره د خرڅولو بازار ته بوت ناګهانه یو زمیندار پرِ پیښ شه له هغَه خاوند نه ئي په قیمت سره واخست او خپل خائ ته ئي بوت ٭ چه شپه شوله خاوند ئي اوده شه او دي یو خالي ځاي ته لاړ شه او په ذکر د خداي خپل مشغول وه ٭ هر کله چه دریمه حصه شپه تیره شوله نو راغي خاوند ته ئي وُویل چه صاحبَ پاڅه که جنت کتمی او له دوزخَ ځان ساتي ٭ خاوند ئي وُویل چه پریږده چه خوب وکړم رب مهربان دیا ٭ دي لاړ شه چه دریمه حصه شپه نوره هم تیره شوه بیا راغي خاوند ته

ئې وُوِ چه پاڅه صاحبَ که د آخرت دپاره څه توښه طیاروي ٭ هغه ور ته وُویل چه قرار شَه خوب راڅي خداي به فضل وکړي ٭ لقمانِ حکیم بیا هغه خپل ځاي ته لاړ شه چه صبا شه بیا راغي ویل ئې چه اي صاحبَ مهربانَ سړي او چارپایان او مرغان ټول د خداي ذکر کوِي نو که ستا څه نیکي په نیت کښې وِي نو دا ئې وقت دي ٭ هغه ور ته وُوِ چه لکوټي م پریږده چه آرام وکړم ٭ لقمان تر لاړ شه د صباح نمونځ ئې اداکړ خپل وِرد وظیفه ئې پوره کړل نو خاوند ئې پاڅید لقمانِ حکیم ته ئې یوي او جغ او سسپار او سسپارکوري او چوکه او سرباندې طیار کړل او د تخم کودِي کښې ئې وله ښس سیَر اوربوشي واچولي او غوایان ئې د قلبي ور ته په مخ کښې کړل ٭ ویل ئې چه څَه په فلاني ځاي کښې له چا نه پوښتنه وکړه څمونږ پټي به در ته وښيي نو کیلونه په کښې برابر وباسه او په بیل بیل کیل کښې تخم په مناسب سره ولونه او یوي کوه یو ساعت له په زه هم درپسې در شم او که زه در نه شم هم خپل کار وکړه نو کور ته راځَه ٭ لقمان ویل چه ډیره ښَه دَه چه له کورَ وُوت د یو کوانډي کره ور ننوت او هغَه اوربوشي ئې په غوښتو بدلي کړلي بیا روان شه پټي له ورغي غوښت ئې په کښې وکړل ٭

تر نمابنامَ ئې يوي وکړه خو خاوند ئې ور پسي لاړ نه شه ٭ ده چه پټي واړاوه او تخم ئې وکاره نوکور ته را روان شه ٭ چه څه مده تيره شوه نو خاوند ئې ور ته وُويل چه لقمانَ څه چه لاړ شُو چه د پټي ننداره وکړُو ٭ لقمان وُوِ چه ډيره بنَه دَه دواړه سره روان شول ٭ چه پټي له ورغلل خاوند ئې تماشه کوله چه ئې وکتل اوربوشي ور ته بنکاره نه شولی ٭ و ئې ويل چه لقمانَ دا زرغونه خو د اوربوشو ته دَه دا تيغونه خو د بل څه دِي ٭ لقمانِ حکيم ويل چه هو صاحبَ دا غوښت شوِي دِي هغَه اوربوشي ما نه دِي کړلي ٭ خاوند ئې وُويل چه دا څه سبب دي ما خو تا له اوربوشي در کړي وي او تا غوښت کړلي دِي ٭ لقمانِ حکيم ويل چه صاحبَ خير دي مه خپه کيږه خداي مهربان دي اوربوشي به وشي ٭ خاوند ئې وُوِ چه رښتيا وايي خداي مهربان دي ولي تا غوښت کړلي دِي نو څنګه به اوربوشي وشي ٭ لقمانِ حکيم وُويل چه صاحبَ لکه چه ته خوب د غافلانو شان کوي او مرتبه د صالحانو شان غواړي ٭

حکايت نه ويشتم

په يو څنګل کښ زمرِي ډيره ينولي وَه او د هغَه څنګل څناور د هغه

زمرِي په سبب سره ډېر تنګ وُو او ګذران يُ سخت ده ، يو وار يُ مصلحت وکړ تول ښاور هغه زمرِي له راغلل او در ته يُ وُويل چه مونږ به په خوښه مره تا له وظيفه مقرره کړو نو ته په ورځ ورځ خپله وظيفه آخله او زياتي په مونږ غرض مه لره چه مونږ په آرام سره عمر تيروُو + زمرِي وويل چه بنايُسته خبره کوئ مګر ځما باور نه کيږِي ځکه چه په دي زمانه کښ ما له هيچا نه خير نه دي موندي بلکه هر چا را سره په قدر قدر بد کړِي دِي + ښاورو ور ته وُوِ چه توکّل پکار دي او که ته ډېر کوشش وکړي خو له نصيبَ به هيڅ زيات نه کړي + زمرِي وُويل چه بنه وايئ توکّل ډېر بنه څيز دي ليکن کسب کول هم سنت دِی نو خواه مخواه سرِي له مناسب دِي چه هسي کښيناستل نه کوِي + ښاورو ور ته وُويل چه رښتيا خبره دا دَه چه سرِي يقين کم لرِي نو توکّل يُ هم کمزوري وي + زمرِي وُويل چه هم دا هسي خبره دَه لکه چه تاسو وايئ مګر چه سړي له کوټي راکوزيږِي نو په اندرپايه راکوزيږِي او په يو يو دستګي پښه بږدِي داسي نه کوِي چه کُندِ په يو وار ځان کوز غورزوِي + نو معلوميږِي چه عقل او سترګي د سرِي عبث نه دِي بلکه په هر څه کښ خداي فايدي پيدا کړي دِي + په سترګو

لیدل کیږي په لاسونو ښوول په غوږو آوریدل په پښو تلل په خولي خوړل داسي
په هر اندام کښې بلکه په هر قسم مخلوق کښې رنګ رنګ او بیلې بیلې فایدې
دي ٭ نو که کسب ښه نه وي نو دا به نه وُو مګر چه سړي کسب کوي او سره
له کسب توکّل هم کوي نو هغه بهتره خبره ده ځناورو په یور وار شور جوړ کړ
او ډیر ئې ور پوري وخندل او وئې ویل چه تا هغه نه دي آوریدلي چه
یو سړي وه چه د هغه په کلي کښې ویا ګډه شوله نو دي له مرګ تښتیده
یو ځاي کښې په یوه سمځ کښې ننوت هلته پر یو کانړي پریوت دستي مړ شه
هغه تښتیدل ئې هیڅ پکار نه شول ٭ مزري وُویل چه خبره کوئ خو ښمکړي
ئې کوئ تاسو نه پوهیږئ چه نوح پیغامبر خداي خلاصاوه نو ورته ئې حکم
وکړ چه بیړئ سازه کړه سره د دي چه بې بیړئ ئې هم ساتلي شه مګر چه اولاد
ته ئې ښکاره شي چه کسب ښه څیز دي ٭ ځناوروي وُویل چه ستا خبره
منظوره شوله چه کسب ښه دي نو دا توکّل خو هم یو کسب دي نو بیا دا
کسب دِ ولي نه خوښیږي ٭ حاصل دا دي چه ځناور په حجّت کښې غلبه
شول او د زمري څه دلیل پاتي نه شه خواه مخواه ئې غاړه کیښودله ٭ پس
له هغه به هوسو او کیدړو او سویو او لونبړو په کور کښې یو تن په پچه

پړ کاوه او وله به ئې را لیږه ٭ مزري هم فکر وکړ چه بې تکلیف خوراک همیشه پیښیږي نو څه پکار چه څان ربړوم ٭ چه د هر چا به وار وه هغه به مرزي له ور ته او نور به بې وسواس په څنګل کښې کرزیده ٭ ناګهانه چه وار د سوي راغي نو خپل قوم ته ئې وویل چه آخر تر کومه بوري به دا ظلم په مونږ باندې کیږي ٭ هغو ټولو عزیزانو ور ته وویل چه دا خبره مه کوه څکه چه تر اوس پوري په هر چا چه وار راغلي دي نو عذر ئې نه دي کړي ٭ دا بدناموسی راځي چه مونږ ور سره پخپله وعده کړي ده او بیا ئې ماتوو ٭ سوئې ور ته وویل چه که تاسو څما آوریږ نو زه به داسي کار وکړم چه ټول به له دي غم خلاص شوو ٭ بیا څناورو ور ته وویل چه اي کمعقلي دا کوم خیال دي چه تا خوښ کړي دي آخر څان ته وګوره له خپلو غوږو وشرمیږه نوم ته د فکر وکړه چه خر ـ ګوش در ته ویلي شي ٭ سوي وویل چه دا خبره مطلق مه کوئ په دي سبب چه عقل او پوهه خدای سړي له ور کړي او بیا د وړوکو له لاس هسي کار وشي چه لوي ور ته حیران پاتي شي ٭ تاسو نه کوریږ چه مچئ څومره وړوکی څیز لیدي شي او په څه رنګ سره ښائسته کور ډک له ګیښه جوړ کړي ٭ څناورو ور ته وویل چه مونږ په دي خپه نه یو چه دا بلا څمونږ

نه دفع کړي مګر خپه په دي يُو چه دا کار کيدوني نه ګنړو بلکه فساد به تر
ډير جوړ شي ÷ او که تا څه خبره غوره کړي وِي نو مونږ ته ئي هم رُوايه چه
په کښ مصلحت وکړُو ځکه چه د دوستانو په اتفاق او په جرګه کښ ډير خير
وِي ÷ سوِي ور ته وُويل چه په هره خبره باندِ خلق خبردار کول ښه نه وِي
نه کورئِ چه آئينه څه صاف رنګ لرِي ليکن چه نزدي ور ته خبري وکړي شي
او اسويلي پرِ ولګيږِي نو خره شي ÷ او بل دا دري ځيزَ پټ بهتر دِي يو
زر چيل بل وقت د تللو بله لار د تللو ÷ څناورو ور ته وُويل چه جرګه
او مصلحت خو سنت دِي او ته داسي پرده کوي چه نور پر نه کيږِي ÷ سوِي
ور ته وُوِ چه رښتيا دِي مګر هغه چا سره چه په دي يقين وِي چه دا مصلحتي
ځما به دښمن ته خبر نه رسوِي ÷ حاصل دا دي چه حال ئي و نه وايه او
په دي فکر کښ شوه چه د زمرِي څه علاج وکړم ÷ هر کله چه وقت د تللو
شه نو په هغه ساعت لاره نه شوه لکوتهِي معطله شوله ÷ هلته کښ زمري
په غضب شه او وئي ويل چه څه لويه ټګي را باندِ وشوله چه دَ داسِي ناکارَ
خلقو مِ واوريدل او که بيا ژوندون وِي په عمر به د دي خلقو په وعده باور
وُ نه کړم ÷ دي په دي قهر او غضب کښ لار کوِي چه څوک راځي او که

نه راځي ٭ او سويه درو ورو په لار روانه دَه او ځان سره فکر کړي خو چه
زمري ته ور ښکاره شوله نو هسې ګرندۍ ور وُزغليده چه زيات له دغه يې
طاقت نه وه ٭ زمري ورته تريو وچولي وينود او و ئې ويل چه اي بدذاتي بي‌وقوفي
دا ولي دِ دومره دِيل وکړ شکر نه کوئ چه زه په يوه سويه باندِ صبا بيکا
دوه وقتَ تيروم او په هغه کښ هم لا تاسو سر پښي کوئ را باندِ ٭ چه دا
وعده م نه وَه کړي نو چه زړه به م غوښته هغه څيز به م خوړ او چه
ستاسو په طمع شوم نو لار ته م په کتل کتل دوه سترګي څلور شي نو هاله
را ته يو پوتني غوښه را ورَسَوئ ٭ سويي ور ته وُويل چه مهربانَ که عذر
قبليږي خو زه به ئې بيان کړم او که اجازت د ويلو نه وِي نو نه به ئې وايم ٭
زمري وُويل چه چپ شَه احمقي ته به څه يې او ستا عذر به څه وِي ٭ سويي
ور ته وُويل چه مهربانَ ته بادشاه يې نو که چري ځما غُندِ مظلومي عرض واوري
چه په ما باندِ په لار کښ څومره سختي تيره شوي دَه نو ستا پرِ هيڅ مرتبه نه کميږي
او ځما پرِ د زړه تسلّي کيږي ٭ زمري وُوِ چه بي‌شکَ عرض آورم ليکن چه د
سړيتوب شان عرض وِي نو د هغه غور هم کوم ٭ سويي وُويل چه مهربانَ
بلا دِ واخلم صبا له وقتَ يو زه او يوه ځما ملګري ستا د ميلمستيا دپاره را

رواني شوي وُو ناکهانه په لار کښې را باندې يل زمري پيښ شه مونږ خو اول دا
گمان وکړ چه دا څمونږ خپل بادشاه دي مګر چه هغه په هيبت سره لاس
را واچاوه نو مونږ پوه شُو چه دا بل څوک دي نو بيا چه يقين شوه چه بل
څوک دي نو ماور ته وُويل چه خبردار شَه چه لاس را نه وړي څکه چه
مونږ د خپل بادشاه دپاره مقرري شوي يُو + هغه زمري را ته په قهر شه
او و ئي ويل چه چپ شَه څما د وړاندې لا هم د بل چا نوم يادوي اوس به
تاسو هم ذري ذري کړم او بادشاه به ستاسو هم قطري قطري کړم + ماور ته
وُوِ چه باري دومره خوم پريږده چه زه بادشاه خپل وُويينم + هغه وُو چه نه
دِ پريږدم مګر چه دا ملګري دِ را ته پريږدی + چه بل شان کار نه کيده نو
خود ملګري م هغه ته پريښودله او زه ترِ په دي هنر سره را ورسيدم ما له
څانَ سره ويل چه که دواړه و نه شي نو يوه خو به وخوري او ساعت به ئي
پرِ تير شي + نو اوس ورستي عرض م دا دي چه نور اميد له چا نه مه کوه
دغه لار د هغَه زمري په سبب بنده را ته معلوميږي نوره نه پوهيږم +
او که خپله وظيفه دِ خوينه وِي نو اوس روان شَه او لار صافه کړه + زمري
بي اختيارَ پاڅيده او له قهرَ ئي وُويل چه کوم څاي دي راشَه را ته ئي بنکاره

کړه که وِي خو اوس به ئي تماشه وکړي او که نه وِي خود به تا سره پوه شم چه بل څوک داسي دروغ نه وائي + حاصل دا دي چه زمري او سويه دواړه روان شول يو کوهي وه چه د هغه خوا ته ورسيدل نو سويه تر هلته ورستيِ شوله + زمري وُويل چه ولي پاتي شولي + سويي ويل چه مهربان ته څما رنګ ته نه ګوري چه څنګه له ويري نه زيړ شه + زمري وُوِ چه څه سبب دي + سويي وُوِ چه په دي کوهي کښ هغه زمري دي او څما ملګري هم سلامته ور څخه دَه + زمري وُويل چه راشه را ته ئي وښيه + سويي وُوِ چه زه ويريږم او که ته م په غيږ کښ ونسي نو به ته ويريږم + زمري سويه په غيږ کښ وينوله چه کوهي ته ور ښکاره شه خپل ځان ئي په اوبو کښ وليد يقين ئي راغي چه دا رښتيا بل زمري دي جوړ سويه ئي پريښودله او کوهي ته ئي ور ټوپ کړ خود بيرته راختلي نه شه او ښکته اوبه ډيري وي په کښ مړ شه + سويه راغله خپلو عزيزانو ته ئي د خوشحاليِ خبر وکړ څناور ټول خوشحال شول او د سويي هر چا صفت کاوه او شاباشي ئي پرِ وايه +

حکايت ديرشم

يو سوداګر وه چه نيت ئي د سفر د هندوستان وکړ + نو د کورلوي او واړه

ئې را جمع کړل او د بيل بيل نه ئې پوښتنه وکړله ور ته ئې ويل چه ووايه چه
تا له څه څيز له هندوستان راوړم + هرچا به ور ته هغه څيز يادوه چه څه
به ئې خوښ وه + او د دغه سوداګر کره يو طوطي په پنجره کښې بند وه نو دې
هغه له ورغې ور ته ئې وويل چه ووايه اې طوطي تا له څه را وړم څکه چه
زه هندوستان له څم او ته هم هندوستاني يې نو ووايه چه څه څيز دِ د
خپل وطن خوښيږي + طوطي ور ته وويل چه خما دپاره دا قدر مهرباني وکړه
چه فلاني څنګل له ور شي نو هلته کښې به طوطيان په ډېر ناست وي اول
خما سلام ور باندې ووايه او پس له سلام ور ته ووايه چه هغه فلاني طوطي
چه ستاسو آشنا دې هغه څمونږ کره په پنجره کښې بند دې او ويل ئې
چه عجيبه دوستي ده چه زه په بند کښې يم او تاسو بې غمه سيلونه کوئ +
نو هر څه چه هغوي جواب درکړ نو هغه ما ته ووايه + سوداګر وويل چه
ډيره بنه ده دا خو به شل څل وکړم + سوداګر اسباب طيارکړ څان ئې سنبال
کړ هندوستان ته روان شه + چه په يو چنګل باندې ورغې په هغه ځاي کښې
طوطيان ئې وليدل جوړ د هغه خپل طوطي خبره ور ته ياده شوله له څان سره
ئې وويل چه طوطيان دلته ډير پيښ شوي دي نو مناسب دي چه خپله غاړه

خلاصه کړم + جوړ په هغه ځاي ودريده او وئ ويل چه اي طوطيانو فلانې طوطي ځما کره په پنجره کښې بند دي هغه اول تاسو ته سلام ويلي دي او پس له سلامَ ئې ويلي دِي چه څه مناسب دِي چه زه په بند کښې بي مجالَ يم او تاسو په سيلونو کښې خوشحالَ کرزيئ + چه دا خبره ده خلاصه کړله جوړ په هغوي کښې يو مشر طوطي وه نو هغه د دي خبري په آوريدو سره لړزيده ريږديده رپيده هم په هغه ساعت مړ شه کوز په زمکه ولويده + سوداګر چه دا کار وليد نو ډير خپه شه او په دغه خپله خبره باندِ پښيمان شه او ځان خپل ئې ډير ملامت کړ ويل ئې چه څه له م دا کار کاوه چه دا عاجز بي هيڅ هلاک شه معلوميږي چه د دي طوطي او د هغه طوطي سره ډيره خپلوي او آشنائي وَه او مينه محبت ئې سره ډير وُو نو څکه دي د هغه په خفقان او په ارمان باندِ دستي مړ شه + يو ساعت زهير ولاړ وه بيا خپه روان شه + چه سود سودا خپل ئې برابر کړل نو بيرته په طرف د کور خپل وګرزيده چه په خير سره کور ته نوت لوي واړه وله ټول را پاڅيدل او ورته ئې ويل چه په خير راغلي خيرتونه دِ راوړل الحمد لله شکر دي چه صحيح سلامت روغ جوړ خپل کور ته راغللي + سوداګر هم وُويل چه ډير ښه ساعت دي ثنا خداي له دَه

چه تاسو م تول روغ جوړ په خوشحالۍ سره وموندلۍ ٭ یو ساعت ئې سره پوښتني یو له بل نه کولې بیا د هر چا دپاره چه ئې څه راوړي وُو بیل بیل ته ئې په مناسب مناسب سره ورکړل چا له پنړي وي چا له لونګۍ وَه چا له د قمیص دپاره ټوکي وه چا له د پرتوک دپاره ټوکړه وَه چا له د پګړۍ دپاره سلامت تان وه چا له وړکوټي پټکي وه د جنګو دپاره د پښو جوټۍ او د په سرولو دُپټې او د زړو بنځو دپاره کوَښې او د سر پړوني هر څوک ئې په خپل خپل شان په اندازه اندازه سره وپالل ٭ طوطي ور ته وُویل چه صاحب د هر چا کار وشه نو اوس ځما به هم څه وُوايي او که نه ٭ سوداګر ور ته وُویل چه رښتیا خبره دا دَه چه زه ستا په هغه خبره رَسَول باندو هم پښیمان یم نو بیا تا ته لا څه د هغوي خبر ورسوم ٭ طوطي وُوِ چه دا هیڅ خبره نه دَه خبر خو سړي رسوي نو پښیمانتیا څه دَه ٭ سوداګر وُویل چه په نه ویل کښ ما ته خیر بنکاریږي ٭ طوطي ویل چه ډیره ښه دَه خو تا پخپله مهرباني کړي وَه ویل دِ چه طوطی ته څه غواړي او اوس وایي چه نه وایم نو چه نه وایي نو شل ځلَ ئې مه وایه ځما خو څه زور نه دي ٭ سوداګر پوه شه چه دي چنډ شه نو وُ ئې ویل چه قصه داسي وَه چه زه لاړم په یو څنګل کښ

طوطیان ورو هغو ته م ستا سلام ووایه او ستا ارمان او خفقان م بیان کړ
په هغو کښې یو طوطي وه خو چه ما خبره خلاصه کړله جوړ هغه فی الحال مړ
شه + نو زه پښیمان شوم زړه م ډیر خپه شه ما وویل چه افسوس دي چه
دا خبره م نه وي کړي نو څنګه به ښه وو + طوطي چه په پنجره کښې دا خبره
واوریدله نو په ده باندې هم لړزیدل او ریږدیدل او رپیدل راغلل دستي پریوت
په پنجره کښې مړ شه + چه سوداګر ور ته وکتل نو په ژړا شه چه ډیر افسوس
او بي شان فریاد ئي وکړ نو طوطي ئي له پنجري نه بهر وغورزاوه + او طوطي چه
په زمکه پریوت له هغه ځاي نه او چت والوت پورته په یو ځاي باندې کښیناست +
سوداګر چه وکتل یو ساعت حیران شه بیا ئي وویل چه اي طوطي هر څه چه
وشو هغه خود وشو مګر په دي حال خو ما هم پوه کړه چه دا څنګه
کار وه + هغه طوطي ور ته وو چه هغه ما له خبر را ولیږه او ته پرې نه
پوهیدلي د هغه مطلب دا وه چه ته ځان مړ کړه نو خلاص به شي او که
ژوندي یي او خوږي خوږي خبري کوي نو د خلاصي امید مه کوه نو خود زه ستا
له ویلو نه په مطلب پوه شوم هغه شان کار م وکړ نو خلاص شوم + اوس داسي
وایم چه ستا نمک م خوړلي دي ما وبخښه زه رخصت یم + سوداګر وو چه

ما نجښلي يي د خداي په امان اوسي + طوطي روان شه ويل ئي چه السلام عليکم سوداګر ويل چه وعليکم السلام +

حکايت يو ديرشم

يو عالم د يو بادشاه د وړاندِ خبري کولي ناکهانه په مينځ د خبرو کښ ئي ووېل چه په هندوستان کښ يوه ونه دَه که د هغي وني ميوه څوک وخوري نو هغَه سړي به نه زوړ شِي او نه به مړ شِي + بادشاه چه دا خبره واوريدله جوړ په هغَه ونه باندِ مين شه او سودا واخست چه دا به څه رنګ پيدا شِي + ليکن د هغَه عالم نه ئي پوښتنه نه کوله چه دا ونه به چرته وِي او څنګه به وِي + مګر چه د ده پرِ ديرِ باور وه هغه سړي ئي په طرف د هندوستان رخصت کړ او ديرِ مال ئي وله ورکړ او ور ته ئي ووېل چه دا دولت لګوه او نور به هم در ليږم خو هاله بيرته را ځَه چه ما له د دغي وني ميوه راوړي + قاصد روان شه چه هندوستان ته ورسيده نو له خلقو نه به ئي هر ځاي کښ پوښتنه کوله او ويل به ئي چه هغه ونه کوم ځاي دَه چه سړی ئي ميوه وخوري نو بيا هميشه ژوندي وِي او هيڅري نه زړيږي + چه خلقو به دا خبر واوريدله نو چا به ور پوري خندل چا به ور پوري ټوقي کولي چا به ويل چه

دا لیوني شوي دي چا به ویل چه مونږ ته معلومه نه دَه مګرچه دا بنه سړي ور پسي ګرزي نو معلومیږي چه دا به رښتیا چرته وِي ٭ چا به ویل چه په فلاني ځنګل کښې که چري وِي نو وِي به او بل ځاي م ګمان ته کیږي چه ګُندِ پیدا شِي ٭ چا به ویل چه په فلاني ځنګل کښې یوه لویه ونه په هسي شان سره دَه چه سر ئي چا ته نه ښکاریږي او بیخ ئي هم نه معلومیږي او میوه ئي هم چاله په لاس نه ورځي که چري هغه وِي نو شک نشته ٭ داسي هر چا به ور پوري مسخري کوي او دي غریب به په ځنګلو او په غرونو او په میرو او په بیابانونو ګرزیده ٭ حاصل دا دي چه یو خوا بل خوا وړانده ورستو ښکته پورته ډیر طلب ئي وکړ مګر هیڅ په حال پوه نه شه نو بیرته راوګرزیدهٔ چه وطن ته راته ډیر خپه ره اوځان سره ئي ویل چه بادشاه ته به څه عذر کوم ٭ چه په یو ځاي کښې ئي شپه شوه په هغَه ځاي کښې ئي واوریده چه یو سړي ویل چه څمونږ په دي کلي کښې لوي عالم دي او بي شانَ بنه سړي دي ٭ دي قاصد په زړه کښې وُویل چه باري ورشم که څه دعا را ته وکړي نو دستي پاځید هغَه عالم له ورغي ٭ چه ملاقات ئي ور سره وشه نو ور ته ئي وُویل چه صاحبَ دعا را ته وکړه چه ایمان م خداي سلامت کړي

او په خیر سره وطن ته ورسیږم ÷ هغه دعا ور ته وکړله او بیائي تر پوښتنه وکړه چه چرته تلي وي ÷ هغه قاصد ور ته دا ټوله قصه وویله ÷ هغه عالم چه واوریده نو ور ته ئې ووېل چه تاسو د هغه خپل عالم په خبره نه یئ پوه شوي ÷ هغه ونه بله نه ده هغه ونه د علم ده یعنی د علم میوه چه څوک وخوري نو هغه سړي به هیشه ژوندي وي ÷ او د هیشه ژوندون څه معني ده هغه معنی دا ده چه خداي وپیژني نیکي یدي ور ته معلومه شي د نیکئ عمل کوي او له بدیئ نه ځان ساتي کتابونه تصنیف کاندي شاګردان تر پاتي شي نو هدوکه دا سړي په تن مړ شي هم هیڅ غم ئې نشته څکه چه هلته ئې روح ژوندي وي او دلته ئې نوم ژوندي وي او ثواب ئې داسي کیږي لکه یو ژوندي سړي چه نیکي کوي او ثواب ئې کیږي ÷ قاصد ور ته ووې چه صاحب مویږ هم دومره پوهیږو نادانان نه یو که چري هغه علم یاد کړي وي خو مویږ به پوه شوي وو چه علم واپي ولي هغه د ټولو خلقو د وړاندي ونه یاده کړي ده او په دي خود هر څوک پوهیږي چه علم د یو څیز نوم دي او ونه د بل څیز ÷ هغه عالم ووېل چه ته بیا پوه ته شوي تا له مثال پکار دي چه بنه پوه شي ÷ ګوره یو سړي وي نو د چا پلار وي او د چا زوي وي او د چا

نمسي وِي او د چا نيکه وِي او د چا خوريي وِيا او د چا ماما وِي او د چا تره وِي او د چا وراره وِي او د چا ترورزي وِي او د چا تربور وِي او د چا ورور وِي او د چا آشنا وِي او د چا دښمن وِي او د چا دوست وِي ٭ نو اوس ته ګوره چه هم دغه يو سړي دی او هر نوم له دي نومونو نه چه په خپل ځاي کښ ورته څوک وايي نو ويلي شي که نه شي ٭ هغه قاصد دوِ چه بي شک ويلي شي ٭ نو هغه عالم ووِيل چه داسي علم ته هم دواړه نومَ ويلي شي که دِ خوښ وِي نو ورته علم وايه او که دِ خوښه وِي نو ورته د ژوندانه ونه وايه دواړه نومونه ئي برابر دِي هيڅ فرق په کښ نشته ٭ هغه قاصد چه دا خبري واوريدلي تسلّي ئي د زړه وشوله او له عالم نه ئي رخصت واخست او د خپل کور په طرف را روان شه ٭ چه ښهر ته ورسيده بادشاه ورته په اميد کښ وه چه دلبار له ورځي بادشاه ترِ پوښتنه وکړله ويل ئي چه ووايه ميوه دِ وموندله او که نه دِ دَه موندلي ٭ قاصد ورته له سرَ قصه شروع کړله خپل ربړيدل او په ملکونو او په غرونو او په بيابانونو کرزيدل او دخلقو مسخري کول ټول حال ئي ورته بيان کړ ٭ چه بادشاه واوريده نو ډير خپه شه و ئي ويل چه ستا ربړ عبث شه او

څما مطلب و نه شه ٭ پس له هغه قاصد ور ته د هغه عالم خبره په ښه شان سره بیله بیله جدا جدا واورووله ٭ چه بادشاه واوریدله ډیر خوشحال شه او قاصد له ئې د کرزیدلو له مشقت نه دوچند دولت وکړ او پس له هغه باقي عمر د علم او د عالمانو په ساتنه او په پالنه کښ شه ٭ او حکم ئې وکړ چه هر څوک دِ واورِي چه علم نه په واړه دي او نه په زاړه دي خو زده کړه دِ کوِي که لوي وِي او که وړوکي وِي ٭

حکایت دوه دیرشم

یو سوداګر سړِي یو څو یاړونه د وریښمو یو ترک ساروان ته وسپارل او ور ته ئې وُویل چه دا وریښم استامبول ښهر ته ورسوه ٭ او دي هم ورپسي روان شه مګر چه یمه لار ئې وُوهله نو هلته ناجوړ شه او کاروان ته و نه رسیده ٭ او چه دي ورستوه پاتي شه او په نیټه خپله ور نه رغي نو هغه ساروان ګمان وکړ چه کنړه سوداګر مړ شه ٭ جوړ لاس ئې د وریښمو په خرڅولو پوري کړ تول ئې خرچ کړل او اوښان ئې هم ور کړل او د ساروانئِ زړوکي ئې بدل کړل ٭ چه پس له څو مُدي سوداګر ور ورسیده او ډیره پوښتنه ئې وکړله نو هغه ساروان ئې بیاموند نو ور ته ئې وُویل چه راوړه که نه څما مال دِ څه کړ ٭ هغه ور ته

وُويل چه زه نه تا پيژنم او نه دِ له مالَ خبريم ٭ هغَه سوداګر ور ته وُوِ چه خما وريښم دِ په اوښانو په مزدوريِ راوړي نه دِي څه ٭ هغَه ور ته ويل چه ته خطا شوي بي څَه په ساروانانو پسي ګرزه نو ما ته څه وايي ٭ عاقبت پس له ډيري جګړي نه مقدمه قاضِي ته ورسيدله ٭ قاضِي له سوداګر نه پوښتنه وکړه چه وايه څوانَ ته څه دعوي لري ٭ سوداګر وُويل چه ما د وريښمو بارونه ده ته حواله کړي وُو ويل مِ چه دا په مزدوريِ استامبول ته ورسوه اوس چه يَ ترِ غوارم دي يَ نه راکوي ٭ قاضِي بيا له ساروان نه پوښتنه وکړه چه ته څه څواب لري وُوايه ٭ هغه ويل چه زه څه وُوايم ما هدو ساروانَي کړي نه دَه نو ٭ قاضِي بيا سوداګر ته وُويل چه ته شاهدان لري ٭ هغه ويل چه صاحبَ په دي معاملو کښِ څوک شاهدان نه لِري نو ٭ قاضِي وُويل چه څيِز ورک شيِ احمقانو دا څه عيث قصي را ته کويِ ٭ چه دوي روان شول نو قاضِي آواز وکړ ويل يَ چه اي ساروانَ ودريږه خبره کوم ٭ د ساروان فکر نه وه زر يَ مخ ورستو را واړاوه ٭ قاضِي پوه شه چه دا ساروان دي نو بيرته يَ وګرزاوه او مال يَ ترِ نه سوداګر له واخست او د منکريدو په سبب يَ ګنهګاره ور نه واخستله او سزا يَ پوره وله ورکړله ٭

حکایت دري ديرشم

په يو ځاي کښې ميلو او بنامار په جنګ سره نښتلي وو مګر ميلو ئې ډير بې طاقتَ کړي وه + ناګهانه يو ځوان پرِ پښې شه چه دوي ئې وليدل نو فکر ئې وکړ چه بنامار لوي ظالم دي نو مناسب دِي چه د ميلو ملګري شم او بنامار په دوارو تنو وُوژنو + او د ميلو چه په ځوان نظر ولګيده نو فرياد ونه او اشارتونه ئې ور ته وکړل ځوان نوره وُويستله او ور دَو ئې کړ په بنامار ئې ګذاروته وکړل بنامار مړ شه او ميلو ئې ترِ خلاص کړ + ميلو فکر وکړ چه دي سړي ځما سره ډير ښه وکړل نو اوس ما له بنائي چه د ده خدمت کوم + نو هر خوا ته چه به ځوان ته دغه ميلو به ور سره جګت يو ځاي ګرزيده + يوه ورځ دغه ځوان له خوب ورغي اوده کيده خو چه سر ئې ولګاوه او ځملاست نو يو سړي پرِ راغي ور ته ئې وُويل چه ځوانَ دا ميلو دِ څه لګيږي چه ته ملاست يې او دي در ته ناست دي + ځوان ور ته د بنامار قصه وکړه او ويل ئې چه اوس م آشنا شوي دي نو خود را سره يو ځاي ګرزي + سړي ور ته وُويل چه ځوانَ دا د احمقانو کار دي چه ته ئې کوي په ده پوري زده مه تره او په هر شان چه کيږي رخصت وله ور کړه او ځان ترِ خلاص کړه +

څوان ور ته وُويل چه دا دِ زړه را باندِ نه بښه کيږي څکه وايي او که نه وِي
نو ته ګوره چه د صحرا څناور دي او څه رنګ څما سره مينه کوِي + هغه
وُويل چه زه داسي نه وايم چه د ده تا سره مينه نشته مګر وايم چه دي
بي عقلَ دي هغَه د ده مينه به ستا په حق کښ غم شِي + بلکه ما سره
راځَه چه سره يو جښ يُو زه به دِ هم خدمت کوم + څوان وويل چه ور څَه
خپل کار کوه + هغَه سړي ور ته وُوِ چه څما کار هم دا دي چه تا له دي بلا
نه خلاص کړم او تا له مناسب دِي چه دِي پريږدي او ما سره ملګري شِي
څکه چه که چري زه ډير ناکارَ شم نو له ميلوُ نه خو به بښه يم او دا در
ته وايم چه د ده په آشنايئ کښ ستا خير نشته + څوان وُوِ چه څما له
غمَ ته خلاص يي هيڅ فکر مه کوه خو اوس ما پريږده چه خوب وکړم + هغه
سړي ور ته ويل که خوب کوي نو د يو سړي په خوا کښ اوده شَه او د
ميلوُ په خواه کښ مه اوده کيږه + څوان ور ته شا کړله او زړوکي ئي په ځان
خور کړ او مخ ئي تړ پت کړ + د هغَه سړي ور باندِ زړ وسه لاس ئي ور
واچاوه ويل ئي چه پاڅه نيک بختَ ستا د بنو وايم + څوان ور ته ويل چه
ورځَه څما د بنو مه وايه + حاصل دا دي چه سړي ډير څه وکړل خو څوان

ور سره لاړ نه شه آخر ترِ روان شه او ور ته ئې وُويل چه ته پوه نه شوي او ځان دِ ډوب کړ ٭ چه هغه سړي لاړ شه نو ځوان اوده شه او ميلُو ور ته ناست دي ځوکيِ ئې کړي ٭ ناګهانه يو مچ راغي او د ځوان په مخ کښيناست ميلُو لاس وخوځاوه مچ ئې له مخ نه وشاره هغَه مچ بيا راغي ده بيا وشاره چه يو ځو ځلَ ده وشاره او هغَه نه منعَ کيده جوړ قهر ورغي دستي لاړ شه يو لوي کانړي ئې د جرندي د پل همره راوړ او هغَه مچ د ځوان په مخ ناست وه چه ئې وله کانړي را پرپښو نو مچ او مخ ئې دواړه ذري ذري کړل د ځوان او د ميلُو آشنائيِ پوره شوله ٭

بي مطلبَ د احمقو کار و بار ٭ همره نه دي چه ئې ځوک وکانِ شمار

که ښيګړه ځوک د ځان سره کوينه ٭ د جاهل سره دِ نه دروِمي په لار

حکايت ځلور ديرشم

يو سړي زرګر له لاړ شه او ور ته ئې وُويل چه ما له کنده راکړه چه زه پرِ وړي وړي توکړي د زرو وتلم ٭ هغَه زرګر ور ته ويل چه غليل ځما بل چا وړي دي ٭ هغَه سړي ور ته وُوِ چه ته څه وايي او زه څه وايم ٭ زرګر وُويل چه جارُو م په دوکان کښ نشته ٭ هغَه سړي ور ته وُويل چه ما

ته معلوم يي چه کونړ نه يي خبره آوري او سره د دي زه له تا ته يو څيز غواړم او ته را ته بل څيز يادوي ٭ زګر رُو چه بنه آورم چه ته کنده غواړي مګر وينم چه ستا لاس رچيږي او دا زر به در نه پريوزي ٭ نو بيا به وايي چه جارُو راوړه چه د زرو پوټي پرِ را ټول کړم نو بيا به غلبيل غواړي د چانړولو دپاره ٭ نو ما څکه د جارُو او د غلبيل عذر وکړ چه تا لايق نه وينم چه دغه کار وکړي نو خواه مخواه به دي دواړو ته حاجت پريوزي او دا دواړه خود نشته ٭

حکايت پنځه ديرشم

که په زور که په زارئ وِي که په جنګ ‌ ‌ ‌ څوک د بل نصيب خوړي نه شي هيڅ رنګ

هر سړی ته چيلا چيل قسمت رسيږي ‌ ‌ ‌ په کوشش نه څه کميږي نه زياتيږي

لکه يو دهقان وه چه يو کال ئي غله ديره وشوله نو د دري سوو اشرفو ئي نرِ په يو ځاي خرڅه کړله او هغه اشرفئِ به ئي سنبالي ساتلي او په هيڅ کار کښ به ئي نه لګولي ٭ يوه ورځ ئي هغه اشرفئِ را واخستلي او په لاس کښ ئي آړولي را آړولي ناګهانه يو آشنا ور ته په کوڅه کښ آواز وکړ ٭ چه ده د آشنا نعره واوريدله نو اشرفئِ ئي په هميانئِ کښ واچولي او هميانئِ ئي منګي ته

ور وغورزوله او آشنا له روان شه + ولي چه دي ور وت نو بنځي ته ئې وُوِ چه په تلوار ډوډيۍ پخه کړه + بنځي چه د پخولو فکر کاوه کور کښې اوبه نه وي حيرانه په دروازه کښې ودريدله ويل ئې چه کُنډِ که څوک راشي چه اوبه راوړي + ناګهانه يو قصاب د غوايانو د آخستلو دپاره ګرزيده په دروازه پيښ شه + بنځي ور ته سوال وکړ و ئې ويل چه لکوټِي ما له دا منګي ډک کړه او راوړه + قصاب منګي واخست اوبو له روان شه چه په لارِ ته په منګي کښې ئې کړ کور داوريده چه ور ته ئې وکتل همياني ئې په کښې وليدله چه را وا ئې خستله او اشرفيۍ ئې په کښې وليدلې نو ډير خوشحالَ شه او و ئې ويل چه خپل کسب به کوم او دا به سختي ورځي دپاره اماني کيږدم + جوړ اوبه او منګي ئې پريښول او لارِ شه هغه خپلې روپيۍ چه ورځخه وي په هغو ئې يو څورب غوايه واخست او روان شه + چه په وړاندِ ته فکر ئې کاوه چه دا اشرفيۍ کوم ځاي کيږدم + چه ډير فکرونه ئې وکړل نو آخر دا مصلحت ئې خوښ شه ويل ئې چه دا همياني سلامته د دي غوايه په خولي کښې ورکړم چه کيږي ته ئې تيره شي + چه بيا ئې حلال کړم نو خود همياني به ترِ سلامته بهر را وباسم + پس له هغه غوايه ئې را و پرزاوه او همياني ئې په ډيرو خوارو

سره په خولي کښ کښيښوه او په کومي کښ ئي ورننه ليستله + چه غوايه ئي روان کړ په لار کښ وله زوي مخي له راغي غوايه تر هغه کور ته بوت او دي په بل کار پسي روان شه + او هغه دهقان د هغه آشنا سره جلب کاوه ناکهانه د قصاب زوي ځخه ئي غوايه وليد + او حال داسي وه چه ده نذر منلي وه ويل ئي چه زه به يو غوايه حلالوم جوړ دهغه قصاب د زوي نه ئي غويه واخست کور ته ئي راوست + چه يو ساعت تير شه د اشرفو تفحص ئي وکړ ويل ئي چه دلته په منګي کښ م همياني د اشرفو اينبي وَه هغه خه شوه + بخشي ور ته وويل چه نوره خبر نه يم مګر دا خاي يو سړي له م منګي د اوبو دپاره ورکړی وه ولي نه هغه سړي راغي او ته ئي منګي راوړ + دهقان پوه شه چه اشرفي سړي يورلي ډير خپه شه آخر صبر ئي غوره کړ + پس له هغه غوايه ئ حلال کړ چه ټک ټوک ئي کړ او غوښي ئي طياري کړلي او لري کاهي ئي صافول ناکهانه ئي همياني په کښ بيامونده له حد زيارت خوشحال شه + پس له دغه کار همياني به ئي د خان سره کرزوله په ملا پوري به ئي مدام تربي وَه يوه ورځ دهقان بهر ووت په يوه چينه باند ئي غسل کاوه چه له لښلو نه وزکار شه نو زړوکي ئي واغوستل او همياني ئي

تبر چاوه چه گذار ئې دوکړ اشرفئ تر پریوتلي چه و ئې کتلي پوره سل وختلي نو بیا ئې هم په هغه شان لګولي ٭ څو مده پس بیا ئې شپون ولید چه بد حال او خراب رنګ ئې وه ٭ دهقان تر پوښتنه وکړه چه دا ولي ٭ هغه ورته د همسا او د اشرفو او د سیند د وړلو حال ووایه ٭ دهقان تر پوښتنه وکړه چه دغه اشرفئ د چرته موندلي وي سپون ور ته د چینی د غاړي د همیانئ قصه وویله ٭ دهقان وُو چه هغه په چینه هم ځما وَه او له کوهي نه هم ما وکښلي وَه او هغه لرګي هم ما موندلي وه خپل مال ما ته امانت سلامت را ورسیده زه خوشحال یم ته خپکان مه کوه ٭

حکایت شپږ دیرشم

د سړي دښمنان چه په کورکښ مخالف شي نو دي په آرام سره ګذران کوي ٭ لکه یو شیخ نیکوکار او پرهیزګار وه چه جدا له خلقو ئې کوټزئ جوړه کړي وَه او مدام صبا نماښام په عبادت د پروردګار خپل مشغول وه او لاس ئې له کارَ او له کسبَ د دنیا وینځلي وُو ٭ یو مرید وله لنګه غوا ورکړله ولي هسي غوا وَه چه په پیو په ئې تالُو د امید خوریده او په لسئ به ئې لښکر د کرمئ خوریده او په غوړو به ئې بیخ د خشکئ خوت ٭ او په هسي شان څربه وَه

چه په تشو لیدو به ئې سړي خوشحالیده ٭ چه دغه غوا د شیخ په کور کښې ودریده نو یو غل په نیت د غلا بوه شپه ور روان شه او یو شیطان په صورت د سړي ور سره په لار کښې سلګري شه ٭ غله ترِ پوښتنه وکړه ویل ئې چه څوک یې او چرته ځې ٭ هغه ور ته وُوِ چه زه شیطان یم او په شکل د سړي شوي یم د هغه فلانې شیخ کوټهنړۍ له ځم ٭ ځکه چه اکثر خلق د ده د مریدیۍ په سبب څمونږ له فسادَ خلاص شول نو اوس م نیت دي چه ئې مړ کړم ٭ بیا ئې له غله ته پوښتنه وکړله ویل ئې چه ته څوک یې او په څه پسې روان یې ٭ غله وُوِ چه زه هم څم دغه شیخ څخه یو غوا دَه چه ئې تر پټه کړم ٭ شیطان ور ته وُوِ چه دا خو ډیر ښه کار وشه راځه چه دواړه سره ځُو٭ پس له هغه دواړه روان شول د شیخ کړه ورغل چه ور ورسیدل شیخ اوده شوي وه ٭ غل فکر وکړ و ئې ویل چه که دا شیطان ورښې شي او په ده ګذار وکړي نه بایده چه شیخ بیدار شي او څما کار پاتې شي ځکه چه نور خلق به په شور د ده را جمع شي ٭ او شیطان وُوِ چه که دا غل غوا بیاړي نو خواه مخواه دروازه به لري کړي او چه دروازه لري کیږي نو ضرور به د ښتي چوړ آواز وکړي او په آواز د ښتي د چوړ به دا شیخ ویښ شي نو خود څما به پرِ لاس و نه رسیږي٭

بیا شیطان غله ته وُوِ چه ته وار وکړه چه زه دي مړ کړم نو بیا ته دا غوا بیایه + غله وُوِچه نه ته وار وکړه چه زه غوا بوزم نو هاله بیا دي وژنه + حاصل دا دي چه یو د بل ئې سره نه منل جوړ دواړه په جنګ شول چه پرزول ئې سره ونښلول نو غل کمزوري شه خو چه طاقت ئې ورک شه نو رزئې شیخ ته آواز وکړویل ئې چه شیخ صاحب را ورسیږه شیطان راغلي دي تا وژني + شیطان وُوِ چه را وچلیږه دا غل راغلي دي ستا غوا پټوِي + شیخ د دوي په جګړه را ویښ شه چغي ئې کړلي د کور محلت خلق را ټول شول شیطان او غل دواړه وتښتیدل شیخ له مرګ خلاص شه +

حکایت اووه دیرشم

د چیندخي او د مږي سره آشنائي پیدا شوي وَه نو د اوبو په غاړه به سره دواړه یو ځاي کیدلي او خپله مشغولا به ئې کوله او ورځ په ورځ به ئې سره مینه زیاتیدله او هره یوه به د بلي په لیدلو خوشحالیدله + یوه ورځ ور ته مږي وُویل چه اي چیندخي زه له بهرَ تا له راشم او ته په اوبو کښې یې نو حیرانه شم او چه ناري در ته دیري وُوهم نو ته د اوبو په منیځ کښې یې هغَه ځما آوازونه نه آوري او په شوارو کښې په یو وار دیدن یاندِ ځما تسلّي نه کیږي + چیندخي

ور ته وُويل چه ډير ښه وايي مګر چه لګوتې پس پس ديدن کيږي نو مينه زياتيږي + مږي وُويل چه دا رښتيا دِي مګر زياتيدل هلته پکار وِي چه مينه کمه وِي او چه مينه زياته وِي نو بيا زياتول ئې څه رنګ کيږي + ما سره داسې مصلحت وکړه چه زه ساعت په ساعت ستا ديدن کوم څکه چه ناري در ته وهم خو ته ئې آوريدلي نه شي او که پنچپله درغم نو هغه خود ښکاره خبره ده چه زه در تللي ته شم + نو يا داسي وکړه چه يو ريبار وِي چه سوال څواب رسوِي او يا بله يوه نښه په مينځ کښې مقرره شِي چه په هغي سره پوهيږو او دواړه يو څاي کيږو + چيندخي وُويل چه باري داسي کار به وکړو چه يو تار پيدا کړو او يو سر ئې ستا په پښه پوري وتړو او بل سر ئې څما په پښه پوري نو چه ستا حاجت شِي نو ته به د تار سر را کاږي نو زه به خبر شم او که څما حاجت شِي نو به ئې زه را کاږم نو ته به خبر شي نو خود په دي کار به سره دواړه يو څاي کيږو او مجلس مشغولا به سره کوو + ناګهانه بلي چيندخي ور ته وُويل چه کړيئ دغه کار چه تاسو خوښ کړي دي دغه دواړو له بد دي څکه چه يو به هم لري په خپل کار پيي تللي ته شِي او بله به هم په خپله رضا کرزيدلي ته شِي + دوي دواړ ور ته وُو چه ستا به څونږ په دوستيئ

او په آشنائي باندِ زړه بد وِي ځکه داسي وايي ٭ هغي ويل چه ډيره ښه ده چله
رضا کوئ ٭ بلي چيندخي ور ته ووِيل چه د دي دا خبره هم ښه وه ولي زه وايم
که چري دا تار د چا په پښه کښ ونښلي او راکښلي شي نو ستاسو به د
هري يوي کمان وِي چه دا م هغه آشنا داغلي ده او هغه به بل څوک وِي چه
سره جمع شئ نو دواړه به خرابي شئ ٭ دري هغي ته هم وويل چه چپ شه مه
ټکيا اوسه ٭ بلي ور ته ووِيل چه څوک د چا مصلحت نه آوري نو بيا ارمان
وکړي خو فائده ئ نه وِي ٭ تاسو فکر نه کوئ اي مېړي که ته بهر له دښمن
نه تښتي نو پښي به دِ بندي وِي تللي به نه شي او که چري دښمن لاندِ کړلي
نو دا چيندخه به هم در سره راکښلی شي ٭ او د چيندخي به هم داسي حال وِي
نو د يوي په سبب به بله هم مړه شي ٭ دوي ويل چه خير دي که يو څاي
مرک وِي خو لا به ښه شي ٭ ناګهانه يوه ورځ تپوڅ راغي په مړه ئ غوټه
وکړله ٭ مړه تښتيدله مګر پښي ئ ونښتلي چه تپوڅ له په پنجو کښ ورغاله جوړ
پورته ئ کړله ٭ ناګهانه په تار پوري چيندخه هم را پورته شوله چه تپوڅ په يو
کلي ورغي د هغه کلي خلقو شور کړ ويل ئ چه دا تپوڅ څه هنر جوړ کړي
دي چه چيندخه ئ له اوبو راوکښلي ده چيندخي ووِ چه تپوڅ هيڅ نه دِي کړي

مګر چه څوک نصیحت نه آوري نو دا به ئې حال وي ٭

حکایت اته دیرشم

لیکلي شوي دي چه یو بادشاه نیت وکړ چه د ځان دپاره یوه عجیبه بنګله جوړه کاندِ ٭ نو اول خو ئې کچ کر را جمع کړل او ورته ئې وویل چه ځما دپاره یوه بنګله پکار ده تاسو لاړ شئ او په فلاني ځاي کښې ښه وکړئ ولي په داسي ترتیب سره چه هیڅ نقصان په کښې نه وي ٭ بیا ئې ترکانړان را وبلل حکم ئې ور ته وکړ چه غره ته لاړ شئ ځما د بنګلي دپاره لرګي طیار کړئ ٭ هغوي غره ته روان شول چه ور ورسیدل نو په کار ئې شروع وکړله چا به په تبرونو لرګي وهل چا به په آرو باندِ تختې ویستلي چا څخه به څورلي ترښخ په لاس کښې وو لرګي به ئې سوري کاوه چا به په رندي باندِ شاتیرونه او سرباریئ لهړي هوارول ٭ هغوي خو په خپل کار باندِ لګیا وُو ٭ او هلته بادشاه حکم وکړ بیل داران او نور دختو مزدوران ئې را وغوښتل ٭ هغوي لاس پوري کړ چا به په یومونو او په سښسورو خاوره کنودله چا به اوبه راوړلي ختې به ئې جوړوله چا به په چارئ باندِ ختې آړوله چا به خښتي سازولي چا به کانړي او ځشاکونه د چوني د جوړولو دپاره راوړل ٭ حاصل دا دي چه مناسب د ودانۍ اسباب ئې ټول طیار کړ ٭ چه

په ودانۍ ئې لاس پورې کاوه د هغه بنګلي په حد کښې د يتيمانو کور راغې +
سړي ورغلل د هغو مور ته ئې وُوِ چه دا کور په بادشاه خرڅ کړه + هغې ويل چه
ځما څه قدرت دي چه د وړوکو يتيمانو مال خرڅ کړم + سړه ډير څه وکړل خو
دې هغه کور خرڅ نه کړ بيا دا ښځه په څه کار پسې تلې وَه چه بيرته راغله
بادشاه ئې کور دران کړې وه کټونه پوزې برستې يالښتونه لوښې لرګې هر څه اسباب
ئې وله غورزولې وه + چه دې وکتل وُ ئې ويل چه اې پاکَ خدايَ که زه کور نه
دم نو ته خو حاضر وې په خپل کامل قدرت سره + ناګهانه هغه بادشاه
او هغه اسباب او هغه نور ظالمان په يو ساعت کښې زمکې ونغړدل + لکه
په دې باب کښې عبدالحميد ويلې دې +

د ظالم د ودانۍ مخ په ورانۍ دې دا خبر دې په جهان کښې مسلّم

حکايت نه ديرشم

هسې يو نقل آوريدلې کيږې چه يو طبيب له يو رنځور ورغې او ور ته ئې
وُويل چه صاحبَ زه رنځوريم که دارُو لا له را کړې نو ډير به ښه وِې او ثواب
به دِ وشې + طبيب ئې لاس ونيو چه نبض ئې وکوت نو له رګ نه ور ته معلومه
شوه چه ډير ناجوړ دې بيا ئې ور ته وُويل چه ژبه وباسه چه ژبه ئې وويستله

نو هم ور ته معلومه شوه چه رنځورتیا ئې سخته ده + بیا ئې ور ته ویل چه د
خولي خوند دِ څنګه دي + هغه رنځور ووېل چه صاحب کله خوب وِي کله نریخ
وِي کله پیکه وِي داسي په یو حال نه وِي چه زه وُوایم + بیا طبیب ور ته ووېل
چه کیده د څنګه ده + رنځور وُوِ چه صاحب کیده م پرسیدلي وِي غله م ته
هضمیږي زړه م سوزي تروي تروي اوبه م له خولي نه راځي + بیا طبیب ور ته
ویل چه دست دِ څه رنګ دي + هغه ویل چه صاحب کله نرم وِي کله کلک
وِي کله قبض وِي کله آزاد وي + بیا ئې ور ته ووېل چه څه څیز ته دِ زړه
کیږي + رنځور ویل چه صاحب له هر څه نه م زړه مور دي هیڅ م خوا ته نه
کیږي + طبیب پوه شه چه دا ناجوړتیا سخته ده داسې دوَ جوړیدو نه دي +
باري داسي کار پکار دي چه ور ته دا خبره نه کوم چه ته نه رغیږي لیکن چه
پرهیز خو ئې مات شي نو به هم بنه وِي چه ارمان خو ئې په زړه پاتي نه شي +
نو ور ته ئې ووېل چه څوان ستا دارو دا دِي چه هر څه خوره او هر خواته
ګرزه او زړه چپل مه خپه کوه + رنځور چه دا واوریدل ډیر خوشحال شه او دعا ئې
ور ته وکړله او ویل ئې چه څم د ولي د غاړي سیل ته م زړه کیږي چه نداره
وکړم + چه ولي ته ور ورسیده څه کوري چه یو شیخ سړي ناست دي اوس کوي +

ده چه ور ته وکتل نو په زړه کښې ئې وویل چه ډیر د مزي څټ ئې دي که
یوه مضبوطه څپیړه وله په دا څټ کښې ر کړم نو ډیر خوند به وکړي ٭ بیا
ئې فکر وکړ او وئې چه طبیب خو تا ته ویلي وُو چه هر څه کوه جوړ ور
روان شوي دي او یوه مضبوطه څپیړه ئې هغه شیخ له په څټ ور کړله ٭
شیخ وکتل ویل ئې مه وهه کمبخته ولي وهي نو یو څل خو ئې فکر وکړ او ویل
ئې چه ئې له دي بیري را نسم او په دا مخ مخ ئې وهم چه بیا داسي نه کړي ٭
بیا ئې فکر وکړ ویل ئې چه رنځور دي هسي ته وِیې چه له وهلو نه مړشي دا به
لا بل غم جوړ شي ٭ خو جوړ له لاس ئې وینو او قاضي له ئې بوت بیا قاضي ته
ئې وویل چه قاضي صاحب دي سړي زه بي هیڅ په څټ باندِ په څپیړه وهلي
یم نو اوس ته وله سزا ور کړه که په خره ئې سوروي او مخ ئې توروي او بازار
کښې ئې ګرزوي او که بل څه عمل ور سره کوي ٭ قاضي ور ته وُوِ چه شیخ صاحب
ته خپکان مه کوه خلق مَتَل کوِي چه ته چت جوړ کړه نو له ما ته پرِ نقش
واخله ته وګوره دا عاجز کوم طاقت لرِي چه ته له ده نه بدل غواړي بلکه که له
لاس دِ کیږِي خو څه خیرات هم ورکړه څکه چه څوک چا سره بد وکړي او هغه
ور سره ښه وکړي نو سړیتوب او بزرګي دغه ته ویلي شي ٭ شیخ ویل چه ما

څخه خو فقط شپږ روپۍ دي نور هیڅ نه لرم ٭ قاضي ویل چه مناسب دي
چه دري روپۍ ده له ورکړي او دري ځان ته پریږدي ٭ دوي دواړه لا په
دي خبرو کښې وو چه رنځور د قاضي صاحب څخه تېر کتلي دي ور ته عجیبه
ښکاره شوي دي جوړ ورو ورو ور نزدي شه قاضي صاحب ویل چه کندې ما
ته څه خبره کړي جوړ یو مضبوط پرق یې قاضي صاحب له هم ورکړ او و
یې ویل چه دا روپۍ جوړي شپږ واړه ما له راکړې او ما رخصت کړې نه جوړ
نه یم دومره ودریدلي نه شم ٭ قاضي له قهر ورغي دغه ځاي پرې د شیخ وار
جوړ شه او ور ته یې وویل چه عجب انصاف دي چه په ما باندې حکم کوي
او چه په تاخبره راغله نو وچولي دې څه رنګ غوټه کړ او څومره خپه شولي
اوس درکړه ته هم دري روپۍ چه زړه یې ښه شي خلق د ظالمانو لاسونه پریکړي او ته
وله انعامونه مقرروي ٭ قاضي وویل چه شیخ رښتیا خبره دا ده چه په زړه پرې
ډیر خوشحال شوم چه ده وو هلم ٭ شیخ ویل چه ستړګې خو دې یل شان حال دي
او له زړه نه دې خبر نه یم ٭ قاضي ویل چه ستړګې وریځ وګنړه او زړه باغ دي
او چه وریځ وژاړي نو باغ هاله تازه شي ٭ شیخ ویل چه قاضي صاحب خدای
قادر دي چه اور ګلزار کولي شي نو بې ژړا هم سړي خوشحالولي شي نو دا څه

عذر دِ وکړ چه يې له ژړا نه زړه نه خوشحاليږي ٭ قاضي ور ته ويل چه شيخ ته نه پوهيږی چه ناکار نه وِي نو بنه به هډو څوک و ته پيژني که کانړي نه وِي نو مرغلرو له به څوک لاس هم ور نه وړي او که بړواتوب نه وي نو د تورزن به څوک نوم ياد نه کړي او که جهل نه وِي نو علم او حکمت به عبث شي نو اوس که زه او ته دي رنځور ته بخښنه و نه کړو نو څمونږ او د عامو خلقو سره کوم فرق دي ٭ پس له هغه شيخ هم راضي شه دري روپۍ ئې رنځور له ورکړلې او قاضي هم او دعا ئې ور ته وکړله دواړه ويل چه ورځه خداي دِ مل شه او په صورت دِ رب روغ کړه رنځور په طبيعت صافۍ سره روان شه ٭

حکايت څلويښتم

د محمودِ غزنوي بادشاه دستور داسي وه چه په شپه کښ به دپاره د غور د عاجزانو په غريبانه جامه کښ ګرزيده ٭ يوه شپه چه په دستور خپل سره روان شه ناګهانه د علو په ټولي باندِ پيښ شه ٭ هغوي پرِ آواز وکړ ويل ئې چه څوک يې ٭ ده ور ته ويل چه ستاسو ملګري يم ٭ هغوي ويل چه ډيره بنه ده راځه کښينه چه ور سره کښيناست نو هغو ګډيل چه هر څوک خپل

چېل کمال بیان کړیُ چه د تولو حال معلوم شي نو به هاله په غلا پسي روانیږُو * نو یو تن ویل چه زه خو د سپي په غپا پوهیږم چه هر څه وایي هغه را ته معلومیږي * بل وُویل چه خما دا کمال دي چه که د شپي را ته ډیر لري سړي بنکاره شي نو بیا د ورځي چه ئي وُوینم نو را ته نه خطا کیږي * بل وُویل چه زه خو زور او قوت ډیر لرم او چه کنډر ته کښینم نو په یو ساعت کښ سوري کوم * بل وُویل چه خما خو کمال په پوزه کښ دي نو چه هر چرته چا زو بنخ کړی وي نو زه ئُ په بوي پوهیږم * بل وُویل چه زه خو په کمند غورزولو کښ استاد یم په هسي شان سره چه که ډیر مهین او هوار دیوال وِي خو چه زه ور ته کمند ور وغورزوم نو په کښ ونښلي * چه غلو تولو چېل چېل کمال بیان کړ نو بیا بادشاه ته ئُ مخ را واړاوه او ور ته ئي وویل چه وُوایه ځوان په تا کښ هم څه فایده شته دي او که تش پېنډونه به چلوي * بادشاه وُویل چه په ما کښ فایدي ډیري دِي مګر یوه فایده خو دا دَه چه که په یو ځاي کښ ډیر بندیان وِي او د قتل حکم پرِ شوي وِي او جلاد ور ته توره وکښلي په لاس ولاړ وِي او په هغه ځاي کښ خما د ږیري ویښته وخوځیږي نو هغه تول به خلاص شي انشاء الله تعالی * هغوي

وُويل چه خداي دِ وبخښه دا خو هډو څمرنږ مطلب وشه ته څمرنږ د ټولو سردار يي واک اختيار څمونږ ستا دي + هر کله چه دا حالونه يُ سره وويل نو بيا په غلا پسي روان شول چه قلا ته نږدي شول نو د سپي غپا شوله + هغه غل چه د سپو په غپا پوهيده هغه وُويل چه د دي سپي له اوازَ دا معلوميږي چه بادشاه څمرنږ سره دي + هغه نورو ور ته وويل چه کم عقل ته نه پوهيږي څه څمونږ دپاره خو ئم دا څوان بادشاه دي که نه څکه چه بادشاه خو هغه ته ويلي شي چه قيديان خلاصولي شي او هغه کار د ده له لاس هم کيږي نو يل بادشاه مونږ څه کوُو + بيا هغه د بوي خاوند چه بوي وواهه نو و يُ ويل چه دا څاي خزانه معلوميږي څکه چه ما له د زرو او د اسباب بوي راځي + نو هغه د کمند خاوند قلا ته کمند واچاوه او ټول پرِ باندِ واوريدل + بيا هغه قوت ناک د خزاني په کوته کښ سوري وکړ او ټول ور ننوتل او چه څومره اسباب يُ وړلي شه همېره پنډونه يُ طيار کړل او بيا په قلا واوريدل او بهر له بنهرَ يُ هغه مال ښخ کړ او نيته يُ کيښودله چه په فلانيُ شپه به دا مال وباسُو او په مناسب سره به يُ ويشُو + پس له هغه خپلو خپلو کورونو ته لاړل او بادشاه د بيل بيل څاي

معلوم کړ او نوم يې د هر يو زده کړ نو په يو چل سره تړ وغړيده ٭ جوړ
په هغه ساعت کوتوال يې را وغوښت او په هغو پسې يې واستاوه او دستي
يې حاضر کړل ٭ چه صبا شه او بادشاه په تخت کښيناست او غله يې ور ته
په مخ کښې ودرول نو هغه سړي چه د شپې ليدلي شوي خپل به يې ته خطا
کاوه بادشاه يې وپېژاند چه دا خو هغه خمونږ مګري دي جوړ خپل ملګري يې
په دې حال ټول خبر کړل ٭ هغوي په يو وار عرض وکړ چه سلطان مهربان
بلا دِ ورکه اوسه ورښيِ خمونږ يوه خبره واووه که مهرباني وي باقي هر څه
چه کيږي هغه به خود وشي ٭ بادشاه وويل چه دوايئ خپل زړو نه تش کړيِ
چه ارمان سو پاتې نه شي ٭ هغوي وُويل چه خمونږ په مګرو کښې چه څه معنيٰ
وَه او څه کمال وه هغه ښکاره شوي دِي نو هغه ټول په ښه را نه غله مګر
په يو تن کښې د سړي د پېژاندلو کمال وه او په بل کښې د آزادولو فايده وَه نو هغه
د پېژاندلو فايده خو ظاهره شوه ليکن د خلاصولو په فايده نه پوهيږو چه هغه
به کله معلوميږي ٭ بادشاه چه دا خبره واوريدله له حيا يې هيڅ و نه ويل خو
حکم يې وکړ چه هغه خزانه راوريئ او دوي له يې همبره مال ورکړ چه
دو باره يې د غلا له کارَ بي غمَ کړل ٭

حکایت یو څلویښتم

په بخارا کښې یو بادشاه وه چه بې شانَ سخی یادیده او بیله بیله ورځ ئې د پاره د قسم قسم خلقو مقرره کړې وَه ٭ د رنځورانو دپاره یوه ورځ وَه د کنډو دپاره بله ورځ وَه د سیدانو دپاره بله ورځ وَه د عالمانو ملایانو دپاره بله ورځ وَه د یتیمانو دپاره بله ورځ وَه د خوارو مُسافرو دپاره بله ورځ وَه ٭ او هر یو ته به ئې په خپله خپله ورځ دومره څه ورکړل چه د هغې خپلې نیتې پورې به پرِ د هغه ګذاره کیدله ٭ ولې شرط په کښې دا وه چه بیره هیڅوک دِ په خوله څه نه وایي او که چرته چا به په بې فکرئ یا په خطا یا په ناپوهئ سره سوال وکړ نو په هغَه ورځ به هغه سړي هیڅ و نه موندل ٭ مګر په ټول عمر کښې یو سړي ور نه سوال کړې وه او مال ئې ور نه ډیر درې وه ٭ او هغَه داسې قصه وَه چه یو سړي راغې او خبر وه چه بادشاه په ویلو باندِ ورکول نه کوِي یکن و ئې ویل چه بادشاهَ مهربانَ زه دیر محتاج یم که څه مهربانې وِي چه ځما په حق کښې وکړي شي ٭ بادشاه ور ته وُویل چه ګمان مِ کیږي چه ستا په شان بې صبرَ او بې شرمَ به بل څوک نه وِي ٭ هغَه سړي وُویل چه بادشاهَ یقین م دِي چه په دې زمانه کښې به ستا په شان بل بې شرمَ او بې صبرَ څوک نه وِي څکه

چه دا دنیا دِ هم وکتله او هغه جهان ته دِ هم لاس آچولي دي ٭ تر بادشاه وخندل او چه څه ته د هغه حاجت ده هغه ئې وله ورکړل ٭ او بې له دغه سړي نه بل سړي د ویلو په سبب سره ورته ځان مړکړ نو هاله ئې څه وله ورکړل او که نه وِي نو بل چاله ئې نه وُو چه ورکړي ٭ او د هغه سړي داسي کار پیښ شوي وه چه هغه راغي سوال ئې وکړ ٭ بادشاه ورته ویل چه نه درکوم که هغه ډیره زاړي وکړله لیکن وله ئې هیڅ ورنه کړل ٭ بله ورځ د عالمانو سره کښیناست نو ټولو له ئې هغه مقرره وظیفه ورکړله او ده له ئې څه ورنه کړل ٭ بیا ئې له پښو نه زړي زړي ټوکري شلیدلي کپړي چلپیره کړلی او ځان ئې د رنځورانو سره ملګري کړ هم هیڅ ئې ونه موندل ٭ بیا ئې ستړکي وتړلي او د رندو سره ئې ځان مل کړ په هغه ورځ هم هیڅ ونه شول ٭ بیا ئې په مخ زړوکي واچاوه او د زړو بوډیانو او د کندو په ډله کښې ورننوت هم هیڅ ونه شول ٭ آخر چه ستړي شه او په هیڅ شان سره کلر نه برابریده نو لاړ شه او د بو سړي سره ئې مصلحت وکړ او ورته ئې وُویل چه زه به ساه بندِي وکړم نو ته م په کټ کښې واچو او په هغه لار باندې چه بادشاه تیریږي هلته ځما کټ کیږده او چه راشي نو ورته وُوایه چه دا سړي مړدي او

کفن يُ نشته ٭ او هر څه چه حاصل شي نو بيا به يُ سره نيم کړو ٭ هغه سړي هم هغه شان کار وکړ چه بادشاه پرِ راغي نو پوښتنه يُ وکړله چه دا مړي ولي دلته پروت دي ٭ هغه ورته وويل چه قربان دِ شم بادشاهَ بلا دِ واخلم د ده کفن نشته ٭ بادشاه ډير مال وله ورکړ ويل يُ چه واخله هم وله کفن وکړه او هم نورکار و بار پرِ د اسقاط د نمانښام د جمعو د څلويښتيُ برابر کړه ٭ جوړ هغه سړي سر پورته کړ و يُ ويل چه تا هم وعده کړي وَه چه څه نه ورکوم ولي ما هم وعده کړي وَه چه زه يُ نه پريږدم ٭ بادشاه وخندل او و يُ ويل چه هاله دِ څه وموندل څه ځان دِ مړ کړ ٭

حکايت دوه څلويښتم

اوښ او غوايه او کډوري سره دري واړه ملګري شوي وُو ٭ په يوه لار تلل ناګهانه يوه کيډيُ د وابنو يُ وموندله نو کډوري وُويل چه داسي مصلحت پکار دي چه دا وابنه لږ دِي او مونږ دري تنَ يُو نو که دا کيډيُ وُ ويشُو نو خو د يو تن کار پرِ نه کيږي او تش د خولي خوند او د کيډي سوي به وِي او که يو تن له يُ ورکړُو نو خواه مخواه څه شخوند به پر وُوهي او کيډي له به يُ تاو ورشي ٭ او که دا مصلحت ستاسو خوښيږي نو هر څوک چه په عمر

کښ مشر وِي هم هغه دِ يُ وخوري ځکه چه مشرانو له عزت ورکول مناسب دِي + نو بيا کډوري وُويل چه مشر به هاله معلوم شي چه چا ته سن ياد وِي او زه په خپل تاريخ پوهيږم چه د حضرتِ ابراهيم د کډوري سره رم نسبت لګيږي نو داګيډيئ ځما رسيږي + غوايه وُويل چه خير ته خو اوسني يي او زه د هغو غوايانو عزيز يم چه حضرت آدم وړښي په جغ ترلي وُو نو معلوميږي چه مشري به ځما وِي نو داګيډيئ دِ ماله راکړلي شي + اوښ غرانګه ښکته کړله او ګيډيئ يُ په خوله کښ وينوله اوويل يُ چه ځما خو تاريخ او عمر يادولو ته حاجت نشته دي هر چا ته معلومه دَه چه زه لوي يم نو عمر به رم خود ډير وِي اوس که بل څوک ځما هومره وَي نو مناسب وُو چه ځما سره يُ سيالي کړلي او کالونه يُ شمارلي + دا خبري يُ دوي ته کولي او ګيډيئ يُ وخوړله +

چه د چا وِي د لاسونو زور قوت هغَه کله د حساب لرِي حاجت

حکايت دري خلويښتم

يوه زرکه د غره په لمن کښ په بنه شان سره ګرزيدله او په قهقه سره به خنديدله + يو باز په هوا ته چه د دي په تول يُ نظر شه او آواز د خندا يُ په غوږ ولګيده يي اختيارَ پرِ مين شه + نو په زړه کښ يُ داسي

فکر وکړ چه په دي دنيا کښ د هر چا ملګري ته حاجت شته دي او خلق واپي چه هر څوک چه بي يار وي هغه تل بيمار وي ٭ نو دا زرکه هم بنائسته ده او هم خوش آوازه ده چه زړه د سړي ور سره خوشحاليږي ٭ پس له هغه مصلحت ورو ورو زرکي له ور روان شه + چه د زرکي نظر په باز ولګيده جوړ له ويري په تلوار سره وزغليد له او د غزه په يو غار کښ ننوتله ٭ باز له هوا نه راکوز شه او د هغه غار په خوله پوري کښيناست او ور ته ئې وويل چه اي زرکي زه ستا له دي هنر غافل وم او دا همره کمال ستا ما ته معلوم نه وه + نن ورځ ستا قدر را ته ښکاره شه نو اوس وايم چه پس له دي له ما نه مه ويريږه او څما په ملګرتيا کښ خوشحاله ګرزه ٭ زرکي ور ته وو چه اي زورآور لاس له ما نه ونسه او چرته بله زرکه وګوره چه په غوښه ئې څان مور کړي ٭ او په هغه وقت چه اور اوبه يا سوري او نمر سره يو ځاي شي نو څما او ستا ملګرتيا به وشي + باز وو چه اي زرکي ته فکر وکړه چه زه ولي ستا سره داسي په مينه او په مدار خبري کوم + منګلي م ماتي نه دي چه ښکار پر نه شم کولي او مبنوکه م هم سسته شوي نه ده چه ګندم له خوراک پريوتلي يم + نور هيڅ سبب نشته مګر محبت ستا را باندو باعث دي +

او څما په دوستئ کښ ستا ډيري فايدې دي يوه دا دَه چه د نورو يارونو له لاس
به خلاصه يې يله دا دَه چه خپلې جالې له به دِ بوزم چه له ټولو زرکو نه پاس
کذران کوي يله دا دَه چه هره زرکه چه ستا خوښه وِي هغه به دله راولم چه در
سره مشغولا کوِي ٭ زرکي وُوِ چه ته د مرغانو بادشاه يې او مونږ غريبانان خلق يُو
نو که چري ستا په آشنائئ کښ زړه وره شم او خبره م له خولې بې باکه وزي نو
بيا به ته په غضب شې او ما له به نقصان شي ٭ باز ور ته ويل چه تا ته دِ
آوريدلي چه د دوست ستړکي د دوست په عيب ته نګيږي ٭ او زه چه ستا د
محبت دعوي کوم نو بيا څنګه به ستا بدو ته يد وايم ٭ حاصل دا دي چه ډير
سوال او ځواب د دوي په مينځ کښ سره وشول ليکن د زرکي څه عذر پاتې
نه شه له غارَ راوتله او باز د ځان سره واخستله او خپلې جالې ته ئې وخيژوله
بيا هلته په خندا او په هوس ئې سره کذران کاوه ٭ چه دوه دري ورځې تېرې
شولې او زرکه د باز سره خلطه شوله نو بيا به ئې خبري زړه وري له خولې وکښلې
بلکه په خبرو کښ به ئې په باز پوري خندا کوله ٭ او باز چه به دغه کار ليده
نو ظاهر خو به ئې هيڅ نه ويل مګر په زړه کښ به ئې لږه لږه کينه پيدا
کيدله ٭ يورځ باز وږي شه او بهر چرته په سيل پسې لاړ نه شه ټوله

ورځ ئې په جاله کښې تېره کړله + چه شپه شوله او جګړه ئې له غوښې خالي شوله نو اور د لوږې ئې لښه شه او ډېر قهر ور سره جنبه شه او هغه لږه لږه کېنه چه په ډېر عمر کښې جمع شوي ده هغې په وار ځان ښکاره کړ + زرکي ته چه لښه د غضب په مخ کښې د باز ښکاره شوه او د خپل ځان مرګ ور ته معلوم شه نو سوړ اسويلي ئې وکړ او د ئې ويل چه ارمان دي چه ډول م فکر د نه کړ او اوس م خلاصيدل ګران شول + او باز چلونه او بهاني جوړولي ويل ئې چه څه چل م وکړلي چه دا زرکه ماته کړم + عاقبت ئې زرکي ته ووِ چه اي زرکي دا ډېر ښه کار دي چه په ما باندِ غاړه دِي او ته په سوړي ناسته يې + زرکي ووِ چه اي مهربانَ اوس خو شپه ده نو ته څنګه په غرمو شولي او زه په سوړي کښېناستم + باز ور ته ووِ چه هان ما ته دِ دروغژن دوايه او خبره دِ را ته بېرته را وګرزوله ور وکړه اوس به دِ علاج وکړم + جوړ پنجه ئې ور واچوله او را و ئې نيوله هم په هغه ځاي ئې را وپرزوله او ماته ئې کړله او و ئې خوړله + نکه عبد الرحمن ويلي دِي +

چه په زور ور سره نه يې برابر د هغو له ځنګ مه کنيينه زړه در

حکایت څلور څلوېښتم

یو ټک سړي له خراسان دپاره قریب ورکولو او د ټکۍ هندوستان ته روان شه + او دوه تن ټکان له هندوستان خراسان ته را روان شوي وُو + ناګهانه په اټک کښې سره د بټیارۍ په کورکښې یو څاي پیښ شول + نو د خراسان هغه ټک ور ته وُو چه ټاسو چرته روان یئ + هغو ور ته وُو چه خراسان له څُو چه په چا ټکي وکړو او څه تر واخلُو + خراساني ټک ور ته وُو چه ډیر ښه کوي + بیا هغو له ده نه پوښتنه وکړه چه ته چرته ځي + ده وویل چه زه هم هندوستان له د دغه کار دپاره ځم + دوي ور ته وُو چه راځه چه سره دلته حال معلوم کړو بیا هر څوک چه غالب شي نو پنځه پنځه سَو روپۍ به له هغه نورو اخلي او هغه نور به یُ متابعت کوي + جوړ سره دري واړه یو څاي کښیناستل او مصلحت یُ سره وکړه چه یره دروغ به وایُو لیکن هر چا چه دبل خبري ته دروغ وویل نو هغه به پرېشي + خراساني ور ته وُو چه باري تاسو دواړي + نو هغه یو هندوستاني وُو چه څما پلار ډیر دولتمند وه او بي حسابه دنیا یُ لرله او یو څو لکه میبني یُ وي چه هري میبني به په منګو پیُ کول + او پلارم په میره کښې یو تلاؤ چونه کړي وه او هغه پیُ به یُ په کښې

ماسته کول ٭ هر کله چه ماسته به شول نو یو څو زوَ میښي به ئي هغه تلاو
ته در واچولي نو هغه میښي به په کښ ولښیدلي او یو خوا بل خوا به واوریدلي
را واوریدلي نو هغه ماسته به ئي وشریل ٭ نو بیا به ئي میښي تر وویستلي او
جاله به ئي ور کړه کړله او چاتئ به ئي په کښ ایښي دي نو په را شپیلونو به
ئي له هغه شلوښو نه کوچ را ټولول او په جاتو کښ به ئي آچول ٭ نو چه کوچ
به ئي تر ټول کړه نو بیا بوجه به ئي د تلاؤ وویستله هغه شلوښي به ئي
میري ته خوشي کړلي ټولي به وبهیدلي ٭ بیا چه هغه کوچ به ئي ولي کړل
نو په سوونو منونه غوړي به تر وختل ٭ خراساني وُو چه بي شک چه دومره
میښي وِي او داسي پئ کوِي او دا رنګ کوچ تر خیژي نو خواه مخواه به تر غوړي
ډیر برابریږي ٭ بیا هغه بل هندوستاني وُو چه څما پلار هم لوي دنیادار وه او
یو څو کروړه چرګي ئي ساتلي وي او چه مُده د پسرلي به شوله نو یو څو لکه
چرګان به ئي ور پریښول ٭ چه هغه چرګو به هاګئ واچولي نو لوي لوي توپونه
به د هاګو جوړ شول نو غاښور به ئي پر ور کړ او هغه ها به ئي بنګته
پورته کولي چه شل یویشت ورځي به تیري شولي نو بچي به پیدا شول او یو
بیابان ته به ئي ور وویستل ٭ چه به څه مُده تیره شوله نو بیا به ئي خرڅول

نو ډېرې روپۍ به ور ته جمع شولې ٭ خراساني ګويل چه رښتيا دَه چه چرګې په کروړونو وِي نو هاګۍ په ټوپونو وِي او چه ها په ټوپونو وِي نو آړول به ئې خود په غاښورو کېږي او چه دومره ګې پيدا شي نو خواه مخواه په ډېرڅه به خرڅېږي نو په دې دواړو خبرو کښې هيڅ تعجب نشته ٭ حاصل دا دې چه خراساني د دواړو خبرو ته رښتيا وُو بلکه دواړو له ئې دليل پيدا کړ چه تاسو رښتيا وايئ ٭ بيا خراساني وُو چه ځما پلار بې شانَ ښه سړي وه او مونږ ډېر ورونړه وُو مګر يو تن راکښې ګنجي وه نو يوه ورځ د هغه ګنجي سر وينې شوي وه نو مونږ پرِ خاوره ودوړوله ٭ په هغه خاوره کښې د غوښت دانه وه جوړ هغه په کښې زرغونه شوه هغه ډکې ورو ورو لوئيده نو مونږ به ئې بيخ ته خاوره آچوله ٭ هر کله چه وګې ئې وکړل نو داني به ترِ ريژيدلې او نور ډکې به زرغويدل ورو ورو لوي پېتې ترِ جوړ شه ٭ چه څو مُده پرِ تېره شوله نو سوکړه شوه بارانونه نه کيدل نو په هر ملک کښې چه به باران وه نو دغه ورور به وله مونږ بيوه ٭ بيا چه غوښت پاينه شول نو مزدوران مو دينول او د هغه ورور سر ته مو ور وخيژول نو يو څوُ مياشتې لوئې په کښې وکړ ٭ بيا غوايان مو ور وخيژول او غوبلونه مو په کښې وکړل او

پاکیزه موکړل نو بي حدّ ډېر غوښت وشول ٭ پس له هغه خلق به را تلل او غوښت به ئې قرض ورل نو ستاسو د دواړو پلرونه راغلي وُو او څمونږ نه ئې د پنځه پنځه سوو روپو غوښت وړي وُو نو اوس زه در تلم ما وي چه هغه خپلي روپئ راوړم ٭ هندوستانیان حیران شول که ورته دروغ وائي نو هم په پنځه پنځه سوو روپو پړه کیږي او که رښتیا وائي نو هم نژ دومره مال ژي آخر خراساني له ئې زر روپئ ورکړلي خانونه ئې تر خلاص کړ هغوي په بیرته لاړل او دي کور ته راغي ٭

حکایت پنځه څلویښتم

زمري او شرمښ او لونږ یوه ورځ جمع شول نو په ښکار روان شول ٭ ناکهانه یو کاوز او یوه هوسئ او یوه سویه په لاس ورغلل نو دري واړه ئې د زمري ډیري ته را ورسول ٭ او شرمښ او لونږ په دي طمع کښ وُو چه زمري به دخپل خوي سره لایق ویش وکړي او په مناسب مناسب سره به مونږ له حصه راکړي او زمري هم د دوي په نیت وپوهیده نو څان سره ئې دا وُویل چه ستاسو یو شان ګمان دي او څما بل شان نو کورم به چه څه به کیږي مګر دوي دواړه په خپل خیال ئې خبر نه کړل ٭ چه په آرام شول نو زمري شرمښ ته مخ کړ او

ورته ئې وُويل چه ته ځما نائب يې نو دا دري واړه څيزَ په مناسب سره وُويشه۔ شرمښ وُويل چه صاحبَ ته هم لوي يې او دا ګاوز هم لوي دي نو جوړ دا ستا شه ۔او زه هم ميانه يم او دا هوسيۀ هم ميانه دَه نو جوړ دا ځما شوه او دا سويه هم وړوکي دَه او لونګړ هم وړوکي دي نو دا خود ده ته پاتي شوله۔ زمري ورته ويل چه عجيبه دَه چه ته ځما د وړاندِ هم زه او ځما يادوي او وايي چه زه داسي يم او دا ځما شوه ته څوک يې او څه څيز يې او ځان در ته څه بنکاريږي او په ما دِ څه ګمان کيږي دي خواته ما له را شَه ۔چه شرمښ ور ته نزدي شه جوړ زمري پنجه پورته کړله چه وله ئې ګذار ورکړ هم په يوه څپيړه ئې غريب مړ کړ۔ پس له هغه ئې بيا لونګړ ته مخ کړ او ور ته ئې وُويل چه دا څيزونه وَويشه لونګړ وُويل چه دا ګاوز خو د پادشاه د صبا د خوراک مناسب دي او هوسيۀ د غرمي دپاره ساتل لايق دِي چه پادشاه پرِ طبيعت صاف کاندِ او سويه به خود د نمانبام په وقت کښ پکار شِي ۔زمري ورته وُويل چه رښتيا وُوايه چه دا ويش او دا سرِيتوب دِ له چا نه زده کړي دي ۔ لونګړ وُويل چه مهربانَ بلادِ داخلم سړي هغَه دي چه په بل باندِ پند واخلي نو چه ما د ده حال وليده نو پوه شوم چه چيل ځان ته ځان ويل پکار نه دِي ۔زمري

وُویل چه هر کله چه تا داسې کار وکړ نو ما له ښائي زه هم انصاف وکړم نو منصفي ځما دا ده چه دا ځیزونه ټول ستا شول او زه به دځان دپاره نوز ښکار برابر کړم او پس له دې هر څه چه وایي هغه به کوم + لونډ چه دا واوریدل نو ئي وُویل چه شکر دي چه ئي ما ته حکم درستي وکړ او که نه دَې نو زه به هم د شرمښ په شان هلاک شوي وم +

حکایت شپږ څلویښتم

له شیخ سعدِي نه نقل دي چه یو سوداګر م ولید چه اوږدې شلي اوښان ور سره بار وُو او څلویښت کسَ مریونه ور سره خدمتګار وُو + یوه شپه ئي په جزیره د کیش کښ زه خپلی حجري ته بوتلم او تمامه شپه له ګډو ډډو خبرو نه په آرام نه شه + ویل به ئي چه فلاني انبار م په ترکستان کښ دي او فلاني رخت م په هندوستان کښ دي او دا را څخه د فلانيِ زمکي سند دي او د فلاني مال م فلاني سړي ضامن دي + کله به ئي ویل چه شوق م اسکندرِي ته کیږي څکه چه هوا ئي ډیره ښه یادیږي + بیا به ئي ویل چه نه هلته نه څم په دا سبب چه په دریاب کښ د سړي طبیعت ګډوډ شي + بیا ئي وُویل چه اي سعدِي یو سفر م په نیت کښ دي که هغه وشه نو امید دي چه باقي

عمر به په کوټنړيِ کښ کښينم او هيڅ کار به نه کوم ٭ ما ور ته ويل چه هغه کوم سفر دي هغه خو هم وُوايه چه واورم ٭ ويل ئي چه د پارس ګوګر به راوړم چه چين ته يوسم څکه چه هلته کښ ګران خوڅيږِي ٭ او له چين نه به چيني لوښي روم ته وړم چه هلته هم ډيره ګټه په کښ کيږِي ٭ او له روم نه به وريښمين توکي هندوستان ته وړم چه په هغه څاي کښ هم نفع يادېږِي ٭ او له هندوستان نه به پولاد حلب ته وړم چه هلته پوره نفع په کښ حاصليږِي ٭ او له حلب نه به بنيني يمن ته باروم څکه چه هلته په مناسب سره ارزيږِي ٭ او له هغه څايَ به يمني څادرونه پارس ته راوړم ٭ پس له هغه م زړه دي چه سوداګرِي به پريږدم ٭ هر کله چه دي ستړي شه او زياتِ طاقت ئي پاتي نه شه نو ما ته ئي وُويل چه سعدِي ته هم له خپلو ليدلو آوريدلو نه څه وُوايه که نه ٭ ما ور ته ويل چه زه څه وُوايم تا دومره څه وُويل چه څاي دِ د ويلو پري نه بنود نو ٭

تا به نه وِي آوريدلي چه يو وار وه پريوئي سوداګر له اوِس نه لاندِ
وِ چه موږ به شِي وږ ستړکي ديادار يا په صبر يا د ګور په خاورو باندِ

حکايت اووه څلويښتم

په یو ځنګل کښې یو زمري اوسیده او یوه شادو هم درسره منګري وَه + یوه ورځ زمري د څه کار دپاره چرته ته نو شادو ته ئې ویل چه ته دلته ناسته اوسه او تر هغَه پوري چه زه نه یم راغلي نو چرته مه ځَه او کور هم څوک مه پریږده چه زمري بهر وتلي دي ناګهانه یو ګیدړ او ګیدړه د بچو سره هلته کښې پیښ شول + چه هغه ځاي ته ئې وکاته او تماشه ئې وکړه نو هغَه ځاي در ته ډیر ښه ښکاره شه جوړه په هغَه ځاي کښې پاتې شول + شادو راغله ور ته ئې وویل چه هلکَ ته دلته پاتې شولي او دا ځاي د زمري دي که چري را ورسیږي نو ستا دپاره به بده شي + ګیدړ ورته وویل چه څَه چپ شَه کم عقلي دا ځما د پلار ځاي دي ماته میراث پاتې شوي دي او فرض کړوکه دا ئې نه وِي نو بیا ستا څه کار دي زړ پوهیږي او زرګر پوهیږي + شادو چه دا واوریده چپ شوله او له ځانَ سره ئې وویل چه ځما پرِ څه دِي چه څه کوِي هغَه به موِي + بیا ګیدړ ته چلي ښځي وویل چه څَه چه دا ځاي پریږدو ځکه چه زمري زورآور دیَ هسي نه وِي چه څه فساد پیښ شي + ګیدړ وویل چه اي ښځي ته بي غمه کښینه که بیا راغي نو هغَه ساعت هغَه مصلحت + دوي په دا خبرو کښې وو چه مزري راغي جوړ شادو په تلوار سره

مخي له ورغلله او دا حال ئي ورته ټول وُوايه ٭ چه زمري خبر شه نو فکر ئي وکړ بيا ئي شادو ته وُويل چه معلومېږي چه داکيدړ ته دي دا به بله څه بلا وِي او که نه وِي نو کيدړ څوک او څما په کورکښ کښيناستل څنګه ٭ شادو ورته قسمونه او سوګندونه وکړل ويل ئي چه ما پخپله ورسره خبري کړي دِي نوزه داسي ناپوهه شوم چه کيدړ نه پيژنم څه ٭ زمرِي ويل چه ستا خبره منظوره دَه ليکن دا په عقل کښ نه راځي چه کيدړ به داسي وکړي ٭ او کيدړ خپلي ښځي ته وُويل چه زمري را نزدي شي نو ته خپل هلکان جنګيِ وژړوه او بيا داسي ووايه چه دوي د زمرِي تازه غوښه غواړي او وايي چه مونږ بيي ناکه غوښه نه خوړو ٭ هر کله چه زمري را نزدي شه نو هغي کيدړي خپل بچي وژړول نو کيدړ ورته وُويل چه دا واړه ولي ژړوي ٭ هغي وُويل چه د زمرِي غوښه غواړي ٭ کيدړ ورته ويل چه پرون م لا غټ زمري وژلي وه نو بيا هغه غوښه خلاصه شوله څه ٭ هغي ويل چه دوي تازه غوښه غواړي باسِي کله خورِي ٭ کيدړ ويل چه وار وکړيِ اوس په غټ زمري راشي نو به ئي وُوژنم نو بيا تازه غوښه خوريِ ٭ زمرِي چه دا خبره واوريدله جوړ له هغه ځايَ ئي دَوکړ لاړ وتښتيده او زړه ئي داسي ولريده چه په هيڅ رنګ ئي خاطرجمعي

نه کیدله ٭ شادو پسي ورغلله او ور ته ئي ویل چه ته نه پوهیږي او هغه دِ غلوي راځه چه ورشو هیڅ وسواس مه کوه ٭ چه زمري بیا در روان شه نو هغي بنځي بیا بچي وژړول کیدر ویل چه دوي لکوټي چپ کړه هغه شادو چه څما ډیره دوسته ده هغي ویلي دِي چه زه به زمري خواه نخواه نن راولم ٭ چه زمري دا آوریدلي دِي او جوړ شادو له ئي ځپیره ورکړي ده او له ویري مخ په وړاند زغلیدلي دي په هسي شان لاړ شه چه بیا ئي ورستو هډو و نه کتل کیدر ته بي ربړ ځاي پاتي شه ٭

حکایت اته څلوبښتم

هوښیار سړي یو وار خطا کیږي او له وعدي خپلي نه نه کرزي او کم عقل سړی هر وار خطا کیږي او که شل وعدي وکاندِ هم ئي ماتي کړي ٭ لکه په یو ځنګل کښ یو زمري وه چه ډیر زوړ شه او طاقت ئي کم شه او دګرزیدو وار ئي تیر شه نو یوه ورځ ئي یوي خواري بدشکلي لونږي ته وُویل چه اي لونږي تا څما ډیر عمر پس خوردي او جوتي خوړلي دِي او رنګ احسانونه دِ څما له لاس لیدلي دِي او اوس ویني چه زه دي حال ته رسیدلي یم چه په ښکارونو پسي کرزیدلي نه شم نو مناسب دِي چه ته لاړه شي او چرته غوایه یا خر

یا بل څه څناور په چل ول سره راولي نو دلته به ئې مات کړم بیا د دواړو کار به پرې درشي + لونګړي ور ته وُویل چه دغه یم لاړم هر څه چه م ومرندل یو وار به ئې ستا د وړاندې حاضر کړم دا ئې وویل او روانه شوله + ناګهانه په یو خر باندې پیښه شوله چه خر ئې ولید نو له ورایه ئې پرې سلام وُوایه او ور ته ئې وُویل چه دا څه کوي چه په ناکار ځاي کښې کرزي چه نه اوبه شته او نه وابنه شته تش کانړي او لوټي دي نور هیڅ نه مرندلي کیږي + خر وُویل چه په قضا م رضا ده هر څه قسمت چه خدای کړي دي په هغه خوشحال یم څما په حق کښې به دا ګذران بنه وي خدای خبر دي چه د لغمتونو سره څومره غمونه پیښیږي + لکه ما ته چل پلار قصه کړي ده چه د یو بټیارې خر وه چه ډیر خوار شوي وه شا ئې ځاي په ځاي زخمي شوي وه او د بادشاه میرآخور د هغه بټیارې سره آشنا وه یوه ورځ ئې ور ته وُویل چه دا خر د ولي داسي خوار دي + هغه وُرچه واړه لوږه ده نور هیڅ نشته + میرآخور ور ته وُوِ چه راوله دا خر څمونږ په طبیله کښې پریږده چه کرزي داسي به څورب شي چه د زړه غواړي + بټیارې جوړ په هغه ساعت خر طبیلې ته روان کړ او هلته ئې پریښوده چه خره د آسونو حال وُلید چه بیل بیل به کراره کیده

او ځاي به ور ته چرګاويده او اوربوشي او اړداوه او بوس او وابنه به ور ته
په بنه شان په وقت وقت رسيدل نو دغه خر ډير وژړل او فرياد ئې وکړ
او وئې ويل چه اي پاک ربّ زه دِ هم مخلوق يم او دا دِ هم پيدا کړي دي او
د دوي دا حال دي او ځما دا ګذران دي ؛ دي په دي دعا او په فرياد کښ وه
چه ناګهانه آواز وشه چه آسونه زين کړئ په فلاني ځاي کښ مقدمه ده چه
جنګ له روانيږي ؛ فی الحال آسونه طيار شول مقدمي ته لاړل ؛ چه نمابنام
شه او آسونه له جنګ دا وګرزيدل نول ځاي په ځاي زخميان پريوتل او
نغلبندان راغلل مهترانو ور ته د آسونو پښي وُ تړلي نغلبندانو به په انبورونو
باندِ غوښي د آسونو را ښولي او قطري به ئې تړ په چړه او په قينچو پريکولي
او ګولئ به ئې له پرهرونو نه وکښلي ؛ خره چه دا حال وُليد وئې ويل چه
پروردګار ځما په دي خپل روغ صورت شکر دي او بغير له خپل ځان بل نعمت
نه غواړم ؛ نو چه دا خبره ما له خپل پلار نه آوريدلي ده نو له هغي ورځي
راهيسته په هر شان چه ساعت تيريږي صبر پرِ کوم ؛ لونبړی ور ته وُوِ چه
په تا د هغه سرِي توقه شوي ده لکه چه يوه ورځ په لار روان وه ناګهانه يوه
شَلّه لونبړه ئې وُليد له چه پرته وه او له ځايَ خوځيدلي نه شوه نو دغه سړي

فکر وکړ چه دا به خوراک له کومَ مومِي جوړ په یوځاي کښ ور ته پټ کښیناست ویل ئي چه نن ورځ ورته دلته کښینم چه حال ئي زده کړم + چه یو ساعت تیر شه یو زمري راغي ښکار ئي کړي وه چه څه ئي خواره هغه ئي وُخواره نور ئي دغه لونبړي ته ور تیل واهه + چه سړي دا حال ولید نو وئي ویل چه روزِي په هر شان سړي ته رسیږي نو څه له ځان ربړوم جوړ لاړشه په یو غره کښ په غار کښ کښیناست + چه دوه دري ورځي پرِ نهاري تیري شولي نو وئي ویل چه اوس لاجوړیم او بیا به زیات بي‌طاقتَ شم نو مناسب دِي چه اوس دَ ځان غور وکړم + چه دي روانیده نو له غیبَ پرِ آواز وشه چه تا له خداي لاس او پښي درکړي دِي نو زمري شَه او وګنه چه ستا له لاسَ نور څوک خوراک ومومِي او لونبړه کیږه مه چه دَ بل پس‌خوردي ته دِ سترګي وِي + خر ویل چه په دي باب کښ ما بل شان قصه اوریدلي دَه او تا بل شان وُویله او په اصل کښ داسي دَه چه یو سړِي په حدیث کښ ولیدل چه روزِي په هر ځاي کښ سړِي ته رسیږِي نو ده وویل چه باري څم چه په دي حدیث خو آزمیښت وُکړم چه دا به څنګه وشِي نو دَ یو غره په طرف په بیابان کښ له لاري لري او له ودانئِ نه په ډډه پریوت + ناګهانه یو کاروان لار

ورکه کړي وَه جوړ دپاسَ پرِ وروخوت چه کاروانیانو ده ته وکتل نو وئي ویل
چه هيڅ هيڅ دا عاجز غریب مسافر له لاري بي‌لاري شوي دي او په سبب دَ
لوږي مرګ ته نزدي شوي دي زد شيئ دوډيئ یا وریجي راوړئ چه ورکړو امید
دي چه اوس به جک جوړ پاڅي + چه خوراک ئي وله راوړ ده ورته خوله کلکه
کړله که هغوي ډیرڅه کول خوده خوله وازه نه کړله + هغوي پوه شول چه
دا خوله دده له ډیري کمزورتیا نه نه بیرته کیږي نو پو مشر په کښ وه هغه
ویل چه داسي مصلحت کوو چه ددي سړي پو دوه یا دري غاښونه وباسو څکه
چه سړي مرشي نو بده خبره دَه او که غاښونه ئي نه وي نو هیڅ باک نشته +
هغوي ټولو دا خبره خوښه کړله او دستي ئي دَده غاښونه وویستل او ډوډيئ
ئي په ښوروا کښ چوري کړله او لږه لږه به ئي ورته څخوله + نو دغه سړي
خپل ځان سره وُویل چه بي‌شکَ نصیب هرڅاي سړي ته رسیږي نو لا
څه دپاره پروت یي چه غاښونه دِهم بایلل او نورخلق دِهم له کارَ وُویستل
جوړ پاڅید او اوچت کښیناست + لونبړي ورته ویل چه احمقَ دا څه قصي
دِ قطار کړي دِي دم دَ چرمښکئ نه لري او کوتي ښامارانو ته آچوي بي‌عقلَ دَ
خپل ځادر سره پښي غزول پکار دِي نه چرته اودَ هغو خلقو شان

زړه چرته + حاصل دا دي چه قسم قسم سوالونه اوخوابونه دَدوي په مينځ کښې وُشول په آخر کښې ورته لونډې وُويل چه اي جاهلَ دَخان دښمنَ بي هيڅ ځان خپل په دي سختئِ کښې وژني او دومره در نه نه کيږي چه ما سره يوځو قدمَ لاړ شي + او حال داسي دي چه په هغَه ځاي کښې داسي وابنه دِي چه کبل خوئِ تر ملا ملا رسيږي او په نورو وابنو کښې خوئِ اوښان پټيږي او هر طرف په کښې بخي يخي خوږي خوږي رنړي رنړي اوبه بهيږي هرڅناورچه هلته ورُورسيږي نو په هسي شان څښيږي چه نور پرِ نه کيږي او بخت به دَ هغه څناور وِي چه هلته پيښيږي +

خو بي شکَ چه کمِ عقل وه نادان بي شعورَ لوي احمق وه دَ جهان
او که نه وِي نو څواب به ئِ دا رنګ وه لونډې له ورکړي هغَه درنګ
دا ويل دِ کُل دروغ دا معلوميږي چه پښتئِ او ټول هډوکي دِ ښکاريږي
دغه ستا ناکارَ شکل ګواهي لينه چه ويل دِ همه واړه دروغ دِينه
يو سړي اوښې ته ويل چه اي نيکنامَ له کوم ځايَ راغلي وِ چه له حمامَ
هغه وِچه په رښتيا هم دغه شان دا سپيره زنګون دِ کړي ښکاره بيان
اي **احمدَ** که ئِ زده وي دا څواب ورته ولي پيښيده به لوي عذاب

خرچه دَ لونبرې خبرې واوريدلې نو اګر که ده ځوابونه جوړ جوړ کړي وُو ليکن
په سبب دَ يادولو دَ ښه خوراک او دَ ښائسته ځاي طمع ئې پيدا شوله او دَ
لونبرې په خبره ئې يقين راغې + ورته ئې وُويل چه باري څه چه لاړ شُو که
نه چه هغه ځاي هم وُوينُو چه ته ئې دومره صفت کوې + جوړ په هغه ساعت
روان شول لونبړه وړاندِ دَه اوخر وربسې دې ځنګل ته ورسيدل + زمرې
چه له ورايه خروليد له سببَ دَ لوبې نزدې ورتللو ته ئې پرې نه ښود او صبر
ئې ونه کړ له ورايه ئې حمله وړاندِ وکړله + اوخرچه له لرې زمرې وليد
جوړ په بيرته ئې دوکړ په لوړو په ژورو په کندو په کمرو وزغليدهٔ لاړ ځان
ئې خلاص کړ + لونبرې زمرې ته ډير قهر وکړ او ملامت ئې کړ او ورته
ئې ويل چه ما دومره په ربړ راوست او دا قدر صبردِ ونه کړ چه لکوټې خو
را نزدې شوې وې + زمرې وُويل چه بې شکَ بد مِ وکړل ليکن اوس به څه
چل وشي داخرخو به بيا لاس له را نه شي + هغې لونبرې ورته وويل چه هم
داخر به بيا راولم خو ته تلوار مه کوه چه درته نزدې شي نو هاله پرِ حمله
وکړه + زمرې وويل چه زه اوس ښه پوه شوم ليکن داګمان مِ نه کيږي چه
بيا به درسره راشي + لونبرې ويل چه راوستل ئې ځما په ذمه دې خو ته فکر

کوه + پس له هغه بیا ورپسې روانه شوله چه ورو رسیده خو ورته ویل چه
ظالمي کوم بد مِ درسره کړي وُوچه زه دِ دَ بلا دَ وړاندِ بوتلي وم فضل دَ
رب وه چه وئي ساتلم اوکه نه وي ماخوچه دغه حال ولیده نولاس مِ له
ژوندانه نه وُوینځل او طمعَ مِ له ځانَ قطعَ شوله + لونبړي وُوِ چه له مانه په
اوّل ځل کښې خطا وشوه چه ته مِ خبر نه کړلي او هغه چاځیره جوړه کړي دَه دَ
توقو دپاره چه نا آشنا سړي راشي کمان ئي وشي چه کُندِ دا زمري دي او
په کښې هیڅ نشته خوځما له فکرَ وُوتله او داخبره مِ تا ته ورنبيِ ونه ویله*
خو ورته ویل چه چپ شَه مکاري دښمني بدکرداري په ما باند دا
هسي حال راغلي وه چه که چري دغه حال په ځوان راغلي وي نو زوړ شوي
به وه او ببا په خپلو سترګو مِ ولیده او وم پیژانده چه زمري وه او ته
لا بیا رانه وايي چه دغه زمري نه وه دَ توقو ځیره وَه + لونبړي وویل چه څه
وکړم چه ستاسو په خیل‌خانه کښې عقل نشته دي او که نه وِي نو داسي
خیالونه په زړه کښې راوړل او بد بد کمانونه په دوستانو کول کله مناسب
دِي او که ستا عقل وي نو دغه خو نه زمري وه او نه بل څه وه او که چري
رښتیا زمري وي نو هم ځما نه به دِ زړه نه وه بد کړي + مطلب دا دي چه

خره ډیر څه وکړل لیکن لونبړي دَ هري خبري څواب وله پوره پوره ورکړچه
خو لاجواب شه او لوبه هم پرِ غلبه شوله نو بیا ئي په حیلو او په مکرونو
سره روان کړ چه دَ زمرِي څاي له لارل زمري پټ شوي وه تر هغه پوري ئي
غرض نه کاوه چه څوئي یقین حاصل شه چه اوس به نه شِي خلاصیدي
جوړ هلته ئي پرِ ور تړله دستِي ئي را ونیوه او چمغړک ئي وله مات کړ پس
دَ هغه له مانولو زمرِي لونبړي ته ویل چه ته دلي اوسه فهم کوه او زه
لکوټي څم چه اوبه وڅښم + چه زمري اوبو له لاړ شه جوړ لونبړه لګیدلي دَه
دستِي ئي دَ خره ګیډه څیري کړي دَه او زړه ئي تر وکښه زرزر ئي وخوړ بیا ئي
خوله وڅټله پنجي ئي پاکیزه کړلي کښیناستله + چه زمري له اوبو نه راغي نو
مینه ئي وشوه ویل ئي چه اول خو له دي خره نه زړه وباسم چه وخورم
بیا به نور په آرام سره کیږِي + چه وئي کتل زړه ئي په کښ پیدا نه کړنو وئي
ویل چه لونبړي ددي خره خو زړه نشته + هغي وویل چه بي شکَ صاحبَ
نه به وِي + زمرِي وُویل چه دا څنګه چل دي چه خر شته او زړه ئي نشته +
لونبړي ویل چه په دي کښ حیرانتیا نشته چه دده زړه نشته عجیبه خبره
به هاله وَه چه زړه ئي وي او دوباره دلته راغلي وي دا خو ئي زړه نه

وه څکه راغي او تا مات کړ + زمري وَوِ چه رښتيا دِ وُويل +

حکايت نه څلويښتم

دَ کينه‌ګر خپل ځان ته نيکي نه زړه کيږي نو په بل به ئي څه رنګ پيوزو شي + لکه يو دري تنَ سړي په يوه لار کښې سره ملګري شول نو يو له بل نه ئي سره پوښتنه وکړه چه له خپل کورَ بهر ولي ځئ اوڅه له ځئ + يو وُوِ چه ځما په کور محلّت کښې ښائسته ښائسته ځوانان دِي چه دَ هغو جامه پنګي خلقي لونګئ پنړي نور اسباب وويګم نو ورته کتلي نه شُم جوړ په دي سبب له ملکَ ورکيدلَ مِ خوښ دِي + دويم وُوِ چه ځما هم دغه حال دی او دغه مِ سبب دي + دريم وُوِ چه تاسو دواړه ځما سره په غم کښې شريک يئ مطلب ځمونږ د دري واړو يو دي + چه حال معلوم شه چه دري واړه يو شان دِي نو سره يو ځاي روان شول چه په لارِ تلل يوه هميانئ ئي وسوندله جوړ دري واړه سره کښيناستل او وئ ويل چه راځئ چه دا مال هم په دي ځاي وويشُو او خپل وطن ته بيرته وګرزُو + ولي هر يو له کيني نه په دي نه راضي کيده چه کُندِ بل ملګري ئي خپله حصّه واخلي + نه ئي دا قوّت وه چه کُندِ زر ئي وبشلي وي او نه ئي داسي طاقت وه چه په ځاي ئي پريښودلي وي او

دوي تر تلي وي + يوه شپه او يوه ورځ ورې تري بي خوب بي خوراک ناست
وُو په بند بهبود نه پوهيدل + ناکهانه بادشاه دَ هغه وطن سره دَ اميرانو او
وزيرانو په هغه ځاي پښ شه چه دوي ئي وليدل نو تري ئي پوښتنه وکړله
ويل ئي چه تاسو څوک يئ او دلته څه کوئ + دوي ورته خپل حال ووايه چه
مونږ په دي شان راغلي يو او داسي قصه را ته پيښه شوي ده + نو اوس
مو دا مطلب وه چه څوک پښ شوي چه څمونږ داجګړه ئي خلاصه کړلي +
بادشاه وُوِ چه تاسو هر يو خپل خپل بيان دَ خپلي خپلي کيني راته په رښتيا
سره وکړئ چه زه په حال پوه شم نو هغه رنګ حکم به وکړم + هغه يو وُوِ
چه څما خو دا نيّت دي چه دَ هيچا سره مِ نيکي و نه کړلي او هيڅوک څما له
لاس خوشحال مه شولي + دويم وُوِ چه ته خو ډير ښه سړي يي ستا خو هدو
بدنيتي نشته بدنيتي خو څما دَه چه بل څوک دَ چا سره ښه وکړي نو هم ډيري
ورځي زه خپه يم + دريم وُوِ چه تاسو خو دواړه بزرګان يئ زړونه مو له کيني
نه پاک دي ځکه چه څما دومره کينه دَه چه وايم چه ما سره هم چا ښه ومه کړي
چه نوم دَ نيکئ او دَ احسان له جهان ورک شي + بادشاه چه دا خبري واوريدلي
له حيرانتيا نه ئي کوتي په غاښو چيچلي او دَ فکر په تال زنګيده بيا چه ډير

ساعت تیر شه نو دَ هغه وړنبي په حق کښې ئې حکم وکړچه دي
خو بهر وشرئ او چه څه ورنخه وي هغه تر ټول واخلئ څکه چه دَ بل
سره نیکي نه کوي نو دَده سره هم نیکي پکار نه ده + او دَ دویم په حق
کښې ئې وفرمایل چه دي خو مړ کړئ څکه چه خلق سره یو بل نیکي کوي
نو دده غم زیاتیږي نو دَ کړیدن د ژوندانه نه ئې وژل بهتر دي +
او دَ دریم دپاره ئې وویل چه په ده رنځره پوري کړئ او په نور ئې
واچوئ چه په سختئ کښې هلاک شي + دري وارو سره ئې په
مناسب دَ خپلو نیّتونو معامله وکړه دستي ئې حکم پرِ جاري کړ +

په هر دم په هر زمان پکار ده ژبه — د همه واړه جهان پکار ده ژبه
ناآشنا آشنا کوي سره خبري — په خبرو نزدي کیږي خلق لري
چه دَ چا خوله کښې خوږه ژبه غږیږي — دَ مچانو په شان خلق پرِ بونډیږي
د تورزن به پکار نه وي همه توره — لکه ژبه چه هر څاي کښې وي منظوره
کار و بار د مصلحت په ژبه کیږي — مصلحت دَ سلطنت په ژبه کیږي
که کاتب دي که کاغذ دي که قلم — ټول دَ ژبي خدمتکار دي دم په دم

په مرغانو کښې طوطي دي عزت‌مند دا په دا چه ښې خبري کړي دَ خوند
مګر دوه شرطَ په ژبه کښې ضرور دي دغه دواړه ضروري په ښه دستور دي
اول دا چه ښې صحيح کوي خبري چه خبري شي په مثل مرغلري
بل په بدو دِ خوله نه خوځوي خپله تل دِ سم په اندازه وي لکه تله
بده ژبه دَ سړي په ځان بلا شي خوږه ژبه له سړي چاپيرو قلا شي
هر سړي دَ سړيتوب دعوي چه کاندِ ځان دِ پوه کاندِ په ډيرو ژبو باندِ
په يوه ژبه مطلب نه پوره کيږي که هوښيار وي هم له سرَ نه پوهيږي
که حاکم وي غور هيڅ نه شي کولي که عالم وي طالب نه شي لولولي
په سفر کښې لکه نقش دَ ديوال ګنګ ولاړ وي بي‌طاقتَ بي‌مجال
خصوصًا چه پښتو ژبي ته حاجت پيښ وه ډير زياتي له حدَ دا ساعت

احمد وکړ په دا شان آسان کلام
چه پوهيږي پرِ کُل واړه خاص و عام

تاریخ

د سلطانِ محمودِ غزنوي

چه مولوي احمد له تاریخِ فرشته نه

پښتو کړي دي

تاریخ

د سلطان محمود غزنوي

جمع کونکو دَ تاریخونو په مبارکو قلمونو سره په پاڑو دَ تصنیفونو خپلو هسي لیکلي دِي چه سلطانِ محمودِ غزنوِي یو بادشاه وه چه نیک بختي دَ دین او دَ دنیا ئي نصیب شوي وَه + او دَ عدل او دَ انصاف شورئي په هر لور ښور شوي وه + او په کار دَ غزا کښې ئي نشانونه د اسلام ودرولي وُو او بیخونه د ظالمانو ئي وکښلي وُو چه به جنګ له روان شه تا به ویل چه کُندِ سیلاب دي چه په لوړه او په ژوره برابر بهیږي + او چه په تخت به کښیناست نو دَ سرِي به کمان وشه چه هډو نور دي چه رڼا ئي په خاص و عام لګیږي + هم ئي عقل هم ئي زور وه هم ئي بخت په دي واړو وه لایق دَ تاج و تخت مګر په بعضي کتابونو کښې لیدلي شوي دِي چه دغه بادشاه ډیر بخیل وه لیکن

نسبت د بخل هغه بادشاه معتبر ته له انصافَ بهر معلومیږي + څکه چه دوره
ملکونه لاندِ کول او عالمان او شاعران په مجلس کښې کښینول بغیر له دنیا ورکولو او
بې له مال بخښلو نه برابریږي + او دا ظاهره خبره دَه چه بې له مقرّري وظیفي
نه څلورلکه روپئِ به ئې لایقو لایقو خلقو ته بخښلي او قسم قسم مهربانګئِ به
ئې کولي او فائدي به ئې هرچا ته رسولي + هان دا دوه څیزَ که دَ بادشاه دَ
بدنامئِ سبب وِي نو به وِي + یو زړه بداوي دَ فردوسي شاعر سره کول بل په آخر
عمر کښې زر له خلقو آخستل + وایي چه بادشاه په ظاهر صورت ښائسته نه
وه + یوه ورځ ئې آئیني ته وکتل خپل مخ ورته ناکارَ ښکاره شه نو یو وزیر
نه ئې وویل چه خلق وایي چه دَ بادشاهانو مخ نه کاته نظر زیاتوي او څما دا سي
رنګ دي چه په لیدو ئې دَ سړي زړه خپه کیږي + وزیر ورته وُوِ چه صورت
ښائسته کول تا له څه پکار دِي خوي ښائسته کول مناسب دِي چه هر څوک
در باندِ مین شِي + دا خبره دَ بادشاه ډیره خوښه شوله او عمل ئې پرِوکړ په ښه
خوي کښې هسي حد ته ورسید چه له ټولو بادشاهانو نه تیر شه +
پلار د بادشاه امیر سبکتګین دي او مور ئې د زابلستان د یو سردار لوروَه له دي
سببَ ورته زابلي ویلي شِي لکه چه فردوسي شاعر ئې صفت کړي دي +

زابلي سلطان محمود هسي درياب دي چه ئې غاړه چرته نه ده چا لیدلی
مرغلره ترِ دا نه غلله په لاس کښې درياب ښه دي کله کړم له بخري خپلي
په شپه د عاشوري په سن دري سوَ اوه پنځوس هجري کښې پیدا شوي دي ÷
او جوجاني په منهاج السّراج کتاب کښې کښلي دِي چه طالع د سلطانِ محمود د
طالع دَ خاوند د ملّت د اسلام سره موافق وه ÷ او یو ساعت وړنبي له پیدا
کیدلو دده نه امیر سبکتګین په خوب کښې ولیدل چه دَدوي له نغري نه یوه
لویه ونه پورته شوله چه تمام جهان ئې په سوري ځائیده ÷ چه له خوبَ بیدار
شه نود تعبیر په فکر کښې وه چه ناګهانه چا پرِ زیري وکړ ورته ئې وویل
چه مبارک شهَ فرزند دِ وشه ÷ امیر سبکتګین ډیر خوشحالَ شه او د
دغه نیک خوب په سبب سره ئې نوم د فرزند محمود کیښوده او امیدوار
د لویي مرتبي او د عزّت شه ÷ بیا په لږه مده کښې ئې بوتِي د اقبال په هسي
شان سوري پیدا کړ چه ډیر عالم ئې د سورِي لاندِ کښیناست ÷ لکه دا بیتونه د
فردوسِي په دي خبره شاهدِي ورکوِي ÷

بادشاهئِ کښې د محمود غازِي سلطان ګډه شرمښې اوبه څښې په یو مکان
چه هلک وړنبي له مورَ پیدا شِینه په زانګو کښې د محمود نوم یادوِینه

په دغه مُده کښې په حکم د امیرِ سبکتګین سره بتخانه دَ هندوانو چه په غاړه د سودري د ابو وَه ورانه ئې کړله او برابري د طالع خپل ئې د طالع د خاوند دَ دین سره وکړ + او په اول کال دَ بادشاهئِ دده کښې یو کان د سرو زرو په شکل د وني په سیستان کښې له زمکي نه راښکاره شه او هر قدر چه به چا کنوده خالص زر به ترِ راوتل او ګیر چاپیر ئې دري کزَ ځاي نیولي وه بیا په زمانه د سلطانِ مسعود کښې هغه کان په سبب د زلزلي ورک شه + بیا چه سلطان دَ ورور له مهم نه وزګار شه نوم ئې بلخ ته کړ او په سبب ددي چه امیرالامرائي د خراسان منصب دده وَه بکتوزن ته سپارلي شوي وَه یو قاصد ئې بخارا ته امیر منصور له ورولیګه او خپګان خپل ئې ورته ظاهر کړ + هغه ځواب ورکړ چه امارت د بلخ او دَ ترمِذ او د هرات مِ تا له درکړي دي لیکن بکتوزن یو خیرخواه سړي دي بي هیڅ ئې پاڅول او له نوکرئِ نه وکښل مناسب نه دِي + سلطان ابوالحسن د جمو ئې د ډیرو پیشکشو سره بخارا ته واستاوه او امیر منصور ته ئې وویل چه امیددي چه چینه د دوستئِ او د اخلاص به په خاورو او په خاشاک د بي پروایئِ نه خړوئِ او حقونه ځما او ځما دَ پلارچه ستاسو په ذمه وُو هغه به نه ضایع کوئِ دپاره ددي چه مزي د دوستئِ و نه شلیږي او بناد منابعت و نه نریږي + ابوالحسن دَ جمو چه بخارا ته ورسیده

امیر منصور ولګیده دي ئي د خان وزیر کړ او دَ سلطان دخبري ئي هیڅ ځواب ور نه کړ + سلطانِ محمود په طرف د نیشاپور روان شه او بکتوزن چه په نیّت دده پوه شه نو په بل طرف لاړ شه او عریضه د حال خپل ئي بخارا ته و لیکله + امیر منصور په کبر او په نادانئِ او په غرور د ځوانئِ مست وه لښکر ئي جمع کړ خراسان ته را روان شه او تر سرخس پوري ئي هیچرته دمه ونه کړله + سلطان اګر که ښه پوهیده چه امیرِ منصور دده سره برابري کولي نه شي لیکن له پیغورَ او له بدنامئِ دَ نمکحرامئِ نه ویریده نو نیشاپور ئي ورته پریښود او مرغاب ته لاړ شه + ناګهانه بکتوزن په مصلحت د فائق تکي وکړه امیر منصور ئي ونیو او سلاپي ئي په سترګو کښې وواهه روند ئي کړ او ورکي ورور دَ هغه چه عبدالملک نامه ئي لرله په تخت ئي کښیناوه او پخپله له سلطانَ ویریده مروته وتښتیده + سلطان ورپسي روان شه مروته ورسیده + بکتوزن او فایق کار نالایق اختیار کړ جنګ ئي له سلطانَ سره په میدان کښې وتښلاوه مګر بري دَ سلطان نصیب شه + او فائق عبدالملک له خان سره کړ بخارا ته لاړ شه + او بکتوزن نیشاپور ته وتښتیده خو وقتَ پس دَ تښتیدلي لښکر د جمع کولو دپاره بخارا ته بیا ورغي + ناګهانه په دغه مُده کښې فائق ناجوړه شه او مړ شه او ایلک خان له کاشغر نه

بخارا ته لاړ شه او عبدالملک ئې سره د تابعانو قتل کړ بیخ ئې وکښېن او دولت
د خیلخانۍ د سامان چه اته دپاس شپږ شلي کال وه آخر ته ورسیده + او سلطان
محمود په حکومت د بلخ او د خراسان مشغول شه + هرکله چه دبدبه د بادشاهت
دده اطرافو د جهان ته ورسیدله نو خلیفه د بغداد چه مشهور په اَلْقَادِرُ بِاللهِ
عباسي وه یو خلعت د ډیر قیمت ئې سلطان ته ولیکله چه په دغه شان خلعت
هیڅ یو بادشاه بل بادشاه ته نه وه لیکلي + بیا په سن دري سوَ نوي هجري کښې
د میاني په میاشت کښې له بلخَ هرات ته لاړ شه او له هراتَ سیستان ته
ورغي + او حنیف بنِ احمد د هغه ځاي حاکم ئې له حکمَ لاندِ کړ بیا غزنین ته
ورسیده + او هم په دغه مُده کښې هندوستان ته روان شه او هلته ئې یو څو
قلا ونیولې او بیا بیرته راوګرزیده + په هسي شان ئې بیچاونړه دَ عدل په فراخه
زمکه وغوړوله چه محبت دده دَ هرچا په زړونو کښې پیدا شه + او ایلک خان چه
ماوراءالنّهر په یو وار دَ سامان له اولادَ خالي کړ نو خط دَ فتح اود بري ئې سلطان
ته واستاوه او مبارکي ئې دَ بادشاهيِ دَ خراسان ورته وویله + په دي سبب سره
د دواړو بادشاهانو په مینځ کښې دوستيِ محکمه پیدا شوله + او سلطانِ محمود هم
ابوالطیب لره چه نوم ئې سهل وه زوي د سلیمانِ معلوکي وه او امام دَ علمِ حدیث

وه په طریقه د قاصدیٔ ایلک خان ته دپاره د نکاح کولو د یوي شاهزادګیٔ واستاوه
او قسم قسم یاقوت او لعلونه قیمتناک او حمیلونه د مرغلوو او هاګیٔ د عنبرو او
لوښي د سرو او د سپینو زرو ډک په خوشبویو او په کافورو او نوري پیشکشیٔ د
هندوستان او وني د عودو او توري آبداري او هاتیان جنګیان جوړکړي سنبالګړي
چه ستړګي د تماشګیر به ئي په لیدلو خړي کیدلي او راهداو اسونه پرِ دپاس زرین
زینونه ئي ور سره کړل ٭ چه امام ابوالطیب د ترکستان وطن ته ورسیده خلقو
دهلته وطن چه اکثر په زمانه د ایلک خان مسلمانان شوي وُو د ده ډیر تعظیم او
عزت او مدار وکړ ٭ او دي په اورکند کښ نو هغه معطل وه چه څو ایلک خان
اجازه د ملاقات وکړله ٭ بیا هغه مرغلره چه په دریاب د ترکستان کښ ورپسي موجونړا
شوي وه هغه ئي سره د قیمتي اسبابونو د هغه وطن او سره د سوچه سرو سپینو
او سره د وینځو د خِطا او د پیٔ مخو د ختن او سره د قاقمو او د سمورو او سره
د نورو پیشکشو په خدمت د بادشاه کښ حاضره کړله ٭ پس له هغه ډیر عمر په مینځ د سلطان
او د ایلک خان کښ دوستي او محبت زیاتیدل ٭ نو هغه پوري چه په سبب د بد
نظر لګیدو د زماني او په سعي د غمازانو دوستي او محبّت د دوي په دښمنیٔ او په
عداوت بدل شول لکه چه زر به ذکر د دي خبري وشي انشآء الله تعالیٰ ٭

او سلطانِ محمود په سبب د دي خبري چه ویلي ئې وُو چه هر کله چه د بادشاهت له کار و بارَ وزکار شم نو اکثر عمر به هندوستان ته ځم او غزا به کوم په میاشت دوهرکي اختر کښ په سن دري سَو یو نوي هجري کښ له غزنین نه ئې اراده د هندوستان وکړه د لسو زرو سورو سره پښاور ته راغي + او جیپال د دو لسو زرو سورو او د دیرشو زرو پیاده وُ او د دري سوو هاتیانو سره راغي جنګ ئې طیار کړ په ورځ د کل په اتمه د میاشتی د حسن حسین په سن دري سَو دوه نوی هجري کښ جنګ ئې وښلاوه + سلطانِ محمود دیره مرانه وکړه بري ئې نصیب شه نوم ئې په غازي سره مشهور شه + او جیپال ئې د پنځلسو سړو سره چه څوک ئې ځامن وُو او څوک ئې چلوان وُو په بند راوست او پنځه زرَ هندوان ئې قتل کړل او دیر لوټونه ئې راوړل + او د هغه بندیانو د غاړي نه ئې شپارس حمیلونه وکښل چه په هندي ژبه کښ هغه حمیل ته مالا وایي او خلقو د هر یو حمیل یو لک اتیا زرَ اشرفئ قیمت مقرر کړ + بیا سلطان له پښاور نه په پهنده ورغي هغه ملک ئې هم د حکم لاندِ کړ + او هر کله چه مده د پسرلي شوه نو جیپال او نورو بندیانو له ئې پس له قبلولو د قلنګ امان ورکړ له قیدَ ئې خلاص کړ + او دیر غټ غټ پښتا نه ئې ووژل او څني ئې چاکران کړل غزنین ته ئې له ځانَ سره روان

کړل

کړل ٭ دستور د هندوانو دا دي چه هر راجه چه دوه ځل له مسلمانانو نه مات شي یا بندي شي دوباره لایق د بادشاهت نه وي او گناه ئي بې له اوږ نه پاکیږي نو په دي سبب سره جیپال خپل زوي چه انندپال نامه ئي وه بادشاه ئي کړ او ځان ئي په اورکښې واچاوه او وئي سیزه ٭ او سلطان محمود په میاشت د حسن حسین کښې په سن دري سو دری نوي هجري کښې بیا سیستان ته لاړ شه او حنیف ئي په دغه وار غزنین ته راوست ٭ بیا ئي مینه د هندوستان په زړه کښې پیدا شوه په سن دري سو پنځه نوي هجري کښې په طرف د هغه ښهرچه بهاطیه نوم لري لاړ شه اوچه له حدودو د ملتان نه تیر شه نو په هغه ځاي کښې ئي ډیره وکړله ٭ او د هغه ښهر همره لویه قلاوه چه گرگس مارغه ئي سر ته نه شه رسیدي او چاپیره تړ هسي خندق وه چه د نظرباز نظر ئي په بیخ نه شه لگیدي ٭ نوم د هغه ځاي د راجه بجی راو وه او په سبب د ډیرو سپاهیانو او د هاتیانو هسي مغرور وه چه نه ئي د سردارانو د امیر سبکتگین پروا لرله او نه ئي د جیپال فرمان برداري کوله ٭ هر کله چه سلطان محمود پاره د دفع د ده لښکر هغه طرف ته راکښه ده سپاهیان خپل جمع کړل او په برابر د لښکر د اسلام ئي صفونه جوړ کړل ٭ دواړو لښکرو سره دري ورځي جنگ وکړ لیکن سلطان ته مسلمانان عاجز ښکاره شول په

څلورمه ورځ يُ حکم واوراوه چه نن به بادشاهي جنګ وِي زور زلمي نوکر چاکر
دِ ټول ځانونه سنبال کړي چه غزاته په ميدان کښ حاضر شِي + او راجه بجيراو
چه په دي مصلحت خبر شه بتخاني ته لاړ شه او په بتانو نسکور پريوت او مدد
يُ ور نه وغوښت او هندوان يُ په دباو او په ديدبه له بنهرَ بهر راوکښل او د
جنګ په ځاي کښ ودريدل + او اميرانو د اسلام په تورو او په نيزو لاس وواهه
او په يو وار يُ په کفارو حمله وکړه له وقتَ د ځابنتَ تر زوالَ پوري يُ سره
جنګ وکړ او له هرَ طرفَ ديرِي د مړو ودريدل او سيلابونه د وينو وبهيدل
مګر ښه د کم زوريتيا په يو طرف کښ ظاهره نه شوه ٭ سلطان په هغه زمان
لاس په دلبار د رحمن وينول او روح پاک د پيغامبر عليه السلام يُ رويدار کړ
او پچپله يُ د لښکر په مينځ باندِ حمله وکړله لښکر يُ د کفارو مات کړ او بجيراو
يُ تلابند کړ او حکم يُ د خندق د ډکولو ورکړ + هر کله چه خندق يُ په کانړو
او په لوتو او په غنو او په بوټو ډکيدو ته نزدي کړ بجيراو حيران شه لښکر يُ
په جنګ پرېښود او دي سره د يو څو کسانو خاصانو له قلا نه راکوز شه او يو څنګل
ته د څنګلونو د اباسيند د غاړي ولښتيده + چه سلطان په دغه حال خبر شه
نو يو فوج يُ د تورزنو سپاهيانو درپي واستاوه هم په هغه څنګل کښ يُ کيږ

کړ ٭ چه بجیراو لار د تبنتیدلو نه موندله زر ئی خنجر له کمربند بهر کړ او له ډیري کیني ئي په سیني چلي باندِ وواهه ٭ غازیان ور ورسیدل سر ئي ترِ پري کړ سلطان ته ئي روان کړ او له تیغ بي دریغ ئي سرونه د ملګرو د بجیراو په زمکه اړتاو کړل او قتل ئي عظیم وکړ ٭ اینا هاتیان او مریونه او ډیر لوټ او مالونه ئي په لاس راغلل او هغه بنهر سره د اطرافو د سلطان حکم قبول کړ او دي سره د فتح او د برِي غزنین ته وګرزیده ٭

بیا په سن دري سَو شپږ نوي هجري کښ سلطان نیت د لاندِ کولو د ملتان وکړ مشرانو د لښکر ته ئي حکم واوراوه چه شیخ حمید لودِي امیر د ملتان به د امیر سبکتګین سره اخلاص کاوه او له خدمت به ئي څان نه خلاصاوه او پس له هغه د هغه نمسي ابوالفتح چه نوم ئي داوُد زوي د نصیر زوي د شیخ حمید یو له ملحدانو نه وه په اول حال کښ ئي په طریقه د پلار ښکه عمل کا وه اوخپل څان ئي له نوکرانو د سلطان نه شماره لیکن په هغَه وقت کښ چه لښکر د بادشاه په بهاطنه مشغول وه له ده نه خبري بدي اوریدلي شوي وي کارونه ناکارَئي له لاسَ شروع شوی رُو ٭ سلطان په دغه کال کښ دپاره د څه مصلحت بي پروائي وکړه هیڅ ئي و نه ویل او بل کال ئي نیت د بدل دَآخستو وکړ ٭ له روایتَ د

زین الاخبار نه معلومیږي چه له دي وجهي چه دي پوه نه شي هغه لاري پرېښو له
په بله لار روان شه + او انندپال زوي د جیپال په لارکښ و درېده لښکر د
سلطان ئي منع کاوه لیکن شکست ئي وخوړ لار کشمیر ته وتښتیده + او په
تاریخ د الفي کښ واي چه هغه وقت چه ابوالفتح له راتلو د سلطان نه خبر
شه انندپال ته ئي سړي واستاوه او کمک ئي تر وغوښت + انندپال د ابوالفتح په
مددکاري له لاهور نه پېښاور ته لار شه او څو تن امیران ئي د سلطان لاري
ته ولیکل دپاره د دي چه سلطان د ملتان له تلو منع کاندي + بادشاه له ډېر
قهر حکم د وراتلو د ښهرونو د انندپال په لښکر وکړ لښکر په یو وار حمله وکړه
امیران د انندپال ئي په پېښاور کښ خراب تراب کړل او انندپال چه په دي حال
خبردار شه لار وتښتیده او لښکر د سلطان په هغه شان ورپسي وه چه په حدود د
د سودري کښ غاري د چناب سیند ته ورسیده هلته کښ وویریده کشمیر ته
ئي مخه وکړله + سلطان په هغه پسي لار نه شه په طرف د ملتان په خپل
مطلب پسي روان شه + ابوالفتح چه ولیدل چه د هند راجګانو هیڅ و نه کړي شول
جور خانونه ئي قلابند کړل او زاري او عذرونه ئي څوکند کړل او وعده ئي وکړه چه کال
په کال به شل زر اشرفئ په خدمت کښ رسوم او حکمونه د شریعت به جاري کړم

او له مذهب د ملحدانو توبه کاریم + سلطان اوره ورځي ملتان قلابند کړي وه مګر په دغه صلح ئي وعده محکمه کړه امیر د ملتان له ئي امان ورکړ + بیا چه په طیاري د بیرته راګرزیدو کښ شه ناګهانه قاصدان د ارسلان جاذب چه حاکم د هرات وه را ورسیدل او له لښکر د ایلک خان ئي سلطان خبر کړ سلطان له ډیري تلواري مهم د بتهندي سکهپال ته چه زوي د یو راجه د هندوستان وه او په لاس د ابوعلي سمجوري کښ مسلمان شوي وه او هغه ته به ئي آب سار هم وایه وسپاره او دي غزنین ته لاړ شه +

او بیان د احوال د ایلک خان دا شان وه چه د سلطان او د ایلک خان ډیر مدت لکه حق د خسروالي او د زوم والي هغه رنګ دوستي وه تر هسي حد پوري چه لکه ورښي هم ذکر شوي دي چه په واسطه د فساد د مفسدانو او په سبب د سعي د غمازانو هغه دوستي په دښمنئ بدله شوله + او چه سلطان په لوري د ملتان روان شه او په میدان د خراسان کښ پهلوانان پاتی نه شول ایلک خان فرصت وموند او نیت ئي د لاندې کولو د هغه و لایت وکړ سیاوش تکین چه سردار د لښکر وه د ډیر لښکر سره ئي خراسان ته ولیګه او جعفر تکین ئي په شان د کوتوال په دارالملک د بلخ باندې مقرر کړ + ارسلان جاذب حاکم د هرات په دي

حال خبر شه له هرات غزنین ته لاړ شه دپاره د دي چه تخت د بادشاهت وساتي ٭ او یو ټولي د غټانو د خراسان په سبب د ډیري مدی د جدائي د سلطان د ایلک خان سره جوړښت وکړ ٭ هر کله چه سلطان غزنین ته ورسیده نو یو لښکر لکه د خلقو د محشرئ جمع کړ او بلخ ته وکوچیده ٭ او جعفرتکین چه له راتللو د سلطان نه خبر شه له بلخ ترمذ ته وتښتیده ٭ او ارسلان جاذب په حکم د سلطان په سیاوش تکین پسي له هرات ووت ماوراءالنهر ته روان شه ٭ ایلک خان له قدرخان بادشاه د چین نه مدد وغوښت قدرخان د پنځه‌ؤ زرو تنو سره د ایلک خان په مدد روان شه ایلک خان په مددکاري د قدرخان له جیحون سیندَ را پوري وت ٭ او چه دولس کروَه لاړ بلخ ته پاتی شوله لښکر د سلطان د دوي سره مقابل شه ٭ سلطان پخپله صفونه د لښکر برابر کړل د مینځ صف ئي کشر ورور ته چه امیر نصیرالدین حاکم د جرجان وه او ابونصر فریغون ته او عبدالله طائي ته وسپاره ٭ او د ښي لاس صف ئي التونتاش حاجب ته حواله کړ ٭ او د کیڼ طرف صف ئي ارسلان جاذب او نورو امیرانو د پښتنو ته مقرر کړ ٭ او پنځه سَو هاتیان د غزونو په شان ئي د صفونو د درانډ قلاکړل ٭ او له هغه طرف ایلک خان پخپله په مینځ صف کښ د لښکر و دریده او قدرخان ئي

په میمنه مقرر کړ او جعفرتکین ئې په میسره ودراوه ٭ بیا دواړو لښکرو لکه د دوؤ دریابو د پاري یو بل ته مخ کړ ٭ او له شور د آسونو ته ئې کور د زمکې په زلزله کړ ٭ او په گردونو د سمونو د آسونو ئې میدان د آسمان خړ کړ ٭ او اور د جنگ او د جدل ئې په باد د حملو بل کړ ٭ له هغه لوري ایلک خان پخپله په جنگ مشغول شه ٭ له دې خوا نه سلطان له آس نه کوز شه او پاک پروردگار ته ئې سر په سجده کیښود او لاس د دعا او د زارئ ئې پورته وینول او تکیه ئې په مهربانئ د مهربان خدای وکړه او په هاتي مست باندې سور شه او حمله ئې په لښکر د ایلک خان یوړله ٭ ناگهانه هاتي د سلطان نشانچي د ایلک خان په خرطوم وینوه او په زمکه ئې وویشت پس له هغه په صف د ترکانو ورغي دیر ئې هلاک کړل ٭ هر کله چه غازیانو ولیده چه سلطان پخپله په خان په میدان کښې د جنگ ورگډ شه جوړ بي اختیارَ له یو وارَ ور وزغلیدل او توري ئې وویستلي دیر ترکان ئې په هغه زمان قتل کړل ٭ قدر خان دار خطا له خانَ ناامیدَ په چلونو هنرونو له جنگ وتښتید او چه له اوبو د جیحونَ پوري وت نو هیچرته ئې دمه ونه کړله چه خوخپل وطن ته ورسیده او دوباره ئې د خراسان خیال په خاطر کښې را نه ور ٭ او په تاریخ یمني کښې لیکلي دي چه سلطان پس له تښتي د ایلک خان په ماتي پسې روان

شه لیکن مده د ژمي وَه یخني له حدَ زیاته وَه طاقت دهیچا نه کیده د اکثرو امیرانو داخوښه وَه چه په مایتي پسي نه تالي مګر چه سلطان پخپله په کوشش کښ وه نو خواه مخواه دوه منزلَ ور پسی لاړل په دریمه شپه په یو بیابان کښ ډیره شول درسته شپه واوره وورېدله او یخنيُ له حدَ زیات زور وکړ ۰ او د سلطان دپاره ئي یوه لویه خیمه ودروله او منقلونه ئي ډیر کیښول خیمه ئي په هسي شان کړمه کړله چه اکثر خلق له ګرمئ نه زړوکو غورزلو ته جوړ شول + په دغه ساعت کښ ولچک په دروازه د خیمي را ننوت سلطان ورته په توقو سره ووِچه ولچکَ لاړ شَه بهر یخنيِ ته ووایه چه ولي مري او له ډیري سردیئِ نه دِ ځانکندن دي مونږَ خو دلته له ګرمیئِ نه جامو وکښلو ته طیاریُو + ولچک في الحال بهر لاړ شه او دستي دنه راغي عرض ئي وکړ چه زیري د بادشاه م یخنيِ ته درساوه هغَه وائي چه اګر چه لاس م په سلطان او د سلطان په امیرانو نه رسیږي لیکن د نورو نوکرانو به هسي خدمت وکړم چه صبا له به سلطان او امیران او سرداران د آسونو خدمت پخپله کوِي او له ما نه به هیڅ تقصیر په دغه خدمتګاریئِ کښ ونه وینِي + سلطان اګر که ظاهر دغه خبره په توقو تیره کړله مګر په زړه کښ له دغه نیتَ پښیمان شه قصد ئي دبیرته ګوزیدلو وکړ ۰ ناګهانه هم په دغه شپه کښ له

هندوستانَ خبر را ورسیده چه آب‌سار مرتد شه بیا اصلي دین چل ته وګرزیده او هغه میدان در ته خالي بنکاره شه کارداران د سلطان ئي ټول وشړل ٭ سلطان صبا له واکي د قصد میدان د هندوستان ته وګرزولي کوچ په کوچ ئي منزل قطع کاوه روان شه او هغه امیران چه جاګیرونه د هندوستان ئي خواره ورپني ئي ولیکل آب‌سار ئي وینو دربار ته د سلطان ئي حاضر کړ ٭ سلطان څلور لک روپئ نرِ واختلي تګین خزانچي ته ئي وبخښلي او دي ئي بندکړ چه هم هلته کښ مړ شه ٭ او سلطان په دغه وقت کښ غزنین ته را وګرزیده په پیچاونره د آرام ئي تکیه ووهله په قرار شه ٭

بیا په سن دري سَو نه نوي هجري کښ په نیت د جزا ورکولو د انندپال چه په مقدمه د ملتان کښ ئي بي‌ادبي کړي وَه لښکر ئي جمع کړ هندوستان ته ئي کوچ وکړ ٭ انندپال چه په دي حال خبر شه نو له راجګانو د هندوستان نه ئي مدد وغوښت ٭ هر کله چه هندوانو ته د مسلمانانو سره جنګ ثواب بنکاریده نو خواه مخواه ټول راجګان جمع شول نر هسي حدَ پوري چه راجه د اوجین او د ګوالیار او د کالینجر او د قنوَج اوَد دهلي او د اجمیر کل واړه په مددګاريِ راغلل او فوځونه فوځونه لښکر ئي پنجاب ته را روان کړ ٭ او لکه چه په زمانه د امیر سبکتګین کښ جمع شوي وه دا

وار لښکر له هغه وار نه زیات جمع شه او د انندپال سره یو ځای صحرا ته د پښاور راغلل + څلویښت ورځې په مقابله د سلطان کښې پریوتل لیکن هیچوک له دواړو لښکرو نه جنګ ته نه وړاندې کیده مګر لښکر د کفارو ورځ په ورځ زیاتیده او له هر طرف نه به وله خلق را چلیده نږدې حدّ پورې چه کنار د کهکر هم په دغه سفر کښې ور سره مګړي شول + او همره سعي ئې په جنګ کښې کوله چه کافرو ښځو به کاڼي خرڅول او خرڅ به ئې په څښتنانو پسې رالیګه دپاره د دې چه ناربنه ئې جنګ ته وګاړوي + او هغه ښځه چه لاس به ئې نه رسیده هغې به چرخه وریشله او مزدورۍ به ئې کوله او خرڅ به ئې لښکر ته را آستاوه + هر کله چه سلطان پوه شه چه دا وار کفار په ډیر اخلاص سره ځان د جنګ دپاره طیارۍ نو دوه ګو طرفو د لښکر ته ئې خندق وکنده او جنګ ته ئې ځان برابر کړ + بیا نږدې غش لاسې ئې وړاندې ولیګل هغو په چلونو او په حیلو سره لښکر د کفارو ګرم کړ او په ځان پسې ئې روان کړ نږدې حدّ پورې چه خپل لښکر ته ئې لښکر د کفارو نږدې کړ + او مسلمانان په ښه اتفاق سره په دفع کولو د کفارو مشغول شول + او سره د ډیرې احتیاط د سلطان دیرش زرّ لښکر له کفارو د کهکر په عین مقدمه کښې په خندقونو د دواړو طرفو را واوړیدل او په مینځ د سورو کښې را نښتل او

شلګي او توري او خنجرونه ئې وچلول او ډېره سړي او آسونه ئې پرلیتل ترهیي حه پوري چه په سترګه رپول کښې ئې خلور زرَ تنَ شهیدان کړل بلکه دي حد له خبره راغله چه سلطان دي کار ته جوړ شه چه له لاسَ د کهکریانو له میدانَ په ډډه شي او جنګ مرقوف کړي ٭ ناګهانه د انندپال هاتي له آوازونو د توپکو او له بویونو د دارو ته وویریده لاړ وتښتیده لښکرو ګمان وکړ چه ګُندِ راجګانو یتښتنه وکړه جوړ تولو ماتي ګډه کړله ٭ عبدالله طائيُ د پنځهوُ شپږو زرو سورو د عربو سره او ارسلان جاذب د دوهوُ زرو سورو د ترکو او د پښتنو او د خلجیانو سره دوه شپي او دوره ورځي په دښال د ماتي لاړل اته زرَ کافران ئې قتل کړل اور دیرش هاتیان او ډېر لوټ ئې راوړ د سلطان دوړاندِ حاضر شول ٭ سلطان پس له هغَه د دین نبوي د محکمتیا دپاره نیت د غزا د کفارو د نګرکوټ او د ورانولو د بتخاني د هغو وکړ روان شه ٭ او په هغَه مده کښې هغَه قلا د بهیم په قلا باندِ مشهوره وَه چه سلطان ور ورسیده حکم ئې د هغې قلا د قلابندیئِ ورکړ اوګیر جاپیر د اطرافو خلق ئې ډېر ووژلل ٭ او هغَه قلا په زمانه د راجه بهیم کښې په سر د یو غره باندِ ودانه شوي وَه او هندوانو به هغي قلا ته مخزن الاصنام یعنی خزانه د بتانو نوم وایه ٭ او راجګانو د ملکونو به سره او سپین او مرغلري او لعلونه او مرجان او نور مالونه ورلیګل او په دغه

کارکښ به ئې فایده د دوارو جهانو کنړله ۰ له دي سبب په هغه قلاکښ دومره مال جمع شوي وه چه د یو بادشاه په خزانه کښ دا قدر مال نه ده جمع شوي ۰ اوچه هغه قلا له تورزنو خوانانو خالي وَه او بغیر له بامبنړانو په کښ بل څوک نه وُو نو خوله مخواه د هغو په زړونو کښ هیبت پریوت اوچغي د امان غوښتو ئې آسمان ته ورسولي او په دریمه ورځ ئې دروازه د قلا لري کړله او بامبنړان راغلل سلطان ته ئې سلام وکړ ۰ بیا سلطان د یو څو تنو خاصانو سره قلا ته ننوت اووه لک اشرفئ او اته سَو مَن لوښي د سرو سپینو او دوه سَو مَن طلا خالص او دوه زرَ من سوچه سپین زر او شل مَن قسم قسم جواهر چه له زماني دکهیم نه جمع شوي وو او په تصرف د دیوانیانو کښ راغلي وُو واړه سلطان ته ورسیدل پس له هغه سلطان غزنین ته وګرزیده ۰

او په سن څلور سَو هجري کښ سلطان له ښهرَ بهر ووت او څو تختَ د سرو او د سپینو ئې په دربار کښ کیښودل او هغه لوټونه چه په هغه سفرکښ په لاس ورغلي وُو هغه ئې صحرا ته وولیستل او سړي د ښهر او د کلو د تماشي دپاره ډیر جمع شول ۰ او تر دري ورځو پوري دغه مخلوق جمع وه قسم قسم مجلسونه کیدل او هغه مال ئې په صالحانو او عاجزانو باندِ وویشه او د

خلقو زړونه ئې ښه کړل ۞

او په سن څلور سَو یو کال هجري کښې ئې لښکر غور ته وویستله ۞ او محمد بنِ سوري د هغه وطن حاکم د لسو زرو سورو سره سلطان له د جنګ دپاره را ووت او له وقتَ د ممرختلو نه ترینمي ورځي پوري جنګ وشه غوریانو ډیره ځوانمردي وکړله ۞ سلطان چه توره د دوي ولیدله نو حکم ئې وکړ لښکر ئې په تګئ سره بیرته روان کړ ۞ د غوریانو ګمان وشه چه کُنډ سلطان مات شه له خندقَ را ووتل در پسې روان شول ۞ چه د صحرا مینځ ته ورسیدل نو سلطان حکم وکړ سپاهیانو په بیرته پیر وکړ غوریان ئې ډیر قتل کړل او محمد بنِ سوري ئې بندیوان سلطان له روان کړ مګر هغه له ډیرَ غمَ غمي د زهرو وخاتِه د سلطان په مجلس کښې مړ شه او هغه وطن د سلطان په تصرف کښې داخل شه ۞

او په تاریخِ یمینی کښې لیکلي دي چه حاکمانو د غور او رعیّت خلقو د هغه ځاي تو هغه وقتَ پوري دین د اسلام نه ره قبول کړي ۞ مګر صاحب د طبقات ناصري او مبارک شاه روذي چه تاریخ د بادشاهانو د غور ئې په نظم کښې لیکلي دي ویلي دي چه غوریان په زمانه د خلافت د امیرالمؤمنین علي بنِ ابي طالب رضي الله عنه کښې مسلمانان شوي دو او په زمانه د بني امیه ؤ کښې تمامو مسلمانانو په خیلخانه د

پیغامبر علیه السلام پوري بې ځايَ خبري کړي وي مګر په ولایت د غورکښ هیڅا څه نه دِيَ ویلي له دي سببَ هغه وطن په ټولو ملکونو باندِ فخر کوي ٭ او هم په دغه کال کښ یل وار له غزنین نه ملتان ته لاړ شه او هغَه ځاي ئې په زور او په غلبه سره فتح کړ او له قرامطهؤ او له ملحدانو نه ئې قتل کړل او د ډیرو ئې پښي او لاسونه پریکړل او داوود بنِ نصیر ئې ژوندي په بند کښ راوست او د چل ځان سره ئې غزنین ته بوت او په قلا د غورکښ ئې بند کړ هم په هغَه ځاي کښ مړ شه ٭

او په سن څلور سَو دوه هجرِي کښ دوباره مینه د غزا ئې پیدا شوله او نهانیسر ته چه له ملکونو د هندوستان ته دي روان شه ځکه چه چا ور ته وویل چه نهانیسر په نزد د هندوانو په عزت کښ بلا تشبیه د مکي معظمي په شان دي او په هغَه کښ یوه بتخانه دَه پخوانئِ چه ډیر بتان په کښ هندوانو جوړ کړِي دِي او غټ بت په هغو کښ جګ سوم نامه لرِي او اعتقاد دکنارو دا دي چه له کوَم وقتَ چه دنیا پیدا شوي دَه دا بُت ور سره پیدا شوي دي ٭ اوچه سلطان د پنجاب ملک ته ورسیده نو په سبب د دي خبري چه انندپال سره ئې وعده کړي وَه چه زه به تا ته ضرر نه رسوم ورښي ئې سرِي ور واستاوه او ورته ئې

وویل چه انندپالَ خبر شَه خما نیت د ګټاینر د تالو دي ښائي چه ته یوڅو تن معتبران خپل خمونږَ له لښکرَ سره کړي چه ستا د وطن په خلقو زور زیاتي و نه شي ٭ انند پال دپاره د خیرخواهيِ خپلی په تلوار سره میلمستیا لویه طیاره کړله او سوداګر ئي د وطن راوبلل حکم ئي ورته واوراوه چه اوره او غوړي تیل مالګه لوښي لرګي هر څه اسباب چه د بادشاه په لښکر کښې پکاریږي ویریا ورکوي هیڅ پیسه کاسیره له چا نه مه غواړيِ ٭ او دوه زرَ سواره ئي د ورور سره خدمت د بادشاه ته واستول او عریضه ئي ورته وکښله چه زه بنده او خدمتګار یم هر څه حکم چه وي ورته طیاریم مګر عرض م دا دي چه ګټاینر د دي وطن د خلقو د عبادت ځای دي او که په دین د مسلمانانو کښې د بتانو ماتول ثواب وي نو هغه کار خود په ماتولو د نګرکوټ د بتانو کښې شوي دي اوس که بادشاه د خپلو راتللو پها واخلي او هرکال په هغو خلقو باندِ قلنګ مقرر کړي او په خیر سره بیرته وګرزي نو زه به هم په شکرانه د دي خبري چه خما سوال قبول شي پنځوس هاتیان او رنګ رنګ پیشکشيِ هرکال په دلبار کښې حاضروم ٭ سلطان جواب ورکړ چه په دین د مسلمانانو کښې ثواب دا دي چه ځاي د عبادت د کفارو څوک وران کاندِ نو هغه به په ورځ د قیامت ډیره نیکي ومومي او نیت خما دا دي چه بتان بالکل د هندستان

له ښهرونو نه لري کړم نو بیا څنګه له تهانیسر نه منع شم ٭ حاصل دا دي چه
دا خبر د دِیلي راجه ته ورسیده څان ئي د مسلمانانو جنګ ته طیار کړ او هر
طرف ته د هندوستان ئي قاصدان ولیګل او راجګانو ته ئي وویل چه سلطان محمود
د ډیرو لښکرو سره تهانیسر ته را روان شوي دي اوس که دي زورآور سیلاب ته
یو بند مضبوط و نه تړو نو زر دِي چه په صحرا د دي وطن کښ بوتني د دولت د
ورکي او د لوي پري نه بدِي نو بهتره دا دَه چه په اتفاق سره داغوا دفع کړو٭
مګر سلطان پخوا له جمع کیدو د دوي نه تهانیسر ته ورسیده او چه ښهر ئي
خالي ولیده نو په آرام سره ئي لوټ کړ او ټول بتان ئي مات کړل او جګ سوم ئي
غزنین ته واستاوه وِ چه په لارکښ ئي واچوئ چه هر څوک پرِ خیژي او د پښو
لاندِ ئي پایمالوي او دومره خزانې ئي په بتخانو کښ وموندلي چه په شمار کښ نه راځي٭
او له حاجي محمّد قندهارِي نه نقل دي چه په یوه بتخانه کښ د سرو یاقوتو توټه
وموندلي شوه چه په ټول څلورنیم سَو مثقالَ وَه او هیڅا چري داسي ټکړه نه لیدلي
وَه او نه آوریدلي وَه ٭ او سلطان پس له هغي فتح نه اراده د دِیلي د لاندِ کولو
وکړله خو امیرانو ورته عرض وکړ ویل ئي چه دِیلي له تلل هاله پکار دِي چه پنجاب
سراسر په تصرف کښ راشي او د انندپال له خیال څخه زړونه خالي شي ٭

سلطان دغه مصلحت خوښ کړ لږ څه کم دوه لک وینځې مریونه ئې له هغه وطن روان کړل غزنین ته وګرزیده واپې چه د غزنین ښهرئې په دغه کال کښې د هندوستان له ښهرونو نه شماره څکه چه هر امیر له په لاس ډیر ډیر مریونه او وینځې د هندوستان ورغلي وُو ۞ او په سن څلور سَو دري هجري کښې التونتاش سپه سالار او ارسلان جاذب فتح د غرجستان وکړه او شاه سار مشهور په ابو نصر حاکم د هغه ملک ئې ونیوه غزنین ته ئې راوست ۞ او چه شاه سار ئې غزنین ته بیوه نو د یو غلام حواله ئې کړ او هغه غلام په زړه کښې وویل چه مناسب دِي چه یو کاغذ کور ته وکښېم چه څمونږ له راتللو نه د کور خلق خبر شي نو شاه سار ته ئې وویل چه یو خط څما دپاره وکښه چه کور ته ئې واستوم ۞ شاه سار ډیره منع وکړه لیکن غلام نه پریښوده نا علاج شه قلم ئې په لاس واخست او وئې لیکل چه اي ناکاري ناپکاري بي حیا بدروزګاري ستا دا ګمان دي چه کُندِ زه به دِ په حال نه خبریږم او څما مال چه په ناروا ؤ کښې نګوي ما ته به ګنړه دغه نه معلومیږي ۞ وژح په شرابو تیروي او شپه پرډي ښندان مشغولوی کور څما دِ برباد کړ او عزت مِ دِ ورک کړ که چري سلامت درغلم نو کورم به در سره خبر به دِ واخلم ۞ چه خط ئې تمام کړ مهر ئې پرِ ولګاوه لفافه ئې بنده کړله غلام له ئې ورکړله ۞ غلام چه کاغذ کور ته ولیګه او ښځه ئې په

حال پوهه شوله هیبت واخستله وسواس ئې پیدا شه په زړه کښې ئې دا فکر وکړچه
څښتن ته به م چا دښمنانو د دروغو تهمت جوړ کړي وي او زه به ئې ورته توره
کړي یم نو د څښتن له ویري یو څو ورځې ئې د خان سره کړلې له کور ووتله لاړله
چرته په یو کوټ کښې پټه شوله ٭ او غلام چه شاه‌سار غزنین ته ورساوه نو کور ته
لاړ شه څه کوري چه دروازه بنده ده او په کور کښې څوک نشته یو ساعت حیران
ودریده بیا چه دروازه ئې لري کړله ودان کور ورته وران ښکاره شه نه ئې بي بي
ولیدله او نه ورته خدمتګاره ښکاره شوله ٭ غلام له ګوانډیانو ته پوښتنه وکړله
هغو ورته د کاغذ حال ووایه غلام یو ساعت چپه ودریده فریاد ونه اسریلي ئې
کول او ویل ئې چه ما خو هیڅ ویلي نه دي بیا ورځي بي بي ئې راوستله اوږ عذرونه
ئې ورته وکړل ٭ او په اول مجلس کښې چه شاه‌سار ئې سلطان ته په خدمت کښې
حاضر کړ نو یارانو خوش‌طبعو تمام احوال د غلام سلطان ته بیان کړ ٭ سلطان
وخندل او ویل ئې ویل چه هر څوک چه له اندازي نه تیري قدم بږي او د لویو خلقو
سره بي ادبي کوي نو هم دغه ئې سزا ده ٭ بیا سلطان هم په دغه ورځ کښې یو مکتوب
خلیفه عباسي ته چه خطاب ئې اَلْقَادِرُ بِاللّٰه وُه وکښه مطلب په کښې دا وه چه
اکثر بنهرونه د خراسان خمونږ په تصرف کښې دي نو امید دي چه هغه بعضي

بعضی بنهرونه د خراسان چه ستاسو د غلامانو په لاس کښې دي هغه هم دي خلقو
ته پریښوي شي خلیفه چه طاقت د جنګ نه لاره خواه مخواه ئي دغه خبره قبوله
کړله + بل وار بیا سلطان کاغذ ور ولیکه او په کښې ئي کښلي وُو چه سمرقند
هم ما ته پریښده + خلیفه وُو چه پناه غواړم په خداي پاک سره له دي کار نه
دا کار زه ته کوم او که ته ئي بغیر له حکم خما نیت د آخستو کوي نو دا ټول
جهان به در باندِ ولړزوم + سلطان په دي خبره ډیر خپه شه او و ئي ویل چه
غواړي چه د زرکونو هاتیانو سره درشم او بادشاهي ستاسو کډه وده کړم او کلي
ښهرونه واړه ونړوم او خاوره ئي په هاتیانو بار کړي غزنین ته راوړم + قاصد دا
خبره واوریدله بیا روان شه چه څو مده تیره شوله بیا راغي او کاغذ ئي راوړه +
سلطان کښیناست او غلامانو ور ته صفونه جوړ کړل او لوي لوي هاتیان ئي په دروازه
د دلبار کښې ودرول او لښکر ئي طیار کړ په دغه ساعت کښې قاصد کاغذ مهر کړي
په تخت کښې او و ئي ویل چه امیرالمؤمنین وایي چه جواب ستا دا دي + خواجه
ابونصر زوزني چه امیر د دفتر د خطونو وه کاغذ ئي وسپړود په کښې ئي ولیده
چه اول یې کلي وُو داسي بسم الله الرّحمٰن الرّحیم۔ بیا په بله کرخه کښې ئي دا حرفونه
جدا جدا کښلي وُو په دي شان سره ال م ال م او ور پسې دا رنګ خط وه

الحمد لله رب العلمین والصلوة والسلام علی رسوله محمّد و آله اجمعین ٭ نور هیڅ نه وُو ٭ سلطان او نور منشیان واره حیران پاتي شول او په مطلب ئي هیڅ قدر نه پوهیدل ٭ بیا هر یو آیت د قرآن مجید ئي ولوست او تفسیر د هغه ئي وکوت لیکن هیڅ مراد ئي معلوم نه شه ٭ خواجه ابوبکر قهستاني چه لا د دومره مرتبي خاوند نه وه زړورتیا وکړله و ئي ویل چه سلطان مهربان هاتیان د هغه وطن د ورانولو دپاره یاد کړي وُو نو بنایي چه خلیفه جواب د هغي خبري اَلَمْ تَرَ کَیْفَ فَعَلَ رَبُّکَ بِاَصْحَابِ الْفِیْلِ لیکلي وِي — معنیٰ دا ده (اي نه وینې ته چه څنګه کار کړي وه رب ستا د یارانو د هاتیانو سره) سلطان په اوریدو د دي خبري له هیبت بي هوش پریوت چه یو ساعت پس په خود شه ډیر ئي وژړل او قاصد ته ئي عذر وکړاو د ډیرو پیشکشو سره ئي بیرته ولیګه او ابوبکر له ئي خلعت خاص ورکړ او مرتبي د امیرئ ته ئي ورساوه ٭ او په سن څلورسَو څلور هجري کښ سلطان لښکر نندونې قلا ته چه په غزه د بالنات کښ دَه وکښنه ٭ او په دغه مده کښ انندپال مړ شه زوي د هغه چه نمسي د جیپال وه او حاکم د لاهور وه طاقت د جنګ ئي نه لاره څه قدر خوانان د جنګ ئي په نندونه کښ پریښول او دي یوي دري ته د کشمیر لاړ شه ٭ سلطان هغه حصار حصار کړ او د سوري کولو او د قلا د نړولو اسباب ئي طیار کړ لیکن

هغه خلق تنگ شول امان ئې وغوښت قلا ئې امانته سلامته سلطان ته وسپارله + سلطان هغه قلا په خپل تصرف کښې کړله او یو معتبر سړي ئې په کښې کښېناوه د جیپال په نمسی پیي هغه دري د کشمیر ته لاړ شه او د جیپال نمسي له هغه ځایَ بل خوا وزغلیده + سلطان په هغه دره کښې ډیر مال لوټ کړ او ډیر خلق ئې د مسلمانۍ سره آشنا کړل بیا غزنین ته را وګرزیده +

او په سن څلور سَو شپږ هجري کښې سلطان تدبیر د ملک د کشمیر وکړ او چه درغي هغه سخته قلا د لوهکوټ ئې حصاره کړله لیکن چه مده ډیره تیره شوله او واوري زیاتي وورېدلي او یخني غلبه شوله او قلا له کمک له اندازي نهر راغي نو قلابندي ئې پرېښوله او غزنین ته بیرته روان شه + او په دغه سفرکښې ئې لاړ ورکه کړله یو هسي ځاي ته ورسیدل چه ټول صحرا له اوبو ډک وه هر خوا چه به تلل بغیر له اوبو ئې څه نه لیدل او په دغه اوبو ډیر سړي هلاک شول او دا اول په نظر وه چه په سفرونو د هندوستان کښې لښکر ته د سلطان ورسیده پس له څو ورځو په ډیرو چلونو او مشقتونو له هغه اوبو خلاص شول غزنین ته لاړل + هم په دغه کال ابوالعباس مامون د خوارزم بادشاه سلطان ته دپاره د خورد دوستۍ کاغذ وکښېه + سلطان کاغذ قبول کړ خو خپله ئې خوارزم ته ولیکله +

او په سن څلور سَو اووه هجري کښ يو ټولي د لوټهانو د خوارزم په بادشاه حمله وکړله د ئي واړه ٭ سلطان له غزنين نه بلخ ته لاړ او له هغَه ځايَ خوارزم ته روان شه چه په سرحد د خوارزم کښ خضر بندر ته ورسيده نو محمّدٌ طائي ئي د لښکر مشرکړ وباندِ ئي واستاوه ٭ هر کله چه د غزنين خلقو ډيره وينوله او د سحر په ځانځه ودريدل خمارتاش چه سردار د خوارزميانو وه د پسوني له ځايَ را پورته شه او په دوي باندِ ئي تاخت وکړ ډير خلق ئي ترِ ووژل او مات ئي کړ ٭ سلطان يو لوي فوج د خاصه غلامانو په هغَه ټولي پسي مقرر کړ چه ور ورسيدل خمارتاش ئي وينو او په خدمت د سلطان کښ ئي حاضر کړ ٭ چه سلطان هزار اسپ قلا ته ورسيده سپاهيان د خوارزم جمع شول او په يو وار د سلطان په لښکر راغلل سخت جنګ ئي وکړ ليکن دوي مات شول او الپتکين بخاري چه سردار د دوي وه په بند کښ پريوت ٭ چه سلطان خوارزم ته لاړ شه اول ئي قاتلان د ابوالعباس په قصاص کړل بيا ئي امير التونتاش ته خطاب د خوارزم د بادشاهيُ ورکړ او ولايت د خوارزم او اورکند ئي د اطرافو سره ور ته وباخينه ٭ او چه له هغَه ځايَ بلخ ته راغي ولايت د هرات ئي امير مسعود زوي چيل ته ورکړ او محمّدٌ بنِ حسين زوزني ئي د هغه وکيل کړ ور سره ئي وليګه ٭ او ولايت د کورکان ئي امير محمّد زوي

له ورکړ او ابوبکر قهستاني ئې د هغه سره ملګري کړ + اوچه سلطان د خوارزم له مهم نه وزګار شه نو مدده د ژمي وَه حکم ئې وکړ چه دا ژمي په بُست کښ تیروُو چه سپاهیان په آرام شِي +

او په سن ځلور سَو نه هجري کښ اول پسرلي چه شي او ورځي برابري وي او سپاهیان د شینکو او د ګلونو په میدان د صحرا او د باغونو و درېدلي وو او هوا صافي او نسیم خوشبوي ګلا د غنچو فتح کړي وي سلطان د لکو سوروو او د شل زرَ پیادهؤ سره چه په نیت د غزا له ترکستانَ او له ماوراءالنهرَ او له خراسان او له نورو ملکونو نه راغلي وُو قنوج ته روان شه چه هغه ملک پس له کشتاسپَ تر دغه وقتَ پوري هیڅ بیګانه له په لاس نه وه ورغلي او له غزنین نه تر هغه ځایَ پوري د دري میاشتو لارَه او له اووهؤ لویو لویو دریابونو نه پوري وتل وُو + چه سلطان د کشمیر په حد ورغي حاکم د کشمیر ډیر څیزونه لایق د پیشکشيِ سلطان ته پیشکش کړل او په سر د لښکر کښ د خدمت دپاره روان شه + چه سپاهیانو د اسلام ډیر منزلونو قطعَ کړل او قنوج ته ورسیدل یوه لویه محکمه مضبوطه قلائي ولیدله چه تماشګیر به ګمان کاوه چه کُنډِ سر ئې آسمان ته رسیدلي دي + او راجه د هغه ځاي کوره نوم لاره چه دا لښکر ئې ولیده له ډول او له دبدبي د دوي نه

حیران شه او وویریده په زړه کښې یې هډو نیت د جنګ ونه کړ او څوتن سړي
یې د سلطان په خدمت کښې واستول ویل یې چه حکم د بادشاه م قبول دي او
پخپله په مینه او په اخلاص دلویو وړو څامنو سره له قلا ته راکوز شه او په قول
د حبیب السیر اسلام یې هم راوړ + او سلطان پس له دري ورځو د میرټ قلا ته
روان شه + راجه د هغې قلا چه هروت نامه یې لرله هغه قلائې معتبرو خلقو ته
وسپارله او پخپله یو طرف ته بهر لاړ شه + او خلقو په قلا کښې طاقت د تنګیدلو
ونه لید لس زرَ وارَ زر زرَ دومَ چه دوه لکَ او پنځوس زرَ روپۍ کیږي او دیرش
هاتیان یې پیشکش کړل امان یې وموند + یا سلطان له هغه مکانَ قلا د مهاون
ته روان شه چه هغه قلا په غاړه د اوبو د جون اباده ده + او راجه د هغې قلا په
کلچند نامه بللي شه په هاتي سور شه نیت یې وکړ چه له اوبو نه پوري ووزي +
لښکر د سلطان ور پسې روان شه چه سپاهیان نزدي ور ورسیدل هغه ظالم
کم بخت خنجر له تیکي راوکښې اول یې سر د بنځې او د زوي پریکړ بیا یې په سینې
خپلې باندې وواهه ځان خپل یې دوزخ ته روان کړ + او په هغه ځاي کښې سلطان
له دومره لوټ په لاس ورغې چه حساب یې څوک نه ښي کولی یواځې اتیاخو په کښې لوي
لوي هاتیان وُو + چه سلطان له دغه کارَ روزګارَ وزګار شه چا یې له غوږو مبارکو

تیره کړله چه په دي اطرافو کښې یو ښهر دي چه نوم ئې متهره یادیږي کرشن باسدیو چه هندوان ئې پیغمبر بولي په هغه ښهر کښې پیدا شوي دي او په آبادیٔ کښې د دغه ښهر په شان چا په دنیا کښې نه دي لیدلي او دومره عجائب غرائب په کښې دي چه د هغه صفت څوک نه شي بیانولي + سلطان په اوریدو د دي بیان فی الحال هغه مکان ته روان شه + او هغه ښهر آګر که تعلق د دیلي د راجه سره لاړ لیکن سلطان ته هیڅوک دپاره د منعَ کولو راوړاندِ ته شه بي غمَ بي وسواسَ مقصود ته ور ورسیده او هغه ښهر ئې لوټ کړ او بتخاني د ښهر او د اطرافو ئې وسیزلي او بتان ئې مات کړل او مال ئې ډیر په لاس راغي او له لیدو د هغه آبادو هسي حیران پاتي شه چه یو خط ئې اشرافو او غنیانو د غزنین ته لیکه تر دا عبادت ئې په کښې ولیکه - چه په دي ښهر کښې زر مانړیٔ آسمان بنیادي دي او اکثري له سنګِ مرمرو آبادي دي او بتخاني خو په کښې همره ډیري دي چه له شمارَ تیري دي او که څوک غواړي چه داسي ودانی طیار کاندِ نو چه لک اشرفیٔ په مزدو استاذانو باندو خرڅ ولګوي نو په دوه سَو کالَ عمر کښې به ئې تمام کړي + وایي چه پنځه بتان ئې په کښې د سوچه طلاؤ وموندل چه په سترګلو کښې د هغو ئې یاقوت لګولي وُو چه هغه یاقوت واړه په پنځوس زرَ روپو اوریدل بل یو بت وه د طلاؤ چه په هغه کښې ئې یوه تخته د شنو

یاقوتو جړاو کړي وَه چه په تول کښې څلور سَو مثقالَ وَه چه هغَه بُت ئې مات کړ اته زرَ او دري سَو مثقالَ طلا ورنه وختلي ٭ او د سپینو زرو بتان لُوي واړه له سلونه زیات وُو چه تول ئې مات کړل سل اوښان تړِ بار شول پس له هغَه په ټوله ودانۍ ئې اور پوري کړ چه شل ورځې تیري شوي نو له هغَه ځایَ ئې کوچ وکړ ٭ او په تاریخِ الفي کښې ئې راوړي دِي چه سلطان داوریده چه په دغه اطراف کښې په غاړه د اوبو لوي لوي اوره قلا دِي جوړ په هغَه طرف روان شه ٭ او حاکم د هغو قلاؤ به د دیلي راجه له قلنګ ورکاوه چه له دي حالَ خبر شه لاړ ولښتیده ٭ سلطان هغو قلاؤ ته ورغي تماشا ئې د ملکونو کوله ناګهانه ستګي ئې په یوه بتخانه ولګیدلي چه هغَه د هندوانو په اعتقاد کښې د څلورو زرو کالو مدي آباد وَه ٭ په هغو قلاؤ او په بتخانو کښې هر څه چه مسلمانانو وموندل هغَه ئې واخستل او په رکاب د سلطان کښې د مبنج قلا ته روان شول ٭ او په هغَه قلا کښې ډیر تورزن خوانان وُو او خرڅ ئې د ډیر عمر په کښې آچولي وه ٭ سلطان پنځه لس ورځې هغَه خلق قلابند کړل او لاړ د تلو او دراتلو ئې ورته پري نه ښوله ٭ چه هغوي پوه شول چه سلطان به په زور دا قلا فتح کړي نو څوک له قلا را کوز شول خپل ځانونه ئې ووژل او چا د ښځو او د ځامنو سره ځانونه په اور کښې واچول او چا دروازه پرانستله خنجرونه جمدرونه

ئې په لاس کړل هسې جنګ ئې د مسلمانانو سره وکړ چه تول قتل شول + سلطان د لوټ مالونه په تصرف کښې راوړل في الحال د چندپال قلا ته روان شه + چندپال په خپل ځان کښې طاقت د جنګ د نه لیده سره د عیال او د مال غروتو ته وتښتیده + سلطان هغه باقي مالونه د قلا په تصرف کښې راوړل انبارونه د غلو ئې په سپاهیانو باندې وویشل + بیا د چندرای کافر ځای ته ئې نیت د تلو وکړ هغه هم د چندپال هسې کار وکړ ځانونه ئې د مالونه اسبابونو سره غروتو ته وتښتول لاړ شه + او د چندرای یو هاتي وه چه سلطان ډیر ځل په ډیر ډیر قیمت سره د هغه سعي کوله خو لاس له نه ورته او په دغه مده کښې یوه شپه هغه هاتي بغیر له هاتي وان د چندرای له اردو نه را وتښتیده برابر د سلطان خیمي له راغي سلطان حکم وکړ هاتي ئې وینوه او ډیره خوشحالي ئې وکړله او دهغه هاتي نوم ئې خداداد کیښود بیا چه سلطان غزنین ته ورسیده لوټ د قنوج د سفر ئې وشماره شل زره اشرفۍ او زر زر روپۍ وختلي او پنځوس زر وینځې مریونه او دري سو پنځوس هاتیان حساب شول او بغیر له دي نور اسبابونه هم ډیر وو + بیا سلطان حکم وکړ چه یو مسجد جامع چه پښتانه ور ته د جمعي جماعت وایي له سنګ مرمرو نه چه چرته چارکونټیز سنګ مرمر وي او چرته شپږکونټیز وي او چرته اته کونټیز وي او چرته کرد وي آباد کړئ

چه تماشگیر ئې په لیدلو حیران پاتې کیږي ٭ او چه هغه مسجد ئې آبادکړ نو هسې فرشونه او فانوسونه او اسبابونه د بنایست ئې په کښ ولګول چه خوش طبعو خوانانو په نادي د آسمان نامه ور ته ویله ٭ او په ګوانلي د هغه جماعت کښ ئې یوه مدرسه آباده کړله او د هر علم کتابونه ئې په کښ جمع کړل او ډیر کلي ئې په هغه جماعت او مدرسه باندې وقف کړل ٭ او چه سلطان په مینه سره دا کار وکړ نو هر امیر په خپل خپل حد کښ د جماعتونو او د مدرسو او د مسافرخانو بنا وکړله په لږه مده کښ همره آبادیئ وشولې چه په شمار کښ نه راتللې ٭ او په دغه سفر کښ سلطان له هندوستان د قمرئ په شان یو مارغه راوړې وه چه چا به زهر په طعام کښ ګډ کړل او مجلس له بې ئې هغه طعام راوړ نو دغه مارغه به بې آرام لړزیده او اوښې به ئې بې اختیار تویولې هغه ئې د ډیرو پیشکشو سره خلیفه اَلْقَادِرُ بِاللهِ ته د بغداد واستاوه ٭ او یو کانړي ئې په هندوستان کښ موندلې وه که هر څو به سړي زخمي شه چه هغه کانړي به ئې په اوبو کښ وسولاوه او په هغه پرهر به ئې پوري کړ نې الحال به په جوړید و راغې ٭

او په سن څلور سَو لس هجري کښ یوه فتحنامه نچه په کښ واړه فتحې د هندستان لیکلې وې بغداد ته ئې ولیګله ٭ خلیفه د بغداد دغه کاغذ د رسیدو په ورځ

لوي مجلس جوړ کړ او حکم يې وکړ چه دا فتحنامه دِ په منبرونو باندِ د خلقو د وړاندِ ولوستلي شي چه خلق په پورته کيدلو د نشانونو د اسلام او په نړيدلو د بيخ د کفر خبر شي او شکر د خدايَ اداکړي او شاباشي په سلطان محمودِ غزنوي باندِ ډېر ډېر وايي او دعا د فتحِ او د بري په حق د ده کښې وکاندِ ٭او په هغَه ورځ په بغداد کښې دومره خوشحالي وَه چه لکه د اختر په ورځ څوک خوشحالي کوي او دا کار مناسب وه ځکه چه لکه چه اصحابو به په ښهرونو د عربو او د عجمو او د روم او د شام کښې يوکارکاوه هغَه شان معامله سلطان په هندوستان کښې وکړله دنيا او آخرت يې ښېل آباد کړل ٭

او په سن څلور سَو دولس هجري کښې عالمانو او صالحانو په اتفاق سره سلطان ته عرض وکړ و يې ويل چه ډېره مده شوي دَه چه سلطان هر کال د هندُستان غزا له د ثواب دپاره ځي او په هغَه ځاي کښې ښناني د اسلام ظاهروي ليکن د بيت الله په لارکښې صحرانشينوُ او قرامطهوُ غلبه کړي دَه او د خليفګانو عباسيهوُ قوت نشته نو مسلمانانو د حج له ثوابَ بي‌نصيبَ پاتي شول که د دغو غور وشي نو ډېر به ښه وي ٭سلطان د دوي خبره قبوله کړه ابومحمّد ناصحي چه مشر د قاضيانو د ملکونو د سلطان وه هغَه يې سردار د حاجيانو کړ او ديرش زرَ اشرفيِ

ئې د هغو صحرانشینو دپاره ورکړي چه قافله به ئې وهله بیت الله ته ئې واستاوه او دیر خلق اشواف او خواران او غریبانان لوي وایه ور سره روان شول + پس له دیرو منزلونو ته یو بیابان ته ورسید چه هغه ځاي ته ویل وایه ئې + صحرانشینو په پخواني دستور لار وینوله قافله ئې وراندې تللو ته نه پریښودله + قاضي ابومحمد ناصحي په طریقه د صلحي پنځه زر اشرفئ ور ولیکلي او ور ته ئې ورویل چه دا واخلئ او مونږ ته لار پریږدئ + مشر د صحرانشینو چه حماد بن علي نامه ئې لرله صلح ئې ونه کړله او لښکر ئې طیار کړ په نیت د داري قافلي ته را روان شه ناګهانه په قافله کښې یو ترک غلام وه چه په غشو ویشتو کښې دیر سړي وه یو غشي ئې د حماد په طرف ګذار کړ هغه ئې برابر په سر ولګیده سر د لاندې له آس کوز ولوید صحرانشینو في الحال کالبوت د هغه واخست او لاړل وتښتیدل + قاضي ابومحمد ناصحي په بیغم زړه حج له لار شه او روغ جوړ سلامت بیرته را وګرزیده +

هم په دغه کال کښې یعني په سن څلور سو دولس هجري کښې سلطان واوریده چه د هندوستان کفارو د قنوج په راجه باندې چه کوره نامه لري دیر بد ویلي دي او ملامت کړي ئې دي چه تا ولي د سلطان محمود حکم قبول کړ او نندا د کالینجر راجه ورپسې ورغي کوره ئې مړ کړ + سلطان چه دا خبره واوریده له ورښو واردلو نه ئې زیات

لښکر طیار کړ په نندا پسی هندوستان ته روان شه چه د جون اوبو ته ورسیده د
جیپال نمسي د پنجاب راجه چه ډیر ځل له سلطان نه تښتیدلي وه د نندا د کمک
دپاره به مینځ د لاري کښ د سلطان لښکر ته جنګ له را وړاندِ شه لیکن اوبه ډیري
وي هیڅوک پوري غاړه نه شه ورتللي ٭ ناګهانه اته تنَ غلامان خاصه د سلطان په یو وار
له اوبو نه ور پوري وتل او تمام لښکر د جیپال د نمسي ئي کډوډ په مخ راخست ٭
د جیپال نمسي د یو څو تنو سره وتښتیده او غلامان لاړل هلته نزدي یو ښهر وه
هغَه ئي لوټ کړ او بتخاني ئي ونړولي ٭ او هوښیارانو ته دِ معلومه وِي چه اته تنَ
ځوانان بادشاهي لښکر نه ښي ماتولي مګر دغه اته غلامان امیران وُو له ځلَ لښکرَ
سره پوري وتلي وُو څکه دومره لوي کارئي له لاسَ وشه ٭ له هغَه ځایَ ئي لښکر
په طرف د کالینجر روان کړ نندا د شپږ دیرش زرو سورو او پنځه څلویښت زرو
پیاده وُ او د شپږ سوُو څلویښتو هاتیانو سره د سلطان جنګ ته راووت ٭ سلطان په
یوه لوړه وخوت او لښکر ئي د نندا له نظرَ تیر کړ چه ډیر ور ته ښکاره شه نو
په راتللو چیلو پښیمان شه سر ئي په سجده کیښو او له خدایَ ئي سوال د فتح او د
برِي وکړ ٭ ناګهانه په شپه کښ د نندا په زړه باندِ یو لوي هیبت راغي تول مالونه
اسبابونه ئي پریښول له ویري لاړ وتښتیده ٭ بله ورځ بادشاه سور شه اول ئي ځایونه

د پسونو ولتول چه د کفارو د مکر او د ټکئ وسواس ئي ورک شه نو لاس ئي
په لوټ پوري کړ قسم قسم او رنګ رنګ او شان شان څيزونه د مسلمانانو سپاهيانو
په لاس کښې پريوتل ٭ او هم په دغه اطرافو کښې په يو څنګل کښې پنځه سَو اتيا
هاتيان ئي وموندل ٭ او چه ورستو له پنجاب ئي خاطر جمعي نه وَه نو په دغه کال
کښې هم په دغه کار ئي صبر وکړ غزنين ته بيرته روان شه ٭ بيا هم په دغو ورځو
کښې خبر ورسيده چه خلقو د قيرات او د ناردين چه هندوستان له سرحدَ
حسابيږي کړدئ د مسلمانئ ئي په غاړه کښې نه دَه آچولي او سرئي له حکمَ د شريعت
د محمد عليه السلام تار کړي دي اکثر په بت پرستئ باندِ آخته دِي ٭ سلطان د خان
سره ترکانړان او آهنګران او سنګ تراشان روان کړل لښکر ئي وويست اول قيرات
ته ورغي قيرات ئي لاندِ کړ او قيرات د هندوستان او د ترکستان په مينځ کښې يخ
ځاي دي ډيري ميوي په کښې کيږي ٭ چه حاکم د هوَه ځاي اسلام قبول کړ نو
سلطان حاجب علي د ارسلان جاذب زوي ناردين ته واستاوه ٭ هغَه چه ورغي هغَه
ځاي ئي فتحَ کړ وينځي مريونه مالونه په لاس ورغلل او هلته يوه لويه بتخانه وَه
چه هغَه ئي ورانه کړله يو کانړي نقش دار په کښې را وخوت چه د هندوانو په اعتقاد
کښې د څلويښتو زرو کالو آباده وه ٭ سلطان هغَه ځاي ته لاړ شه قلا ئي په

کښې ودانه کړله او عِلي زوي د قدر سلجوقي ئې هلته کوتوال کړ بیا غزنین ته را وګرزیده ٭

او په سن څلور سَو دولس هجري کښې نیت ئې د کشمیر وکړ او لوه کوت ئې قلابند کړ یوه میاشت ئې هلته تیره کړله لیکن هغوي محکم وُو لاس پرِ د سلطان بر نه شه له هغَه څایَ په بیرته را وګرزیده لاهور ته لاړ شه هلته ئې لښکر یو خوا بل خوا د لوټ او د دارو دپاره واستاوه بي شانَ ډیر مالونه او اسبابونه ئې جمع کړل ٭او په دغه وار کښې چه نمسي د جیپال کمزوري شوي وه د اجمیر راجه له ور وتښتیده ٭سلطان لاړ لاهور ئې وینو او یو معتبر امیر ته ئې وسپاره او نور اطراف د پنجاب ئې معتبرو امانتدارو سړو ته وسپارل او لاس ئې له لوټَ وینو د خلقو په پالنه او په زړه ساتنه ئې شروع وکړله او لښکر ئې په هغَه وطن کښې پرینبود خطبه ئې په خپله نامه جاري کړله په اول پسرلي کښې غـــزنین ته لاړ شه ٭

او په سن څلور سَو دیارلس هجري کښې د لاهور په لار ئې اراده د نندا د وطن وکړله چه د ګوالیار قلا ته ورسید مصلحت ئې داسي وکړ چه دا قلا حصاره کا نډِ ٭ پس له څلورو ورځو راجه د هغي قلا هوښیار هوښیار قاصدان د پنځه ډیرشو هاتیانو سره

ور ولیکل صلح ئې وکړله ٭ سلطان له هغه ځایَ کالینجر ته روان شه چه نندا په کښ اوسیده نندا دري سَو هاتیان د صلح دپاره را ولیکل ٭ چه سلطان هاتیان قبول کړل نو راجه ټول هاتیان بې له هاتي وانانو میدان ته ور خُثي کړل ٭ سلطان ترکانو ته حکم وکړ ټول ئې وینول پرِ دپاسَ سواره شول او د قلا خلق ور ته حیران پاتې شول ٭ او نندا په هندي ژبه د سلطان په مدح کښ شعر ووایه وله ئې را ولیکه ٭ سلطان عالمانو د هندوستان او د عربو او د عجمو ته هغه شعر ښکاره کړ ټولو آفرین او شاباشي ور باندِ ووایه ٭ سلطان ډیر خوشحالَ شه فرمان د حکومت د پنځه لسو تلاؤ چه یوه له هغو ته قلا د کالینجر وَه سره د نورو پیشکشوئ ورکړ ٭ نندا هم ډیر مالونه او مرغلوي په خدمت کښ د سلطان حاضر کړل بیا سلطان په بیرته غزنین ته روان شه په خیر سره ور ورسید ٭

او په سن خلور سَو پنځه لس هجري کښ سان ئې د لښکر آخست بې له هغه لښکر چه په اطرافو د ولایت کښ وه خلور پنځوس زرَ سواره او دري سَو هاتیان په قلم ولیکلي شول او د هغي دیدبي سره بلخ ته روان شه په دغه وقت کښ خلقو د ماوراءالنهر د علي تکین له لاسَ فریاد وکړ سلطان په اراده د دفع د هغه د جیحون له اوبو پوري وت سرداران د ماوراءالنهرئ ئې استقبال ته راغلل او لایق د خپلو

خانونو سره ئې پیشکشونه راوړل ۰ او یوسف قدر خان چه د تمام ترکستان بادشاه وه هغه هم استقبال ته راغي په ډیره مینه او په دوستئ ئې د سلطان سره ملاقات وشه ۰ سلطان بي شانَ خوشحالَ شه او مجلسونه ئې جوړ کړل او یو بل ته ئې پیشکشئ او سوغاتونه ورکړل او په صلحَ په رضا سره دواړه جدا شول ۰ علي تکین چه له دي حالَ خبر شه لاړ وتښتیده ۰ سلطان سړي ور پسي کړل را وئې نیوه بیرته ئې راوست ۰ او خولاني ئې په کښ واچولي د هندوستان په یوه قلا کښ ئې بند کړ او پخپله ني غزنین ته کوچ وکړ ۰

او هم په دغه کال کښ یعني سن څلور سَو پنځه لس هجري کښ چا ورته عرض وکړ چه د هندوستان هندوان وایي چه روحونه له جُثُو جدا شي نو ټول د سومنات خدمت له ځي او هلته هر یو روح چه لایق د هر یو بدن وي هغه ته حواله کیږي ۰ او بل اعتقاد د هندوانو دا دي چه کمي او زیاتي د دریاب د سومنات د عبادت دپاره دي ۰ او بامبړان وایي چه سومنات له هغه بتانو نه ډیر څه وه چه سلطان محمود مات کړي دي نو څکه ئې مددکاري و نه کړله نه وي نو په ستزکه ریول کښ به ئې ټول هلاک کړي وُو ۰ او بله عقیده د دوي دا دَه چه سومنات بادشاه دي او نور بتان ئې دروازچیان او څوکیداران دي ۰ سلطان چه له دي خبرو خبر

شه قصه ئې د فتح د سومنات وکړ په لسمه ورځ د شپقدر د میاشتې د خاصه لښکر سره او د دیرشو زرو سوارو غازیانو سره چه له ترکستان او له نورو ملکونو نه راغلي وو سومنات ته روان شه ٭ او هغه یو لوي ښهر دي د عمان دریاب په غاړه باندې او ځاي د عبادت د ټولو بامنبرانو او د کافرانو دي او سومنات هم په هغه ځاي کښې وه ٭ او په تواریخو کښې راوړي دي چه یو لوي بُت سومنات نامه خلقو په زمانه د پیغمبر آخرزمان علیه السلام کښې له کعبې را وکښلی وه دغه ځاي له ئې بوور او دغه ښهر ئې د هغه په نامه آباد کړ ٭ مګر د وړینو بامنبرانو له کتابونو نه معلومیږي چه هغه کتابونه د اسلام له ظاهریدو نه په زرَ کالَ رڼې جوړ شوي دي چه دغه خبره صحیح نه دَه بلکه دوي وایي چه دا بُت د کرشن د زماني دي چه هغه څلور زرَ کالَ شوي دي او بامنبرانو په د هغه عبادت کاوه او د بامنبرانو په قول سره کرشن هم په هغه ځاي کښې غیب شوي دي ٭ سلطان په پنځه لسمه د رمضان چه پینتانه ورځ ته د روژې میاشت وایي د ملتان ښهر ته ورسیده ٭ چه وړاندې ورځ ته یو بیابان بې اوبو بې کیاه ځمکه له راغي نو سلطان حکم وکړ چه هر څوک د اوبه او کیاه د ځانونو سره بار کړي او پخپله سلطان د احتیاط دپاره شل زرَ اوښان خاصه له اوبو او له کیاه ته بار کړل ٭ چه له هغه سخت

بیابان تیر شول بنهر د اجمیر ته ورسیدل ۰ او راجه دهغه ځاي له لاري په کناره شوي وه سپاهیان د سلطان په قتل او په لوټ ونکیدل مګر مطلب د دوي ماتول د سومنات وُد نو د قلا وهلو ته معطل نه شول لاړل وړاندِ لار يَ ونیوله ۰ او په هغه مینځ کښ ډیري قلا ډکي ډکي له تورزنو سرو په وله په مخ راغلي مګر دار به يَ خطا شه بي هیڅ به يَ حکم قبول کړ ۰ پس له هغه نهروالي ته ورسیده او هغه ښهر يَ خالي وموند سلطان حکم وکړ چه ورشيئ له دغه ښهر ډیره ګیاه راوړيئ ۰ چه هغوي لاړل ګیاه يَ راوړله په تلوار روان شول زر په زر سومنات ته ورسیدل ۰ او هلته د دریاب په غاړه یوه لویه قلا يَ ولیدله چه سړي به ګمان کاوه چه ګُندِ سر يَ آسمان ته رسیږي او د دریاب اوبه يَ له دیوال سره جنګیدلي ډیر کفار يَ په سر ناست وُد تماشه يَ د مسلمانانو کوله او په اوچت آواز به يَ ویل چه تا سو دلته سومنات راوستلي يئ چه په یو وار ټول قتل کاندِ او خومره بتان چه تا سو په هندوستان کښ مات کړي دِي د هغو بدل به در نه واخلي ۰ بله ورځ چه نمر را وخوت سلطان په لښکر حکم وکړ برابر د قلا بیخ له په جنګ ورغلل ۰ هندوانو چه د دوي تورزن توب او زړه ورتیا ولیدل د قلا سر يَ د غش لاستو له ډیري پریښو ټول بتخانو ته وتښتیدل او له سومنات نه يَ مددګاري وغوښتله ۰ مسلمانانو اندریابي

ودرولي د قلا سر ته وختل او په او چتو آوازونو ئې تکبیرونه وویل ٭ هندوان هم
په اتفاق سره ور ته ودریدل تمامه ورځ ئې سره جنګونه وکړل ٭ چه شپه شوه دواړه
لښکرې په آرام شول بله ورځ ئې بیا په هغه شان مقدمه جوړه کړله د شپې پورې
ئې ځانونه ستړي کړل ډیر کفار ئې قتل کړل ٭ په دریمه ورځ ډیرې لښکرې د هندوستان
له اطرافو راغلې بهر په میدان کښې ئې صفونه وتړل ٭ سلطان بعضې خلق قلابندئ
ته پریښو او باقي لاړل په میدان ئې جنګ ولښلاوه ٭ او له راتلو د امیرانو د پرم دیو
او د دابشلیم نه بې طاقتي د مسلمانانو راغله سلطان په ډیر خپګان یو کوټ ته لاړ
شه او د ابوالحسنِ خرقاني خرقه ئې په لاس کښې وینوه سوال د فتح او د بري ئې د
خدای پاک په دلبار کښې وکړ بیا په میدان د صفونو کښې پخپله ورغې حمله ئې په
کفارو وکړله بري ئې نصیب شه او پنځه زرې مشرکان ئې ووژل ٭ او د قلا په خلقو
چه ویره زور شوله جنګ ئې پریښو بامبړان او خدمتګاران د سومنات چه څلور زر قدر
په وُو د عمان دریاب غاړې ته لاړل او په کشتو کښې کښیناستل د سرانديپ جزیرې
په طرف روان شول مګر سلطان د دې خبرې لا ورېښې فکر کړې وه یو څو کشتئ ئې
له سپاهیانو ډکې د سرانديپ په لارې کښې ودرولې وې هغو ته چه د کفارو دغه کشتئ
ښکاره شولې ور پسې ورغلل تول ئې په اوبو کښې ډوب کړل ٭ بیا سلطان له اولاد

او له امیرانو سره قلا ته ور ننوت د ټولو آبادو تماشائي وکړله پس له هغه دننه په قلا کښې یوه بتخانه وه چه ډیر اوږد او پلن ځاي ئې آباد کړي وه داسي چه شپږ پنځوس خوئې ستني دي او ټولي جړاو کړي دي + او سومنات یو د کانړي بت وه پنځه ګز اوږد چه دوه ګز په زمکه کښې وه او دري ګز بهر وه چه د سلطان نظر په بت ولګیده یو ګرز ئې په لاس کښې وه په هسي شان ئې په مخ وواهه چه مخ ئې مات کړ + پس له هغه ئې حکم وکړ دوه ټکري ئې تر بیلي کړي غزنین ته ئې واستولي یوه ئې په دهلي د جمعی د جماعت کښې ولګوله او بله ئې په مانړیږ د دلبار د بادشاهت کښې واچوله تر شپږ سوو کالو پوري دغه ټکري پرتي وې خلقو به لیدلي او دوه ټوټي ئې نوري له سومنات ته جدا کړلي مکي او مدینې ته ئې ولیګلي چه په لیږ لویږ لاړو کښې ئې واچوي چه عام و خاص تر نیږیږي + او دا خبره رښتیا ده چه په هغه وقت چه سلطان سومنات ماتاوه نو یو ټولي د بامیانړانو امیرانو ته عرض وکړ چه که چري سلطان دا بت نه ماتوي نو مونږ به دومره دومره زر په خزانه د سرکار کښې داخل کړو + امیرانو دا خبره خوښه کړله سلطان ته ئې وویل چه د دې بت په ماتولو بت پرستي له دې ملک نه ورکیږي او که دنیا پرې واختي شي نو د ډیرو مسلمانانو به په بنه راشي + سلطان وفرمایل چه ستاسو خبره رښتیا ده مګر

که دا کار وکړم نو خلق به را ته محمود بُت خرڅوونکي وايي او که ئې مات کړم نو به راته محمود بُت ماتوونکي وايي نو بهتره دا دَه چه په دنيا او په آخرت راته بُت ماتوونکي وايي نه بُت خرڅوونکي + او فائده د ټيکي عقيدې د سلطان دا وَه چه هغَه بُت ئې مات کړ نو دومره مرغلوي شاهانه ئې په کيده کښې وختلي چه د يامبنرانو له قيمت نه يو په سل زياتي شولي + او په حبيب السير کښې راوړي دي چه سومنات د هغَه بُت نوم دي چه هندوان هغَه له تولو بتانو نه لوي ګڼي ليکن د شيخ فريد الدين عطار له خبري په خلاف له دي معلوميږي لکه دا بيت پخپله شاهدِ ورکوي +

د محمود لښکر په مينځ کښې د سومنات يو بُت وموندَه چه نوم ئې لاره نات يعنی سوم د هغي بتخاني نوم دي او نات په کښې هغه بُت دي او کاتب د دي کرخو ته دا معلوميږي چه هغَه چه مؤرّخانو ويلي دي هغَه خو رښتيا دي او د شيخ صاحب خبره هم مخالفه نه دَه ځکه چه دا لفظ مرکب دي له سوم او له نات نه او سوم نوم د يو راجه دي چه دا بت ئې جوړ کړي دي او نات نوم د هغَه بُت دي يا له سببَ د ډيرَ استعمالَ دواړه يو نوم شه او د هغَه بُت نوم ويلي شي بلکه د هغي بتخاني نوم بلکه د هغَه بنهر نوم هم يا ديږي + نو که څوک د دغه بُت

نوم سومنات وايي يا يواځې نات وايي دواړه برابر دي او نات په هندي ژبه کښې بزرګ ته وايي ٭ او په بتخانه د سومنات کښې په هغو شپو ورځو کښې چه سپوږمۍ يا نمر به تندر وينول نو زيات له دوه دري لکو سړو به خلق جمع کيدل او له لرې لرې ملکونو ته به نذرونه خلقو وله ور وړل او هغه واړه کلي چه حاکمانو د هندوستان په سومنات وقف کړي وُو دوه زرَ يا ديدل او دوه زره بامبنړانو به هميشه د سومنات عبادت کاره او هره شپه به ئې د ګنګا په تازه اوبو لبناوه سره د دي چه د ګنګا او د سومنات په مينځ کښې شپږ سَو کروه لار وَه ٭ او يو زنځير د طلاؤ د درمسال له يو کوټ نه تر بَل کوټَ پورې زوړند کړي وه چه جرسونه به ئې په هغه زنځير کښې آويزاند کړي وُو هر کله چه هغه زنځير به ئې وخوځاوه او بامبنړانو به واوريده نو د عبادت دپاره به جمع کيدل ٭ او پنځه سَو وينځې سرود ګوي ګډيدونکي او دري سَو سړي به سازنده په هغه بتخانه کښې هميشه اوسيدل اوخرڅونه اسبانونه به ورته له وقف مال نه رسيدل ٭ او دري سَو نايان به طيار د ږيرو خريلو او د سرونو خريلو دپاره ناست وُو او اکثرو راجګانو به خپلې لونړه په طريقه د نذر د سومنات خدمت له هغې بتخانې ته آستولې ٭ او دومره مرغلري د سلطان په خزانه کښې له دغې بتخانې نه داخلې شولې چه د هغو په سلمه حصه مرغلري د هيڅ يو بادشاه

په خزانه کښې نه وي جمع شوي ٭ او په تاریخ د زین‌المآثر کښې راوړي دي چه اصل د هغې بتخانې چه سومنات په هغه ځاي کښې وه تاریک وه او روښنائي يې د مرغلرو له رڼا نه وَه چه هغه يې په فانوسونو کښې ایښي وي او شعلې په ترختلی ٭ او د سومنات په خزانه کښې همره واړه واړه بتان د سرو او د سپینو موندلي شوي وو چه د خلقو په حساب کښې نه راتلل لکه حکیم سنائي ویلي دي ٭

د کعبې د سومنات بتان مردود شول په لاس د محمّد او د محمود
له کعبې نه محمّد ورک کړ خلاف سومنات شه له محمودَ پاک وصاف

حاصل دا دي چه سلطان د سومنات له کارَ بي‌غمَ شه نو د راجه پرم‌دیو د سزا ورکولو نیت يې وکړ چه هغه لوي راجه د نهروالي د ښهر وه ځکه چه سلطان په قلابندي د سومنات مشغول وه نو هغه ډیر کُمک د کفارو په طرف رالیکلي وه بلکه دوه دری زرَ مسلمانان د ده د لښکر له لاسَ شهیدان شوي وُو ٭ او پس له فتحِ د سومنات نه راجه پرم‌دیو له نهروالي نه چه پاي‌تخت د ګجرات وه وتښتیده او په قلا د کهندهه کښې يې ځان محکم کړ ٭ او له سومنات نه په وچه د هغې قلا پوري شپږ شلي کروَه لاروَه ٭ او چه سلطان د هغې قلا حد ته ورسیده و يې لیدل چه ډیري اوبه له هغې قلا نه چاپیره دي او له هیڅ لوري لار د ور تللو نشته ٭

د لښکر مرجونړاکانو ډیر فکر وکړ لیکن هیڅ قدر په حال پوه نه شول بیا ئې د هغه وطن مرجونړاکان را وغوښتل پوښتنه ئې د هغي غاړي د تللو تړ نه وکړله ٭ هغو وویل چه په فلاني ځاي د پوري وتلو لار شته مګر که ادبه په چپو راشي نو ټول خلق به هلاک شي ٭ سلطان استخاره په قرآن مجید وکړه او توکل ئې په مهربانګۍ د خدای وکړ او د امیرانو او د سپاهیانو سره ئې آس په اوبو ور واچاوه سلامت پوري غاړه ور ورسیده ٭ پرم دیو ته سلامتي د ځان لوي نعمت ښکاره شه او له ننګ او له ناموس تیر شه یواځي د فقیریۍ په جامه کښ له قلا نه راووت چرته یو کوټ ته وتښتیده ٭ او سپاهیان د سلطان په قلا ور ننوتل کفار ئې ډیر ووژل او ښځي هلکان د هغو ئې بندیان وینول او مالونه او جواهر د راجه ئې د سلطان په خزانه کښ داخل کړل ٭ سلطان فتح مند او بري ناک لهرواني ته لاړ شه او چه د هغه وطن صافه هوا اوښایسته ځوانان او تازه بلغونه او رنړي رواني اوبه او نور د خوشحالۍ اسبابونه ئې ولیدل نو نیت ئې ځو کال د هغه ملک د اوسیدلو وکړ بلکه دا ئې خوښه کړله هلته ځان له تخت جوړ کاندِ او غزنین سلطان مسعود ته وسپاري ٭ له بعضو کتابونو د تواریخو نه داسي معلومیږي چه په هغه مده کښ یو ځو کان د سرو زرو خالصو په هغه ځاي کښ ختلي وُو نو سلطان په دغه سبب په لهرواله

کښې د ځان دپاره تخت جوړاوه او اوس له هغو کانونو نه هیڅ نښه پاتې شوې نه
دَه ۔ او دا خبره ډیره پېښه شوې دَه چه په هغَه وقت به چرته کان وه او په دې
زمانه کښې ورک شوې وِي لکه په سیستان کښې د سلطان په زمانه کښې کان پیدا
شوې وه بیا څو مُده پس د زلزلې په سبب ورک شه ۔ او په جزیره د سراندیپ
او د پیکو کښې او په نوزو بندرونو او په جزیرو کښې کانونه د طلاؤ او د یاقوتو
ښکاره شوې وُو نو د سلطان خوښه دَه چه لښکر په بیړو کښې کښیوي او هغَه ملکونه
لاندِ کړي لیکن امیرانو د خیرخواهیِ دپاره ورته عرض وکړ چه خراسان په ډیرو ربړونو
سره په لاس راغلي دي او مخلوق پرِ بې شانَ قتل شوِي دي نو اوس هغَه پرېښول
او ګجرات د تخت دپاره مقرروول مناسب نه معلومیږي ۔ دې خبرې د بادشاه په زړه
کښې اثر وکړ قصد ئې د بیرته راګرزیدلو په زړه شه او د ئې ویل چه یو سړي غوره
کړیِ چه حکم د دې وطن هغه ته وسپارلې شي ۔ امیرانو مصلحت وکړ سلطان ته
ئې داسې عرض ورساوه چه څومره دې وطن ته تلل راتلل نه کیږي نو که د سلطان
خوښیږي نو هم د دې ملک یو سړي دِ حاکم مقرر کاندِ ۔ سلطان د سومنات د خلقو
سره جرګه په دې خبره کښې وکړله هغو ورته وُوِ چه په دې ځای کښې هیڅوک په
مرتبه او په نسب کښې دابشلیمانو ته نه رسیږي او نن ورځ د هغو له خیلخانې نه یو

سړي د بامنبرانو په جامه دلته شته که سلطان دا کار هغه ته وسپارِي نو ښايږي۔
مګر بعضي خلقو رويل چه دا دابشليم ډېر سخت خوي سړي دي پخوانۍ هم خو وار په
بادشاهيِ جګړه کړي وه هر څل به د ورونړو په لاس کښ بند شه په خوارو زارو به
خلاص شه اوس له ناکامۍ ئې شيخيِ ته لاس آچولي دي په بتخانه کښ ناست دي۔
مګر بل دابشليم د ده له خپلوانو ته شته دي چه هغه ډېر هوښيار دي او بي حد
ښه پوهيږي بلکه ټول بامبنران د ده په پوهه او په زيرکيِ قائل دِي او في الحال په
فلاني ځاي کښ حاکم دي که سلطان حکم وکاندِ په دوارو سترګو به راشي په خدمت
کښ به ځان حاضر کړي او چه څنګه د سلطان رضا وِي هم په هغه شان به د وطن
په آباديِ کښ غور وکاندِ او کال په کال به ماليه د هندوستان په خزانه کښ د
سلطان داخلوي ۔ سلطان رُوِ چه که چري هغه سړي دلته حاضر دي او دا خبره
ئې پخپله ويلي وی نو لا مناسبت ئې لاره او چه نه م لېدلي دي او نه م کتلي دي
او همره لوي ملک وله ورکوم نو دا ډېره د بي عقلو خلقو خبره ده ۔ يا سلطان هغه
بامبنر دابشليم را وغوښت او حکم د ګهروالي ئې ور حواله کړ ۔ هغه قلنګ او ماليه
په ځان مقرر کړل او عرض ئې سلطان ته وکړ چه فلاني دابشليم ځماله خلخانی دي
او ځما سره ډېره دښمني لري نو که د بادشاه له تللو نه خبر شي او په ما پسي راشي

نو ما به ووهي ځکه چه ځما دومره قوت او طاقت نشته ٭ او که سلطان م د هغه
له فسادَ خلاصوي نو د کابل او د زابل په دوه همره مال به هر کالَ په خزانه کښ
د سلطان داخلوم ٭ سلطان ووِ چه دوه کالَ شوي دِي چه مونږ په غزا پسي
راغلي يُو خو اوس دوه نه دوه نيم صحيح اول د هغه سره حال معلومُود پس له هغه
وطن ته به د تللو نيت کُوو ٭ جوړ لښکر ئي د دابشليم وطن ته روان کړ په لږه
مُده کښ ئي هغه ملک فتح کړ او هغه دابشليم ئي ژوندي راوست او دغه دابشليم
ته ئي وسپاره ٭ دابشليم عرض وکړ چه ځمونږ په مذهب کښ د بادشاه وژلل
روا نه دِي بلکه دستور داسي دي چه هر کله چه يو بادشاه د بل بادشاه په لاس
کښ بندِي شي نو وله يوه تنګه تاريکه کوټنزيئ د خپل تخت د لاندِ جوړه کړي او يو
سوري په کښ وکاندِ چه اوبه ډوډيئ وله ورکوي او تر هغه پوري بند ِي چه يو تن
له دغو دواړو نه مړ شي نو چه اوس ځما دومره سنبالي نشته چه دښمن په قيد
کښ وساتم او که سلطان لاړ شي نو دا ويره م هم شته چه د ده خپلوان را باندِ بلوي
وکړي او دي را نه خلاص کړي نو وايم چه اوس دِ ئي بادشاه د ځان سره غزنين ته
بوزي او چه بيا ځما زور او قوت پيدا شي سلطان دِ مهربانګي وکړي دي دِ راوليګي ٭
سلطان دا عرض هم قبول کړ په دوه نيم کالَ پس غزنين ته وګرزيده مګر چه راجه

پرم‌دیو او راجه د اجمیر او نورو راجګانو ډېر لښکر جمع کړي وه او لار د سلطان ئي نیولي وَه سلطان د جنګ مصلحت د ته لید د سند په لار ملتان ته روان شه لښکر ته ځاي په ځاي د خرڅ د اوبو د کیاه ډېره سختي ورسیدله او په ډېر مشقت سره په سن ځلور سَو اووه لس هجري کښ غزنین ته ورسیده. او چه سلطان د سند په لار ملتان ته روانیده نو حکم ئي وکړ چه یو سړي د لاري د بنولو دپاره پکار دي چه څومره سره لار شي جوړ یو هندو دا خبره قبوله کړله د لښکر د وړاندِ روان شه او په هسي لار ئي لښکر بوت چه هیچرته په هغي لاري کښ د اوبو نښه نه وَه چه یوه شپه او یوه ورځ تیر شول هسي سختي په لښکر راغلله چه هر چا ویل چه هدو د قیامت نښا ظاهره شوله. سلطان له هغَه هندو نه پوښتنه وکړله و ئي ویل چه دا په څنګه لار دِ راوستلُو. هندو وُوِ چه زه د سومنات په خدمتګارانو کښ حاب‌یم نو ته او ستا لښکرِم دپاره د هلاکولو په دي لاري راوستلئِ. سلطان په قهر شه هندو ئي په هغَه ساعت قتل کړ او هم په دغه شپه کښ له لښکرَ لهر را وُوت او یو صحرا ته لاړ شه هلته ئي پاک رب ته مخ په سجده کیښود او په ډېره زاريِ ئي سوالونه وکړل خلاصي د ځان او د لښکرئي وغوښت. چه یو پهر شپه تیره شوله نو په سهیل طرف ور ته روښنائي ښکاره شوله لښکر ته ئي في الحال حکم وکړ د هغَه روښنائيِ په

طرف لاړل چه صباح کیده د اوبو غاړي ته ورسیدل او په برګت د اخلاص د بادشاه له مرګ خلاص شول ٭ او دابشلیم په حکومت د سومنات کښې وقت بیامونده پس له خو کالو ئې قاصدان د مرغلرو او د خزانو سره د سلطان په طرف ولیګل او خپل دښمن ئې ور نه طلب کړ ٭ سلطان ته دا کار مناسب ښکاره نه شه په آسټولو د هغه ځوان کښې حیران شه لیکن امیران او وزیران له دابشلیم نه راضي وُو سلطان ته ئې عرض وکړ چه په کافرانو او مشرکانو باندې څه مهربانګۍ پکار دَه او سلطان وعده هم د بیرته ور لیګلو کړي دَه نو اوس مناسب دي چه دا ځوان ور ولیګلي شي٭ حاصل دا دي چه دابشلیم ئې قاصدانو ته وسپاره رخصت ئې کړل ٭ هرکله چه سومنات ته ور ورسیدل دابشلیم حکم وکړ بندیخانه ئې په هغه ځپل دستور مشهور سره طیاره کړله او پخپله د هغه ځوان مخې ته را وَوت او تالي او کوزه خاصه ځپل ئې ور په سر کړل او د آس په رکاب کښې ئې وزغلاوه هغه بندیخانې ته ئې روان کړ٭ مګر چه په لاري ته له خوشحالۍ نه به یو خوابل خوا په آس سور زغلیده کړي د نمر پر غلبه وکړله د یوي ویني د لاندې د آرام دپاره څملاست دمه ئې خوړله او یو سور روي مال ئې په مخ وغوړاوه ٭ ناګهانه په دغه حال کښې په تقدیر د ذوالجلال یو زورآور مارغه پښې شه او په هغه روي مال ئې کمان د غوښې وشه په هیې شان غوټه ئې پر ووهله

چه نوکونه يُ د دابشلیم په سترګو کښ ومندل دواړه ړندي شولي * او په هغه زمانه کښ د هندوستان غټانو د ښلو ګډو ړندو عیب ناکو حکم نه قبلاوه شور په لښکر کښ ګډ شه هغه قیدِي دابشلیم هم په دغه ګنړو خلقو کښ تماشي له راغي * چه په دغه ځاي کښ بل څوک لایق د بادشاهيِ نه وه نو هم هغه بندِي يُ بادشاه کړ او هغه تالي او کوزه يُ هغه راندې دابشلیم ته په سر کړل او د هغه قیدِي دابشلیم په رکاب کښ روان شه هغه بندیخاني ته يُ په دو دو زنګلاوه * سُبْحَانَ اللهِ (یعني په پاکيُ سره بادوم خداي لره) چه په سترګه ړپول کښ هغه بامیز دابشلیم چه د هغه بل په حق کښ څه خیال کړي وه هغه کار هم د ده سره وشه او معنیٰ د دي حدیث چه مَنْ حَفَرَ بِئْرًا لِاَخِیْهِ فَقَدْ وَقَعَ فِیْهِ (یعني هر چا چه وکنده کوهي ورور خپل ته پس خواه مخواه به پریوزي دي په هغه کښ) ظاهره شوله او په چپل کار کښ حیران پاتي شه د اوښو په ځاي يُ وینی تویولي او داسي وینا به يُ له ځانَ سره وپلي *

غورزولي دی په اور او په اوبو کښ زړه او سترګو دا څما خاکي بدن
تاسو حال څما په دواړو سترګو کوريُ بیا په زړه کښ رحم کړيُ څما په تن

هر اراده د خداي تعالیٰ له چا نه بادشاهي اخلي په زمکه يُ ولي او څوک دماغي په کیده کښ سلامت ساتي * او په جامع الحکایات کښ راوړي دي چه سلطان د

هندوستان په یوه بتخانه کښې یو بُت ولید چه بې له زنځیرَ په هوا کښې ولاړ وه نه په کښې چه څیز د څوړ ندیدلو معلومیده او نه یو خوا بل خوا کیده او نه کوز لویده + سلطان چه دغه بُت ولید ور ته فکر یووړ له حکیمانو ته ئې پوښتنه وکړله چه دا څه حکمت دي چه دا بُت په هوا ولاړ دي + هغو ټولو په اتفاق سره ور ته وویل چه دا بُت د اوسپنې دي او دا دیوالونه ئې د آهن ربا دِي (یعني هغه کانړي چه اوسپنه ځان ته راکاږي) نو خواه مخواه دغه بت مینځ کښې ولاړ دي یو خوا بل خوا بنکته پورته وړانګِ ورستو نه خوځیږي + سلطان حکم وکړ یو دیوال ئې ونړاوه بُت په هغه ساعت په زمکه نسکور ولوید + او په دغه کال کښې چه سلطان غزنین ته ورسیده نو خلیفه اَلْقَادِرُ بِاللّٰهِ د بغداد وته یو خط را ولیکه چه په هغه کښې ئې د سلطان او د ځامنو د سلطان بیل بیل خطاب لیکلي وه + خطاب د سلطان کَهْفُ الدَّوْلَةِ وَالْاِسْلَامِ (یعني پناه د دولت او د اسلام) وه + او د امیر مسعود خطاب شِهَابُ الدَّوْلَةِ وَ جَمَالُ الْمِلَّةِ (یعني روښانَ ستوري د دولت او ښائیست د دین) وه + او د امیر یوسف دپاره عَضُدُ الدَّوْلَةِ و مُؤَیِّدُ الْمِلَّةِ (یعني لیچي د دولت او قوت ورکوونکي د دین) وه + او ور پسې ئې کښلي وو چه څوک چه سلطان دپاره د سلطنت په چل ځاي ودروي هغه څوبزَ هم قبول دي او دا خط سلطان ته په بلخ کښې ور ورسیده +

او هم په دغه کال کښې سلطان د هغو جټانو د سزا ورکولو دپاره چه د جودي غره د دریاب په غاړه وُو روان شه ځکه چه په هغه وقت چه بادشاه له سومنات راته نو دغو جټانو د سلطان د لښکر سره بي ادبي کړي وَه ٭ چه ملتان ته ورسیده حکم ئې وکړ چه څلور زرَ بیړئ دِ جوړي شي او په هره بیړئ دري دري بنګرونه د اوسپنو دِ مضبوط مضبوط جوړ کړي شي یو بنګر د بیړئ په سرکښ او نور دواړه ئې په دوو کښې چه هر څه چه ور سره وجنګیږي هغه بیا روغ نه پاتي کیږي ٭ او دغه ئې ټولي په اوبو ورګډي کړلي شل شل تنَ سړي ئې د غشو او د لندو او د آتشي ښیښو او د نورو اسبابونو د جنګ سره په بیله بیله بیړئ کښې کښینول او د جټانو په بیخ وکښلو پسي روان شول ٭ او جټان چه خبر شول نو ښځي هلکان جنګئ ئې جزیرو ته واستول او یواځي سړي د جنګ دپاره سنبال پاتي شول بیا څلور زرَ کشتئ او څوک واپي چه نه اته زرَ کشتئ ئې په دریاب راګډي کړلي او په هره یوه کشتئ کښې ډیر ډیر ځوانان وصله دار طیار د جنګ دپاره کښیناستل ٭ چه دواړه طرفَ سره یو ځاي شُو نو یو لوي جنګ ئې سره ولښلاره مګر هره کشتئ د جټانو چه به د سلطان د لښکر د کشتئ د بنګر سره وجنګیده فی الحال به دري دري لاره جټان به په دریاب کښې ډوب شول ٭ حاصل دا دي چه اکثر ډوب شول او کمکم که څه پاتي شول هغه

ئې له تورو تیر کړل او سپاهیان د سلطان په تېرو د هغو پسې لاړل تول ئې له جزیرو نه په بند راوستل سلطان بري ناک او فتح مند غزنین ته وګرزید ۔

او په سن څلور سَو اته لس هجري کښې سلطان امیر د طوس ابوالحرب ارسلان لره په طرف د ابیورد او د نسا مقرر کړ او ورته ئې حکم وکړ چه ورشه او هغه ترکمانان چه د امویي له اوبو پوري وتلي وي او هلته فسادونه کوي د هغه بیخ وباسه ۔ چه امیر د طوس لاړ شه او ډیر جنګونه ئې وکړل نو سلطان ته ئې عریضه وکښله چه که چري سلطان پخپله مهربانګۍ وکړي نو امید دي چه کار به وشي او که نه وي نو د دوي د فساد دفع کول ګران دي ۔ سلطان پخپله ور پسې روان شه تولي د هغو ئې بنور کړ ۔ او چه امیران د سلطان د عراق په وطن باندې غالب شول او له تصرف د اولاد د بویه نه ئې وکیښل نو خواه مخواه له هغه ځایَ ری ته لاړل هغه ډیري خزاني د دي چه په ډیرو کالونو کښې دیلمیانو حاکمانو جمع کړي وي بې جنګ بې جګړې په لاس ورغلي او له بدمذهبو او له قرامطهؤ نه چه څوک ئې وموندل او اثبات پرې شه هغه ئې قتل کړل او ولایت د ري او د اصفهان ئې امیر مسعود له ورکړ او پخپله غزنین ته لاړ شه ۔

بیا په لږه مُده کښې مرض د سِلُ یا بله سخته ناجوړتیا سلطان ته پېښه شوله لیکن

ده په زور خلقو ته ځان جوړ او قوي ښکاره کاره او په دغه حال کښ بلخ ته لاړ شه چه مُده د پسرلي شوه نو بیا غزنین ته راغي او هغه مرض ئي ډیر په زور کښ شه ٭ بیا په غزنین کښ هم په دغه مرض په ورځ د پنجشنبي په دري ویشتمه د ربیع الآخر چه پښتا نه ور ته دویمه خور واپي په سن څلور سَو یو ویشت هجري کښ د دري شپیته کالَ عمر وه چه له دنیا ئي سفر وکړ او پنځه دیرش کالَ ئي بادشاهي کړي وه او په هغه شپه کښ چه باران وریده جنازه ئي د ده واخستله او په فیروزه مانزئي کښ د غزنین ئي خښ کړ ٭ او سلطان محمود په ونه میانه وه او اندامونه ئي بنائسته ډُو او په مخ ئي داني دي او وریني نوم د سلطان په ځان باندې ده ایښي وه ٭ او چه سلطان وفات کیده نو دوه ورځي وریني ئي حکم وکړ له خزانو نه ئي تلئ د سرواو د سپینو او قسم قسم مرغلري او رختونه چه په ډیر عمر کښ ئي جمع کړي ډُو په انګنو کښ ئي حاضر کړل له هغه غوبي نه ئي باغچه جوړه کړله او په ارمان ارمان سره په ئي ور ته کتل او په هاي هاي سره به ئي ژړل پس له یو ساعت ئي خزاني ته ولیګل او په داسي حال کښ ئي له دومره ښیزونو نه هیچا له څه ور نه کړل نو له دا رنګ کارونو نه بادشاه په بخل سره مشهور شوي وه ٭ او یله ورځ په تختِ روان کښ کښیناست او میدان ته لاړ شه حکم ئي وکړ تول آسونه او ګچر او هاتیان او

اوښان ئې را وغوښتل یو ساعت ئې تماشه د ټولو وکړله او په افسوس افسوس ئې ور ته وژړل بیا خپلې مانزیۍ ته روان شه ٭ او له ابوالحسن علي زوي د حسن میمندي نه نقل دي چه یوه ورځ سلطان له ابوطاهر ساماني نه پوښتنه وکړله چه د سامان اولاد څنه څومره قیمتي مرغلري جمع شوي وي ٭ هغه ور ته په ځواب کښې وُوِ چه په زمانه د امیر نوح ساماني کښې اووه نیم سیرې قیمتي مرغلري په خزانه کښې جمع شوي وي ٭ سلطان وُوِ چه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ (یعني ثنا ده خدای لره) چه ما له ئې دوړه مرغلري شاهانه راکړي دي چه له شلو نیم سیرو نه هم زیاتې دي ٭ او ویلي شوي دي چه په آخر عمر کښې ئې یوه ورځ واوریدل چه فلاني سړي په نیشاپور کښې دیره دنیا لري سلطان حکم وکړ را دئې غوښت او ور ته ئې وُوِ چه ما آوریدلي دي چه ته ملحد (یعني بي دین) یې ٭ هغه ځواب ورکړ چه په ما کښې هیڅ عیب نشته مګر دا قدر خبره ده چه دنیادار یم دنیام دیره ده نو مال م تول واخله خودا بدنامي مه را پدي کوه ٭ سلطان تول مال تر واخست او حکمنامه ئې ورکړله په کښې ئې کښلي وُو چه د ده عقیده د مسلمانانو ده ٭

او په طبقاتِ ناصري کښې راوړي دي چه سلطان په دي حدیث کښې چه اَلْعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الْاَنْبِیَاءِ (یعني عالمان میراث خواره د پیغمبرانو دي) شک مند وه او په ورځ د قیامت

کښې او دَ خپل ځان او دَ امیر سبکتګین دَ زوي والي او د پلاروالي په نسبت کښې شکي وه یوه شپه چرته ته خدمتګار ورسره شمعَ او د سرو زرو شمعدان په لاس په مخ کښې روان وه یو طالب په یوه مدرسه کښې سبق په یاد ضبطاوه چه کتلو ته به ئي حاجت شه نو د یو دوکان دار په ډیوه به ئي هغَه عبادت وکوت د سلطان زړه ورباندِ وسه هغَه شمعَ او شمعدان ئي ورته وبخښل هم په دغه شپه کښې ئي محمّد مصطفیٰ علیه الصّلوٰة والسّلام په خوب کښې ولید او ورته ئي وویل چه یَا ابْنَ اَمِیْرِ نَاصِرِ الدِّیْنِ سُبْکَتَکِیْنَ اَعَزَّکَ اللّٰهُ فِی الدَّارَیْنِ کَمَا اَعْزَزْتَ وَرَثَتِیْ (یعني اي زوي د امیر ناصرالدّین سبکتګین عزّت دِ درکړي تا لره خدای په دواړو جهانو کښې لکه چه عزّت ورکړي دي تا وارثانو ځما لره) دري واړه شکونه دده له دغه حدیثَ په یقین بدل شول بیا دري واړه خبري ئي بني و منلي +

او په بل کال کښې پس له وفاتَ دده نه یو لوي سیلاب راغي چه ډیري آبادئ دَ بنهرئ ونړولي او خلق په کښې بي نهایتَ ومړل او هغه بند چه عمر ابنِ لیث صفار په خپله بادشاهئ کښې جوړ کړي وه هغه داسي اوبو یووړ چه هیڅ نښه ئي پاتي نه شوله نو هوښیارو خلقو ویل چه دا سخته واقعه په سبب د وفات د عادل سلطان پیښه شوه ځکه چه د سلطان عدل دي حد ته رسیدلي وه چه یوه ورځ یو سړي په فریاد راغي سلطان ورته وُوِ چه وایه څه وایي + هغه وُوِ چه ځما خبره ښکاره دَ ویلو نه دَه که په خلوت کښې وِي

نو به ئي ووايم + سلطان په خاص خلوت کښې وغوښت او پوښتنه ئي تر دَحال وکړله + هغه
سړي ووِ چه ډېره مُده شوي دَه چه دَ سلطان خوږي ځما کره راځي او ما په کروړو وهي بهر
مِ شړي او تمامه شپه مِ دَ ښځي سره وِي او ما به دومره مُده امیرانو او وزیرانو ته ویل
لیکن هغو دَ هغه له ویري سلطان ته داحال نه شه رسولي او له خدايَ دَ هیچا ویره
نه وَه چه کُندِ ځما غور ئي کړي وي نو صبر مِ کاوه تا ته مِ کتل چه ته مِ خبر کړلي نو که
انصاف دِ وکړ خو ډېره ښه دَه او که نه وِي نو صبر به کوم چه خداي پاک په عدل
سره ځما غور وکاندِ او بدل لا له له ظالمانو نه واخلي + دَ سلطان زړه له دي خبرې
ولړزیده او بي شانَ ډېرئي وژړل بیا ئي ورته وویل چه پخوا دِ ولي داحال ما ته
نه وایه + هغه وُوِ چه تول عمر مِ دا مطلب وه لیکن ستاسو سره لیدل نه پیښیده
نن خداي فضل وکړ په ډېرو حیلو سره ځان مِ ستاسو خدمت ته راورساوه او که نه
وِي نو ځما په شان عاجزان کله طاقت لري چه داسي مکان ته ځان راورسوي + سلطان
ورته وُوِ چه داسي چا ته مه وایه چه کُندِ ما په خپل حال باندِ سلطان خبر کړي
دي او ته ورځه بي غمَ کښینه + او هر وقت چه دغه ظالم راشي او تا له کورَ بهر وشړي
نو ته په تلوار راشه ما خبر کړه + هغه وُوِ چه ما به څوک ځنګه تا ته پرېږدي + سلطان
خپل دروانچیان راطلب کړل ورته ئي حکم واوراوه چه هر وقت چه دا سړي راشي

نو تاسو ئي مه منع کوئ او دي پريږدئ هرڅاي کښې چه زه يم هلته دِ راځي او سره دي
پټ ئي ورته هم وويل چه که چري دوي تا ته عذر وکړ چه بادشاه اوده دي يا
په بله بهانه تا معطلوي نو ته فلاني ځاي له راشه او ورو آواز راته وکړه نو کار
به دِ وشي + بيا هغه سړي بي غمَ زړه خپل کور ته لاړ شه مګر هغه سړي په هغه
شپه او په بله شپه راته غي + چه دريمه شپه شوه نو هغه دَ سلطان خوري په خپل
عادت سره په نيمه شپه کښې راغي او دغه سړي ئي له کوره وشاړه بي غمَ په خپل کار
مشغول شه + هغه سړي په دودو د سلطان دروازي له راغي خو دروانچيانو ورته
وويل چه اوس سلطان په حرم کښې اوده دی هيڅوک ورتللي نه شي او که چري په
ديوانخانه کښې وي نو هيچا ته نه منع کولي + سړي ناعلاجَ شه هغه ځاي چه بادشاه
ورته ياد کړي وه هوري لاړ شه ورو ئي آواز وکړ وئي ويل چه سلطانَ مهربانَ څه کوي +
سلطان ځواب ورکړ ويل ئي چه فقيرَ ودريږه درځم جوړ په تلوار را ووت او د هغه سړي
سره روان شه چه ورکړه ورنوت څه کوري چه خوري ئي دَ هغه دَ ښځي سره په يو
پالنګ ملاست دي او شمع ورته بليږي + سلطان فی الحال شمع مړه کړله او خنجر ئي
را وويست سر د هغه ئي پرِ له تني نه جدا کړ بيا ئي هغه سړي ته ويل چه يو کوټ
او به راوړه چه ئي وځښنم + چه هغه او به راوړلي او سلطان وځښلي نو ورته ئي ووِ

چه فقیرَ ورځه بي غمَ خوب کوه + سرِي سلطان له لمني ونیوه او ورته ئي وُوِچه ستا دِ په
هغَه خداي قسم وِي چه تا له ئي دا بادشاهت درکړي دَي چه ته ما ته ووایه چه دا شمعَ
دِ ولي مړه کړي وَه او اوبه دِ ولي را وغوښتلي او بیادِ وخښلي او ما ته دِ ځه له ویل چه
ورځه بي غمَ خوب کوه + سلطان ورته ویل چه له ظلمَ دَ هغه ظالم نه مِ خلاص کړلي اوسي
مِ ورنه پري کړ نو خود ته بي غمَ شوي او شمعَ مِ څکه وژلله چه ما ویل که دره سترګي
وویم هسي نه وِي چه په سبب دَ میني دَ خپلوئِ کنار پرِ ونه کړي شم او دي را نه خلاص
شِي او اوبه مِ څکه غوښتي چه هغَه وقت چه تا ما ته حال ویلي وه نو ما سوګند خوړلي
وه ویل مِ چه زه به خوړل څښل ونه کړم چه څو مِ دا عاجز د دغه ظالم له شرَ خلاص کړي
نه دي نو نن دري شپي ورځي پوره شولي چه نه مِ څه خوړلي دِي او نه مِ څه څښلي
دِي او چه اوس مِ دَ هغه فساد دفع کړ نو ډیر تږي وم نو اوبه مِ وخښلي + غرض دا دي
چه د بادشاهانو د عدل قصي به هرچا آوریدلي وِي مګر داسي کار به هیڅ یو بادشاه کړي
نه وِي + او په تاریخ دَ بناي ګیتي کښ راوړي دِي چه هرکله چه سلطان خراسان ته لاړ
شه نو په زړه کښ ئي تیر شول چه د شیخ ابوالحسنِ خرقاني صاحب ملاقات له لاړلي
لیکن بیا ئي وُوِچه داخل د دنیا په کار پسي راغلي یم نو د هغه سره لیدل دَ بل کار په تبع
مناسب نه دِي او ښه به هغَه وِي چه بیا وله راشم + په هغَه وار له خراسانَ

وګرزیده هندوستان ته لاړ شه او چه بیا غزنین ته راغي نو نیّت يې د ثواب د لیدلو د شیخ صاحب وګړ خرقان ته روان شه + چه ورورسیده یو سړي يې شیخ صاحب له ورولیکه ورته يې ووِچه ورته وایه چه سلطان خرقان له ستاسو دیدن دپاره راغلي دي نو اوس که تاسو هم له عبادتخاني نه بهر مهرباني وکړئ او دلبار ته راشئ نو ډیر به ښه وي + او هغه سړي ته يې وویل چه که چري نه راته نو دا آیت ورته واوروه یَا اَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِیْعُوا اللّٰهَ وَ اَطِیْعُوا الرَّسُوْلَ وَ اُولِی الْاَمْرِ مِنْکُمْ (یعني اي هغو کسانو چه چا ایمان راوړي دي حکم قبلوئ د خداي او حکم قبلوئ د رسول او د خاوندانو د حکم چه له تاسو نه وي) + قاصد چه ورته خبر ورساوه نو شیخ صاحب ووِچه زه نه څم بیا قاصد ورته هغه آیات ولوست + شیخ ورته ووِچه ځما عذر قبول کړه او سلطان ته ووایه چه په اَطِیْعُوا اللّٰهَ دومره مشغول یم چه اَطِیْعُوا الرَّسُوْلَ ته شرمنده یم او اُولِی الْاَمْرِ ته خو هډو وزګار یږم نه + قاصد بیرته لاړ شه سلطان ته يې دا حال بیان کړ د سلطان زړه نرم شه وئ ویل چه پاڅئ چه ورشو دا هغه شان سړي نه دي چه لکه څمونږ ګمان وه بیا جامه يې خپله ایاز ته واغوند وله او لسو ویښتو ته يې جامي د هلکانو واغوستولي او د ازمیښت دپاره دي د ایاز په څاي شه او ایاز يې په خپل څاي کړ د شیخ صاحب کوټې ته روان شه + چه په کوټې باندې ټول ورننوتل او اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ يې ووِ + شیخ وَ عَلَیْکُمُ السَّلَام

وُوِ مګر له ځايَ پا نه ځيد اوځ ئي بادشاه ته کړ دَ اياز په لورئي وهم نه کاته + سلطان ورته ووِچه داخو بادشاه وه او تاسوددہ تعظيم دپاره پا نه ځيدلئِ + شيخ صاحب وُوِ چه دا قول دام دي مګرزه ئي مارغه نه يم هان ته را وړاندِ شَه چه دا قول سنادَ وړاندِ خداي ودرولي دِي + سلطان کښيناست او ورته ئي وويل چه ما ته يوڅو خبري وکړه + شيخ ووِچه نامحرمي (يعني هغَه ښځي چه په سرِي حرامي نه وِي) لهر وباسه + سلطان اشارت وکړ ويځي ووتلي بيا ئي شيخ ته وُوِچه ما ته دَ بايزيد بسطامي څه قصه وکړه + شيخ وويل چه بايزيد ويلي دِي چه هرچاچه زه وليدم نو له بدبختئِ نه به خلاص شِي + سلطان وُوِ چه پيغمبر عليه السّلام له بايزيد نه په مرتبه کښ لوي وه او ابوجهل به ورته کتل نو هغَه ولي بدبخت پاتي شه + شيخ ورته وُوِچه محمودَ فکر وکړه محمّد عليه الصّلوه والسّلام بغير له څلورو يارانو او بي له اصحابو هيچا نه وه ليدلي او دليل په دي خبره دا قول دَخداي تعالیٰ دَي وَتَرٰىهُمْ يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ وَهُمْ لَا يُبْصِرُوْنَ (او وبني ته دوي لره چه ګورِي تا ته او دوي نه وينِي) سلطان ډيرخوشحال شه او ورته ئي وُوِچه ما ته نصيحت وکړه + شيخ ووِچه څلورخيزغوره کړه اول پرهيزګاري دويم نمونځ په جماعت دريم سخاوت څلورم مينه په خلقو + بيا ئي ترِ دعا وغوښته هغه وُوِچه زه خو په پنځه ؤ واړو نمونځونو پسي دا دعا لولم اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُؤْمِنِيْنَ

وَالمؤمِنَاتِ (یعني اي خدایَ وبخښي ته مؤمنان سړي او مؤمناني ښځي) + سلطان وو چه یوه خاصه دُعا راته وکړه + شیخ وُو چه عاقبت محمود باد (یعني آخر ستا دِ نیک وِي) سلطان ورته یوه بوجه دَ اشرفو په مخ کښې کیښوله + شیخ وله بو ککوړي د اوربوشو راوویست او سلطان ته ئې وویل چه وخوره + سلطان ککوړي نمړئ په خوله کښې ژویله خو تیریدله ئې نه په مړئ کښې ئې نښتله + شیخ ورته وُو چه دا نوړئ دِ نښلي نه تیریږي څه + سلطان ویل چه هو + شیخ وُو چه دغه رنګ څما هم دا اشرفئ نښلي وائي خله یوئ سه ما طلاق ورکړي دِي + سلطان ورته وُو چه ما له څه تبرّک راکړه + شیخ وله خپل قمیص ورکړچه د دابشلیم او د پرمدیو په جنګ کښې ئې قصّه تیره شوي دَه + او په جامع الحکایات کښې ئې راوړي دِي چه په هغه وقت چه سلطان شیخ له راغي نو ورته ئې وُو چه کاروونه دَ خراسان ډیروُو لیکن له غزنین نه فقط ستاسو ملاقات له راغلي یم + شیخ وُو چه ته چه له غزنین نه څما دَ لیدلو دپاره راغلي یي نو څه عجیبه ده که خلق له بیت الله نه ستا دَ لیدلو نیت کوِي او راځي + سبحان الله عجب لوي سړي دي سلطان څکه چه شیخ ابوالحسن خرقاني هم دَ هغه په حق کښې دغه شان ویل کړي دِي + په روضة الصفا کښې راوړي دِي چه یوه ورځ سلطان په مانړئ کښې ناست وه یو خوابل خوائ کتل ناګهانه یو سړي ئې ولید چه دري چرګان

ورځخه وُو او سلطان ته ئي اشارتونه کول * سلطان را وغوښت او ورته ئي وُوِچه څه وايي او دا اشارتونه څه له کوي * هغه وُوِچه صاحبَ زه جوارګر يم او ته مِ پسِ شا له ځانَ سره شريک کړي وي نو دا دري چرګان مِ ستا دپاره کتلي دِي سلطان چا ته حکم وکړ هغه ئي ترِ واخستل بله ورځ ئي وله دوه راوړل بله ورځ ئي بيا دري راوړل * په څلورمه ورځ تش لاس خپه دَ سلطان دَ مازيګِ دَ لاندِ ودريد چه سلطان ورته وکاته نو وئي ويل چه خير دِ وِي دا شريک څما ولي خپه دي * سړي وُوِچه دَ سلطان او د ځان دپاره مِ جوارِي کوله زر اشرفيِ مِ بايللي دِي اوس حريفان راغلي دِي را نه ئي غواړِي * سلطان حکم وکړ چه پنځه سوَ اشرفيِ ورکړئِ او ورته ووايئِ چه بيا که زه حاضر نه وم نو ما دِ دځان سره نه شريکوِي *

او په حبيب السّير کښ راوړي دِي چه ورنبي وزير دَ سلطان ابوالعباس فضيل د احمد اسفرايني فرزند وه په اول حال کښ ئي دَ فائق بادشاه دپاره کښل کول * بيا چه د هغه بادشاهِي تيره شوله نو دَ امير سبکتکين سره شه مرتبه ئي د وزيرئِ وموندله * بيا چه سلطان بادشاه شه هم هغه ئي وزير کړ ليکن چه ابوالعباس له دَ عربو ژبه نه ورتلله نو حکم ئي وکړ چه د دفتر کاروبار دِ په فارسِي ژبه ليکلي شِي مګر چه خواجه احمد ميمندِي وزير شه نو بيا ئي عربي ژبه روانه کړله * او دغه ابوالعباس دَ بادشاهت په

معامله کښې نهایت ښه پوهیده اوچه لس کالَ يُ وزیري وکړله نو بیا له دغه کارَ وکښلي شه + او له څنو تاریخ لیکونکو نه داسي معلومیږي چه ویلي يُ دي چه سلطان به ښایسته مریونه ډیر جمع کول او ابوالعباس هم د دي خبري مینه لرله نو یو وار ابوالعباس ته چا وُوِ چه په ترکستان کښې یو ښائسته مریي شته دي که يُ څوک راغواړي نو وبه شي راتلل يُ کران نه دي + ابوالعباس سړي ورپسي واستاوه راوئ غوښت چه سلطان خبر شه جوړ یو سړي يُ ور ولیکه مریي يُ تر طلب کړ + ابوالعباس منکر شه مګر سلطان څه بهانه جوړه کړله ناګهانه د ابوالعباس کوه لاړ شه + ابوالعباس په خدمت مشغول شه د سلطان خاطرئ خوشحالاوه په دغه مینځ کښې هغَه مریي هلک راښکاره شه سلطان په سبب دَ منکرېدلو وزیر ته په غصّه شه حکم يُ وکړ چه دي ونسيئ او مال يُ تالا کړئ بیا زر په زرد هندوستان په طرف روان شه او بعضي امیرانو په طمع د زرو همره سخني ورته ورسوله چه هم په هغي کښې مړ شه + او پس له هغه نه احمد زوي د حسن میمندي وزیر شه او دغه احمد دَ سلطان سره یو ځاي تي رودلي وه او هم ورسره سبقي وه +

او حسن میمندي دَ امیر سبکتګین په زمانه کښې دَ بُست حاکم وه خو هوري پرِ څه دوغلي ثابته شوله په حکم دَ امیر سبکتګین يُ په سولئ کړ + او دا چه په خلقو کښې مشهوره ده چه حسنِ میمندي دَ سلطان وزیر وه دا خبره ډیره غلطه او خطا دَه + او احمد د حسن زوي

ډېر خوش خط اوزیرک وه اول ئي کار د خطونو او د کاغذونو لیکلو کاوه بیا ورو ورو سلطان
په مرتبه مرتبه زیاتاوه چه دَ لښکرو مشرئي کړ بیا ئي څومُده پس تصرف د خراسان
د ښهرونو هم په لاس کښې شه او په هغَه وقت چه د ابوالعباس کار خراب شه نو
دي د هغه په ځاي وزیر شه اته لس کالَ ئي ښه ګذران وکړ + بیا یو ټولي دَ امیرانو
لکه التونتاش او امیرعلي یا نور دغه رنګ چه څوک وُو شا په شا ئي په ده پوري خبري
جوړولي ترهسي حدَ پوري چه د سلطان زړه ئي تر بد کړ او له وزیرئ نه ئي وکیښې
او یو بهرام نامه سړي ته ئي حواله کړ ورته ئي ووِچه دي بوزه او د کشمیر په دّره
کښې یو جنګي نامه سړي دي هغه ته ئي وسپاره چه دَ کالینجر په یوه قلا کښې ئي
بند کړي + دیارلس کالَ په هغه قلا کښې بندي وه بیا په زمانه دَ سلطان مسعود
کښې خلاص شه دَ وزیرئ مرتبه ئي بیاموندله او په سن څلور سوَ څلیرویشت کښې
مړ شه + او سلطان پس له څومُدي احمدحسین د میکال زوي وزیر کړ چه ډېر
هوښیار او بیحدَ زیرک وه او د سلطان د مرګَ پوري ئي دغه منصب نصیب وه +
اودَ تاریخونو خاوندانو له احمدحسین نه نقل راوړي دي چه په هغَه مُده کښې
چه سلطان محمود د امیر سبکتګین د وړاندِ دَ ابوعلي سیمجورِي په دفع کولو مشغول
وه نو په یو ځاي کښې ئي واوریدل چه دلته یو فقیر دي چه په ډېرو کراماتو او

په عبادت سره مشهور دي او خلق ورته زاهد آهوپوش (یعني پرېښودونکي د دنیا
او د هوسِي څرمن آغوښتونکي) وايي + او د سلطان فقیران ډېر خوښ وُو او احمدحسین
له دي کارَ منکروه نو سلطان ورته ووِچه ته خو د خلق نه مني مکر څما په تبعَ
راځه چه لاړ شُو جوړ دواړه ورغلل دَ زاهد ملاقات ئي وکړ + فقیر خبري دَ بزرګانو
په شان کولي دَ سلطان اعتقاد پرِ زیات شه ورته ئي وُوِچه که نقد یا جنس مو
پکار وِي چه په خدمت کښې حاضر کړو + فقیر لاس هوا ته پورته کړ موټي ئي
ډک د سرو زرو سلطان ته ونیو او ورته ئي ووِ چه څوک چه د غیب له خزانو
نه سره زر موِي نو بل چا ته څه حاجت دي + سلطان چه دا کار ولید نو ښه یقین
ئي وشه چه دا کرامت دي + بیا سلطان هغه زر احمدحسین له ورکړل چه احمدحسین
ئي تماشه وکړله مهر پرِ دَ ابوعلي سمجوري لګیدلي وه + چه د زاهد له مجلسَ
را پاڅیدل نو سلطان احمدحسین ته وُوِ چه دا کرامت دِ ولیده که نه + هغه
په ځواب کښې عرض وکړ چه زه له کرامتَ دَ ولیانو منکر نه یم مګر دا را ته
مناسب نه ښکاري چه سلطان دَ هغو خلقو سره جنګ کوِي چه دَ هغو مُهر
په آسمان کښې هم چلیږي + سلطان ووِ چه ما په حال پوه کړه دا څنګه چل
دي + هغه ورته زر وښول نود ابوعلي سمجوري په مُهر ئي نظر ولګیده

په ځان کښې کچه او شرمنده شه + لیکن د احمدحسین خبره بې ځایه ده ځکه چه داسې کارونه په حکم دَخدای سره دَ ولیانو له لاسَ ډیر شوي دي + بیا چه سلطان مسعود بادشاه شه نو احمدحسین ته ئې وویل چه ته چه له مکې شریفې راتللې نو د مصر د بادشاه خلعت دِ اغوستې وه او هغه ملحد وه نو ته هم باطنې (یعنې ظاهر مسلمان په کښې کافر) شوې یې نو په دغه بهانه ئې په بلخ کښې په سوئې کړ + او مشهور شاعران د سلطان په زمانه کښې ډیر وُو لکه عصایرې او فردوسې او مینوچهر او عنصرې او عسجدې او دقیقې او فرّخې داسې نور هم په مجلس کښې به حاضریدل + دا کتاب په ورځ دگُل په پنځه لسمه د ورستئ نور په سن دوه لس سوَ نه اتیا هجرې کښې پوره شوې دې ترجمه شوې له هغه کتابَ دې چه نوم ئې گلشنِ ابراهیمې دې او مشهور په تاریخِ فرشته دې او په سن یو زر پنځه لس هجرې کښې محمّد قاسم استرآبادې تصنیف کړې دې +

اې احمدَ که دِ زرکالَ ژوندون وِې عاقبت به له یارانو نه بیلتون وِې
بې له خدایَ همگې واړه فنا دِې که خپلوان دِې که آشنا که ناآشنا دِې

انتخاب

د تاریخِ مرصّع

تصنیف د افضل خان بنِ اشرف
خان بنِ خوشحال خان ختک

انتخاب
د تاریخِ مرصّع

ذکر په بیان د غرِي وخښِي کرلانزِي راتلل له قندهار دَ کابل و صوبي ته او دا ملک د پښاور وغیره نیول په دا وقت چه څه واقعات د نیک تدبیر شوِي دِي او بعضي تواریخ د خپل اُلس او د خانانو د هغو او خپل سرګذشت بیانول

نقل دي چه آخوند درویزه په خپل کتاب کښ چه تذکرة الابرار باله شِي لیکلي دِي چه شیربون نومیده د قندهار په لورِي پښتون وه دده دوه زوي وُو یو کِنْد یو زمِنْد نومیده + له کِند نه دوه زوي پیدا شول یو خښي دویم غري + د غرِي څلور زوي وُو یو دولت یار چه مهمند او داؤدزي دده له نسلَ دِي دویم خلیل دریم زیوان څلورم چمکِني + وایي چه څلورو وارو ورونړو یو مرِ حلال

کړي پوخ کړي وَه یو تر بله ئي وویشه دا یو ورور چه چمکني نومیده دا ئي د ښوروا له ویشَ هیر کړ ښوروا ئي دده بخره ورنه کړه دي آزرده شه د دري واړو له مینځَ جدا شه + تر اوسَ پوري ځني جدا دي متفرّق په هر ځاي میشت دي + زیرانِي هم له ورونړو جدا شوِي دِي د ننګنهار په تاجیک ماجیک کښ میشت دِي + اکثر خلق چه تِرخبر نه دِي ورته وایِي چه تاجیک دِي امّا دوي ښه خلق دِي + د خښِي دري زوي وُو یو مندي دویم مک دریم ترک + وایِي چه د خښِي ارتینه وَه مرجانه نومیده چه مندي او مک ددي دَ نسَ دِي او د مرجاني خور وَه بسو نومیده بي دیانته وه هغه هم د خښِي کړه ورنوته لکه د پښتنو دستور دي ورپسي متیزه شوه + په هغه آوان چه دین داري په کښ کمه وَه له هغي نه ترک پیدا شه ترک لاوري د هغي اولاد دي تر اوسَ پوري په دوي کښ متیزي ډیري کیږِي امّا نوره دینداري خو اوس لرِي + د مک یوه لور وَه ککاکِي نومیده خپل شپانه ته ئي واده کړه بزرکي یا زیرکي نومیده ککیاني له هغي پیدا شه د مک نور اولاد ونه شه ککیانِي ئي بولِي او دَ مند دوه زوي وُو یو عمر یو یوسف دا عمر ډیر مرد با دیانت وه ښهرونو ته لاړ یوه ښځه ئي د هغي زماني د ساداتو په نکاح کړه یو زوي ځني پیدا شه مندړ نومیده دي هم په هغه ملک کښ وفات شه + پس له یوه مدتَ یوسف دده ورور په طلب دده د

اهل و عیال ورغي چه را ئ ولي امّا هغي ارتيني دده سره تلل قبول نه کړه ورته ئ
وچه ستاسي رسم دي چه دورور ارتينه او مال چه له ورور پاتي شي په زور ئ
غصب کوئ دما رضا ده چه په يوه نکاح باندِ بل نکاح په ما ثابت نه شي لکه په
حديث کښ راغلي دي چه هره ښځه چه په اول نکاح باندِ اکتفا وُکا ثابته پاتي شي
فرداي قيامت به د نورو ښځو شفاعت کا امّا دير عهد سوکند ئ ورسره وُکړ دروانه
ئ کړه + او د يوسف پښه زوي وُو يو په کښ اريا نوميده از بس چه دير متکبّر او دير
مغرور وه بادِي به ئ باله اوس ئ هم اولاد ته بادِي خيل وايي + دويم عيسیٰ دريم
موسیٰ چه د الياس پلار وه ځلورم ملي پنځم اکو + نقل دي چه په هغه آوان په
پښتنو کښ دا رسم هم وه چه ځامن به ئ په حد د بلاغت ورسيدل د پلار د مور
مال به ئ يو تر بلَ قسمت کړ و پلار مور ته به ئ هم بخره برابره ورکړه القصّه د
يوسف ځامنو چه مال سره ويشه مور ئ ورته وويل چه دما بخره هم بيله کانړئ +
هغه نور ورونړه ئ لاخاموش وو هغه بادِي کم بخت واندام نهاني ته اشارت
وکړ چه دا واخله + مور ئ ورته بد دعا وکړه چه ستا اولاد تر ديارلسو کسو زيات
مه شه تر اوس پوري ئ اولاد تر ديارلسو کسو نه زياتيږي يو څوکس په چغر زيو کښ
شته دي + د الياس ځلور زوي وُو اول نسو بيا تاجي پلار د کدائي دريم سالار

خلورم ممي ثخبنتن د عايشي چه اوس ئي عاشي زي بولي + د اکو شپږ زوي وو خلور
له يوي ارتيني وو چه کوهره نومیده اول خواجو دويم بازيد دريم ابا خلورم شاوک او
دوه ئي له بلي ارتيني وو اول حليم دويم اتمان + د مولي خلور زوي وو دوه د يوي
ارتيني چه وتي نومیده اول دولت دويم چغر دوه ئي له بلي ارتيني وو چه نوري نومیده
يو ابا دويم ايسوري + اود عيسیٰ يوولس زوي وو + يوه ورځ د آسونو کله د مندر
مغلو په تاراج بوتله عيسیٰ له نه زويو سره پسي سور شه تر اولس وراندِ پسي
ورغي واړه دَ مغلو له لاس شهيد شول + مسله دَه چه په خپل مال پسي ومري
شهيد شي + له هغو جملهٔ دوه زوي دده پاتي شول يو حسن دويم يعقوب + چه
عيسیٰ مړ شه ارتينه ئي حامله پاتي وَه زوي وشه نوم ئي اکا کنبينس + د مندر خلور
زوي وو اول مامو دويم خدر دريم رجړ خلورم مندو + القصه پښتنو ملک دَ
قندهار يو تر بلَ قسمت کړي وه حصه د ترينو په مينځ کښ دکِند اود زمِند واقع
شوي وَه يو تر بلَ دَ دواړو ورونو حمايت نه رسيده په استوګه خبني ترغرِي وترين
ته نژدي وه چه بخره ئي د ارغسان واله وَه او هغه واله نژدي وترينو ته وه + دَ
ترين اود خبني تر مينځ عداوت پيدا شه ترين پرِ غالب شه بعضي خبني ئي مړه کړه
بعضي ئي بي ځايَ کړه + هيڅ زمند او غزي په حمايت د دوي ونه رسيده آخر رجوع

ئې وغړي ته وکړه یوه زمکه ئې ورکړه چه نابوده وَه بود ئې هیڅ نه وه + وایي چه دَ قندهار په زمکه چه وقت د بهار شي بارانونه وورې انواع سبزه زار او علف زار پرېږدي وشي چه ګرمي د اهار پرِ ښکاره شي هغه سابه وابنه په زمکه ورژېږي ترکالَ پوري هغه ګیا په زمکه ریژیدلي وي مال موبشي ئې خوري ساعت پرِ تیروي او که په دا میان کښې د پشکال باران پرِ وشي ګیا واړه سیلاب یوسي و مال موبشي ته ئې سختي پېښه شي + قضا هغه کال باران دَ پشکال وشه د غړي مال ته سختي پېښه شوه + هغه زمکه چه ئې وخښي ورکړي وَه په زور په جنګ په جدل ئې له خښي رانیوه خښي له هغه ځایَ بې ځایَ شه په یوه بل ځاي راغي پرِ میشت شه چه هغه ځاي ته کاروان تنګي وایي + بیا هسي په حادثو را روان شول و کابل ته راغلل اتمان خیل دتګ دګومل له لوریَ د خښي سره یو ځاي راغي او همیشه به د خښي سره په حمایت په مدد مل وه تر اوسَ پوري + او مهمندزي له زمندونه دي په څه سبب له خپلو ورونړو آزرده شه له خښي سره روان شه تر اوسَ پوري روزګار ئې د خښي سره دي امّا خښي دده سره نیکي نه کا +

راتلل د خښي و پېښاور ته له کابلَ په حادثاتو

نقل دي چه څوکالَ خښي په فراغت په کابل تیر کړه دولت مند شول مال ئې

دیر شه اولادئ دیر شه + دا دستور دي چه په بنه ملک کښې دولت حاصلیږي
واپي چه په هغه آوان کابل د میرزا الغ بیک په تصرف کښې وه چه د میرزا امیر
تیمور له اولادَ وه په سن اته سوَ پوولس شاه‌رخ سلطان چه د امیر تیمور زوي
وه په هرات کښې دخراسان بادشاهي کوله + میرزاخلیل نمسي د امیر تیمور په
ځاي د میران‌شاه چه زوي د امیر تیمور وه په سمرقند کښې د ماوراءالنهر بادشاهي
کوله دخپلو امرایانو دِ لاسَ په سمرقند کښې په قید شه + هرکاه چه شاه‌رخ په
هرات کښې دا واوریده لښکر ئي وکړ په سمرقند داخل شه + میرزاخلیل چه د
امرایانو دِ لاسَ په قلعه شاه‌رخیه کښې په قید وه له سختئ ئي داغزل شاه‌رخ سلطان
ته وکوینښې چه سرئي دا دي - یَا وَاهِبَ الْعَطِیَّةِ یَا مُقْضِيَ الْمُرَادِ - ما طاقتِ فراق ندایم
زین زیاد - شاه‌رخ سلطان چه دده تره وه له حبسَ ئي خلاص کړ ورسره ئي
هرات ته بوت ډیره مهربانئ ئي پرِ وکړه او سلطنت او حکومت ئي د تختِ سمرقند
په خلف الصدق د امیرزاده الغ بیک وسپاره روان شه + چه په جیحون پورې
وت خداداد جسته بردي بیک چه میرزا خلیل ئي په قید کړي وه له سمرقندَ
فرارِي شول + شاه‌رخ سلطان میرزا چه سمرقند دده په تصرّف کښې کړي وه آخوند
درویزه نوم دهغه شاه‌زاده عِلي قلي کښلي دي شاید زوي د میرزا الغ دي + دا مقدمه

نجوا د بابر بادشاه د راتلو له ولایت فرغانه نه وَه ٭ چه بابر بادشاه له ذوالنون ارغون
له زوي چه مقیم ارغون نومیده واخست او په چل تصرف ئي راوړ پښتانه دا ملک
د پښاور واړه ښولي وه ځاي په ځاي پرِ میشت وه ٭ هر کله چه درست خبي وکابل
ته راغي یو مدت ئي په کابل تیر شه مال مویشي دولت فراغت ئي روزي شه او په
دولت په فراغت سره اولاد ډیریږي خصوصًا یوسف زي او مندړ ډیر شه فساد ئي آغاز
کړ د کابل عالم به ئي ډیر ډیر آزاراوه مالونه به ئي راینول نامناسب کاروونه به ئي کول
نور پښتانه به ئي په نظر کښ نه راوړل ٭ او له شاه زاد میرزا علي قلي بیک به ئي ډیره
نه کړه هیڅ حجاب به ئي ځني نه کاوه بلکه د ده سړی به ئي هم آزارول د ده په دیوان خانه
کښ به کښیناستیدل نالایقي خبري به ئي کړي ٭ ازراهِ ضرور ئي مرزا په دا پله راوست
چه د دوي سره جنگ وجدل او د ښمني وُکا یو څو ئي ځني مړه کړل بعضي ئي ځني
تاخت کړه ٭ القصه چه پښتانه فرار شول د کابل د غزونو په درو ننول ٭ په هغه
آوان د پښتنو دري شیخان نامدار وُو دوه ورونړه وُو یو مداد دویم مدد دا دواړه
د عیسیٰ زي د قبیلي نه وُو ٭ بل شیخ عثمان مولوی زي وه دا درست اُلس مداد او مدد ته تول
شه چه تاسي مونږ له علم غیب خبر کانړئ چه د اُلس به څه حال شي او تاسو له
دي واقعي چه تیره شوه ولي مونږ خبر نه کړو چه فکر او سرانجام مو د چل کار کړي

وي چه مونږ ته دا هوښره زیان پیښ مه وي + دوي دواړو ورته وویل چه اول تاسو
شیخ عثمان مولي زي مړ کانړئ پس له هغه به مونږ جواب وکړو چه همیشه ئ له اُلس
انعام او اکرام مونده ولي اُلس ئ له دي واقعي ته نه خبراوه یا دا اُلس نذر نیاز ده ته
ور وانړئ یا مونږ ته + آخر د شیخ عثمان په مرګ خبر شول + شیخ عثمان ورته وُوِ
چه پخوا هم له دي واقعي آګاه وم امّا لاس م د خدای په کړه نه رسیده اوس له دي
په هم تاسو خبر کړم که مانه وژنئ + چه له مرګ ئ خلاصي بیامونده ورته ئ وویل چه
ستاسو به له میرزا سره عظیم جنګ وشي امّا فتح به ستاسو وي + مدد او مدد
هم دا رنګ ورته وُوِ امّا د پیاده‌ؤ سردار دِ له مونږ نه یو وي + پس د جنګ په ورځ
د پیاده‌ؤ سردار هم له دوي وه هم هغه هسي وشول + پس له هغه به پښتانه له
هغه غره راتلل رعایا به ئ تاخت تاراج کول مرزا بله چاره بي له صلح ونه لیده سړي
ئ نز میان کړه را وُیئ بلل طحامونه او سروپایونه ئ ورکړه ورته ئ وویل چه دِ ماکور
هم ستاسو خپل دي + پښتانه چه په عقل کښ سازدار دِي ځکه دیر نفساني دِي په
لږ سود مقصود دیر بهبود تر شا کوِي + ورځ په ورځ به کد خدایانو د اُلس مرزا ته
آمد و رفت کاوه یوه ورځ اته سَو کس ورغلل هګي بي وسلي یو محمود د محمّد چغرزي
زوي یوه چروکئ په چپل ازار کښ دِي وه چه ور ننوتل د میرزا بدنیتي ئ ولیده +

هغه دي نورو وتہ وُوِ چه که وايئ نو زه به مرزا مرکړم + هغو نورو منع کړ چه حقِ نمک ساتلي بويه شايد د مونږ سره بد نه کا + دا چغلي جنګا ګګياني کړي وَه چه دا هونبره ډير به يو ځاي بيا نه موجي او له دوي نه به په نيکئ خلاص نه شي دا وخت غنيمت وګڼړه او واړه قتل کړه + واړه ئي وتړل يو يو ئي وژي په هغه وخت د دوي د لويو ملکانو سلطان شاه وه د مرزا په خدمت ئي عرض وکړ چه دوه التماس آرزو لوم که قبول شي + مرزا وُوِ چه قبول دي + اول ئي دا وُوِ چه وداره خما ملک احمد له دي قيدَ خلاص شي بادشاه ئي خون معاف کا بل دِ د اُلس بند د اطفال وته شي بلکه پريږدي هر لورته چه درومي + مرزا قبول کړه مرزا ورته وُوِ چه خما ګمان دا وه چه ته به خپل سر غراري يا به سل دوه سَوکس ځوانان نور غواړي + ده ورته وُوِ چه تر دي واړه احمد بهتر دي او چه دا هونبره عزيزان م مري زه به خپل سر په خو خلاصوم تر دي واړه اول زه بنه يم + لکه ګمان په ملک احمد باندِ وه هسي کارونه د ده د لاس وشول + القصه پس له هغه باقي مانده اُلس د يوسف زيو به معهٔ توابع ولواحق وننګهار ته راغي تپه د ترک لانړي په لمغان کښ متوطنه شوه يو مدت په دا تير شه د يوسف زيو د محمد زيو تر ميانَ عداوت پيدا شه په موضع حصارک ئي يو تر بل عظيم جنګ وکړ آخر الامر فتح د يوسف زيو شوه + آخر پس له يوه مدتَ يوسف زيي

له ننګهار کوچ وکړ ننګهار ئې و محمد زیو ته پریښ او تپه دګلیانې په باسول کښې پاتو
شوه یوسف زیي بعضی عالم وایي چه باجوړ لوه راغلل یو حد دوي د باجوړ وینو لږ ډیر
جنګ ئې د باجوړ د عالم سره وکړ یا ئې باجوړ خوښ نه شه یا ئې توان نه لیده ځني
وجاروتل + ملکان ئې راغلل د دلازاکو سره ئې په سفید سنګ جوګه وکړه زمکه ئې ځني
وغوښتنه دلازاکو زمکه ورکړه پس له مدت دیوسف زیو د دلازاکو سره عداوت وشه لکه
پخوانې بیان شوي دي + اما په قول د آخوند درویزه یو شان روایت دادي چه له دلازاکو
سره ئې جنګ وکړ دیر یوسف زیي ومړل له هغه نه د یوسف زیو اُلس د تحترو او د
شلمانیو په غره راغلل له هغه نه ئې د دلازاکو سره صلح وکړه په حدود د پښاور ننوتل
دلازاکو د دوی سره دیر لطف او احسان وکړ + بعضی عالم وایي چه د خیبر په لار پښاور
ته را ننوتل جوي بربر ئې له شلمانیو وغوښت شلمانیو د دلازاکو په قوت منع کړه چه
د دلازاکو الفت او برادري د شلمانیو سره وَه پخوا ئې پښاور بنولي وه لکه ذکر ئې
شوي دي + بیا د شلمانیو او د اُلس د یوسف زیو سره عداوت وشه سره ئې جنګ
وکړ فتح یوسف زیو وکړه کوچ ئې وکړ دوآبي ته راغي له دلازاکو نه جدا شه بعضي دلازاکو
د یوسف زیو سره عداوت واخست په هغه سبب طاقت ئې د پښاور د استوګي نه وه +
پس د یوه مدت ئې د هشنغر د شلمانیو سره عداوت وشه سره ئې جنګ وکړ فتح

یوسف زیو بیامونده خلو نام شلماني چه سردار د شلمانیو وه هغه ئې مرکړ باقي اُلس ئې له هشنغرَ وشاره وسواد ته لاړل د سواد سلطان دوي لره ځاي ورکړ الله ورند باندې واچول + نقل دي له آخوند درویزه چه له یوه چغرزي نه ئې نقل کړي دي چه دخلو شلماني په مرګ زه حاضروم چه سر ئې د ده پري کړ هونبره ډیره بوزه ئې ځښلي وَه چه د مریئ تر وینو نه ئې بوزه ډیره را توبه شوه - نَعُوذُ بِاللهِ مِنْ ذَالِکَ - (یعني پناه غواړم په خداي سره له دغه کارَ) یو مدت اُلس د یوسف زیو په هشنغر کښ متوطن شه +

راتلل د غوریه خیلو له قندهارَ

نقل کا چه په یوه سبب یا د هزارهؤ له میرځئ تنګ شول یا د مغلو له بدیئ د قندهار له ملکَ متفرقه ټپه ټپه را رواني وي په کابل په ننګهار ئې مکان وینوه چه جمعیت ئې وشه خانه کوچ پیښاور لره راغله + په پیښاور باندې دلازاک وه مناقشه ئې سره وشوه د سلطان پوري په کلي چه اوس ئې هم عالم د جنګ وَرَئي بولي جنګ سره وکړ دلازاکو شکست بیاموند څه په تیغ مړ شه بعضي ډیر عالم د هزارخانئ نالي غرق کړ چه تیزندیئ کنده ئې بولي + د جنګ په وخت یوه پرچه د اوریځي را بنکاره شوه باران په سرحد د نالي وشه ناله راغله او که نه چل قوت د اوبو د هغي نالي

نشته ٭ هسي نقل کا چه هغه زمان باران په هیڅ ځاي نه وه مګر په سرحد د
هغي ټالي سُبْحَانَ اللهِ (یعني پاکي ده خداي لره) +

چه دِ خوښ ټي ماتول د دښمنانو هاتي‌وان او هاتیان وژني په مرغانو

فتح له جانبَ د ده وَه مدد له طرفَ د ده + ویلي دِي حق تعالي ـ وَمَا رَمَيْتَ اِذْ رَمَيْتَ
وَلَاكِنَّ اللهَ رَمَي (یعني نه دِي ویشتلي تا په هغه وخت کښ چه ویشتلي دِ دِي لیکن خداي
ویشتلي دِي) + دلازاک له پښاورَ بي پایه شه بیاد یوسف‌زیو تر سیندَ پورِ شه په
لنګرکوټ په سمه په کلپانئِ ئي وارول + یو مدت په دا تیر شه بیا د یوسف‌زیو
د دلازاکو سره میرڅي شوه یوسف زي په درست څښي وګرزیده ور سره ئي مل کړ
د دلازاکو سره ډیر جنګونه وشول له کلپانئِ ئي دلازاک بي پایه کړ + نقل دي له آخونه
درویزه چه د دلازاک په هغه آوان په میره د لنګرکوټ استوګه وَه د یوسف‌زیو په
هشنغر وَه او په دا سبب چه دلازاکو د لنګرکوټ ګِرد نواحي میره نیولي وَه چه په د
یوسف‌زیو مال مویشي و میري ته په چراګاه ورغي تاخت وتاراج به ئي کړ که څوک
به ئي په سود په سودا ورغي هم به ئي آزارده همیشه به د دلازاکو د لاس په تنګ وه +
ملک احمد مصلحت وکړ چه بویه رجوع و خښي ته وګرو اګر چه که د مهمندزیو
سره یو تر بله ئي وژلي وُو امّا چه دا ننواتي ورغلل شرط ئي د برادریِ د ملګبریِ ور

سره په ځاي راوړه ٭ امّا ګکیانو وویل چه ملک د دوآبي ځما مهمندزیو وویل چه ملک د هشنغر ځما ٭ یو ترک لاښي در سره ملګیري و نه کړه ولي اتمان خیل ور سره ورو د دلازاک سره ئي په دا جنګونو بنه تردد وکړ ٭ وایي چه اتمان خیلو د غواؤ میښو څرمنی سازي کړي وي د جنګ په وخت به ئي په مخ کښ وړي چه غشیو به پرِ کار نه کاوه ٭ تمام خبني د کیدو سره را وکښښ د ګدر په رود ئي واړول بله ورځ دلازاک د لنګرکوټ له لوري په قصد د جنګ را دوتل جنګ ئي سره یو تر بله وکړ د دلازاکو د لوریه به ډیر د غشیو ګذارونه کیدل ډیر خبني ومړ ٭ آخر په جنګ د تورو سره ورغلل اول څوک چه د ګدر په رود پورِ شه زوي د زنګي دلازاک مړ کړ بشیر زوي د علي اسمعیل زي وه ٭ پس د هغه د یوسف زیو قصد د سوات د آخستو وشه پس د یوه مدت ملک احمد او شیخ ملي مصلحت دا وکړ چه د سوات په لوري خانه کوچ کوچ کړي بویه ٭ واړو په اتفاق سره کوچ وکړ د شاه کوټ د غاښي په خواکښ ئي واړول یو څو ورځي ئي هغه ځاي تیري کړي سوایتو به شب و روز د هغه غاښي څوکئ درله اوله نورو غافل شول ٭ یوه شپه یوسف زیو سره مصلحت وکړ بنځو ته ئي وویل چه سندري آغازي کړئ او په سندرو کښ به ئي د چلو مردانو صفت کاوه او د سوایتو به ئي ذم کاوه په دا مضمون چه سوایتو خبردار شئ صبا به در سره جنګ وي ٭ سواتي

وپوهیدل چه صبا به دوي هم په دا غاښي جنګ راوړي امّا بقیّه لښکر چه ئې څه وه
هغه ئې هم د شاه‌کوت غاښي ته جمع کړ + یوسف زیو په شپه یلغر وکړ د ملکنه
په غاښي د سوات ته واوښتل + هره ورځ به ئې په سوات کښې جنګ کاوه په مخ کښې
ملک به ئې لاندې کاوه تلل تمام په دولس کالَ کښې درست سوات ئې وینو د تلاش
د باجوړ په جنګ د جدل مشغول شول تر هغه ملک ئې هم وینو + نقل دي چه
د تالاش په جنګ دکاټ کلي په کلي برمزید نومیده مندیره آس ئې په دښمن وزغلاوه
دولس نیم ګزه ئې تر کندي توپ وکړ دښمن ئې په نیزه وواهه مړ ئې کړ + پس له هغه
بنه ملکونه د یوسف زیو په لاس کښیوتل په فراغت په آرام ئې ساعت په کښې تیراوه +
اګرچه عالمان په کښې کم وُو په هر حال ئې په متابعت نبوي کښې ګذران کاوه دوي
هم الله تعالي بنه ساتل او بل ملکان سرداران د دوي د بادشاهانو د دیوان خاني
منع نه وُو آمد ورفت به ئې کاوه + لکه ملک احمدْ به اکثر له سواتَ وکابل ته ورغي
هره خدمتګاري به ئې د بادشاه په ځاي راوړه تر هغه پوري چه نوبت د خانئ په خان
کجو راغي بیا د یوسف زیو د غوریه خیلو سره په شیخ پتور باندې عظیم جنګ واقع شه +
نقل دي چه دولس زرَ سواره د غوریه خیلو په هغه آوان کښې وُو تیرسو سواره
ابلق سوار یو د خیلو په تپه کښې وُو په دا جنګ کښې اکثر پریوتل + نقل دي له آخونه

درویزه چه د یو سواره د آس په زیربند باندې په هغه جنګ کښې دولس غشي لګ وُو د خلیلو تپه په غوریه خیلو کښې له هغې ورځې کمرتونه پاتو شوه + وایي چه اکثر ومړل او بعضي کورونه هسې خالي شول چه ښځو ئې مریونه په سرو وینول یو نیم چه ځوک د غوریه خیلو ژوندي د یوسف زیو په لاس کښیوت یوسف زیو د نامه دپاره په برغولي خرڅ کړ پس له هغه غرور او نخوت د یوسف زیو دیر شه دیښونه مذهبونه مخالف په کښې پیدا شول ځوک د ملنګانو سره عیسائي شول ځوک په مذهب د پیر روښان شول چه پیر تاریک ئې بولي +

ذکر په بیان د خپلو انسابو او احوال دخپل اُلس چه له یوه ځایَ بل ځاي ته په سبب د حوادثو د روزګار نقل کړي دي او هر چه په دا مینځ کښې واقعي شوي دِي +

د خان علیین مکان خوشحال خان نقل دي چه ئې په بیاض کښې په خپل دستخط کښلي دِي چه اُلس د ختک داخل د اُلس کړلاني دي تر کړلان پوري او خمونږ تر اولادَ پوري ښل پیرئ رښي + افضل خان د اشرف خان د خوشحال خان د شهباز خان د یحیٰي خان د ملک اکوړي اکوړي د درویش محمّد چه مشهور په چنجو دي چنجو د تمن تمن د حسن حسن د شیخ علي شیخ علي د عطا عطا د پیتي پیتي

د اتو اتو د برکویت برکویت د تري تري د تورمان تورمان د لقمان چه مشهور په ختک
دي لقمان د کیکي کیکي د کرلان کرلان زوي د هوني دي هوني داخل په اولاد د سرین
دي چه له اولادَ د شرکبون دي دا قصه طول لري امّا مجمل او څه لاُبدّي کښلي شي +
ولي چه په زمکه د ایلاق او د قشلاق کرلان له مورَ تولد شه سبب د واقعي و
احشامات ته روان شول دي ئي هیر شه هرکاه چه ور یاد شه ورمر چه ورور د هوني
وه په طلب د وراره وجاروت بیا ئي موند یو دیک هم هورته د دوي نه پاتو شوي وه
کرلان ئي په دیک کښ راچاوه دیک ئي په سر واخست و احشامات ته ئي راور ٭ دورمر
خپل زوي نه وه و هوني ته ئي وُوِ ما دا ستا زوي په ډیر مشقت تر دا ځایَ راور ته
ئي مه آخله زه به ئي پرورش کوم دا دیک ته واخله + هوني راضي شه هرکاه چه
عوض معاوضه ئي په دیک وکړه او پښتانه دیک وته کړهي واپي دي په سبب د کړهي مسما
په کرلاني شه ٭ هرکاه چه عاقل و بالغ شه ورمر لور په نکاح ورکړه اولاد ئي ډیر شه
خو کروَه خلق دي واره منسوب په کرلاني دي انشاء الله (یعني که رضا وشي د خدای)
شرح د دي احوال به په خپل محل راشي + اما په زعم د دلازکو چه په کرلاني کښ دوي
لوي اُلس دي دا رنګ دي چه دوي کرلان ته سید حسیني واپي په دا ترتیب چه کرلان
د سید قاف سید قاف د سید رجال سید رجال د سید خاتم سید خاتم د سید

اسمعیل سید اسمعیل د امام جعفر صادق امام جعفر صادق د امام محمد باقر
امام محمد باقر د امام زین العابدین امام زین العابدین د امام حسین امام حسین حضرت
علي کرّم الله وجهه (یعني بزرګ دِ کرِي خداي مخ د ده) + هرګاه چه اُلس د دلازاکو ارشد
په اولاد کښ د کرلان دي لږ څه به يُ له انساب په دي محل کښ وکښل شي نسب
د دي قوم په برهان ورځي د کرلان دوه څامن وُو يو کودي دويم کګي + برهان او ورک
دواړه څامن د کودِي دِي ورک زي او دلازاک دواړه په اولاد د کورِي ورځي دلازاک دوه
طايفي دِي لوري او يعقوب اُلس د لورِي زيات وه اُلس د لورِي دري تپي کيږِي
عمرخيل احمدخيل وتک زي شجرهم داخل په لورِي دي + د يعقوب دوه څامن وُو
ذکريا او اما حيدر او سني حسيني دواړه داخل په امادِي سيصده درته راِي + د
ذکريا څلور څامن وُو يٰسين مندي مرتي ماني له هر يو نه جدا جدا اُلس پيدا شه
يسين خيل مندي زي ذکر به د ورک زِي په چل محل کښ راشي + د کِګي څلور څامن
وُو لقمان اتمان عثمان جدران دا څلورواړه اُلس په يوه له څامنو د کِګي
منسوب دِي + اتمان او عثمان له يوي مورَ دِي او لقمان له بلي مورَ دي امّا
دوي واړه له يوه پلارَ دِي او جدران توه د دي دري واړو وه اُلس د اتمان خيل چه
په سوات باجوړ ارهنګ برهنګ ميشته لِري له نسلَ د اتمان دي + او اُلس د افريدي

چه په تیراه او باړه او خیبر استوګه لري له اولاد د عثمان دي ٭ او اُلس د چنګ
چه په سرحد د یوسف زي تر عیسیٰ خیلو پوري په غاړي د آب سیند پراته دي له
نسب د لقمان دي ٭ چوتره او لواغر او تل دینو او کربوغه او کرکره دا وطن د دوي دي ٭
وایي چه اسم د لقمان په دا سبب په ختک شهرت بیاموند چه لقمان او اتمان
او عثمان او جدران خلورواړه ښکار ته لاړل دوي خلور جونه له قبیلی د افغان صحرا
ته وتلي وي یو د بله پیښ شول دوي دُو چه راشیُ په خلورواړه د خلورواړو هسک
واچُوو دا لوي ښکار دي ٭ لقمان په کښ مشر وه په هسک راضي نه شه وي ویل
چه اول به زه یوه په غوره واخلم په نورو دوي واړه هسک واچویُ هم هغه رنګ ئي
وکړل لقمان په خلورو واړه کښ چه په ښه پوشاک آراسته وَه هغه په کښ وینوه
امّا چه ئي ولیدَه حسن ئي موافق د لباس ته وه ٭

په پټ مخ په ښه جامه ئي خوان خطا شه چه پرده ئي کړه تره پورته پیښ په یا شه
هغه نوري په ښایست په زیبائي تر دي بهتري وي نورو ورونړو ئي هسک پر وکړ
موافق د هسک ئي خپلي کړي ٭ هرګاه چه احوال د لقمان ورته معلوم شه په خدا
خدا ئي دُو لقمان په ختي لاړ ٭ مثل دي د پښتنو چه څوک په یوه سبب درمانده
شي وایي چه په ختي لاړ په دا سبب نوم د لقمان ختک شه ٭ او عثمان ته په

دا سبب افریدي دایي چه میلمانه د ده کره راغلل دي ډیر حقیر او کنجي او پریشان ده وخت د ژمي وه دوي له سردیئ یو د بل نیژدي ناست وُو میلمنو تر پینتنه وکره چه دا څوک دي + دوي وُو وا هم آفریده دي یعني خلقت د پروردګار په دا سبب نوم د عثمان آفریدي شه + له نسل د هغو څلوروواړو جونو اولاد د لقمان او عنبر ډیر شه هغه جل چه لقمان چیل خان ته عوزه کړه او نوم ئي د ختک د دي په سبب بیامونده وایي چه نوم ئي سباکه وه رنګ ئي تور وه قوي هیکله هوښیاره وَه دده فرزندان د لقمان تر پیدا شول یو تورمان بل بولاق تورمان د پلار په رنګ وه او بولاق سیاه فام وه په رنګ د مورهپه ځایي د پلار تورمان کښیناست له ده دوه څامن پیدا شول یو تري بل ترکي په میان د دیو دواړو ورونړو تري قابل شه نوم ئي د پلار ژندي کړ اولاد د تورمان واړه دده په نامه نومول شي + د تري دوه څامن وشول برکویت او امیر د برکویت دري څامن شول اسمعیل او امیر او اتو + او د ترکي چه زوي د تورمان وه دوه څامن تولد شول ایسو او یوسف + او په میان د تري د اولاد اولاد د اتو او د امیري ډیر شه او اولاد د رجز په میري ورځي + او د اتو چه زوي د برکویت دي دده څامن پیدا شول یتي او مهمند او د یتي دوه څامن دي هوتي او چیني + او د هوتي څلور فرزندان دي فتح او شیخ علي او کمیل او مژي + د شیخ علي زوي حسن دي د حسن څلور څامن تولد شول میم او محمود او

کریم او تمن ٭ د تمن اته خامن پیدا شول درویش محمد چه په چنجو مشهور دي
بارک مندا دري ناصر شاهد او شیخ احمد ملي او خواجي ٭ چنجو ته حق تعالي پنځه خامن
ورکړل یو ملک آکو او مجوري او میرداد او مژي دا څلورواړه له یوي مور دي چه مور
د دوي اوریاخیله وه پنځم غازي خان مورئ بنکښه وه ٭ ملک آکو ته حق تعالي اته
فرزندان کرامت کړه یحیي خان چه له مور کښي وه او مور ئي میژه خیله وه نوم ئي
تاروکه وه ٭ بل نظام هم له مور کښي وه مور ئي بولاق وه نندرکه نومیده ٭ بل یوسف خان
هم له مور کښي وه نوم ئي د مور دردانه وه له اُلس د غوریه خیلو له طرف د مهمند
وه ٭ بل تاتار خان چه مور ئي ام الولده وه ٭ بل خضر او عبدالغفور چه غفور بیک ور
ته وایي دواړه له یوي مور رُو مور د دوي هم ام الولده وه پنجو نومیده ٭ بل طاؤس خان
چه مور ئي پائي نومیده چینئ وه ٭ بل مصري چه مور ئي څلوزئ وه پس له فوت
د ملک آکو چه ملک آکو او یوسف خان د بولاق د لاس شهید شول یحیي خان په ځاي
د پلار په اتفاق خد تري د اُلس کښیناست ٭ او نظام په حیات د پلار په ځوانئ مر
وه ٭ او یوسف خان چه نوي واده کړي وه یو لور ئي وه فاطمه نومیده ٭ یوسف خان
ډیر تهور وکړ خان ئي پلار ته ورساوه امّا چه بخت ئي یاري و نه کړ کوښښ ئي فائده
و نه کړه د پلار سره ئي شربت د شهادت وخښښ مذکور به ئي په چل محل

راشي ٭ یحیٰ خان له کشرانو ورونړو سره چه هیڅ یو لا بلوغت ته رسیدلي نه وه په قصاص ئي د پلار ملا وتړله په مدد اُلس ئي رنړا ورځ په دښمنانو توره شپه کړه انتقام ئي د پلار واخست دښمنان ئي نیست نابود کړه ٭

چه توانیږي دښمن وژنه په تلوار فرصت دیځي له خاطرَ کرد غبار

یحیٰ خان ته حق تعالیٰ یورلس ځامن عنایت کړه اول شهباز خان چه دا ئي تاریخ د تولد دي ٭

شهباز خان د یحیٰ خان ښکلي فرزند وه په جنګ کښ د رستم هیي ځرګند

چه تاریخ د زیږیدو د ده م وغوښت عقل وِ چه شهباز خان اجل بلند

سن د هجرت پوره زر وه ٭

بهادر خان عالم خان له یوي مورَ وُو قذیفه نومیده اسمعیل خیله وَه ٭ او آدم خان له مورَ یکه وه مور ئي مهمندیئِ وَه ٭ دافروز خان مور کهترا وَه نیک زنه نومیده له یوسف خانَ کُنده پاتو وَه یحیٰ خان په نکاح کړه ٭ او شریف خان او جلال خان چه مور ئي بولاقه وَه لور د نازو خان وَه چه کشنده د ملک اکو وه په بند کښیوته نوم ئي خانووه ٭ او محمّد خان او شادِي خان مور ئي ام الولده وَه رانِي نومیده ٭ او عبدالله خان او حکیم خان مور د دوي پیرخیله له اولادَ د شاه اسمعیل تغرِي وَه پیرخیله به ئي

ورته وي + د یحیي خان سوا له دیو ځامنو اته فرزندان نور وُو په طفولیت مړه شول + پس له شهادت د یحیي خان شهباز خان قایم مقام په ځاي د پلار شه د شهباز خان ځلور ځامن لوي شول یو خان علیین مکان چه ئ تاریخ د خپل ولادت په فارسي په پښتو پخپله ویلي دي چه د فارسي ترجمه دا ده +

په دویمه خورکښ راغي خوشحال خان چه نصیب ئ شه مکان په دي جهان

له هاتف ئ تاریخ هسي معلوم شه چه دي خیر د عالمیانو دغه ځوان

دا تاریخ ئ په پښتو دي

د هجرت زر دوه ویشت سن وه چه زه راغلم په جهان

بل جیبل بیګ چه سکه ورور د خان علیین مکان وه مور د دوي ځلوزيُ وَه بل شمشیر چه مور ئ امیره وَه بل میرباز چه مور ئ مهمندزيُ د نوښهر لور د ملک باري وَه پس له شهادت د شهباز خان نوبت د سرداريُ په خان علیین مکان راغي +

ذکر د ختک د مکان چه له کومَ راغلي دي او کوم کوم ځاي ئ سکونت او توطن نیولي او تخمیناً حساب ئ د کورونو

اول سکونت د ختک په غره د شمال ره چه وطن د ورینر دي + له هغه نه ئ

نقل و بنو ته وکړ له هوڼي او منګلي سره آسیتده ٭ هرکاه چه اُلس د هوڼي او منګلي له عداوتَ د شتیک او کیوي اخراج شه هندوستان ته لاړل ختک د شتیک سره سکونت کاوه واله د صدرون د ختک په تصرف وَه ٭ پس له هغه په سبب د عداوت په لور د لواغره د جونو غره او دَ تیري او کربوغي او شیشم او چوتري او الاچي او شکردري لره راغلل تر ینلابَ پوري ملک ئي تر خانَ لاندِ کړ ٭ شیر خان سوریاخیل او تپه د ببرو و سوینالي ته راغلل پس له یوه مدتَ آواز د شیر خان ور ته را ورسیده چه وسیع ملک ئي په لاسَ کښ ٭ انوخیلو هم پیی کوچ وکړ چنجو هم د کربوغي کوچ وکړ په شیخ تنګي ئي وارول رفته رفته انوخیل دلته راغلل ٭ نقل دي چه کوهاتَ تر ریسئِ پوري ا ملک د ورک زیو وه بنګښ پرِ دپاسَ راغي د ورک زي سره ئي جنګونه وکړه ختک هم د ورک زیو سره آزرده ګي وَه رفاقت ئي د بنګښ وکړ تر کوهاتَ پوري له دا ملکَ ئي ورک زي پاخاره بنګښو ونیوه ریسئِ پتیاله زیره تر تورَچیرَ بورَچیرَ پوري دا ملک ختک ونیوه ٭ پتیه خیل په کربوغه میشت وه د کربوغي ته ملک اکو د عزیزانو نه آزرده شه وخوري ته راغي په خوره باندِ ماندوري میشته وُو ملک اکو میشته په کوازدره وکړه ٭ بیا ملک جاني چه په هغه وخت سردار د پتیه خیلو وه عزیزانو پرِ عرض وکړ چه ملک اکو دِ په ناحق آزرده کړ بویه چه پخلا ئي کړي رائي ولي ٭ دي پیي راغي ملک اکو ور سره نه ته د ملک

جاني هم دا ملک خوښ شه چه بیارته ورغي د درسمند عالم به هم په دوي باندې زور زیاتي کاوه + فکر ئې وکړ چه که زه دا اُلس له دي ځایَ بیایم وطن خوږ دي خوک به را سره لاړ نه شي د بنګښ سره یو بدي وکړم چه دا عالم واړه را سره خانه کوچ روان شي + د درسمند په بنګار بنه بنه عالم را وتلي رُو په طریقِ معهود د دوي وکلي ته راغلل واړه ئې قتل کړه نور ئې له هغه ځایَ کوچ وکړ په شکردره ئې وارول + د ماغ آوان پرِ خبر شول ملاحظه ئې ځني وکړه چه د مونږ ملک به ونسي تاخت ئې پر وکړ طرفین ئې سره جنګ وکړ ډیر ومړل له هغه ځایَ ئې کوچ وکړ کوچ په کوچ خوري ته راغلل بیا ئې په سوینالاه قرار ویتو +

ذکر د ملک اکوړي او د ده د اولاد چه د تمام ختک ځاني او سردارِي ئې په خپل خپل وار کړي دَه +

ملک اکوري ولدِ درویش محمدؒ چه چغو ئې بوي وایي چه په توره ډیر مړني بهادر وه او سخي نهایت وه چه که صبا به ئې رُو بیګاه به ئې نه وُو که بیګاه به ئې څه موجود شوي رُو صبابه ئې نه وُو هر څه به ئې چه په لاس راغله صرف ئې د یارانو د فقیرانو وُو +

چه کښل کا توره سپینه دنیا لوټي بازینه
تیمر غُندِ که نه شي د عنبر غُندِ به شه

نقل دي چه له کربوغي راغي و سوبيالي و ته يو جماعه به ور سره وَه همیشه به يُ تاخت باخت کاوه په هغه آوان دور د اکبر بادشاه او د مرزا حکیم د اکبر تاسکه درور وه + میرزا اکبر په هندوستان کښ وه د کابل صوبه يُ په میرزا حکیم سپاريلي وَه + شه بیگ چه د میرزا حکیم نوکر وه د میرزا حکیم له لوري په پیناور کښ وه + چه میرزا حکیم مړ شه کابل اکبر وینوه هغه شه بیگ خان کور شه بیا خان دوران د کابل صوبه‌دار شه + وايي چه د اکبر بادشاه په وخت د هندوانو د جوګیانو ډیر قدر وه ملک اکوري په سبب د غیرتِ مسلماني ډیر جوګیان وژلي وُو چه اکبر بادشاه ته راغي دا خبره مشهور وَه اکبر بادشاه څني پښتنه وکړه چه څو جوګیان دِ وژلي دِي + ده په عرض وَرَسول چه نورم شمارلي نه دِي یوه موندريُ د غوږ چه م يُ په مت کښ ساتلي دَه لوي مت څني ډک شوي دي ارشاد م د کلیمي ور ته وکړکه به مسلمان شه امان م به ورکړ که نه مرم به کړ + نقل دي چه د شه‌بیگ خان کور درور يُ د لاسَ مړ شه په هغه آوان د اُلس زور نه وه دي يُ تنګ کړ چه دا هسي زورآور سړي دِ تاله لاسَ مړ شه ته بور درومه له موږ نه وُرزه + دي روان شه چاچو په پیناور کښ وه شه بیگ خان کور ته حاضر شه ور ته يُ وُوِ چه دا تقصیر د ماله لاسَ شوي دي اوس زه کفن او چاره در لره راغلم + شه بیگ خان سروپاي او څه نقد هم ورکړه رخصت يُ کړ ور ته يُ وویل

چه دا هسي دسنګیر به زه مړ ولي کړم ته ورځه په خپل قام کښې کښینه زه به په لښکر
در شم جنګ به سره وکړو هر چه م له لاس وشول ځما د ورور خون بها ده + ملک
اکو چه وقام ته راغي قوم ئې هم ور سره ملا وتړله سنګر ئې د لښکر په میله وکړ +
وایي چه دوه جنګ ئې عظیم وکړه طرفین سره ډیر ومړل اما اُلس ئې له ځایې بې ځایې
نه کړ شه بیګ خان په بیارته وجاروت + پخوا تر راتلو د دې اُلس ماندوزي او ډنګرزي
په دا ملک میشته وُو + هرکاه چه اکبر بادشاه په تعاقب د میرزا حکیم راغي هاله لا
قلعه د اټک بنارس بنا شوي نه وَه و بیلاب ته راغي ده په خصمانه د لاري زمینداران
طلب کړه + عبدالرحمان خورم میرخیل او بعضي ډنګرزیو نوم د ملک اکو ورته یاد کړ
چه ده خپل ځان نامدار کړي دي + حسب الحکم د اکبر بادشاه ملک اکو ورته راغي
ملازمت ئې د اکبر بادشاه وکړ دا ملک ورته مرحمت شه له خیرآباد تر نوښهر نوري
ځاي په ځاي خپل عالم قایم کړ منصب ئې وده ته ورکړ + ملک اکو مرد دانا وه منصب
ئې قبول نه کړ په عرض ئې ورسول چه که منصب زه یواځي واخلم دا نور قوم به را سره
حسد وکا خدمت به ستا سربراه نه شي بادشاه دِ کوشي په دالارِ مقرر کا چه اُلس به
په لالچ د حصي او د رسد دکوشي خدمت د بادشاه په اعتقاد خاص اداکا + بادشاه د
ده التماس قبول کړ فرمان ئې دکوشي ورکړ راغي وخپل قام ته ئې حقیقت بیان کړ وارو ملا

ورسره په دولت خواهئ د بادشاه وتړله اوس اُلس دختک تر بلره چه سرحد د یوسفزیو دي او ترلکي چه سرحد د عیسیٰ خیلو دي توطن لري تمام دا ملک به په طول د اووه ورځو لار لري چه په غاړه د آب سیند واقع دي هره هره تپه خپل خپل حد لري + حد د انوخیل دي له خیرآباد ترغاښي ترجانکر چه سرحد د افریدیو دي اوحد د بولاقو له مکهړي ترطري اوحد دختکو د چوتري چه میرخیل دي له ډینګوته تر تل دوربنو +

ذکر د ختک د اُلس چه د نورو اُلسونو سره ئي بدي کړي ده

د انوخیلو د بنګښو د درسمندو سره خصومت شوي دي ډیر قتال اوجدال ئي بود بل کړي دي د لوهانړیو د عیسیٰ خیلو د سارنګو د موسیانو د میري خیلو د نصرتیو سره کرات مرات سخت جنګونه شوي دي دوه ځل لوهانړي په چوتره راغلل + یوځله خلیفه ماشي خیل چه بنه کدخدای وه لوهانړیو مړکړ بیا میري خیلو او نصرتیو په سارنګو او موسیانو غلبه وکړه له لکي نه ئي جلاوطن کړه وخوشاب ته لاړل او وزیرو سره عداوت د میري خیلو شوي دي + بیا تریو او بولاقو په ملک د اوانړ سکسیر او بنګنه تر سرحد د بهري او د خوشاب لاس د غلبي او د تسلط بیاموند دا ملک ئي خراب او اوجاړ کړ ډیر اوانړ ئي نر بنځي بندي کړي کم وبیش ځلوینت زر اوانړ نر بنځي په بند شوي وو په ضبط په ربط د خان علیین مکان تریو بولاقو دست درازي پریښوه هغه ملک د جبار

قلي کهکړ شه + میرخان زوي دجبارقلي په اغوا د سنبلو بنګي خیل وبلل چه رفاقت
خمونږ وکړئ چه د بلوڅو سره جنګ وکړو امّا خپل قول ئي مات کړ کم وبیش سل ځوانان
ئي د بنګي خیلو مړه کړه + بیا ملک اکو مرحوم دوه دري ځل په آفریدیو وزغابنت بیا
عداوت او دښمني د یوسف زیو په میراث خان علیّین مکان ته پاتو شوه + او جنګ دا
وه چه یوسف زي ئي د مصري کوټ جلاوطن کړه مصري کوټ شاید مصري باندي ته وایي +
ښه ښه سرداران د یوسف زیو مړه شول یحیی خان ملک مامو مړ کړ هرګاه چه شهباز خان
پښه په رکاب فتح مآب کښېښوه خوب او آرام د یوسف زیو ورک شه کرّات مرّات ئي منډه
مړه کړه هرڅو پلار منع کاوه دي نه منع کیده د یوسف زیو په بدئ کښې د پلار په حیات
ئي سخت سخت زخمونه په تن اخستي وو آسونه ئي په جنګ کښې ګډ کړي وو پس له شهادت
د یحیی خان په وخت د خپلي سردارئ له منډو له اکوزیو نه ئي خراج او باج آخست
تمام منډړئ په ضرب د توري مسخر کړي وو + په میان د اتمان زیو او صدوزیو غلیظ
او شدید عداوت وه نور منډړو د سیصدي او کمال زیو او امازیو حمایت د اتمان زیو
وکړ لښکر ئي په وهل د مرغز جمع کړ + الس د صدوزیو ملک الو عمرخیل زوي د ملک
بلوچه یګانه آشنا د شهباز خان وه له خونورو کدخدایانو سره په اتفاق ئي راستاوه التجا
ئي شهباز خان ته راوړه خپل احوال دکم قوّتئ او غلبه د غلیم ئي عرض کړه معاونت او

استمداد ئي وغوښت + شهبازخان د ډیرَ لښکرَ سره روان شه په مرغز ئي ډیره ونیوه په ورتلل د شهبازخان اتمان زیو مندړو برهم وخوړ تفرقه شه کلي ئي د اتمان زیو وسول کړ وبیش یوه میاشت هورته وه کار ئي د صدوزیو محکم کړ بهاکو خان ئي خان او سردار د دوی کړ + صدوزیو نه ئي هسي نصیحت چه په کار د اُلس راځي وکړ + دوي پینکبني د شهبازخان تر نظرَ تیره کړه نورړا روان شه کور ته راغي + هرګاه چه بهاکو خان استقلال پیدا کړ خاني ئي جاري شوه په سبب د خپلي کوته اندیشئ احسان ئي د شهبازخان فراموش کړ شیخ نظامي فرمائي +

له طبعي دښمنَ خیر مه غواړه یارَ د حیات او به غوښتي نه شي له مارَ

دوه دري ځلَ ئي تمام مندړ جمع کړ د سیند غاړي ته راغي کلي دَ بولاقو ئي خراب کړه + بوځلَ شهبازخان په لږ جمعیت تر سیندَ پوري وت په جهانګیره ئي ډیر جنګ وکړ دختکو سورو سواره د یوسف زیو مات کړه دوه دري تیر پرتابَ ئي ماتي یووړه ښه سرداران ئي ملک چندنړ وغیره پریستل مړه ئي کړه کیجم دار آسونه په لاس راغلل + لیکن پیاده ؤ د یوسف زیو په پیاده ؤ دختکو زور وکړ راهسک ئي کړه په سیند ئي ویشتل نولس شل کسَ ختک په میدان د جنګ ومړه ځلوښت پنځوس کسَ په سیند ډوب شول + شهبازخان چه احوال په دا منوال ولید له صفَ دغلیم مطابق د سنتِ سیدالمرسلین مردانو غندِ

خان ئي له ورځي د هلاکت نه ویوست په جنګ جنګ په ګډ د پیر سباک راغي یوه زبونه بیرئ ولاړه وَه په هغه کښ کښیناست د قبیلي سره پوري شه امّا بیرئ په ډوبیده وَه په هزار مشقت تر پوري شه همه مُسَلّح ځوانان آسونه برګستانونه سره په کښ وُو امید د خلاصي نه وه حق تعالی هغه کشتئ را پوري کړه ٭ خان علیّین مکان هم په دا بیرئ کښ د پلار سره وه لاجنګونه ئی لیدلي نه وُو بیره ئي په مخ نه وَه پس له دي واقعي په دوه دري میاشتي ښکر ئي د اُلس طیار کړ د مانیرئ په کلي د بهاکوخان ورغي هغه کلي ئي وواهه راوجاروت بهاکوخان پسي تعاقب وکړ شکست ئي بیاموندہ ډیر عالم ځني مړ شه د ګجو په ترکئ ځني پس مانده وختل خلاص شول غانمًا سالمًا لښکر د شهبازخان کورته راغي د هغه اول جنګ چه شکست شوي وه بیا په دا فتح نقش درست کښیناست ٭ اُلس د مندرو په اطاعت او په مال ګذارئ راغي د دوه دري ځل بیا بهاکوخان لښکر جمع کړ تلاش تردد ئي وکړ امّا هیڅ کار ځني ونه شه ٭ په سن د زر پنځوس د هجرت شهبازخان د لږ جمعیّت سره په اکازیو چه تپه د کمال زیوده په مال ګذارئ کښ سستي کړه سورشه حکم ئي په تاخت د مال مویشي وکړ تر زرو زیات غوا مویشي په لاس راغلې په هغه شپه باران هم ډیر وریدلي وه موسم د عین ځیلئ روژه په خوله وه غنیم ورپسي راغي جنګ شروع شه ساقي بیګ چه زوی د اوم خان وه آس ئي په غشي وویشت شه

شخ پائِ ئي وکړه له آس پریوت زمکه ختهٔ لاي وَه ساقِي بیک پټ سپاهي وه په ختهٔ کښ
پیاده تلي نه شه غلیم غلبه وکړه خان علیّین مکان ساقِي بیک ته مُټ وکړچه وائي خلي امّا
آس ئي پَي شه + په دا کښ ساقِي بیک له خان علیّین مکانَ په ستنه شه په تورو ئي
وواهه په دا وخت چه خان علیّین مکان نظر وخپل پلار ته وکړدي په شقیقه په
غشِي ویشتلي شوي وه خپل آس ئي چه کډ شوي وه او زنګون ئي چه په غشِي ویشتلي
شوي وه ورته بنکاره کړ مطلب ئي دا وه چه دا احوال ئي پلار وویني او جنګ پریږدي
روان شِي چه بد ځاي ویشتلي شوي دي + امّا په دائي نظر نه وه ورته ئي وفرمایل چه
ته وراندِ شه په بل آس سور شه خان علیّین مکان دوه دري تیر پرتاب چه وراندِ
لاړ آس ئي پریوت پیاده روان شه جمیل بیک ورورئي دنبال نیولي وه دي هم په لاس
په غشِي ویشتلي شوي وه لاس او نیزه ئي دواړه پیلي وُو دوه دري تیر پرتاب چه لاړ
هم هغه آس چه ساقِي بیک ئي پریستلي وه سورو نیولي راوست په هغه آس سور شه
پلار ته راغي پو بل غشي هم په دا تردد کښ په ځنګل وویشت شه + امّا جنګ ئي کاوه
مال موبشي ئي تر بلرَ راپوري کړ هاله جنګ منقطع شه میرزا عِلي حسن خیل هم په دا
ځل مړ شه + له لوي ځايَ نظر د شهبازخان په میرزا عِلي وه په عین جنګ کښ
ئي خان علیّین مکان ته وُوِ چه میرزا عِلي ما لیده چه ومړ + هرګاه چه جنګ وشلیده

طاقت د سوارئ ورته پاتو نه شه له آس کوز شه بندئ د نیزو ورته ساز کړ
پیاده ؤ واخست نمازخفتن کورته راغلل + په دا جنگ کښ هیڅ یو سور خمونه
بی زخم کورته رانه غي هرڅوک په علاج د خپل زخم مشغول شه + توبري
چه د خان علیّین مکان د پنډئ په هډوکي کښ ښخ وه دوه دري تنو په انبور
ونیو په زور به ئي وکښښ پس له دوه ؤ ورځو ئي خان علیّین مکان را واخست پلار ته
ئي راوړ دوه دري پرهارونه ئي نور هم وو عرض ئي وکړ چه کوم پرهار مو درد ډیر کا +
و ئي فرمایل چه پرهار د سر + خان علیّین مکان وپوهیده چه دا زخم مشکل دي +
پس له پنځه ورځو چه په آخر د رمضان زخمي شوي وه په پنجشنبي د شوال له
دارِ فنا ودارِ بقا ته ئي کوچ وکړ + دا تاریخ ئی د شهادت خان علیّین مکان په
فارسي په پښتو ویلي دي + چه د فارسي ترجمه دا ده

د جمعي په ورځ په میاشت د رمضان خان په لوري د میدان کړ آس روان
په غلیم ئي بري وموند زوراور شه خو په غشي ئي زخمي شه شیرین خان
ورځ د ورکي اختر هم دَ پنجشنبي وه چه ئي کوچ وکړ تر پاتي شه جهان
که ئي کال د شهادت څوک وپوښتینه لس نیم سوَ کالَ داوره په ښه شان

دا تاریخ په پښتو دي

سن د هجر زر پنځوس وه چه شهید شه شهبازخان

له زخم سره کزن هم وواهه دي ډیر په زړه زړه ور وه پروا ئي د زخم نه وه د یک شنبي په ورځ ئي اودس وکړ سرئي برهنه کړ مسح ئي وکړه باد وواهه دوه ورځي ئي ژبه له کفنار بنده شوه وصیت ئي ونه فرمایه + څلور فرزندان دده پاتو شول یوخان علیّین مکان چه مشر وه بل فقیر جمیل بیګ دریم شمشیر څلورم میرباز + هرکاه چه خان علیّین مکان په سن وسال له نورو مشر وه په سرداريِ د ایل د اُلس نامزد شه بهادرخان چه ئي مشر تره وه هم په دا کار متفق وه تربرونه ئي هم په خدمت سرګرم وُو + فیروزخان او جلال خان او عبدالله خان په هندوستان وُو له دي واقعي په لاري چه کورته راتلل خبر شول په ډیره تلوار وطن ته را و رسیدل + پس له څلوېښتو ورځو پښه د خان علیّین مکان له زخم ښه شوه او پس له دوه دري ورځو ښکار ته روان شه حضرت بزرګوار شیخ رحمکار ته ورغي دعائي ترِ وغوښته لښکرئي په بهانه د ښکار جمع کړ په رڼا ورځ ئي په انتقام د غلیم په کلي د اکاخیلو سواري وکړه څو ورته بهادرخان راضي نه وه چه دا رنګ په رونړه سواري هیچا کړي نه ده امّا ورغي اور ئي په کلي پوري کړ حکم ئي کړي وه چه سپي سړي هرچه په مخه درځي په قتل ئي رسوئ هرچه په

مخه ورتلل دواب چارپاي نر بنځي هلکان په هېڅ ئې صرفه ونه کړه مړه ئې کړل د وينو رود ئې د دوي په غوليو کښې روان کړ وينې د سپيو د سرپو ګډې وډې بهيدې دوه دري کلې نورچه متصل د هغه کلي وو سواره ورغلل هغه ئې هم وسول + نمازدګر راوجاروت کمال زيو امازيو سيصدي لوکي وليد شپږ اووه زرَ خلق ورپسې ووت دوه کروهَ ورپسې راغلل هغه ځاي چه شهبازخان زخمي شوي وه ودريده جنګ ئې شروع کړ دوی مات شول څو تنَ نور هم ترِ مړه شول نور را وجاروت تر بلړ پوري ورپسې لرِلرِ راتلل نيژدې ورتلي نه شول + چه تر بلړ را پوري شه په ځاي ودريدل نمابنام نيژدې شه په دا تردد کښې يو بسي مطرب په ټوپک زخمي شه کورته راغي مړ شه دا رنګ لويه فتح حق تعالی رايکان د خان عليّين مکان نصيب کړه + په دا ميان کښې فرمان د سردارئ له حضورَ د بادشاه په نامه د خان عليّين مکان صادر شه او منصب د پلار ورته مرحمت شه +

قصه

د شهزاده بهرام او د ګل اندامي

تصنیف د فیاض

قصه

د شهزاده بهرام او د ګل اندامي

روایت دي له ثقه ؤ راویانو
په دا شان ئې خبر کړي سامعانو

یو بادشاه عالي جناب صاحب د روم وه
خوب خوږم ئې سکونت وه دانایانو

هر دولت ورته موجود عالي مقام وه
په اسباب کښې محتاج نه وه عاقلانو

مګر دا چه زوي نه لاره په کور کښې
آرزومند وه دري کار صاحبدلانو

زوي وشه واوري پس له خلوینت کالو
نوبتونه غږول ښه مطربانو

د فرزند بشارت وشه و بادشاه ته
مبارک ورته ویل ډیر امیرانو

چه فرزند ئې خوب صورت ولید په سترګو
خزاني ئې کړي خیرات په مسکینانو

د فرزند نوم ئې بهرام شهزاده کیښود
پرورش د شهزاده کړ دائیګانو

چه شپږ کال د بهرام شهزاده تیر شو
په مکتب ئې کښیناوه د کاتبانو

شهزاده بهرام شپږ کال وه په درس کښې
نور ئې علم کړ حاصل له عالمانو

خط او شکل ئې په ښه شان سره پاخه کړه
په هر کار کښې شه کامل له کاملانو

چه بهرام شهزاده شه د دولس کالو
استعمال ئې کړ د غشو له یارانو

بیا د توروګذارونه ئې ښه زده کړه
بیائې ښه نیزه بازي کړه له سپاهیانو

چه پنځلس کال تیر د شهزاده شو
شجاعت ئې ښه معلوم کړ منصفانو

په سواري کښې شهزاده هسې شهسوار
دبدبه ئې ډیره شوه په دښمنانو

په قوت کښې پهلوان تر پورته نه وه
ځاي په ځاي تر حذر کړ پهلوانانو

چه بادشاه دا هسې حال د بهرام ولید
سرفراز ئې کړ بهرام له مخلصانو

بیا ئې ښې جوړې زیبا بهرام ته ورکړې
چه قیمت ئې ګران کاوه شاهوکارانو

بل شپېته زرَ سواره ئې ورپسې کړل
خوف خطر به تر کاوه ډیر مفسدانو

په ښه شان سره بهرام ستایه **فیاض**
مرتبه کښې دې حساب د عاشقانو

بیا بادشاه ورته ویل واوره فرزنده
که هوښیار یې خبر شه ځما له پنده

دا رونق د سلطنت واوره بهرامَ
پرورش د رعیّت کړه خردمنده

په عاجزو باندِ رحم ډیر ثواب دې
د مظلوم آزارول خدای ته ناپسنده

په هر دم شکر دَ خدای کوه بهرامَ
چه خدای درکړه مرتبه هسې بلنده

جواز نه لرې آزار دَ مظلومانو
له آزارَ بازار نشته دانشمنده

په هرکار کښې تدبیر ښه بویه بهرامَ
دا ځما نصیحت واوره عقلمنده

شهزاده بهرام قبول دا نصیحت کړ
تسلیمات ئې ورادا کړه په ځوچنده

دودسته سلام ئې وکړ وخپل پلار ته
توبه کار شه د عاجزو له کزنده

شهزاده د پلارخدمت واره په ځاي کړ
ځکه کار ئې شه **فیاض** له آننده

بیا بهرام وِ ځما پلارَ مهربانه
د صحرا د سیل خوښي مِ ده بي شانه

د صحرا دګل چمن ته مِ زړه کیږي
نندارې لره ئې و رغلي خندانه

غرض دا که مِ رخصت کړي وصحرا ته
سرفراز مِ په رخصت کړي عالي شانه

د مدت ارمان لرم چه سیل مِ وکړي
نهایت ارمان لرم بلند مکانه

پلار رخصت ورلره ورکړ سامعانو
سواره پلي په خدمت ورته یکسانه

شهزاده د فوج ترمیان نیت ئې د ښکار شه
سرودونه ئې وهل په ځوځو شانه

چه ورورسیده دوي د ښکار وځاي ته
پروت زمري وه خوف ئې نه کیده له چانه

په لښکر کښې د بهرام همبره ځوک نه وه
چه ګذار له د زمري ورشي مردانه

شهزاده بهرام له آس ورته کوزشه
ملا ئې وتړله ښه له ښه سامانه

مخامخ زمري له ورغي یارانو
درست لښکر ئې په فریاد کیوت یکسانه

دوي وِ خيال د زمرِي مه کوه بهرامَ
دا زمري عالِي قوّت لِري نادانه

شهزاده التفات نه کاوه ددوي ته
د باور توره ئي و ويسته له ميانه

مخامخ زمرِي له ته ويره ئي نه شوه
ملګرِي ورسره وَه له پاک سبحانه

زمرِي خوله ورپسي وازه کړله راغي
له غرنبا ئي خلقه شوله حيرانه

شهزاده او زمري دواړه مقابل شُو
زمرِي پورته کړه څپيړه ناګهانه

ورستو پښي د زمرِي ونيوي په لاس کښ
نور ئي زر له خپلَ سرَ کړ ګردانه

لکه طفل ئي جارويسته له خپلَ سرَ
نور په زمکه ئي اړتاو کړ ناګمانه

هر بوبند ئي د زمرِي واړه جدا کړه
دَ زمرِي د څوندون خونه شوله ورانه

چه بهرام هسي کشتِي کړله آغازه
آفرين ورته وايه شه له هرچانه

اميران او وزيران ورلره راغله
سلامونه ئي کول په څوڅو شانه

شهزاده په لښکر حکم کړ يارانو
چه دا مړ زمري حاضر کړئِ ترسُلطانه

چه زمري ئي د بهرام پلار ته حاضر کړ
آفرين ئي پرِوايه هزار چندانه

ورځ دويمه بهرام بيا ښکار ته روان شه
ورسره واړه لښکر واوره له مانه

ناګهان ئي په نظر کښ هوسي راغي
شهزاده عراقِي تيز کړ بي پايانه

کم خطا غشي ګذار کړ و غرڅه ته
نور ئي وويشته هوسي دآس له شانه

چه ئې ښکار په کمال ورسیده واوره
نور په بیرته را روان شه له دامانه

ته په لاري شپه پرِ داغله اي یارانو
له لښکرَ شه غلط ځما جانانه

چه صباح شه آس ئې پرېښود ځویدو ته
نور پیاده ئې ښکار کاوه په زړه پریشانه

اوه شپې ورځې ئې تیرې په صحرا کړې
د ښکار غوښې ئې خوراک وې له درکانه

وقت د خاښت اتمه ورځ ښکار ته روان شه
په یوغره باندِ ور وخوت له میدانه

یک تنها به کرزیده مل ئې څوک نه وه
زیست روزګار ئې وه **فیاض** له صحرانه

هغه غرچه شهزاده پرِ برابر وه
رنګارنګ چینې حوضونه منوّر وه

چه ور وخوت شهزاده دغره وسر ته
یو ګنبذ ئې هلته ولید پرِ اختر وه

چه ئې سر کړ په ګنبذ دننه واوره
دوکانچه په کښې څلور ذاتَ مرمر وه

عجب تخت وه رنګارنګ په ښه نقشونه
پرِ دپاسَ یو صورت مخ ئې قمر وه

وه چهره جامې آغوستې د سرو وې
نقاشانو ظاهر کړې خپل هنر وه

په لیدو د چهرې هسې لیونې شه
چه پر مینه کښې ورتیر ترمال وسر وه

چه بهرام ورته نزدې شه عاقلانو
یو سپین ږیرې هلته ناست ښه معتبر وه

شهزاده بهرام سلام ورباندِ ولو
له سپین ږیرې علیکم زر میسّر وه

بیا بهرام ورته ویل سپین ږیرې وایه
یکتنها دِ سکونت د چا خطر وه

دا چهره دِ دَه وځان ته کښینولې
راته وایه دَ کوم باغ ګُلِ ستبر وه

نور سپین ږیرې ورته وِجهان ګشته یم
وم په طور د سوداګر دا مِ ګذر وه

ناګهان د چین په ښهر برابر شوم
وه فغفور نوم ئې بادشاه کارئې بهتر وه

ګُل اندامه د فغفور بادشاه دختر وَه
چه په چین کښې خجالت ورته د نمر وه

په دیدن به ئې څوک مړه څوک وُو بیهوښ
ځای په ځای به د ویشتلیو شور وشر وه

څومره مِ هلته تیره په دیدن کړه
له خپل زړه سره مِ کړې دا مشور وه

چه چهره د ګُل اندامې ښکلې بویه
بل یو فکر مِ له زړه نه لړو بر وه

تر و په چین کښې نقاشان وُو بیحساب
یو تر بلَ په نقشو کښې لړو بر وه

دا چهره ئې لا له سازه کړله څوان
ما هغه نقّاش مور کړې په سره زر وه

شوم روان له چینَ راغلم تر دې ځای
ما ته غوره په دا شان دا بحر و بر وه

مال دولت مِ کړه قسمت په وارثانو
کناره له خلقَ شوم نصیب مِ غر وه

دوه مریونه څو اوښان مِ دې ساتلې
چه تو ښه لاله راوړې کار مِ بهتر وه

دا چهره مِ ده وځان ته کښینولې
صورت نه دې دا مثال مخ د دلبر وه

د بهرام په زړه ئې اوربل کړ **فیاض**
د سپین ږیرې ګفتګو د غم خنجر وه

نور سپین ږیري وِ اوس حال راته ووایه
ماخپل حال درته معلوم کړ عالي رایه

شهزاده ورته ویل زوي د بادشاه یم
د پدر نوم مِ کشور عالي کشایه

زه د ښکار په نیت وتلي وم له کورَ
دَ هوسِي په منډه راغلم تکوپایه

شپېنه زرَ مِ لښکر پاتي په ورستو
نصیب راوستمَ زه ستا تر دي ځایه

اوس مِ زړه د ګل اندامي صفت یوړ
بي لیدو مِ په زړه اور بل شه له ورایه

که مِ موګ دَ چین په ښهر وِي وله لاړم
یا به موړ شم په دیدن د دل ربایه

دغه پس بیا سپین ږیري ویل څوانَ
هغه جل دَه بي وفا واوره خود رایه

دغه خیال له زړه بیرون کړه که هوښیاري
وخپل کور ته په شتاب څه له دي ځایه

ستا په شان شهزادګان ډیر ورته پراته دِي
دا نظر په هیچا نه کا اګَ لګایه

شهزاده وِ دچین ښهر را معلوم کړه
نصیحت دِ اثر نه کا روشن رایه

دچین لار ورته سپین ږیري کړه معلومه
شهزاده په هغه لار شه تکوپایه

سپیني اوښي ئي په مخ باندِ روانې
دا وینا به ئي ویلي شه بي رایه

په خود رائي محبوبه پسي روان شوم
که مدد راسره وکړي غني خدایه

یا نصیب د ګل اندامي مِ اوربل کړي
یا مِ زد په زمکه خښ کړي غمزدایه

یوه میاشت ئي په دا شان سره پند وکړ
په یو باغ باندِ راکوز شه ناکهایه

هغه باغ وه دخوښيِ واوره **فياض**
شهزاده په کښې مقام شه دلکشايه

شهزاده په باغ کښې ناست وه ځمادله
تماشا ئي يو ساعت د باغ کوله

يوه ښځه مانړيِ ئي وليده په باغ کښې
په زينت او په حکمت چه جوړيدله

سړي خپل په ډال کښې کيښود په قرار شه
ناکهانه پرِ آواز وشه له بله

وِ ئي پورته شه له خوبِ خبردار شه
دا ناره و شهزاده ته رسيدله

شهزاده ورلره سترګې کړي را پورته
يوه ښځه ئي په سترګو وليدله

د نعمت خوانچه په لاس ورته ولاړه
د بهرام په مخ کښې راغله ودريدله

نور بهرام وِ طعام چادي راستولي
هغه ښځه ئي په دا رنګ پوښتيدله

هغې ښځې جواب دا رنګ وله ورکړ
دا مقام دي د صيفور ښاپيرِي دِله

دي بادشاه دي دَ پيريانو مسافرَ
هم قوّت لرِي بي شانَ ځما دِله

څلور ورونړه دده نور هم دلاور دِي
په قوّت کښې سيالي کانډِ يو له بله

دوي مِ واړه دِي په ښکار پسي وتلي
دا قصه مِ کُل وتاته وُويله

سراسيا دَ هغو خور زه ئي دائِي يم
مهمانِي هغي وتاته راستوله

بل په مائي حکم کړي په داشان دي
ورته وايه دائِي پس له تناوله

چه مِ ورونړه خبر نه دِي پاڅه درومه
نیکخواهي درسره کا هغه بلبله

چري نه چه دِ آزار کا مسافرَ
له دي ځايَ پاڅه څه بي‌تحمله

شهزاده وِ کارغرض مِ په چا نشته
مسافر یم ما دمه دلته کوله

بیا دائِي وِ درته وایم مسافرَ
ویره وکړه ته په ځان له سرَخپله

نور بهرام وِ دائِي څه درته ووایم
زه له خپلَ فکرَ یم بي‌غمَ کله

هرچه وه نصیب دده طعام ئِي وخور
لاس ئِي پورته کړه دعائِي ولوستله

دائِي پورته کړه خوانچه دده له مخي
په محل د سراسیا ننوتله

شهزاده په باغ کښ ناست وه سامعانو
ناګهان د سورو دُوره وختله

یو په مثل لکه غرراته په مخ کښ
هغه نور په دنبال شائِ ساتله

چه دَ باغ په نواحيِ راغله یارانو
د غضب ژبه ئِي شماس ته خوزوله

چه داڅوک څما باغ دننه ناست دي
په تلوار وریپسي درومه شماس کُله

لاس ترلي ئِي حاضر راوله ماته
یائِي سر له تني لري کړه افضله

چه شماس ورته نزدي شه غږ ئِي وکړ
په عزّت سره مِ مخي له را زغله

شهزاده وِ مسافریم کار دِ نشته
غل خو نه یم چه غصّه دِ راته شوله

شماس آس وربانديِ تیز کړ وله راغي
نور مصريِ ئِي په بهرام پَسِي وکښله

شهزاده وریسي پاڅیده له ځایَ
نورئي توره له شماسَ را نیوله

نورئي وتاړه شماس په وني پوري
د فریاد ناره ئي هر خوا رسیدله

بیا قماس وریسي راغي قهرولي
چه مصریِ ئي لا له ورایه خوزَوله

جنګ ئي وکړ لاس ئي برنه شه یارانو
شهزاده شکر ثنا دخدای ویله

هم قماس ئي وتاړه په وني پوري
شهزاده د مردیت کُشتي کوله

په داشان سمیل کمیل دواړه بسته شُو
شهزاده بهرام به خوا پرِ سرَوله

خو آخر صیفور خبر شه له دي حالَ
مردانه نیزه ئي تر سرَ جاروبستله

په بهرام باندِ ئي غږ کړ خبردار شه
په هلکو دِ مړانه زده کوله

شهزاده وِ برېږ راشه اي صیفورَ
خبردار به شي دجنګ له کلاکله

د نیزي کذار صیفور په بهرام وکړ
شهزاده ئي توره مخي له راوړله

د صیفور د نیزي سر شهزاده پري کړ
د صیفور نیزه په زمکه پریوتله

نور صیفور توره بیرون کړه له غلافَ
نورئي توره و بهرام ته څنډوله

د بهرام په سرئي توره را کُذار کړه
شهزاده بازِي د توري واخستله

شهزاده پرِ کُذار وکړ اي یارانو
وجنګ ریز ته ئي خوښي لا زیاتیدله

بهرام غږ په صیفور وکړ خبردار شه
دَ صیفور له لاسَ توره پریوتله

د صیفور په ملا زنځیر شهزاده وینو
په صیفور ئې سختي ډیره راوستله

دو روخه ئې نور آغاز کړ بي حساب
یو پر بل په ئې حمله سره کوله

شهزاده ډ هیڅ ګناه د آسو نشته
په پیاده په سره جنګ کړو یو تر یله

دواړه کوز په زمکه ودریده یارانو
په پیاده ئې مدّعا سره کوله

نور صیفور ئې تر سر پورته کړ یارانو
نور ئې کوز په زمکه وُویشت بي تحمله

شهزاده ئې په سینه کښیناست یارانو
د صیفور خولګۍ له جنګ پاتي شوله

شهزاده ډ هغه زور قوت ډ څه شه
اوس به بیا لاني کوي لا یو تر یله

نور ئې وتاړه صیفور په وُني پوري
سراسیا ئې نداري لره راتلله

شهزاده د دښمنان وتړل فیاض

د ښه خداي ثنا ئې ډیره وُویله

شهزاده ئې د سرونو شه لیواله
نور مصریۍ ئې پسي رویستنه في الحاله

شهزاده ډ ستاسي مرګ راغي یارانو
دا ژوندون ستاسي وماته شه ناخواله

له ګردن به کلي ستاسي جدا کړم
د حیات طمع اوس مه کوئ بیکا له

مسافر آزاردۍ اي ظالمانو
دغه لار به ښي په امن له جنجاله

شهزاده ګذار کاوه ور لره راغي
ناګهان په ده آواز وشه في الحاله

نصیحت چه در ته پلار کاوه عاقل — هغه پند دِ فراموش کړ څما لاله
پلار دِ وِ چه پر عاجزو رحم بویه — له دښمن سره نیکي کړه نیک افعاله
کُندِ وِي چه دِ دوستان ښي په نکيۍ کښ — نصیحت ئې در ته کړ له دي مقاله
شهزاده نظر په بیرته کړ یارانو — یوَه چل ئې دلیده صاحب جماله
شهزاده ئې د ښایست وته حیران شه — چه ښایست ئې وه روزيۍ له ذوالجلاله
شهزاده کړه هلته یاده کل اندامه — گفتگو ئې د آشنا له خط و خاله
شهزاده دِ چه به کله وُرسیږم — چه له هجرَ ئې ناتوان یم بي مجاله
بیا بهرام له سراسیا نه کړه پوښتنه — دِ چه وایه ما خبر کړ له احواله
څوک یي ته او دا څوانان وایه چه څوک دِي — سراسیا وِ دام وروڼره نیک خصاله
دغه مشر دي صیفور شاه د پیریانو — شه و تا ته ملامت صاحب کماله
ملامت وروڼره څما شهزاده تا ته — زه خبریم سراسر له دي مقاله
مګر عرض لرم وتا ته بخشنده شه — خداي دِي تا لري په دین دنیا خوشحاله
شهزاده وِ ستا منت څما قبول دي — تا خوانچه وَه راليږلی بي دلاله
ولي دا را ته معلوم کړ خوب صورتي — چا خبر کړي ته دَ پند له قیل وقاله
چه پلار ما ته نصیحت کړ په کوم ځاي کښ — په څه شان سره خبر شوی له دي حاله

دي وِ زه په سيل وتلي دم وروم ته
په دربار ستاسي حاضره وم اي لاله

پلار چه تا ته نصيحت کاوه بهرامَ
تا ويل چه زم و بنکار ته کړه برحاله

شهزاده وِ حمايت د ورونړو مه کړه
در ته وايم ژبه بند کړه له دي قاله

مسافر آزاروِي دوي ظالمان دِي
ته خلاصيږي مسافر د دوي له چاله

مناسب دِي چه دوي ووژنم دلبري
دغه لار به ښې په امن له جنجاله

زه د غم په لاري تللم مسافر وم
دوئ ځما په مرګ راضي شوهم ليواله

اوس يُ وژنم بله نشته تر زمانَ
مسافر به ځي بي‌غم تر عياله

سراسيا وِ دوي به عقد در سره وکړي
نور به نه کاندِ آزار پس له دي کاله

سراسيا له مخَ خلاص شُو ورونړه واړه
شهزاده دا ښکي وکړه بي مثاله

نور بهرام پښه په رکاب کړله **فياضَ**
خود چين په لاري ته د رب رضا له

سراسيا د ورونړو پرانته بندونه
چه بهرام په ښه هنر تړلي وُونه

صبفور لاړ سو نور پښي ابل و بهرام ته
نور را پريوت د بهرام په قدمونه

نور بهرام وِ له بدئ توبه‌کار شه
په غوږو واوره دا ځما نصيحتونه

بيا صبفور وِ دا ويل ځما قبول دي
پس له دي به د هر چا کړم خدمتونه

مکر عرض کړم و تا ته اي صاحب
دوي د خداي دي ومته خما عرضونه

يوه شپه راتخنه تيره کړه بهرام
يا نصيب چه کله بيا شي ديدونه

مونږ واړه ستا لښکر يو واوره جان
هر چه واي مونږ به کړو هغه کارونه

سر و مال خمونږ ستا دي مړي
و ځښتن ته د غلام څه ځجتونه

شهزاده په بيرته وجاروت يارانو
نور بنادئ شوي د صيفور په محلونه

شهزاده په باغ کښ ننوت يارانو
دو په باغ کښ زنګارنګ عجب ګلونه

يو ساعت ئي تماشا د باغ کوله
نور د کور ته صيفور ور روان شونه

د صيفور په تخت بهرام کښيناست يارانو
و شماس ته صيفور کړه اشارتونه

چه اراکان د بنهر واړه را طلب کړه
چه اداکاندِ بهرام ته سلامونه

د شماس په ويل جمع شول نور راغلل
و بهرام ته واړو وکړل تعظيمونه

عام خلق واړه رخصت شو وخپل کور ته
هر چه خاص دو هغه واړه پاتي شونه

شهانه مجلس ئي ساز کړ عاقلانو
خوخو قسم به وهل شو نوبتونه

هسي شان خوبي آغازه شوه يارانو
چه پريښته به ئي آواز سره مرغونه

شهزاده صيفور ته دو خما ورور
ډير به ښه وي که شي منع سرودونه

صيفور وکړ اشارت و شماس کل ته
نور ئي منع کړ مجلس په حکمتونه

شهزاده وِ آس نیزه را ته حاضر کړي
چین ته ځم را ته ډیر دِي منزلونه

بیا صیفور دُو بهرامَ ځما ورورَ
روي د خدای دي دُمنه ځما عرضونه

یو دښمن ځما په ملک کښ دي بهرام
چه له دستَ ئي همیش کوم آهونه

زه د جنگ ته ځو ځل ورغلم صاحبَ
ما برې هرگز بیا نه موند په جنگونه

دي په اصل کښ دي دیو نوم ئي افراد دي
ځما کله پرِ رسیږي قُوتونه

ته او موږ به سره ورشُو اي صاحبَ
کُندِ وِي د هغه وسِشي علاجونه

دا ِم عرض دي چه کوم شهزاده تا ته
زه نور نه وینمَ تا غُندِ مړونه

شهزاده ور ته ویل صیفورَ ورورَ
څه پکار دي تحمل تر ساعتونه

زه ورځمَ یکتنها هغه دښمن ته
څه حاجت دي چه موږ واړه سره ځونه

هغه ځاي را ته ښکاره کاږئ له ورایه
تاسي واړه سره کښینئ په کورونه

که ِم مل شي غني خدای په وقت د جنگ کښ
د افراد په سر به وکړم گُذارونه

د صحرا لیوان به واړه پرِ ماړه کړم
چه دعا را ته کوي په ډیر کالونه

صیفور وِ موږَ به ودریږو په بیرته
نداري ته ځمونږ ډیر شي هوسونه

شهزاده وِ باري پاڅئ روانیږئ
په دعائي خدای ته پورته کړل لاسونه

چه دعا ئي کړ تمامه سامعانو
بیا ئي زر په آسو واچول زینونه

شهزاد بهرام د جنگ په نیت روان شه
امیران ئې واړه تله په رکابونه

چه نزدې شه د افراد دیو و ډیرې ته
و آسمان ته تله لوګې په هوادونه

نور بهرام پوښتنه وکړه له صیغورَ
څه سبب دې چه راځې دغه ګردونه

بیا صیغور وِ دا لوګې د هغه دیو دِې
چه اوده وِې دا ئې ځې د خولې دودونه

شهزاده وِ تاسې ودریږئ په بیرته
بس کړئ مه ځې وباندِ مه بډئ قدمونه

شهزاده یوازې لاړ شه و افراد ته
پیاده ورغې د دیو تر بورجلونه

افراد دیو اوده بې غمَ وه په چاه کښې
شهزاده ورباندِ وکړه آوازونه

شهزاده مَلا کړه محکمه پسې کوز شه
قدمونه ئې ایښول په حکمتونه

دوکاڼی ئې په کښې ولیدې یارانو
پرِ دپاسَ عجب ایښې وُو تختونه

افراد دیو په یوه تخت باندِ اوده وه
په بل تخت باندِ ئې وُو دپښو سرونه

یوه چل وَه بنایسته قیده کړې کښې
چه وپښو ته ئې پراته وُو زنځیرونه

شهزاده وِ جلې چاپې بنده کړې
څه واقعه دَه ستا په څان رایه حالونه

دې وِ زه یم بناپیرئ دیو راوستلې
چه په مخ مِ اوښې ځې د غم رودونه

د خلاصې لورې مِ نشته دې ای خوانَ
زیست روزګار مِ همیشه د غم په خونه

دې خما دیدن کوِې نور په امان یم
روغ عالم را باندِ کاندِ کمانونه

خما عمر په داخاي کښ شه اي خوان
دا م حال دي در ته کړم حکايتونه

هغي جلي و زلمي چرته راغلي
دا کافر به د اوس مات کاندې هېرونه

که په سر باندې سين يي بيرته درومه
که بيدار شي بيا به وکړي ارمانونه

تا به دي يوه نوري کړي سافر
نور تيره به کا په تا باندې غابنونه

بيا بهرام و زه په ده پسي راغلي
نور څه نه لرم په زړه کښ مطلبونه

يا به سود افراد پري کړم په ميدان کښ
يا به مړ شي دي خما په اندامونه

نور دي جلي و وقت دا دي که گذار کړ
که بيدار شي بيا به وکړي ارمانونه

شهزاده و د غلا کار واړه مردار دي
مخامخ جنگونه کاندې بنه مړونه

نور ئي پښه د افراد راکښوه يارانو
خير نه شه لا ئي توک کړه اندامونه

بهرام الله اکبر کړ پسي راغي
د افراد په خاطر تير شو هيبتونه

افراد سر پسي را پورته کړ له خوب
ده و څوک نوتي خما په خونه

شهزاده و ستا په مرگ پسي راغلي
تر زمان به د خلاص کړم له ژوندونه

افراد گرز پسي را پورته دوه لاسي کړ
چه ماغزه ئي تار په تار کړم په غرونه

شهزاده ئي گذار تير په بنه هنر کړ
مړني حکمت کاوه په څو قسمونه

شهزاده پر گذار وکړ اي يارانو
نور ئي پري کړه د افراد د زړه رگونه

چه افراد کنار کاوه په زمکه پریوت
د فریاد ناري ئې تلي په هرادونه

افراد ورو ورو سپیده خو آخر سو شه
نور د وینو بهیدل نزِ نه رودونه

او هغه چل روح افزا نامه پیریږ وَه
چه وپښو ته ئې پراته وُو زنځیرونه

شهزاده هغه چل خلاصه کړه له قیدَ
له کوهي ئې د بهر ته کړه بیرونه

مال دولت ئې د افزاد واړه تاراج کړ
د صیغور په حواله شُو دولتونه

شهزاده د چین په لار ځني روان شه
له هر چا نه ئې غوښتله نور رخصتونه

شماس چل ویښته مجره کړه وبهرام ته
په ویښتو کښې د شماس وُو حکمتونه

نور شماس وِ که مشکل در باندِ راشي
یو ویښته شهزاده کیږده په اوږونه

زه به زر در ته حاضر په هغه وقت شم
خصمانه به دِ کوم په مُدّتونه

له هغه پس شهزاده لار شه **فیاضَ**
کل اندامی ئې په زړه ایښې داغونه

دغه پسَ شه روان بهرام وچین ته
بسم الله ئې کړه سور شه داس وزین ته

یکتنها په لارِ ته مل ئې څوک نه وه
صد رحمت شه په داشان هي یک دین ته

د دریاب په غاړه ورغي حیران شه
چه موجونه ئې خاته د غړه سرین ته

آدم زاد ئې هرګز نه لیده په ستزګو
امیدوار وه وچل رب العالمین ته

ناکهان يُ يو کاروان په نظر کښيوت
کاروان ناست ده په جهاز کښ ته وچين ته

په جهاز کښ له کاروانَ سره کښيناست
اميدوار د کل اندامي و کل کين ته

چه جهاز په غاړه ورغي له خيرَ
خوشحالي شوه پرديسي بهرام غمکين ته

د دريا ب په غاړه درست کاروان ډيره شه
صدقي ئي ورکولي هر مسکين ته

له کاروانَ بهرام وکړله پوښتنه
له دي ځايَ چين نزدي که هولوين ته

يو ځوان وُوِ ځلور ورځي منزل پاتي
په پنځمه ورځ به ورسي دلبرين ته

شهزاده وِ زه رخصت چين ته روان يم
سوداګر وِ صد رحمت شه ستا و دين ته

شهزاده بهرام رخصت شه له کاروانَ
اي **فياضَ** شه روان د يار جبين ته

شهزاده بهرام رخصت شه له کاروانه
آس ئي تيز که لکه غشي له کمانه

په مطلب ئي توري زلفي د آشنا وي
ستانه ورپيي ته په زړه خندانه

د عشق اور ئي په خاطر آرام ئي نه شه
د ويشتليو صحت نه رئي بي جانانه

شپه او ورځ منزل ئي کړ حرص ئي زيات شه
سړي کار ئي وه د يار له باغستانه

د چين بنهر ورته ځوکند شه له هوادَ
وي مانړيَ ئي بنايسته لوړي بي شانه

له هوسَ ورته خوب يوړ اوده شه
په خندا خندا ورته ستړي ستومانه

په ورو ورو د چین و بنهر ته نزدي شه
قضیه ور باندِ راغله ناګهانه

دو رُخه لښکر ولاړ د چین په مخ کښ
توپ خاني به خلاصیدي د جنګ له میانه

شهزاده په لوړه وخوت نه دارد ته
دو رُخه سپاهیان لویده د آس له شانه

زیري نور د نمازدیګر پیوت جنګ سوړ شه
هرچا چل چل سرِي یوړه له میدانه

دروازي ئې ځاي په ځاي کړي د چین پوري
څوکیدار در ته ولاړ وُد له بنه شانه

شهزاده بهرام چه راغي د کړ خوا له
دروازي وي واړه بند نور شه حیرانه

څوکیدارو ته ئې ډیري ناري وکړي
هیڅ په مینځ کښ آواز نه راته له چانه

د بل برج په دروازه کښ بهرام غږ کړ
یو سړي نوم ئې اورنګ وه نیک مردانه

هغه غږ په بهرام وکړ څوک یې څوانَ
بل په دا وقت څه مطلب لري له چا ته

ده وِ ور کړيُ را ته لرِ کاروانِي یم
مطلب نه لرم په چا واوره له ما نه

نور ئې بیرته دروازه کړه و بهرام ته
هغه څوان ور باندِ ډیر شه مهربانه

هغه څوان وِ ته وُرُښي کاروان دِ څه شه
یکتنها ولي راتلي نز دا مکانه

شهزاده وِ زه وُرُښي کاروان رم وُرستو
وُو ستومانه نن شوه لار ور باندِ ګرانه

په صباح به خود را وُرسي دي ځاي ته
څه تلوار دَه خود به راشي په آسانه

نور بهرام وُوِ اورنګ ته څما ورورَ
څه به واي دا جنګ دي د چاله چانه

نور اورنګ وِچه غږ وینه و ما ته
د جنګ حال واوره له ما څما مهمانه

د بلغار شهزاده نوم دده بهزاد دي
اته لس لکه ئې لښکر واوره له ما نه

په مطلب د کل اندامي دي راغلي
خزاني ئې دِي راوړي بي پایانه

کل اندامي قبول نه کړ څما ورور
نور ئې جنګ ونښلاوه څما جانانه

د فغفور قوّت د جنګ نشته صاحب
کل اندامه به په زور کاندِ روانه

دغه جنګ د کل اندامي په اوربل دي
په جنګونو سپاهیان ډیر شُو سرګردانه

چه اورنګ بهرام خبر کړ له دي حالَ
اندیښنو ئې صورت تاو کړ شه پریشانه

جوړ ئې آس او وسله ورکړه اورنګ ته
زوړ لمخي ئې ترِ طلب کړ تر زمانه

د لمخي نوري ئې ساز کړه په ساعت کښ
رز ئې واغوست هغه کِند په زړه پریشانه

صباح جنګ نه وه لښکر کوراکورناست وه
شهزاده بهرام خبر شه له دي شانه

کِند آغوستي د بهزاد په لښکر کړ شه
حال ئې زده کړ زه فقیریم بي ګُمانه

بهرام وکړه نندارہ په درست لښکر کښ
د بهزاد د توري غږ وه تر جهانه

چه نمابنام شه بهرام بیا راغي ډیري ته
غم زده وه حق حیران په زړه پریشانه

ناګهان ورته ویښته د شماس یاد شُو
د ویښتو د سو په فکر شه یکسانه

نور ویښته ئې د شماس وسوه **فیاض**
شماس زر ور ته حاضر شه تر زمانه

شهزاده دِ بربر راشه اي شماس
په غمونو م زړه غوخ شه بي الماسه

صباح جنګ د کل اندامي په اوربل دي
د بهزاد لښکر بي حدَ دي بي قياسه

د نغفور د جنګ قوّت نشته دي ورورَ
خرابي راغله مدد شه له اخلاصه

په صيفور م سلام وايه چه وخت دا دي
له لښکرَ سره راشه بي لباسه

ورته وايه بهرام ډوب د غم په چاه دي
ته بي غمَ خوب کوي د تخت د پاسه

شماس ورغي حاضر شه و صيفور ته
نور ئي کړ صيفور خبر له عام و خاصه

دم درحال صيفور لښکر کړ واړه جمعَ
شه حاضر سلام ئي کړ په دواړه لاسه

نور ئي دِ شهزاده څه حکم په ما دي
ته ځښتن زه دِ بنده يم بي لباسه

نور بهرام ورته ويل صيفورَ ورورَ
که م خلاص کړي له بهزاد غُندِ خنّاسه

دعوي کبر د کل اندامي د اوربل دي
خبر شه ورورَ ځما له التماسه

په دا توره شپه همه تر تيغَ تير کړه
چه تني ئي وِي پرتي جدا له راسه

د بهزاد لښکر اوده پيريان پرِ کړه شُو
غيبانه ګذار کيده د آس د پاسه

څوک اوده دُو څوک ئي وِيښ تر تيغَ تير کړل
چا اغوستي جامي سره څوک بي لباسه

په بهزاد پسي بهرام شهزاده راغي
په بهزاد ئي سختي راوستنه بي قياسه

د بهزاد کله بهرام شهزاد پريکړه
په برچه کښ ئي وپيله له خپل لاسه

شهزاده وښکو یو خط په هغه شپه کښ
چه خبر شي هو سمي له استغاثه

د بهزاد قاتل بهرام دي واوريځ خلق
دا کار نه دي په تحقيق ديل له لاسه

هغه خط سر د بهزاد په برچه پوري
د بهزاد سرئ پيلي پرِ دپاسه

شهزاده بهرام چنل آس صيفور له ورکړ
وِ چه آس مِ بنه ساته له چنلَ لاسه

د صيفور لښکر ئ کل واړه رخصت کړ
بهرام پاتي يکتها شه العياثه

بهرام کِند د فقيريځ واغوست **فياض**
په کِند پوشو څوک کمان-کړي بي افلاسه

شپه شوه تيره صبحدم راغي رنړاه شوه
نور په چين کښ ځاي په ځاي دا رنګ غوغا شوه

د بهزاد څه شور وشر وه په لښکر کښ
شپه وَه ينمه چه فرياد او واويلا شوه

نندارد ته عالم وخوت وقتلي ته
چه تردي وقتَ جنګ نشته څه بلا شوه

ځاي په ځاي مړي پراته خيمي ولاړي
د زخميانو په کښ لا ډيره لړزا شوه

د نغفور وته چا وُوِ خمونږ شاهَ
د بهزاد په لښکر دا رنګ واقعا شوه

نغفور سور شه اميران ور سره واړه
د لښکرو ئ په هر لوري زوکا شوه

د بهزاد لښکر ئ وليده په سترګو
خر تَتُو سړي ګډ وډ حيراني لا شوه

له زخميانو ئ پوښتنه کړله وايئ
څه بلا وَه چه په تاسي را پيدا شوه

هغو وُو مونږ هیڅ نه لیده په سترګو
غیبانه ګذار کیده غیبي زوکا شوه

په ساعت کښې ئې همه تر تیغ تیر کړو
خلقه په یوه درنګ هسې فنا شوه

نور ئې بیا مونده نیزه سر خط پرې پورې
تر بادشاه پورې ئې وره ظاهره دا شوه

هغه خط بادشاه په لاس د قاضي ورکړ
قاضي ولوست هغه خط معلومه دا شوه

چه بې شک د بهزاد قاتل بهرام دي
د کاغذ ژبه په دا رنګ ګویا شوه

بادشاه وُو بهرام څوک دي معلوم کړي
مرګي دي دا صرانه تر ادا شوه

وارو وُو بهرام څوک دو ته معلوم کړي
نوم ئې اوس مونږ آوریدلي ګرانه دا شوه

وزیر وُو بهرام اوسي په آسمان کښې
اي بادشاه که دِ غوره دا وینا شوه

ملائک د ده لښکر ور سره راغله
څکه پیښه په بهزاد دا رنګ سزا شوه

نور په شپه ور ته راکوز شه له آسمان
د بهزاد د لښکر هیره بسم الله شوه

بادشاه وُو صد رحمت په تا وزیر
دغه ستا پوهه ښایسته غوره ځما شوه

مال دولت ئې د بهزاد واره قسمت کړ
د بادشاه د وزیر غوره دا وینا شوه

کل زخمیان ئې د طبیب په حواله کړه
له بادشاه خلقه سل رنګ رضا شوه

خط نیزه ئې د خزانچي په حواله کړه
د دې دواړه خصمانه ګوره په تا شوه

بادشاه دور غړاوه بیا په تخت کښیناست
خلقه په مبارک ور ته ګویا شوه

مرني بهرام کِندپوش کښيناست **فياض**
شپه او ورځ ئې وديدن ته تمنّا شوه

بهرام سترګې کړي خوږني جامي زنګيني
کِند ئې واغوست شه فقير د يار له مينې

په دربار کښې ديار پروت لکه فقير وَه
په مطلب ئې شينکي خال د نازنينې

ګرد غبار ئې د دربار د دواړو سترګو
شُو راښکه د هغې مستي دلبرينې

لا ليدلې بهرام نه وَه ګل اندامه
په صفت ئې پسې رنګ کړي جامي سپينې

ده وِ رُومينم په سترګو ګل اندامه
ما په دې لېبې جامي کړلې رنګينې

شپه او ورځ ئې د ديدان ارمان په زړه وه
بل خوراک ئې وه نه ريږِ واوره کهينې

ناګهان په چين کښې دا رنګ غوغا شوه
نن به مخ وينُو له ولايه د ګل ګينې

دا دستور د ګل اندامې وه په مياشت کښې
مخ به دې يو خل ښکاره کړ چه مِ وينې

خَلَقه ئې ډيره جمع شوه ديدن ته
رنګارنګ زلمي راتله پکړيږِ ئې سپينې

بهرام هم تر هغه ځايَ پورې راغې
رنګارنګ وې خلقي جوړې ريښمينې

له ماڼيږِ مخ ګل اندامې را څرګند کړ
جوړ شعلې د نمر ښکاره شوې تکې سپينې

خَلَقه ئې له ديدنَ ليونيږِ شوه
چه ښکاره ور ته جبين کړ مه جبينې

د ښايست ثاني ئې نه وه په جهان کښې
څکه تلې پسې د هر چا اوښې سپينې

شهزاده بهرام ئې لا ډېر ليوني کړ
نور مخ پټ کړ د مسند بالا نشيني

چه نمابنام شه خلقه کوراکور لاړه
بهرام پاتې يکتها لاړ شه دوهيني

تر کوڅې د گل اندامي بهرام راغې
په ديوال پورې کښيناست د دلبريني

نور ئې لاړ د تلو کته يو ځاي ئې وليد
په ديوال کښې وه ساز کړي همزيني

په درو درو ورته نزدې شه چه وګورم
چه احوال کړم شه معلوم د دلبريني

په هغه بهرام وروخوت هغه ځاي ته
د محل خښتې اکثرې وې زريني

گل اندامه وَه د تخت د پاس ملاسته
سهيلئ ورته ولاړې بهتريني

درسته شپه ئې شهزاده نندارې وکړه
چرګې ځاي په ځاي ناري کړي صباحيني

صبحدم شه بهرام بيا راغې ډېرې ته
په فراق ئې وُچې کړې د زړګې وينې

په دربار کښې ورته پروت لکه فقير وه
بل ئې ښې د عشق خبرې کړې رنګيني

ورته تير تر سر و مالَ شه **فياض**
چه په زړه ئې زخم کښېود گُل رنګيني

بيا ديدن ته مياشت دويمه شوه له بره
زاړه ځاي له خَلقه راغله اکثره

لکه نمر مخ گل اندامي را څرګند کړ
خلقه ئې په نظر کړه زير و زوره

شهزاده بهرام ئې وليد په عالم کښې
نور شتئ ئې په خاطر شوه برابره

د عشق اور ور باندِ بل شه لاړه بیرته
په پهلنګ دپاس پریوته اوتره

نه ئې خوب نه ئې خوراک نه ئې آرام شه
د بهرام په عشق کښ ناسته کوره کره

عالم لاړه شه کوراکور دیدن تمام شه
بهرام راغي و ویري ته له منظره

دا دستور د ګل اندامي مقرر وه
دي په وینځه کرزوله برادره

رکیبئِ به ئې په لاس دوینځي ورکړه
نښه آخله له هرچا نه معتبره

وینځي نښه له هرچا نه را طلب کړه
دولتئِ بهرام له راغله برابره

د بهرام ته ئې ویل کندپوش فقیر
ته هم نښه لا له راکړه قلندره

بهرام ګوته کړه ارتاده رکیبئِ ته
چه غمي ئې وه له لعل وله ګوهره

دولتئِ رکیبئِ یوړه اندرون ته
تیره شوه د ګل اندامي تر نظره

د بهرام ګوته ئې ولیده په سترګو
نور ئې وِ دولتئِ زر کړه ما خبره

چه دا ګوته دِ له چانه دَه راوړي
لوي قیمت لري دا ګوته دَه بهتره

دولتئِ وِ ستا په درکښ یو فقیر دي
دغه ګوته له هغه شوه میسّره

ګل اندامي ورته وِ دولتئِ وینځي
دا فقیر څوک خالي نه دي له اثره

له دي ګوتي شه معلوم چه شهزاده دي
د زړه حال ئې کړه معلوم ترِ شَه خبره

ورته وایه ګل اندامي یم لیکلي
ته چیل حال را ته معلوم کړه قلندره

که محتاج ئې د دولت ناست فقیر
په ساعت کښې به دِ مور کړم له سره زره

که په ملک کښې دِ دښمن وِي هم ورایه
زه به درکړم کومکي ستا له لښکره

نو روانه دولتيئ شوه و بهرام ته
تر فقیر پوري راغله بختوره

دولتيئ وِ را ته ووایه کندپوش
دا خواب دد څخه غواړم نازپروره

کل اندامي زه تر تا پوري لیکلي
له تا غواړي دا احوال اي قلندره

ستا څه کاردي چه دوکهي دِدي وهلي
په دا حال مِ زر تر زر کړه خبره

نور بهرام ورته ویل دولتيئ وینځي
څه له څوک پوښتنه کړي له راه‌گذره

دولتيئ وِ خواه مخواه را ته ووایه
میرمین حال غواړي له تا ته مقرره

ته خپل حال په کاغذ وښکه لا له راکړه
ستا مطلب به شي که خداي کاندِ ترسره

شهزاده حال په کاغذ باندِ ظاهر کړ
هر یو حرف ئې بي بها ده مرغلره

هغه ورځ چه یار له یار سره جواب کا
هغه ورځ وِي له اختر بختوره

دولتيئ د بهرام خط میرمین ته ورکړ
اي فیاض دولتيئ په زړه زړوره

خط د شهزاده بهرام

ته آگاه شه د فقیر د زړه له تاب
د مخ حسن دِ له فضل د وهاب

چه دِ زلفي په مخ تاوکړي الوولي
تا په ما باندِ داور لبني کړي بلي

چه دِ ايښي د سرو تيک پاس په اوږل دي
خوب خوراک دِ له ماورک کړ غم مِ مل دي

سور پيزوان دِ په سرو شونډو تجلّي کا
ځما زړه در پسي څکه واويلي کا

لونګين دِ په سينه باندِ زنګيږي
فقير څکه لکه مار هسي تاويږي

سر تر پايه لکه ګل هسي تازه يي
څکه خوښه د فقير بي اندازه يي

ته په چل بايست او حسن مستانه يي
له مسکينَ داسي ولي بيګانه يي

ستا تصوير چه په نظر راغي دلبري
هغه وقت بي خودَ لاړم نازپروري

هغه دم شوم را روان په لويه لاري
چه مِ اوښي په مخ دروِمي لاري لاري

ستا له عشقَ تشنه‌لبَ سينه کبابَ
سوي کله صحت موِمي بي درياب

زه فقيريم هوادِي نظر په ما کړه
روي د خداي دي په وصال مِ سړه خواکړه

ستا له عشقَ مِ زړه ډک دي له دردونو
د دونهي په غاړه ناست ډک له ګردونو

آه وکاږم په هردم ستا له فرقته
نور آسمان ځما له آه راغله په بنګته

ستا له عشقَ ديوانه شوم نازپروري
بل له چلو بيګانه شومَ دلبري

لکه زلفي دِ په مخ پرتي دلداري
باور وکړه آرام نه لرم نکاري

زړه مِ ډک له دردَ سترګي مِ له آبَ
ستا د عشق په درياب سر تر پا غرقابَ

ستا له زلفو بخت سیاه لرم دلبري
حال د غم و چا ته وایم نازپروري

د هجران دارو درمان غواړم له چانه
خود به ومرم عاجز ناست یم بي درمانه

نه آرام م شي د ورځي نه په شپه کښ
هسي غرق یم ستا د هجر په چپه کښ

خما ستا په سر سوګند دي نازپروري
حال م دا دي ته خما د زړګي سري

چه م لوستي ستا د مینې سپاره ده
اندرون سینه م واړه صد پاره ده

چه له زړه م ستا د زلفو مار پیچان دي
زړه م سوځي اندرون خما نیران دي

مه شه هسي په عذاب څوک نازنیني
چه له سترګو م بهیږي صافي وینې

ستا د حسن آوازي دي په عالم کښ
په هر بنهر په هر کلي غزه په سم کښ

په آرزو هم ستا د وصل بادشاهان دي
په تمام چین کښ میشته د عاشقان دي

لکن نه به وي خما په شان عاشق
له همه ؤ عاشقانو یم صادق

دا کلام خما په دا باند تمام شه
د جواب ئ منتظر خامه غلام شه

خط د ګل اندامي

در ته وایم ته آګاه شه قلندر
چر نه وي ګذار وخوري له خنجر

تخت و تاج د بادشاهي در څخه کوم دي
چه آخستي د خما د وصل نوم دي

ته درویش په درویشانو کښ چېل کار کړه
د شاهانو له کوڅې پاڅه رفتار کړه

له شاهانو وصال غواړي قلندر
ته له حال د بهزاد یې ناخبر

د بلغار شهزاده نوم د ده بهزاد وه
چه څنا د عشق په بحر کښ افتاد وه

له آسمان در ته کوز بهرام فلک شه
چه لښکر ور سره مل هم د ملک شه

د بهزاد لښکر ئې کل تر تیغ تیر کړ
د بهزاد سر ئې په خاورو کښ نور زیر کړ

ویره نه کړي چه بهرام څما عاشق دي
اي درویش هم هغه څما لایق دي

اي کدای وصال څه رنګ څما غواړي
بیهوده م په دربار ویې ولاړي

لړ لړ له دربار م روان شه
واوره غوږ باسه کوتاه خبر په ځان شه

کوره ومړي قلندر خبردار شه
په تلوار سره روان م له دلبار شه

چړ نه چه د آزار کاندې سپاهیان
په هر در کښ م ولاړ دي جلادان

په آرزو به ته څما د وصالت
سختئ وینې هرکوره د قیامت

د محشر په عالمونو چه عذاب دي
هغه واړه مقرر د ستا په باب دي

پښې د وباسه له چینې په شتاب
په ذو زغله چه د کار نه شي خراب

نصیحت در ته کوم په څو څو شان
بیا به نه مومي څما وصل جانان

هسې رنګ عاشقان په ما شیدا دي
چه په شپه کښ هم د ورځې په ژړا دي

که حیز شي هرڅوک ستا له دي احوال
څان به خلاص نه کړي څما له دي جنجال

بي له مرګ به لاړ نه شي ته له چین
په وقت دروماه اي څما د در مسکین

زهیریږم زه په تا باندِ هرګوره
خلاص به نه شي یا څما د عشق له توره

دا جواب څما په دا باندِ تمام دي
پا څه دروماه فقیرانو ته سلام دي

خط د شهزاده بهرام

دا څما سلام په تا دي نازپروري
وسوم وسوم ته څما د زړګي سر یي

ګل اندامي ته څما د سترګو نور یي
بي له تا م پکار نه دي چونه نوري

زړه م ستا له جدائيِ قاسم قلم شه
مخ م تر په اوښنو بخره م المرشه

وصال وښیه و ما غُندِ حیران ته
بد ویل مه کړه و ما غُندِ ګریان ته

لاړ به نه شم زه په حیز ستا له بورجل
ما دنګلي په اختیار له سرَ خپل

سرنګون لکه نرګس یم ستا له غمه
ستا د عشق شتيِ م دَه په خاطر سمه

ستا له درَ به لاړ نه شم له خواريِ
ما منلي په تندي دي د شواريِ

ستا کوڅه څما کعبه د ناف غوټيِ
لاړ به نه شم که م غوڅي کړي بوټيِ

د فرهاد مسکین له حالَ څه خبره
او که نه یي اوس له ما واوره په غوره

چه د عشق له غمَ مړ وطن ئې عز شه
نور شیرینې ته معلوم دغه خبر شه

شهزادګيِ شیرینه ووته له کوره
په فرهاد پسې روانه شوه سرتوره

چه نژدې شوه د فرهاد وجنازې ته
نور ئې وکتل د مرګ و دروازې ته

په فرهاد باندِ را پریوته ملاله
له فرهادَ سره ومړه بې محاله

له فرهاد سره ئې ضَمُ د جبین خال کړ
په دا شان ئې له مسکین سره وصال کړ

ته هم هسې وفا واخله کل اندامي
روې د خدای دې انديښنې مه کوه خامي

ستا په درکښ هګۍ چه عاشقان دِي
در ته وایم هغه واړه خام کاران دِي

صادقان نه دِي دا واړه عاشقان
د دې واړو عاشقانو زه یم خان

که هرڅو در ته فقیر غریب مسکین یم
له دې واړه عاشقانو زه غمګین یم

هیشه یم ستا له غمَ زه ګریان
بل څما په شان به نه دِي سرګردان

لکه زه چه سرګردان یمَ میرمني
نه به زمکه نه آسمان وِي پاک دامني

مقرر څما په زړه دِي زر قصابَ
چه م غوښې پریکوِي له دې جوابَ

خط د کل اندامي

بې هوده خبرې مه کړه دیوانه
عقل نه لرې کِندپوشَ ستانه

بیا به نه مومي خما د وصل کام
در ته وایم دالیږي ولي پیغام

بیا به نه مومي خما له باغ گل
پوچ بي خاي تیروي دا عمر خپل

راشه وباسه له زړه دا خما خیال
بیا به نه مومي خما د جبین خال

ستا په شان عاشقان ډیر خما په در
اي کِند پوش آخر څي خاوري په سر

خان به کړي آخر په دا سودا خراب
اي کِند پوش مه کړ دغه اضطراب

در ته وایم عمل وکړه په دا پند
دا خما ویل به در کاندِ ډیر خوند

واوره لور وَه د بادشاه نوشیروان
تله حمام له بنایسته د گل په شان

باد ئي لري کړ پلو مخ ئي خرگند شه
یو فقیر چه ولیده په عشق ئي بند شه

نور مین په شهزادگيِ هغه فقیر شه
په کوڅه کښ ورته پروت دخان په ویرشه

شهزادگيِ ورته وِ لري شه فقیرَ
نصیحت در ته کوم واوره اسیرَ

فقیر نه لري کیده له هغه ځایَ
همیشه ئي سرِي کار وه له هي هایَ

شه خبر نوشیروان د ده له حالَ
د هغه کله ئي پدیکړله في الحالَ

تا ته هم زه نصیحت په هغه شان کړم
نه یو واري نصیحت په هر زمان کړم

اي درویشَ که ړم پلار په دا خبر شي
ستا و سر ته به هغهَ ساعت خطر شي

چه لا پلار م خبر نه دي پاڅه درومه
له دي کارَ اجتناب واخله مغرومه

دلسوزي م په تا ډېر دَه دلبرَ
غوږ پرِ کېږده اي ځما د زړګي سرَ

طمع مه کړه چه دا باغ به ځما ستا شي
پند م واخله دلسوزي ځما په تا شي

له دې ځايَ پاڅه څه ګوښه کنار شَه
له دې عشقَ په توبه په استغفار شَه

زرخريده غلامان م پاسبانان دي
دوي ځما څوکيۀ کوي ډېر ظالمان دي

که خبر شي چري ستا په دا احوال
سر به ستا له تني غوڅ کاندِ في الحال

بيا به تا په اوښ بالا کاندِ پريشان
ګرزوي به دِ بازار کښې په دا شان

نفس به ستا پاره پاره وي په جمدر
دوي به وايي هغه دا دي قلندر

چه مين وه دي د چين د شاه په لور
څکه پېښ د ده په حال شه دا ضرور

دنډري به په دا شان په هري لاري
په هر لوري ګرزولي شي بسياري

درته وايم که لري څه شرم ننګ
زياتي مه شَه ته ځما د درد ملنګ

که بهرام چرته خبر شي د فلک
دي به شي په دا خبره باندِ کلک

له زمين به دِ بالا کړي په آسمان
له آسمانَ به دِ ولي په دا شان

چه هدوکي غوښي پوست به دِ جدا شي
له وجودَ به دِ ستا ژوندون جلا شي

چه ته مړ شي بيا به څه کړي کل اندامه
راشه مه دُوزه له چلَ ننګ و نامه

فقيري کوه د خپلو فقيرانو
په آرزو کښې مه اوسه د بادشاهانو

خط د شهزاده بهرام

شهزاده وِ سروِقدي ماه‌رخساري
له نظر وکړه و ما غُندِ حیران ته
وفا راوړه جفا لري کړه له میانَ
د مجنون قصه دِ چرته آوریدلي
ځان ئي ورک وه خو لیلا ورته لیده شوه
د لیلا په عشق کښې هسې مبتلا وه
بي آرامَ خالي ناست وه له هوسَ
له مجنونَ څما عشق دي لا دپاسَ
ځان م هیر دي هر ساعت راته ته یاده
ستا له دَ به لاړ نه شم احبابَ
ستا په درکښې خوار وزار وخسته بنه یم
ستا په عشق کښې م ځان سپک کړ نازنیني
ستا له عشقَ م په مخ رودونه ساز شُو

ته راضي د دردمندانو په آزار یي
روي د خدای دي نظر مه کوه آسمان ته
په پرهر م مرهم ته کیږده جانانَ
چه له عشقَ دلیلا ئي وَه ویلي
هم په داوینا ئي ژبه چلیده شوه
چه په ژبه ئي نوم سنګلي د لیلا وه
ځان ئي ځار کړ دلیلي د در له خسَ
کل اندامي زه خالي یم له لباسَ
دا وعده م په نامه د پاک مولي دَه
که د سر سودا م وکړي له قصابَ
زه په تخت د بادشاهئ ناست بنه نه یم
اي په تخت د سلطنت بالا نشیني
چه ترخه ویل له تا نه بي انداز شُو

دا حیات را ته تیاره مرګ روښنائي دَه
چه د یار په در کښې ومري دانائي دَه

ته چه ما و ته پیغور د تخت و تاج کړي
له پیغورَم مرګ ښه که م علاج کړي

زه له اصلَ شهزاده پلارم بادشاه دي
اوس یم خاوري ستا په درکښې حال م دا دي

ولي نوم در ته چل نه وایم چه دا دي
نه به ملک در ته ښکاره کړم چه څا دي

ستا په درکښې نمدپوش فقیر ملنګ یم
ستا له عشقَ هسي شان بي نام و ننګ یم

سخت په زړه یم چه لا پایم تر دا اوس
زیست روزګارم همیشه ستا له افسوس

حذایَ م بخره کړه ژړا چه خوار و زار یم
ستا په درکښې زه کِند پوش و لاړ بیګار یم

څو به پایم په دا شان څما مرغوبي
خود به وُمرم آخزش څما محبوبي

څما پلار هسي بادشاه دي عالیشان
په دربارکښې ئي حاضر دِي سلطانان

په دنیا کښې هغه نور چه بادشاهان دِي
تامي د قبله ګاه م په فرمان دي

که حساب د هغو خپلو خزانو کړم
د سپاهیانو د لښکرو توپخانو کړم

ستا د پلار چه هګي واړه منشیان دِي
یا لوستونکي یا لیکونکي کاتبان دِي

که همه واړه لیکي دا حسابونه
تر یه ډک شي او یا زرَ کتابونو

دا حساب به ئي خلاص نه شي تر قیامتَ
که ئي وښکي هګي له کتابت

ولي نه وایم زه اوس چه شهزاده یم
لکه خاوري ستا په درکښې افتاده یم

خط د ګل اندامي

اي کنډپوشَ په رښتيا ځما عاشق يي
شوه معلومه چه رښتيايي نه فاسق يي

اوس به ور د دنا لري کړم و تاته
دغه حال زه په رښتيا وايم و تاته

ستا د عشق غشي م خښ د زړه په سر دي
هغه درخ چه م ليدلي ستا بشر دي

ستا د مينې اور م بل دي په خاطر کښ
څه شوُ دا که ليدي نه شي په ظاهر کښ

يو دم نه يم ستا له غمَ په آرام
روغ عالم ته په خدا يم په ناکام

ډير عنوته په تا نيز شوُ ځما يارَ
پس له دي هوس خدا کوه دلدارَ

زه به ستا په رضا کار کړمَ مينَ
پس له دي به ستا خدمت کوم غمجنَ

تا چه حال را ته معلوم کړ شهزاده يم
اوس م خاوري ستا په در کښ افتاده يم

بيا دا حال د چا ته مه وايه دلبرَ
په غوږ واوره اي ځما د زړګي سرَ

هسي مه وايه چه زوي زه د بادشاه يم
هسي وايه نمدپوش فقير ګدا يم

که خبر شي څوک په دا چه شهزاده دي
په دربار د ګل اندامي افتاده دي

ځما ستا حال به معلوم همه عالم کړي
ګفتګوي به ځما ستا نور په هر چم کړي

ځان په دا فقيريُ پټ ساته بهبود دي
هغه کار به زه کوم چه ستا مقصود دي

ستا همت راته معلوم شه همت ناک
خدای دِ خال خما نصیب شهزاده ستاک

امید دا چه خال و خط به خما ستا شي
صبر داخله چه حاصل دِ مدعا شي

خما ستا وصال به وشي خما دل
بي له تام شه توبه له یار بل

مکر دا چه صبر ته د خان توبنه کړه
لرِ بیرته له زړګي نه اندیښنه کړه

زر به ستا خما وصال وُشي مین
خاطر جمع فریاد مه کوه دردمن

زه په تا باندِ مینه یم هرګوره
اندرون خاطرم ډک د عشق له اوره

پټ پنهم به سره راز کړو قلندره
چه وزګاره خلقته نه شي خبره

خما ستا په سر سوګند دي جفا نه کړم
هر چه ستاد زړه رضا هغه به زه کړم

نور ئي ورکړ دا کاغذ و دولتئ ته
وِ ئي زر ئي رسوه هغي ډیرئ ته

دولتئ کاغذ حاضر کړ و بهرام ته
شهزاده بهرام نظر کړ و پیغام ته

چه بهرام د کاغذ حال واړه معلوم کړ
وِ ئي شکر د یار زړه چه الله موم کړ

بهرام ډیر په زړه خوشحال شه یارانو
چه معلوم ئي کړ دا حال صاحبدلانو

په دربار د ګل اندامي ناست فقیر وه
په مطلب ئي خال وخط دا ئي تدبیر وه

لا به کله په وصال زه سرفراز شم
په تولي د عاشقانو به ممتاز شم

هم به کله مشرف په دا ځرف شم
چه بي غمُ په هر ځاي په هر طرف شم
همیشه علي الدوام به په آرم یم
په ژړا په هر صبا په هر ماښام یم

آفرین په بهرام دیر وایه **فیاضَ**
هره چار ئي مردانه بي اعتراضَ

هغه ورځ چه وه بهرام په ښکار وتلي
یو هوسي ئي وه په مخ کښې پاڅیدلي
درست لښکر ور ته ولاړ وه په داطمع
اوس به راشي په هوسي پسِ دي تللي
یوا ورځ ور ته لښکر په صحرا ناست وه
امیرانو دا خبر وه ګرزولي
چه صباح شه درست لښکر په صحرا سر شه
هم په دا سره نوبت وه غوښتلي
د بهرام خیر زړ واخلئ وهر لور ته
څه بلا شوه چه لا نه دي جا روتلي
په بهرام پسي لښکر شه واړه ستړي
بیا ئي نه موند بیرته راغله سور وپلي
امیران ئي پلار ته ودریده بادشاهَ
عرض نرُو که بادشاه نه ښي قهرولي
شهزاده بهرام چه راغي د ښکار ځاي ته
یو هوسي ئي وه په مخ کښې پاڅیدلي
شهزاده ور پسي آس تیز کړ ناګاهَ
مونږ لښکر ور ته ولاړ دي زغلیدلي
اوس بادشاه دِ حکم کا چه مونږ هغه کړُو
د شاه حکم مونږ په سترګو دي منلي
بادشاه وِ چه اوس ورځئ بهرام وګورئ
دغه کارم دي وتاسو ته سپارلي

که خبر چا د بهرام لا لره راوړ
نصفي ښهرم هغه ته دي ښکېلي

و هر لور ته حکم لاړ چه بهرام ګوري
په بهرام پسي روان شو سور و پلي

د بهرام د پلار اوينې شلي پېک وو
په دا واړو شبرنګ غوره آزمېلي

په بهرام پسي بادشاه واړه رخصت کړه
و شبرنګ ته بادشاه ډېر وه قهرېدلي

که خبر دِ د بهرام لا له را ته وړ
سر په ستا له تنې غوڅ کړم بُرېدلي

شبرنګ پل د هوسي واخسته روان شه
ناګاه وه هغه ګنبذ ته رسېدلي

شبرنګ ننوت دننه په ګنبذ کښې
يو سپين ږيري په کښې ناست وه صورة ښکلي

ده سلام ور باندِ ولو اي سپين ږيري
په نزدي مُده کښې ځوک دلته راغلي

خوبصورتَ شهزاده بهرام ئې نوم دي
د پدر نوم ئې کشور تنا آوريدلي

نور سپين ږيري ورته وُويل اي ځوانَ
وه راغلي ښايسته صورت ښاغلي

دا ځهره ئې وليده زړه ئې پرِ بايلو
له دي حالَ ئې نور زه وم پوښتيدلي

ما وِ ځوانَ دا ځهره د کل اندامي
د فغفور بادشاه دختر چين ئې دي کلي

که ما ډېر منعَ کاوه چين ته روان شه
خو د آس و شا ته وخوت الوتلي

نور شبرنګ ويل سپين ږيريَ روي دخدايَ دی
ته د خدايَ دپاره څه بادشاه بللي

دغه حال در ته په ځپله خوله رُوايه
بادشاه ډېر پسي زهير دي زړه ختلي

له بادشاه نه به انعام دو لره واخلم
هغه زوي د بادشاه ډېر وه نازولي

له شبرنګ سره سپین ږیري را روان شه
د بادشاه په مخ کښې راغي ودرېدلي

د بهرام حال ئې معلوم کړ و بادشاه ته
په دا زیري بادشاه دور وه غږولي

ډېر انعام ئې د سپین ږیري لره ورکړ
نور سپین ږیري ئې رخصت کړ بنه ناڅلي

د بهرام حال چه معلوم شه د بادشاه ته
د لښکر تدبیر ئې کړ چه واستولي

بیا بادشاه په زړه خوشحال کښیناست **فیاض**
چه معلوم د شهزاده شه کور د کلي

د کشور بادشاه صالح نامه وزیر وه
په هر کار کښې پوهنده بنه ئې تدبیر وه

وزیر د باله بادشاه واوره حضور له
بادشاه ډېر په خوشحالئ ناست په سریر وه

وِ چه اي وزیرَ زر لښکر طیار کړه
بي حسابَ لښکر راغي لوي بهیر وه

وزیر وِ بادشاه دِ حکم کړي طیار یُو
په مجلس کښې ورته ناست هر یو امیر وه

په فغفور باندِ کشور بادشاه خط وښکه
نور په خط کښې بادشاه ښکلي دا تقریر وه

تفحص شما د زوي وکړه بادشاه
بادشاه ښکلي په قاعده هسي تفسیر وه

ستا په ښهر کښې م زوي بهرام ئې نوم دي
درغلي په خاطر ئې د عشق تیر وه

نور کاغذ ئې د وزیر په حواله کړ
او شبرنګ ئې د هغه فوجونو میر وه

شه رخصت په هغه وقت لښکر وچین ته — په خیرات ئې رضا کړي هر فقیر وه
غوض داچه لښکر ورسیده چین ته — هر سپاهي په منزل ستړي هم حقیر وه
تر قلا دچین بهرواړه ډیره شو — نندارو ته ئې دچین وګړي خیر وه
چه فغفور بادشاه خبر شه له دي حال — ملاقات له ئې لیکلي خپل وزیر وه
چه وزیر د بادشاه ورغي ملیا شه — په ورتلو ئې رضا کړي هر فقیر وه
نور وزیر وِ خپل احوال راته ووایه — څه دِ کار څه دِ غرض څه دِ تفسیر وه
نور وزیر پیشکشي ورکړه بل وزیر ته — بیا ئې خط ورلره ورکړ چه تحریر وه
مطلب دا چه دَ بهرام احوال معلوم کړه — په دا فکر کښې حیران ګنجور وزیر وه
بیا ګنجور وِ بهرام نشته په داځای کښې — که بهرام وي خود به هرچا ته تشهیر وه
مګر یو بهرام فلک راته معلوم دي — هر صفت په کښې موجود روشن ضمیر وه
یو خدمت ئې څمونږ کړي دي شبرنګ — مونږ دي لیدلي نه دي څه بشیر وه
ملائک دده لښکر په شپه راکوز شه — نور ئې قتل کړ بهزاد چه لوي شریر وه
نور ئې خط وښکه په توره شپه روان شه — خط ئې بیاموند شه صباح چه خوش تقریر وه
حال احوال ئې شه معلوم په هغه خط کښې — مونږ سنبال کړ قاضي لوستي بو نظیر وه
نور شبرنګ وِ هغه خط راته معلوم کړه — دم درحال ئې خزانچي راوست دستګیر وه

خزانچي ته يې وخط د بهرام راوړه
خزانچي ته په راوړو باندې مشير وه

خزانچي خط د مجلس منځ ته کښار کړ
شبرنګ خط د بهرام وپېژاند بصير وه

نور يې وو خط څومره د شهزاده دي
چاچه بل کمان کاوه پوچ يې تعبير وه

دا کاغذ کوټي څومره د شهزاده دي
په بهزاد باندې هم ده کړي شبګير وه

په دا حال بادشاه د چين خوښ شه **فياض**
نور يې حکم دم درحال په خپل وزير وه

بيا بادشاه وزير ته وو هغه وره
چه بهرام راته حاضر کړه تر سحره

بادشاه وو که بهرام لا له چا راوست
انعامونه به زه ورکړم له سره زره

چه بهرام دلاور وو ينم په سترګو
چه په شپه جنګونه کاندې بې رهبره

بيا يې و پوښتم لښکر دکوم عالم وه
آدم زاد وو که پېريان څما دلبره

د بهزاد د قتل حال به تې معلوم کړم
وه يواځې که لښکر وه برادره

په هر لورې حکم لاړچه بهرام ګورئ
سواره پلي ګرزېده تر بحر و بره

شبرنګ وو خلقه په عقل خامه
چه بهرام په صحرا غوارې ده اوتره

دې عاشق د ګل اندامي په اوربل دې
عاشق ناست وې د معشوق له خاکستره

شهزاده بهرام به وې په هغه ځاي کښې
چه باد بوي وله راوړي د يار له دره

شبرنګ وُوِ چه مانړئِ د ګُل اندامي
په کوم ځاي ده څوک دِ کړي راته اظهره

يو سړي شه ورسره تر مانړئِ پوري
شهزاده بهرام ئي کوت نور البصره

شهزاده بهرام ئي وليد کِند آغوستي
د دونهي په غاړه ناست وه بي آثره

ګُل رنګ مخ ئي په هيرو سره سپيره وه
هر اندام ئي آلوده له خاکستره

د مخ رنګ ئي هسي رنګِ په بل شان وه
چه شبرنګ ورته حيران شه برادره

نور شبرنګ وِ دا بل څوک شهزاده نه دي
يا خوخوار شوي د بهرام ښائسته بشره

په ورو ورو ورته نژدي شه چه وګورم
په ښه شان سره ئي تير کړم تر نظره

په تحقيق ئي کړ معلوم چه شهزاده دي
نور په بيرته ترِ روان شه بي خبره

په بادشاه باندِ ئي زيري دَ بهرام کړ
په دا ښهر کښې بهرام شته نازپروره

بادشاه دور ښادنامي وغږولي
چه خبر شه په دا حال ځما دلبره

شاهانه آس و پوشاک ئي زرطيار کړه
و وزير ته ئي وِ ورشه معتبره

ګُل لښکر شبرنګ په مخ د مانړئِ راوست
ګُل اندامه شوه خبر له شور و شره

وِ دا څه بلا لښکر راغي مانړئِ ته
له دي حال ما خبر کړئِ زر تر زره

چا وِ دلته يو فقير وه ستا په درکښې
شهزاده بهرام هغه شه مقرره

ګُل اندامي ورته وِ دولتيئِ ويخي
ما ويل چه شهزاده دي نازپروره

شبرنګ مخ د شهزاده له هیرو پاک کړ
په سل ځل تر قربان شه مکرره

بیا ئې غسل وله ورکړ سر تر پایَ
د بنائست شعلې ئې زیاتې شوې ترنمره

ګل اندامه ننداري ته وه ولاړه
د عشق سرې لښې ئې تلې له ځکره

په ژړلو ګل اندامې سترګې سرې کړې
د بهرام مینې له عقل کړه اوتره

په پهلنګ باندِ پرته لکه مرده وَه
دا دَ عشق کارونه ګوره برادره

د فغفور بادشاه ترځایَ بهرام راغې
وُو په باغ کښې رنګارنګ پراته بستره

هغه شپه شوه په دا شان تیره **فیاض**
خوشحالې خندا هوس وُو تر سحره

صبحدم شه مُلا الله اکبر کړ
نور بادشاه وزیرته دا رنګ خبر کړ

زه دیدن ته د بهرام شهزاده ځمَ
دَ بهرام دیدن وما ته خدای اختر کړ

آس سپاهیان وزیرَ کُل راته طیار کړه
نور وزیر ورته حاضر واړه لښکر کړ

غرض دا چه دَ بهرام په لور روان شه
او بهرام ته ئې قاصد وراندِ پیشتر کړ

چه بادشاه ستا ملاقات لره راځینه
استقبال ته ئې بهرام روان زړه ور کړ

چه بادشاه او شهزاده سره یوځای شُو
ګویا نمر سپوږمۍ وُو باغ ئې منور کړ

یو د بل د خیریت خبرې کړلې
په دیدن دیدن ئې مخ د زړګې سر کړ

بیا بادشاه وِ راته حال د بهزاد وایه
په څه شان دِ د بهزاد خاوري لښکر کړ

یکتنها وي که لښکر هم در سره وه
چه دِ قطع د بهزاد باغارِي سر کړ

ستا لښکر څوک آدم زاد وُو که پیریان وُو
چه لښکر دِ د بهزاد زیرو زبر کړ

شهزاده وِ ځما یل قسم لښکر دي
خو پټ ښه دي او که نه لوي به ضرر کړ

خلقه به دِ د چین تر و لوزیږي
ټینګ به نه شي خوارو زار به هر بشر کړ

نور بادشاه وِ خواه مخواه ئي راځرګند کړه
په ښه شان په ښه شوکت راته اظهر کړ

د شماس ویښته بهرام وسو په اور کښې
نور شماس ورته ښکاره ګوشه بشر کړ

شهزاده سوِ راته غوښ کیږده شماس
ته مِ ورورِي که حاضر دِ خپل لښکر کړ

شماس لاړ شه په لښکر پسي **فیاض**
په ساعت کښې ئي لښکر خپل میسّر کړ

یو ساعت پس د صیفور لښکر ښکاره شه
نور د چین وګري درست په ننداره شه

په هوا ناري سوري د توپو دوند شه
درست جهان ئي په هیبت یوه ناره شه

تش دارُو به خلاصیده ګوئي به نه وي
مخ د زمکي په عالمو ګواره شه

د چین ښهر ئي تمام سره ګډوډ کړ
پلار له زوي زوي له پلار ویزاره شه

په ساعت کښې ئي قیامت وربانِد راوست
ننداري نه هر سړي توبه ګاره شه

نور فغفور وِ روي دخداي لښکر قرارکړه
په رعیت مِ اوس آفتاب نیزه واره شه

نور بهرام وِ ما ویل ښکاره ښه نه دي
اوس رعیت دِ په فریاد په کوکاره شه

نورئي غږ کړ و شماس ته برقرار شَه
بیا شماس هم ولښکر ته په ناره شه

د صیفور لښکر قرار بیا صف په صف شه
اي **فیاض** د بهرام قوّت ښکاره شه

شهزاده په دا امید کښې وه عالمه
خداي به ما له کُل اندامي کړي همدمه

آدمیان پیریان لښکر ورسره ناست وه
خداي ئي مل وه څکه چار ئي شوله سمه

په لښکر کښې څاي په څاي شُو سرودونه
د بهرام لښکري ناستي وي بي غمه

خو آخر شبرنګ وزیر مصلحت وکړ
څو به ناست یُو په دا څاي کښې خوښ خورمه

غوض دا چه عوض د چین بادشاه ته بویه
چه مونږ خلاص کړه د بهرام واده له غمه

وزیر لاس په نامه ودریده بادشاه ته
نور ئي وُوِ قبله ګاه صاحب کرمه

خود ظاهر دي د بهرام مطلب و تا ته
زه به څه قصه کومَ زیات وکمه

مونږ خیښي غواړو له تا نه په ښه مینه
که بادشاه څمونږ آرزو که مسلمه

په دا شان سره دوستي غواړو له تا نه
دا څواب لا له زر راکړه تر یو دمه

بادشاه وُوِ اي وزیرَ څما ورورَ
شهزاده بهرام مِ خوښ تر نور عالمه

په سل رنګ مِ رضا که دي مِ زوم شِي
بل به لوي شم تر عرب و تر عجمه

کُل اندامه په سرمسته حکم خپل کا
دَس مِ نه شِي جواب نه باسم له فمه

لورخما په ویل نه راځي وزیرَ
تفحّص بویه نور ما کړه مسلّمه

شبرنګ وِکه د بادشاه په دا رضا وِي
شهزادګيِ د چا په خولي زه و پوښتمه

نور فغفور وِ ډیر دِ ښه وُوِ شبرنګَ
شبرنګ وکړه د تدبیر ښا محکمه

شبرنګ وُوِ شهزاده ته چه بهرامَ
کُل اندامي له څوک ولیږه اکرمه

هم له دي نه تفحص تحقیق پکار دي
دَه ددي رضا په هرچا مقدمه

فغفور ډیر په تا راضِي دي بي حسابَ
مګروِاِي دَ خپل واک ده شیرین نمه

بهرام وِچه سراسیا به ولیږم زه
ورسره هم روح افزا ښاپیریِ سمه

هوښیاران په مصلحت کار کړِي **فیاضَ**
څکه کار ئي وِي خالِي له پیچ وخمه

نور بهرام وِ سراسیا خوري وردرومه
کُل اندامه خبر کړه څما له نومه

ورته وایه ستا د مینې په اورسوي
شهزاده بهرام راغلي دي له رومه

ستا په درکښې څومُده ملنګ فقیروه
ستا له وصلَ ناقرار دي ډیر محرومه

زه بهرام یم را لیکلي تر تا پوري
کُل اندامي وایه ستا رضا په کومه

شهزاده بهرام قبول کړه ګل اندامي
ناست د زړه ئي چاپېر ستا د زلفو لومه

د بهرام په سوي زړه باندِ نظر کړه
ستا د هجر په لنبو کښې شه سرګومه

ته جواب ترِ سراسیا خوري ذر راوړه
ته هوښیاره د زړه حال ئي کړه معلومه

سراسیا او روح افزا سهیلئِ واړه
شوي روانې واړه دوي ددي تر بومه

په محل د ګل اندامي شوي داخلي
خنده روِي تلي هیڅوک نه وي مغمومه

لا په خوا وَه ګل اندامه خبر شوي
چه به راشِي سراسیا د یار له بومه

منبک عنبر ئي په محل وُو پوک وهلي
خوش بوئِي ئي په هر لورِي تله مضمومه

ځاي په ځاي مجلس کیده په خوخو قسمَ
میلمستیا ذ سراسیا وَه له هجومه

ګل اندامه سراسیا سره بوځاي شوي
سهیلئِ ورته ولاړي وي محکومه

ملاقات چه سره وشه پس له درنګَ
ورته راغي ښه ناري خاص له عمومه

چه ناري ئي کړ تمام واوره **فیاضَ**
ښه مجلس ئي کړ آغاز نه وي مغمومه

یو ساعت سره خوشحالَ خندیدلي
بیا ئي داخبري مینځ ته واچولي

سراسیا وِ ګل اندامي بهرام سوزِي
په ګریبان باندِ ئي اوښي بهیدلي

شپه او ورځ ئي هاي فراق درپسي زور شه
چه دِ زلفي په سپین مخ دِي غوړیدلي

د تصویر په یو نظر په تامین شه — چه دِ پریکړي د بهرام د زړګي ولي
بهرام دا وِ ته غوږ کیږده ګُل اندامي — دي جواب غواړي له تا نه د چین ګُلي
ګُل اندامي وِ ته پلار څما قبول کړه — د بهرام خبري کُل دِي ما منلي
ګُل اندامي چه دا حال ورته معلوم کړ — سراسیا سهیلئ واړه رخصت شولي
دغه حال ئي و بهرام وته ظاهر کړ — بناپیرئ ورته ولاړي و دریدلي
بهرام وُوِ وصیفور ته څما ورور — ګُل اندامي په دا شان کرانه نیولي
بیا صیفور ورته ویل بهرامَ ورور — سراسیا خورِ وتانه دَه بخښلي
حکم ستا دي څما څه زه غلام ستایم — هرچه وایي واړه مونږ قبولي کړلي
سراسیا ئي په نکاح ورکړه فغور ته — په واده ئي نغاري و غږولي
پس واده هم روح افزا شوه وصیفور ته — بناپیري ئي په واده کښې لوبیدلي
دغه پسَ د بهرام واده ئي جوړ کړ — رنګارنګ جوړي زرینې رغیدلي
ګُل اندامه ئي کړه داخله په محل کښې — د سرو تیک ئي په جنین شغلي کولي
په اوربل باندِ ئي قط دګلو جوړ کړ — مزعفري پرِ د پاسَ حراو کړلي
چه پیزوان ئي په سرو شوندو باندِ سوړ کړ — خلقي ئي بي ګُناهَ قتلولي
چه زیورجامي ئي واړه پرِ انبار کړي — خلقي ئي نندارو ته و دریدلي

هرچا داوِ چه بیشکه حور العین وَه
په دنیا کښ له جنّت دَه راوتلي

ځلوینت ورځي ئي واده کاوه یارانو
هم بي شانَ توپخاني به خلاصیدلي

د بهرام د ګل اندامي نکاح وشه
خلقي شوي کوراکور سره داخلي

په محل ئي د بهرام کړله داخله
د ښه خداي ثنا ئي ډیري درستولي

بیا ئي نیت د تلو د روم وکړ **فیاض**
د بهرام لښکري ګل سنبالیدلي

ګل اندامه شوه سوره لښکر طیار شه
آدمیان لښکر پیریان کورته رفتار شه

فغفور ډیر جوهر ګوهر له لورسره کړه
ځلوینت زره سهیلي ئي خدمتګار شه

له فغفورَ په ژړا ژړا رخصت شوه
د ګل اندامي په ژړا ژړا رفتار شه

شهزاده بهرام رخصت شه له صیفورَ
په ژړا ژړا به یود بل کنار شه

چه بهرام په ولایت د روم داخل شه
و شبرنګ وته ګویا په دا ګفتار شه

چه ورځه بادشاه ځما په حال خبر کړه
شبرنګ زر ورځني وراندِ په تلوار شه

په کشور باندِ ئي زیري د ښادئ کړ
په کشور بادشاه جهان لکه ګلذار شه

وِ ئي شاهَ مبارک شه غوږ پرِ کیږده
پس له دي خوشحال خندان شَه اوس دِ وار شه

په دباؤ په بادشاهت کښ ښه مقیم شوي
درښکاره چه دَ بهرام ښایسته رخسار شه

اوس بي‌شکَ دِ له زړه نه کړه غم لري
چاچه تا ته عکس کړ هغه اوس خوار شه

استقبال ته ئي تمام جهان روان شه
بادشاه وُوِ شکر شکر بخت مِ يار شه

چه نژدي بهرام له راغي په ژړا شه
وِ ئي شکر رابنکاره چه دِ ديدار شه

وِ په خير راغلي اوس زويَ مسافرَ
په راتله دِ ځما زړه رنځور بيدار شه

پلار او زوي په ژړا سره يوځاي شُو
دواړه يو تربلَ غيږ او هم‌کنار شه

د بهرام سترګي ئي يو تربلَ ښکل کړي
تا به وِ چه په بادشاه باندِ بهار شه

د بهرام واده ئي سر دوباره جوړ کړ
ځلوينت شپي ورځي په روم کښ دندوکار شه

نورئي تاج د بادشاهيِ بهرام ته ورکړ
د ښه خداي په عبادت کوښه کنار شه

هسي رنګَ عدالت بهرام را واخست
چه عاجز سړي خوشحال دنيادار خوار شه

په هغه ملک ئي نامه خوره شوه ډيره
ناکهانه پرِ د موت ښه اظهار شه

خدايَ رحم هم پرِ ته وکړي رحيمَ
هرچه لاړل په نصيب ئي پاک ديدار شه

چه ملکونه ئي آباد په عدالت کړه
بادشاهت ئي ښائسته لکه ګُلزار شه

ګُل‌اندامه شهزاده سره يوځاي وُو
محبّت ئي زيات ترحد ليل و نهار شه

د بهرام د زړه مقصود سر شه **فياض**
تماش‌کير د ګُل‌اندامي د رخسار شه

انتخاب

د دیوان د عبدالرحمان

مهمند ساکن د بهادر کلي

وهغو وته چه خداي پخپله وښود

څه حاجت ئي د رحمان په کفتکوي شي

انتخاب

د دیوان د عبدالرحمان

کوره هسي کردګار دي رب ثما
چه صاحب د کُل اختیار دي رب ثما

هګي بزرګواران چه ثوک ئي واپي
تر همه ؤ بزرګوار دي رب ثما

نه ئي هیڅ حاجت په چاباندِ موقوف دي
نه د هیچا منت بار دي رب ثما

له نیستئ ئي د هستئ صورت پیدا کړ
هسي رنګ پروردګار دي رب ثما

هم صانع دي د جمله ؤ مصنوعاتو
هم سامع د هر ګفتار دي رب ثما

چه ئي هیچري نه مثل نه مثال شته
د هغو عطرو عطار دي رب ثما

هر تعمیر چه د دنیا او د عقبیٰ دي
د همه وارو معمار دي رب ثما

خوانده د نا نویسو صحیفو دی
دانده د هر اسرار دي رب ثما

که ظاهر دي که باطن دي که مابین دي
له همه ؤ خبردار دي رب ثما

که پیدا که پوشیده دي که اوسط دي
په همه و وقوف دار دي رب څما

شریک نه لري په خپلي بادشاهئ کښ
بي شریک شهریار دي رب څما

هسي نه چه واحدي ئ ده له عجز
په واحد وجود بسیاردي رب څما

حاجت نه لري د هیچا و یارئ ته
له هغو سره چه یار دي رب څما

څه حاجت دي چه وبل خوا ته ئ غواړم
په خپل کور کښ همکنار دي رب څما

هیڅ تغییر و تبدیل نه لري **رحمان**
تل تر تلَ برقرار دي رب څما

که نمانښام ترستوني ښکته کړي حلوا
صبا خواست کوي له خدایَ د ښوروا

په هیچ حال کښ دِ قرار و صبر نه شي
لبوني کړي ډیر حرص ډیري هوا

تمام عمر تر آشنا تر عزیز پوري
بوي کیدي مختورن کړي هم رسوا

چه په خپلي رسوائي دِ پروا نشته
نور به څه کړي په جهان د چا پروا

چه د نفس دپاره لاس وچا ته نسي
دا زحمت له خدایَ غواړي که دوا

نفس بي شمارَ عالم پري یست وکوهي ته
خداي دِ نه کا نابینا د چا پیشوا

په روا په ناروا کله پوهیږي
وچارپاي ته څه روا څه ناروا

چارپایان که غوب و سنګي لري څه شو
په معنیٰ کښ نابینا دي ناشنوا

زه **رحمان** له هغه علمَ پناه غواړم
چه له دینَ له مذهبَ وِي سوا

دوباره دِ راتله نشته په دنیا
نن دِ وار دي که دروغ کړي که رښتیا

هره چارچه تروقت تیره شِي عنقا شِي
عنقا نه دي په دام نښتي د هیچا

تروخ تیري اوبه بیرته نه جاروُوزِي
نه جاروُوزِي تیر ساعت په بیرته بیا

تیر ساعت په مثال مړي د لحد دي
مړچا نه دي ژوندي کړي په ژړا

که مقصود لري تلوار کړه وقت کوتاه دي
غره مه شه د دي عمر په بقا

هره نښه چه صحیح کنړي په زړه کښ
په غرور به هغه نښه کړي خطا

په امید امید ئي خلق نا امید کړ
د ایّام له مکرَ مه شه بي پروا

چه دَ مرګ په تماچه دِ شِي خوله ماته
تر و په ماته خوله به څه کوي ثنا

وِیر ژړلي اوتیني چه وینا واِي
تا نه واِي که پوهیږي په وینا

هلک نه یي چه په زور دِ څوک تعلیم کا
هم عاقل یي هم بالغ یي هم دانا

په عمل د نیکو بدو فهم وکړه
چه په دا کښ دِ بهبود دي که په دا

سر دننه په کریوان کړه ستر ګي روښ
ډیر په پورته پورته مه څه سرهوا

سرهوا سرهوا مه څه و آسمان ته
ته په اصل کښ له زمکي یي پیدا

د عمل په ځاي به دا پوښتنه نه وِي
چه ته زوي يا نمسي يي د فلانا

په خپل ځان ښيګړه وکړه غره مه شَه
په ښيګړه د آدي او د بابا

هغه ناوي چه په ځان ښائسته نه وِي
څوک ئي څه کوِي ښائست د مورونيا

دا خبره زه وځان نه کړم اي يارَ
دلګير مه شَه که مِ نوم واخست دِ ستا

نوم د ستا او د بل اخلم ځان ته وايم
نه مِ کار نه مِ غوض شته په بل چا

که مِ ځاي د دې غمونو وي په زړه کښ
ما به څه لره کوله دا وينا

چه د مرګ سختئِ خوارئِ دِ په خوا وِي
اي **رحمانَ** ولي نه مري لا پخوا

که څوک يار په جهان غوارِي يار دي دا
يار دي دا که د جهان سنګار دي دا

خيال د زلفو ئي ځما تر زړه چاپير شه
يا ترګنجَ چاپير شوي مار دي دا

دا جهان دي خدای له عشقَ پيدا کړي
د جمله ؤ مخلوقاتو پلار دي دا

تر عشق غوره بل څه کار په جهان نشته
تر همه کارونو غوره کار دي دا

بل بلبل به د ګل نوم آخستي نه وه
که خبر وي چه ګل نه دي خار دي دا

بيا راتله ودي جهان ته بل وار نشته
بل وار نشته بل وار نشته وار دي دا

د حباب عمر دِ وګورِي چه څه دي
که څوک شمار کاندِ د عمر شمار دي دا

د مجنون صورت په زړه کړه **رحمان** کوره
ستا په عشق کښې هسې خوار و زار دې دا

هیڅ ثابته نه کړه چا دې دنیا وفا
واړه مینې کاندِ بې وفا په دا دنیا

هر څوک چه دعوې په دا دنیا کا د خپلوئ
واړه باطل واپې دنیا نه دَه د هیچا

دا فلک کلال دې سازول و مانول کا
ډېرئ ما و تا غُنډِ پیدا کړه هم فنا

هر سنګ و کلوخ چه څرګندېږې د دې ډهر
واړه ککرئ دې څوک د شاه څوک د ګدا

دام دِ هیڅوک نه بږدې د دنیا و رهګذر ته
ښکار به وکړې نه شې د سیمرغ و د عنقا

هر څوک چه له دې فانې نفس وابستګې کا
نه به شې ترلې په زنځیر سره هوا

ماه دې که آفتاب دې عاقبت واړه خراب دې
ګل که همیشه وې هسې نه تر ابدا

مه درومه **رحمان** په خلاف د دانایانو
مینه د دنیا پسندلې نه دَه هیڅ دانا

هوښیار مه ګڼړه هوښیار د دې دنیا
بې وقوف دې وقوف دار د دې دنیا

روښنائې په هغو زړونو دَه حرامه
چه پرِ کښېنې ګرد غبار د دې دنیا

پوچ ګوئې دَه چه ئې اهل دَ دنیا کا
هر کلام و هر ګفتار د دې دنیا

د طفلانو په څېر واړه خاکبازې کړې
هرچه کاندِ کاروبار د دې دنیا

واړه ډکي خولي د پيو هلکان دِي
کاردیده و پخته کار د دي دنيا

هميشه به بي‌وقوف او بي‌شعور وِي
چه مخمور وِي په خمار د دي دنيا

د شرابو هم لا همره مستِي نه وِي
لکه مست وِي خمرخوار د دي دنيا

هر بيمار لره دارُو په جهان شته دِي
دارُو نه لِري بيمار د دي دنيا

د هر سوِي علاج وشِي په جهان کښ
مګر سوي په شرار د دي دنيا

هرچه واچوِي و اورته واړه سوزِي
موړ به نه شِي طلبګار د دي دنيا

ګرفتار ئې هميشه په غم کښ ډوب وِي
هيڅوک مه شه ګرفتار د دي دنيا

ټل به پروت وِي په ظلمت و په تورتم کښ
چه اسيروِي په کفّار د دي دنيا

په مسلمو کښ خاصه مسلم هغه دِي
چه ئې وشلاوه زنار د دي دنيا

تن ئې پاتې شِي بي‌سرَ سر ئې لاړ شِي
سردار کله دِي سردار د دي دنيا

زوئې لونړه يتيمان کاخني دروِي
بي‌وفا دِي مور و پلار د دي دنيا

هميشه به ئې يو پند د غم په سروِي
چه په سر ئې وِي دستار د دي دنيا

واړه غم دي که ئې پيري که ئې پلوري
نورڅه نشته په بازار د دي دنيا

هګِي واړه ټکان دِي ټکِي کاندِ
فروشنده وخريدار د دي دنيا

په دنيا به مينه نه کاندِ هيچرِي
چه خبروِي په اضرار د دي دنيا

چه نظر د چا په دین و په ایمان دِي
هغه نه کا انتظار د دي دنیا

لوي هلک ئې همه واړه مکاران دِي
څه ویسا دَه په مکار د دي دنیا

آشنایان ئې همه واړه اغیاران دِي
یار دي چري په دیار د دي دنیا

چه پیدا شِي همګي واړه فنا شِي
راشه وګوره ناتار د دي دنیا

چه ویریږي له کوهي او له کړنګ
هغه نه دروِجي په لار د دي دنیا

هر سړي لره چه ورشي څنګ دروِجي
ما لیدلي دي رفتار د دی دنیا

په یوه کړئِ بهار وِي بیا خزان شِي
بقا نه لرِي بهار د دي دنیا

که هزار هزار پشتئِ ورته ته کیږدي
بي بنیادَ دي دیوار د دي دنیا

که د اوسپنو حصارَ ترڅان چاپیر کړي
ښیښه وګنړه حصار د دي دنیا

لکه سوري د آفتاب په مخ کښ کړزي
نشته هیچري قرار د دي دنیا

هیڅ ګمان د بهتریئِ ور باندِ مه کړه
کهتري دَه وار په وار د دي دنیا

بي مقراضَ غوڅِي د سرِي عمر
هم دا لیل وهم نهار د دي دنیا

پس له مرګَ به حساب له سړي غوښت شِي
په اندازه و په مقدار د دي دنیا

عاقبت خو به یو موتي شِي د خاورو
ګلعذار و ګل رخسار د دي دنیا

برابر به له ګدایَ سره پاچي
شهزاده و شهریار د دي دنیا

پاس به داغ وِي د لئيم په تېتر باندِ
هر درم و هر دينار د دي دنيا

د قانع تر قناعت صدقه شَه
هم دنيا هم دنيادار د دي دنيا

پس له مرگ به همه واړه مظلوم وِي
ظالمان و ستمگار د دي دنيا

تر قيامت دغه لس اودغه شل وِي
پوره نه کړ هيچا شمار د دي دنيا

چه ايام پرِ د کفن د غسل ور شِي
بي پردي شِي پرده دار د دي دنيا

په تخته باندِ بيرون شِي له حجاب
شرمناک او شرمسار د دي دنيا

له هر چا په پيغمبر څخه وَه ډيره
که څه قرب وي يا وقار د دي دنيا

يو فساد به ئې بيان په **رحمان** نه شِي
فسادونه وِي بسيار د دي دنيا

هغو بيامونه سعادت په دا دنيا
چه ئې وکړ قناعت په دا دنيا

نه ملکونه د سليمان په هزار کال
نه يوه گړيۍ طاعت په دا دنيا

يو نفس د خداي په يادو اولي تر دي
نه د درست جهان دولت په دا دنيا

په دنيا کښ لوټ هغو عالمو وکړ
چه ئې وکړ عبارت په دا دنيا

که نعمت دي خو طاعت او عبادت دي
گنړه نشته بل نعمت په دا دنيا

که محنت که مشقت دي خو دين دي
پکار نه دي بل محنت په دا دنيا

بې له خدايَ هر چه دِي واړه فاني دِي
که لذّت دي که زينت په دا دنيا

که بادشاه وِي آخر خاورو له به درومِي
څه عزّت دي څه حرمت په دا دنيا

له هغه به زيات نادان په جهان نه وِي
هر چه غواړي فراغت په دا دنيا

ته چه څو وقتَ فرصت په دنيا غواړي
چا موندلي دي فرصت په دا دنيا

عمارت په سر د ريګِ روان کانډِ
هر چه کانډِ عمارت په دا دنيا

د مستانو تر لغزشَ څه کم نه دي
د سړي استقامت په دا دنيا

هر ژوندي چه د مرده په قبر ورشي
بس دي همره نصيحت په دا دنيا

په روانو اوبو ورشه عمر کوره
ډير دي همره اشارت په دا دنيا

دا پاڅه پاڅه سرايونه محلونه
خو به وران شِي عاقبت په دا دنيا

وږي ستړکي د آسمان څه هسي نه دِي
چه څوک پريږدِي سلامت په دا دنيا

هر چه راشِي همه واړه څني درومِي
مسافر دي هر صورت په دا دنيا

رياضت په قيامت نه شِي مرد هغه دي
چه ئې وکړ رياضت په دا دنيا

هم په دا خوي وخصلت به صيا پاڅي
خداي څوک مه کړه بد خصلت په دا دنيا

هم هغه به ئې خرمن وِي پس له مرګَ
هر چه کانډِ زراعت په دا دنيا

که هغه جهان په دا کښ ليدي نه شِي
زه ئې وينم علامت په دا دنيا

په قیامت به بنه تربنه ځیله نه شي
مالیدلي دي قیامت په دا دنیا

امانت به د لحد په میان کښ پروت وي
هر چه اوبي امانت په دا دنیا

نیک عمل حضور جنت دي طاعت بویه
چه حاصل کا څوک جنت په دا دنیا

نیک کردار هم نیک عمل هم نیک خویونه
هم جنت دي هم راحت په دا دنیا

ضدیت د سړي عمر په عذاب کا
پکار نه دي ضدیت په دا دنیا

لاس په سر په سینه ایښي و هرچا ته
هم دغه دي شرافت په دا دنیا

که بلنده مرتبه د چا پکار وي
لوي مقام دي عدالت په دا دنیا

بل ارمان په له جهان یوړ نه شي
مګر مهر محبت په دا دنیا

د هغه جهان سودا واړه دلي دَه
که څوک کاندِ تجارت په دا دنیا

که طالع د سړي نه وي جاروتلي
هیڅ پټ نه دي حقیقت په دا دنیا

نیک له نیکو سره بویه بد له بدو
که څوک غواړي ولایت په دا دنیا

ولایت دي خدای هغو لره ورکري
چه ئې ورک کړ سکونت په دا دنیا

که تمامه دنیا واړه سره یو شي
نور به نه کاچل قسمت په دا دنیا

که څوک مرد دي خو هغه دي په دنیا کښ
هر چه نه لري حاجت په دا دنیا

چه رغبت ئې د جمله خطاؤ سر دي
څوک به څه کاندِ رغبت په دا دنیا

په رحمان باندِ دا عمر هسي تير سته
لکه تير شي يو ساعت په دا دنيا

بنه دَه بنه دَه دا دنيا
مذمت د دنيا مه کړ
د دنيا په بازار کيږي
په دنياکښ ډير حکمت دي
که تر سر ئي صدقه کړي
که غليم لره ئي ورکړي
که په اور باندِ ئي کيږدي
که ئي قوي کړي په صحراکښ
که ئي نذر کړي د پيرته
خو ژوندي دِي په دنياکښ
د حاتم په خير دِ ستائي
سخي هر يو دوست دخداي دي
هر بخيل د خداي دښمن دي

چه توبنه دَه د عقبا
واوره پند کړه دا دنيا
د هغه جهان سودا
پرِ پوهيږي حُکمَا
رفع دفع کړي بلا
غليم دوست کا په هوا
بوي د عودو کړي پيدا
بنائسته کاندِ صحرا
خوشحال دروِي په خندا
بادوِي دِ په دُعا
خطاب درکړي د سخا
وَلَوْ کَانَ فَاسِقًا
وَلَوْ کَانَ زَاهِدًا

دنیا کښت د آخرت دي | دا خبره دَه رښتیا
د دنیا طالبان ډیر دِي | که ئې مومي څوک له چا
ولي مرد په کښ هغه دي | چه سخي وِي هم پارسا
په دنیا کښ بدِي نشته | که بدِي نه وِي له ثنا
دنیا بحر دي بهیدِي | آئینه غُندِ صفا
چیل چیل مخ په کښ لیده شي | که څوک زشت وِي که زیبا
هم خطر په کښ دسر شته | هم گوهر دي بي بها
وفادار لره وفا شره | جفاکار لره جفا
له یوه مخَ ئې درد وِي | له بل مخَ ئې دوا
چرته خوند کاندِ د زهرو | چرته خوند کا د حلوا
کار همه واړه موقوف دي | د سرِي په مدّعا
سالکان دِ نندارچي شي | د چیل ځان په تماشا
هر چه کا هغه به مرِي | دنیا ځاي دي د جزا
لکه دي هسي به پاڅي | که نادان وِي که دانا
که دانا یي وپوهیږه | په روا په ناروا

فتوي ونسه په مخ کښ
لپي مټ کړه په تقوا

دنيا نه ده واره دين دي
چه له نهي وِي سوا

وطاعت و ته ولاړ وي
هميشه تړلي ملا

له حرامو ئي پرهيزوِي
مشغول وِي په پنج بنا

کلمه ئي وِي قبوله
هم په جهر په اخفا

د دنيا د کار دپاره
فرض نمونځ کاندِ قضا

هم صايم د رمضان وِي
هم زکوٰة کاندِ ادا

که ئي توان د حج رسيږي
حج هم وکړي پسی بيا

دا پنځه بنا د دين دِي
چه بيان ئي وکړ ما

چه ئي يون په دا طريق وِي
هغه کس دي اوليا

که ئي مال د دنيا ډير وِي
هيڅ دِ نه کاندِ پروا

دنيا بده د هغو ده
چه ئي کسب وِي ريا

يا ئي ټوله کا په ظلم
يا د خمرو په سودا

يا ئي ور کا په شرابو
يا ئي ور کا په زنا

يا ناحق خونونه کاندِ
يا مالونه خوړي د چا

عبادت کا په ځان فرض
د بادشاه د امرا
حق باطل کا باطل حق کا
په سبب د روي ریا
نه ئي ویره وِي له خدایَ
نه ئي شرم نه حیا
د یوي کیډي د پاره
هزار خلق کا بیدیا
همیشه ئي له ستم
واړه خلق وِي په غوغا
کوش وهوش ئي هرکز ته وِي
د مظلومو په ژړا
د فرعون په خیر به ناست وِي
بي پروا و کبریا
بت خاني وته ئي مخ وِي
و مسجد وته ئي شا
اختلاط کا له بدانو
له نیکانو وِي سوا
هیڅ ني نه وِي په خاطر کښ
تتولا و تبرا

و رحمان ته پیښه مه کړي
خدایَ هسي رنګ بلا

چه نظر کرم په قسمت او په نصیب
را ته هیڅ شي چل تلاش وچل ترتیب
مکر خود پخپله خدای د چا طبیب شي
کنړه نشته په جهان کښ بل طبیب
را څرکند دي سود و زیان د رقیبانو
که خدای نه کاندِ چل یار د چا رقیب

چه چېل یارد چا رقیب شي مثال دا دي
لکه څوک چه په وطن کښ شي غریب

چه غریب شي په وطن کښ فرق ئې نه وي
که فرسنګ ئې وي تر میانَ که جریب

ما په عشق کښ هیڅ حاصل نه کړه بي غمَ
هر چه وائي واړه بنه وائي ادیب

دشمن هم د سړي کله کله دوست شي
دوستي نه کا د رحمان سره حبیب

که م وشي له دلبرَ ملاقات
پا به نه څم له دي درَ په حیات

پس له دي م دِ استوبونه خدایَ نصیب کا
په دا درکښ که حیات وي که ممات

بنائي دا که زه چېل یار وته سجده کړم
هغه یار څما قبله دي د حاجات

د چېل یار تر لعلو لبو به ئې څار کړم
که شکري وي که قند وي که نبات

دا څما د یار جلوه دَه چه لیده شي
لکه نمر په صومعه د سومنات

تر ما لا په دلبرانو ډیر مین دي
چه خبر کړي د کشف و کرامات

د ریا له زاهدیئ څما توبه دَه
چه ئې کاندِ څوک په رسم و په عادات

په درخ پند و نصیحت وائي ویل ته
په شپه ناست وي د مغان په خرابات

دین ئې دام وي د دنیا په لار کښ ایښي
پرِ را آړوي وحشیان د مخلوقات

د هغو په لور ئې سترګي وي ختلي
چه په لاس ئې سرسایه وي یا زکوٰت

زه **رحمان** له هسې اهلِ پناه غواړم
هرچه لاف کا په خلاف د مقامات

د وصال شپه م بدله په بیلتون شوه الغیاث
د قیامت خوارې را پیښه په ژوندون شوه الغیاث

ما لا طمع د وصال د نعمتونو ترکوله
ناکهان پیاله نسکوره د کردون شوه الغیاث

هغه چارچه م په لاس ده زه پرته دم پوهیدلي
اوس چه پوه شوم له اختیارم بیرون شوه الغیاث

د وصال په طمع طوق د جدائي شه را په غاړه
هغه طمع چه خاوره اوس طاعون شوه الغیاث

په حکمت په عقل بیتي د عشق څوک آختی نه شي
په دا کارکښ ما ته ملا د افلاطون شوه الغیاث

ما **رحمان** د یار وصال په آسانۍ موندلي نه دي
زردروئي م سرخروئي په جگرخون شوه الغیاث

چه برهم کا عاشقي د چا مزاج
حکیمان یې درمانده شي په علاج

په آشنا پسي تل ژاړي په دوه سترگو
د اوبو په ځای خوناب کاندې اخراج

دواړه لاس یې وي له دواړو کونو ولګي
ډوب وي تل د عاشقۍ په امواج

په هغوکښ چه څه بوي د عاشقۍ وي
په کښ نه وي بوي د رسم و د رواج

ابراهیم ادهم څه هسې نادان نه وه
چه نظر یې یا په تخت وه یا په تاج

مجنون هسې رنگ مین په لیلي نه وه
چه په نورو یې موقوف وه احتیاج

لیونتوب له لیونو نه تلوني نه دي
که ئې راج په خونه ورشي که تاراج

که ئې سر لکه منصور غُندِ په دار شِي
دغه دار دي **رحمان** و ته معـراج

په طلب د ماهرویانو سرګردان دي ځما روح
لکه باد دګل په بوي پریشان دي ځما روح

ستا د حسن و آفتاب ته چه سپارلي ځان شبنم دي
لکه صبح د ژړا په ځاي خندان دي ځما روح

چه م ستا د جمال عکس دي لیدلي په چل ځان دي
هم په دا د آئینې په څیر حیران دي ځما روح

ستا د مخ د آئینې له برکتَ ځما جانَ
همیشه لکه طوطي هسي ګویان دي ځما روح

لکه رنګ د میو نابو چه لیده شي په ښیښه کښ
هسي رنګ په ضعیف تن کښ نمایان دي ځما روح

منتظر یم د وصال ګلستان ته تل تر تلَ
سر تر پایَ د شبنم په څیر چشمان دي ځما روح

چه حاصله م له حسنَ روښنایئ شوه په طلب کښ
شپه و ورځ لکه آفتاب په لار روان دي ځما روح

ستا په زلفو په رخسار پسي **رحمان** شه بي وطن
مسافر د هندوستان و خراسان دي ځما روح

چه پیدا شو ستا چشمان دا هسي شوخ
لوز به نه دِي مردمان دا هسي شوخ

کج زلفان کج ابروان لکه چه ستا دِي
نه لرم شته نه ماران دا هسي شوخ

د غمونه شوخ شوخ شته دِي په جهان کښ
ولي نه لکه هجران دا هسي شوخ

مګر دیو وِي چه بي غم وِي په هجران کښ
ګنړه نه به وِي انسان دا هسي شوخ

دا فتنې او فسادونه به وُو چري
که پیدا نه وي آسمان دا هسي شوخ

د اشنا له غمَ زړه د آشنا نه چوِي
آفریده کړ خدای جهان دا هسي شوخ

چه یوسف ئي د دنیا په متاع درکړ
پیدا مه شَه بل کاروان دا هسي شوخ

چه بوسه له یارَ غواړي بي ادب
خدایَ دِ نه کاندِ رحمان دا هسي شوخ

له اغیار سره خندا څه پکار نه دَ
له اغیار سره سودا څه پکار نه دَ

سل یارئِ د یوه یار دیاره کیږي
آشنائِ د هر اشنا څه پکار نه دَ

هر بلبل به دِ ثنا کاکه ته ګل شي
په چل ځان چله ثنا څه پکار نه دَ

عشق د بوي په خیر په پټه خوله څرګندوِي
په دا چارو کښ غوغا څه پکار نه دَ

د عشق درد واړه عاشق لره راحت دي
د دي هسي رنځ دوا څه پکار نه دَ

بد له بدو سره بویه نیک له نیکو
د جفا په ځاي وفا څه پکار نه دَ

عاشقي حرص و هوا دِي سره لري
د بیمار په ځان هوا څه پکار نه دَ

عاشقي یو نادر کار دي په جهان کښ
ولي بي خدایَ سودا څه پکار نه دَ

که ئي کړم هم ئي هیڅ نه ګنړم سوګند دي
وابستګي د دي دنیا څه پکار نه دَ

د دنیا مینه بیکاره آوریدي شي
چه م ولیده رښتیا څه پکار نه دَ

که **رحمان** په جهان ډیر پایم دلبرَ
زندګي څما بي تا څه پکار نه دَ

څه شُو که خاموش یم ستا د عشق له آهِ سردَ
ستا څما له مېني خلقه واړه حیر دَ

هیڅوک دِ په خوله د عاشقیِ لافه ونه کا
کله هم پټیږي وچي شونډي ګونه زردَ

اهل د دنیا واړه نامرد دِي رنګ ئي درک شه
خدای دِ ملاقات د هیچا نه کا له نامردَ

کله بي دردانو لره زړه د چا ور دردوِي
زه به صدقه کړم سل بي درد تر اهلِ دردَ

بي دِ ستا د عشق د شهیدانو له خاک دانَ
کله زرغونیږي سره لاله له هرَ کردَ

یو خوشحال یو کم سل خټک نور په طبیعت کښ
خار شه د **رحمان** سره بني له یوه فردَ

څوک دِ راکانهِ قسم په کردګار
که درم لرم په کور کښ یا دینار

زه دینار و درم نه لرم په کور کښ
ولي نور عالم م بوِلي دنیا دار

هم په دا چه نه له ځایَ چیرته خوځم
نه د هیڅ یوه مخلوق یم منت بار

نه م بنګته ملک لیدلي دي نه پورته
حیر نه یم په یمین و په یسار

آب و خور لکه ګیاه په ځائ را رسي
په چل کور کښ م سکون دي هم زفتار

لکه ونه مستقیم په چل مکان یم
که خزان را باندِ راشي که بهار

توکل مِ لاس پښي سره کړه په نکریزو
چه په ځاي ئې کښینولي یم قرار

چه ځما په باب کښې کښلي دِي را رسي
که رحمت دي که زحمت دي وار په وار

چه هژده هزار قومونه ئې پیدا کړل
مربّي مِ دی هغه پروردګار

کار همه په اراده د خداي موقوف دي
هیڅ موقوف نه دي د چا په انتظار

غم به هیچري د نه کا په دنیا کښې
که څه کیږي د **رحمان** په اختیار

په پیریئِ کښې چه هوس د مي ناب کړِ
بیهوده ګمان په صبح د مهتاب کړِ

بي طاقت عنایت له خدایَ عواري
د عتاب په ځاي امید د ثواب کړِ

دانسته ګناه کوي توبي وکاږي
لکه بُت هسي په غټو ستګو خراب کړِ

په هغو غوږو چه ذکر د خداي آوري
بیا سماع په هغو غوږو د رباب کړِ

په هغو شونډو چه حمد وثنا وایي
هم هغه شونډي بیا ډوبي په شراب کړِ

علم وکړي هیڅ عمل ود باندِ نه کړي
لکه طفل هسي لوبي په کتاب کړِ

په شپه پروت یي د مغان په میخانه کښې
او د ورځي مخ په لوري د محراب کړِ

تمام عمر د دنیا په طلب ګرزي
بیا د خداي په طالبانو ځان حساب کړِ

له خالق و نه شرم نه حجاب وِي
له رحمان کوبنه ونني حجاب کړ

که بې شايَ زړکي نه وکښي آواز
نه صياد ځنې خبر وِي نه شهباز

سکه له دې خبرې هسې معلومېږي
چه چېل صوت دې هر سړي لره غماز

د منصور و حال ته ګوره حال ئې څه شه
خدای دِ فاش د هېچا نه کاندِ پټ راز

دريغَ دريغَ که درستې عقل ورنې وي
د انجام خبرې نه شي په آغاز

نيک عمل د عالمانو نيک فرزند دي
خدای څوک مه کړه شراب خور و قمار باز

چه فرزند ئې شراب خور و قمارباز شي
نور ئې کاڼړې شي د پلار په خونه ساز

خدای له هسې ناهوزادَ امان وکړه
چه بې دين بې ديانت شي بې نماز

چه منکر پرِ اعتراض کولې نه شي
دا دِ شعر دې رحمانَ که اعجاز

که څوک فخر کا په ننګ و په ناموس
دا په عشق کښې نه ارزيږي يو فلوس

که آغوستې ئې زړې جامې دې څه شو
ګنړه يو مرغِ زرين دې يا طاؤس

که ئې تاج وِي په سر ايښې غزا دشوه
په نظر ځنا هدهُد دې يا خروس

نه ئې فهم فراست وِي نه ئې عقل
خالي نقش لکه عکس د معکوس

نه ئې مغز نه دانه وِي په خرمن کښ
عبث هسې خالي لوڼي په سر بوس

د مجاز له يارَ طمع د خير مه کړه
تمامي شرّ و شدّت دي دَ الوس

وداني ئې همه واړه ويرانې دَه
راشه وګوره ما نړيِ د دِقيانوس

که څما په ګفتګو کښ زيات وکم وِي
څوک دِ ګډ کا په دا بنهر کښ جاسوس

ساقِي حام د باده راوړه چه بيخود شم
خداي څوک مه کړه په خودئِ کښ محبوس

که څوک وغواړي تمامه دنيا واړه
څما يار غُندِ به نه وِي بل عروس

رحمان حسن د يار وينم په پرده کښ
نه پټيږي نور د شمعِ په فانوس

که ته نه کړي په بل چا باندِ غرض
بل به نه کا ندِ په تا باندِ غرض

که ګدا د بل په غوڼي غرض نه کړي
سپي به نه کړ په ګدا باندِ غرض

په ساحل کشتيِ د هيچا نه ډوبيږي
که څوک نه کا په دريا باندِ غرض

خلوتيان په چيل خلوت کښ فراغت دِي
د رسوا دي په رسوا باندِ غرض

دا دنيا په احمقانو دَه ودانه
دانا نه کا په دنيا باندِ غرض

زه **رحمان** د عشق په درد کښ هسې خوښ يم
چه م نشته په دوا باند غرض

طمع مه کړه په دنیا کښې د نشاط
بیا به نه موې نشاط په دا باط

لکه راغلې بیا به هسې څنګه د رومې
دا جهان د رهروانو دې رباط

نز هر کام لاندې کوهې دې دې دهر
اینې بویه هر قدم په احتیاط

و دانا وته په دا جهان ښکاریږي
هم جنت و هم دوزخ و هم صراط

په عاشق به هیڅ دهشت د رقیب نه وه
که ئې نه کړې له خوبانو اختلاط

له کمذات بې دیانت بې نماز
طمع مه کړه د ښکئې د یو قیراط

غم د ترکو تر **رحمان** هسې چاپیر شه
لکه د سکنړې جامه په چا خیاط

اومه کله دې پاڅه واې واعظ
هر چه واې واړه ښه واې واعظ

دې چه ماله خپل یار لرې باسې
نور به څه راته اومه واې واعظ

جا رواته څما له یار ډیر مشکل دې
زیاتې څه له دوباره واې واعظ

په خوږو پستو خبرو ئې غلط شوې
دا خواږه خواږه ترخه واې واعظ

څوک به څه باور د ده په نصیحت کا
چه له یار جارواته واې واعظ

زه بې عشق بل یو کار کولې نه شم
ډیر له عشق تښتیده واې واعظ

اعتبار ئې په نرمئې په ګرمئې مه کړه
دا توده توده ساړه واې واعظ

آوریدونکي ئې رحمان د ویل نه یم
بهتر دا دي چه نور نه وایي واعظ

په تندي چه آتش بل کړ مدام شمع
ځکه بیاموندہ له خلقو آرام شمع
په انوار ئې منوّر اهل ابصار شو
لا به کله شي ښکاره د انعام شمع
پتنګان ئې لور په لور تر مخ خژخیږي
ځکه نه کوي په سول کښې آرام شمع
وسیزه ته ځان خما په شعله باندې
کړ پتنګ ته په رموز کښې کلام شمع

ستا مجلس د خاص الخاصو سرفرازو
د رحمان په ځیر نه موميِ هر عام شمع

هر یو ګل د ستا د باغ روشن تر دي ترچراغ
روشن تر دي ترچراغ هر یو ګل د ستا د باغ
ستا د باغ و د بنر زاغ په نظر خما هماي دي
په نظر خما هماي دي ستا د باغ و د بنر زاغ
د دردمند و په دماغ ستا د درخاوري عنبردي
ستا د درخاوري عنبردي د دردمند و په دماغ
د عاشق د تهتر داغ په آسمان د عشق آفتاب دي
په آسمان د عشق آفتاب دي د عاشق د تهتر داغ

د رحمان د زړه فراغ نه شي نه شي بي خوبانو
نه شي نه شي بي خوبانو د رحمان د زړه فراغ

ورځ چه بده شي عاقل او دانا څه ک
چه قضا شي ور د دخار حکما څه ک

مور و پلار خو نیک فرزند له خدایَ غواړي
چه بدبخت شي ادي څه کا بابا څه کَ

یار له یارَ په لوي لاس کله بیلیږي
چه لاس نه رسي یار څه کا آشنا څه کَ

په بنیرو په دعا څه شي کړوني خدای دي
چه خدای نه کا بنیری څه کا دعا څه کَ

بخت په زور و په زر نه دي چا چل کړي
په دا کار کښ ناتوان څه کا توانا څه کَ

ای رحمانَ پننگ عذر شه چه وسه
نور د شمعِ خدا څه کا ژړا څه کَ

چه په سترگو کښ ئي خاروي څه به خوب کَ
چه په زړه ئي غم د یار وي څه به خوب کَ

خوب له یارَ سره هم د عاشق نه شي
چه ئي یار په بل د یار وي څه به خوب کَ

په دنیا کښ خوب هغه کا چه نادان وي
هغه روي چه هوښیار وي څه به خوب کَ

کوم طالب مطلوب موندلي دي په خوب کښ
هغه څوک چه طلبگار وي څه به خوب کَ

دیدار نه دي چا په پټو سترگو کړي
چه مطلب د چا دیدار وي څه به خوب کَ

بله لار د مرگ له لاري گرانه نشته
چه په خوا ئي هسي لار وي څه به خوب کَ

هر نگاه د دلبرانو ذوالفقار دي
هر چه غوڅ په ذوالفقار وي څه به خوب کَ

زه رحمان د یار بنده و خدمتگار یم
چه بنده و خدمتگار وي څه به خوب کَ

هیڅ م نه کړه په دا عمر کښې حاصل
هسې پاتې شوم مردود و ناقابل

ما لا بوي هم د وصال موندې نه دي
تش په توره م خدای نوم کړ د وصل

هسې ډوب یم د ګناه په دریاب ونو
چه په ستړګو م ونه لیده ساحل

له وطن م په هر زمان وباسې
رقیبان ئې را پسې کړه محاصل

که بلا ده که جفا ده که وفا ده
دا همه واړه په ما کړه خدای نازل

د دنیا په پلیتئ م څان پلیت کړ
حیف دې دا چه نه عالم شوم نه جاهل

توره زیره م شوه سپینه زه حیران یم
چه **رحمان** لا نه بالغ شوم نه عاقل

که م څوک په فقیرئ شمیرې فقیر یم
که م څوک په امیرئ شمیرې امیر یم

د دلبرو صدقې لره ئې غواړم
هسې نه چه په دنیا پسې زهیر یم

د خرقې خدمت مشکل دې او که نه وي
زه هر دم و دغه چارې وته خیر یم

هم پند آخلم هم پند وایم هر چا ته
زه د ځینو یم مرید د ځینو پیر یم

په هجران کښې خیال دیار راسره مل دې
په زندان کښې د یوسف سره اسیر یم

په خدا کښې م ژړا ده لکه شمع
لم عالم پټ پټم د څان په ویر یم

آزادې تر دا په هورته یله نشته
چه بندې د یار د زلفو په زنجیر یم

چه همیش په غوږ ناري د هجران آوږم
رحمان ځکه د خپل یار وخ ته ځیږم

خوشحالا و دولتا مِ غلامان دِي
زه **رحمان** په پښتو ژبه عالمګیر یم

دنیادار د دنیا کار کا زه د دین
خوانین ځما په ملک دِي خوشه چین

هیڅ کم نه دي تر سپین مخ د دلبرانو
بلکه ښه دي ځما شعر نمکین

مراد له ټورو سپینو واړه دلبرِي دَه
موقوف نه دي دغه کار په ټورو سپین

مرتبه د سلیمان چه چا له ورشِي
هیڅ پوره نیمګړي نه دي پر نګین

چه رنګین رنګین مضمون پرِ ښکلي نه وِي
څه پکار دي د بیاض ورق رنګین

خوند په خوله دي نه په ځبنه نه په خواره دي
آب وخور که د چا تلخ وِي که شیرین

غوض خوب دي که په خس وِي که په خاوره
څه حاجت دي په بستر و په بالین

مصرئ توره هم په بد غلاف کښې زنګ شِي
خدای څوک مه کړه د بدانو همنشین

څه عجب که په وړځ مهر په شپه ماه شِي
د **رحمان** آشنا چنان دي هم چنین

په حالت د عاشقانو نظر بویه
په زیارت د شهیدانو ګذر بویه

بي مرشدَ څوک خبر د مرید آخلي
غوځ په غم د فرزندانو پدر بویه

بې ریبارَ رسیده و یار نه ګران دِي
په کوڅه د مهرویانو رهبر بویه

بې هنرَ چا دولت موندلي نه دي
په خدمت د صاحبانو هنر بویه

ستا له سترګو مِ هرګور ملاحظه شِي
له دي هسي سیاه دلانو حذر بویه

ښه چه سترګي خدای ملالي کړي د ترکو
لږ په زړه د ظالمانو اثر بویه

ستا په داغ به هر یو زړه مشرّف نه شِي
دغه تاج د بزدګانو په سر بویه

چه خبر د **رحمان** نه آخلي یار بد کا
بادشاهان له ګدایانو خبر بویه

مخ د یار شمس و قمر دري واړه یو دِي
قدّ و سرو صنوبر دري واړه یو دِي

حاجت نه لرم په شهد و په شکرو
لب د یار شهد و شکر دري واړه یو دِي

که بې یارَ په بستر د پاسَ پوت یم
نار و خاوري دا بستر دري واړه یو دِي

چه ئي در و هم دیوار و ته نظر کړم
باغ بوستان و دغه در دري واړه یو دِي

خدای د یار له هجرَ هیڅوک خبر مه کړه
تاخت و قتل دا خبر دري واړه یو دِي

چه غبار ئي د کوڅي را باندِ راشِي
دا غبار مښک و عنبر دري واړه یو دِي

هغه دم چه سړي درومِي له جهانَ
توري خاوري سیم و زر دري واړه یو دِي

قلندر چه په رښتیا قلندرِي کا
خان و سلطان و قلندر دري واړه یو دِي

ور دِ نه شِي په پردئِ زمکه هیڅوک
کور و کر و مبصر دري واړه یو دِي

چه دِ نه په کښ یو یار نه دِ آشنا وِي
هغه بنهر بحرو بر دري واړه یو دِي

په دکان دَ نابیناؤ جوهریانو
خرمهري لعل و گوهر دري واړه یو دِي

پسران دِ عارځما له عشقَ نه کا
پاک عاشق پسر پدر دري واړه یو دِي

په سبب د ظالمانو حاکمانو
کور و اور و پښاور دري واړه یو دِي

غزا وشوه که څان سنائِي و **رحمان** ته
بي هنر وگاؤ و خر دري واړه یو دِي

هغه یارچه بي وفا دي څه یار نه دي
هغه کارچه بي بقا دي څه کار نه دي

که د سر بندل دشوار په ما و تا دِي
دا په عشق کښ سهل کار دي دشوار نه دي

اندیښنه سړي بیدار کاندِ له خوبَ
کم اندیشَ که بیدار دي بیدار نه دي

که څه عمر دي عاشق لره وصال دي
د هجران عمر د عمر په شمار نه دي

د چشمانو په څنبل کښ تیرو بیرشِي
اعتبار د زماني اعتبار نه دي

که د سلو زویو پلار شِي به ئي څه کا
بي وقوف زوي د پلار څه پکار نه دي

معشوقي همیشه ناز په عاشق کاندِ
رحمان هیڅ له خپلَ یارَ آزار نه دي

تبسم مِ دِ وکړي په روزګار شي
چه له مرګ ئي نه ویره نه ئي دار شي

له ده وزیږي دده د وړاندِ ومړي
لائي مینه د دنیا په کار وبار شي

که ئي هر قدم د مړیو په سر لار وي
یو قدم هسي وانه خلي چه په لار شي

د ژوندیو نصیحت پرِ اثر نه کا
مګر مړه له قبرَ پاڅي په ګفتار شي

د امید مزي ئي هسي رنګ دراز وي
چه ترخضرَ ورته خپل عمر بسیار شي

سپینه ږیره په اورنړي کښې زوي واخلي
چه به ما لره سپاهي و منصب دار شي

د خوما زړي نهال کا ورته ګوري
چه دا سوري دا میوه به مِ پکار شي

هر هر فصل چه ترِ ریبي هوسیږي
چه به ګانده راته بل فصل طیار شي

لائي لپه تخم هم نه وي کولي
ناکشته ورځني طمع د خروار شي

غړوندي د نازکیو خسیو غړي
چه صبا بیګاه په ما لره ګوهار شي

لکه ورکي کتوري له زانړي غواړي
په دا هسي پوچ ګوئي ئي اعتبار شي

رحمان څه دي چه به پند وچاته وائي
هدایت د هر بنده په کردګار شي

انتخاب
د دیوان د خوشحال خان
ختک

انتخاب

د دیوان د خوشحال خان ختک

اي چه خیال کړ په دنیا
دنیا څه ده بي وفا

که دِ یو زمان زړه ښه کا
بیا دِ زړ کا په ژړا

راحت نشته په دنیا کښ
اَلدُّنیا دارُالبَلا

دنیا مه کنړه څه نورڅه
دا ده ځاي د اِستنجا

زه چه تاکورم حیران شم
اي ابله مشتِ کیا

هر زمان نوي خیالونه
هر ساعت نوي هوا

یو دِ زړه زر دِ یاریٔ دِي
یو دِ سر سِل دِ سودا

کله مست د مال و ملک شي
کله مست شي د صهبا

د مسند د پاس کښیني
لور په لور دِ مُتّکا

په بوه لوري غلطان شي | چاته مخ وچا ته شا
څوک وتا وته ولاړ وي | په تسليم په سل جفا
څوک له تا سره مجلس کا | واړه هزل مشغولا
څوک له ورايه درته ناست وي | غږوي چنګ و سُرنا
څوک په در در ته لليږي | په نمط ستا د لِقا
حاجبانو ته ويل کا | که مِ وُرسي دُعا
ته په ځاي بيخوده پروت يي | نه دِ غم نه دِ پروا
هي فرياد فرياد له تا نه | هي توبه توبه له تا
نه دِ غوږ د آرويدو شته | نه دِ سترګي شته بينا
بيهوده په ځان غرّه يي | حبطه يي په رښتيا
فلک ډير زيرو زبر کړل | چه تو تا وُو هم والا
ته په مثل د داني يي | دا فلک لکه آسيا
ډيرئ تا غنډ ميده کړل | اوس ئي واردي هم په تا
که بادشاه د درست جهان يي | خود په تا نشه غوغا
چه دعوي ئي د جهان کړي | نور به هم وُو ستا پخوا

نه سلیمان وه نه ئې تخت وه
نه آصف د برخیا

نه بهرام وه نه ئې کور وه
نه سکندر وه نه دارا

نه جمشید وه نه ئې جام وه
نه قباد وه نه کسرا

په شماره کښې به مانده شم
زیات ئې څو شمارم تر دا

که هزار که صد هزار وُو
که تر دا وُو هم ډیر لا

واړه لاړه له جهانَ
جهان واچول تر شا

هغه شاهان چه ذِي شوکت وُو
څه ئې هم شته هویدا

ساماني په جهان هم وه
سلجوقي وه هم پیدا

غزنوي وه په غزني کښې
چه ئې کړلې هم غزا

څه نشان ئې مرنده نه شي
د برمک نه د یحیٰي

کرّ و فرّ د عباسیو
مګر ډوب شه په دریا

د فلک فریب پت نه دي
چه ئې تل کاندِ له تا

کله زرَ و تا ته بنه کا
کله آس و غیلي غوا

کله روي در ته بنه کا
کاه خویش و اقربا

نه به زر و تا ته پریږدي
نه مالونه نه اشیا

په شداد ئې فساد کړي
په قارون ئې وکړ لا

نه ته پلار يې د زهمنو
نه زهمن دِي زوي ستا

نچپل خان د هرچا کاردي
که پير دي که بابا

حلق په خپلو لاړو لوند دي
دګدا هم د بادشاه

ته د خان يې زه د خان يم
ته جدا يې زه جدا

غم بنادِي د هغو بخره
چه لرِي ژړا خندا

که حشم دِ شي بي شمار
خزاني دِ بي احصا

چه اجل در لره راشي
نه هغه پکار نه دا

لکه هسي رنګِ کاردي
راشه واوره اي فنا

مهيّا و مرګ ته کښينه
سرانجام کړه د عقبا

که دِ توان وشي تقويٰ کړه
که تقويٰ نه وِي فتويٰ

بهشت ځاي د نورچانه دي
خداي ياد کړِي اتقيا

که نچپله پارسا نه يې
خاکپاي شه د پارسا

هر چه شته شريک له وارد
مشترک ده هدايا

که غني يې سخاوت کړه
که فقير يې سخ دِ لا

یو چه خلاص یي له حساب بل به نه یي مبتلا
په شوکت لکه شهباز شه په همت لکه عنقا
لکه چغد هسي مه شه نه ئي رنګ نه ئي معنیٰ
خوره خوروه له خپلو لیچو غضنفر شه نه رویا
سخاوت کړه څو په تاشي اسراف نشته د سخا
په سرتوري پرِ ناري کړه چه تالا دنیا تالا
چه ئي قطع عوایق کړل په آسمان کښیناست عیسیٰ
د عسل په دود شیرین شه نه حنظل نه ګندنا
مه لرم شه مه افعي شه غم فزا راحت زدا
بار د نورو په ګردن کړه خپل بار مه کښیږده په چا
جهان ځاي د مکافات دي بد به مومي چه بد کا
د بدئ جزا بدي ده د نیکئ نیکي سزا
چه به کیږي توري خاوري تار په تار واړه اعضا
دا څه توري خاوري نه دي چه پرِ څي صبا بیکا
همګي جونه زلمي دي خاوري شوي د بیدا

چه په ستر ګو باندې ښې بېدی — باري ورو بېده څخو پا
د بهار ګلونه ښه دي — که ئې تل درلي بقا
زمکه سبزه زرغونه شي — د حمل په ابتدا
زنګارنګ ګلونه وا شي — هم په باغ هم په صحرا
نه يوګل د بل په رنګ دي — نه ئې بوي سره همتا
يو څو ورځې شګفته شي — زر فنا شي په جوزا
تر بلبل نادان څوک دي — يا کم عقل تر بورا
چه په هسې ښيز ئې مينه — چه ئې څو ورځې بقا
هغه ښيز چه بې وفا دي — زړه پرې نه ترې دانا
په جهان کښې مينه هم وه — د يوسف د زليخا
که ويس وه که رامين وه — که مجنون وه که ليلا
که فرهاد وه که شيرين وه — که وامق وه که عذرا
اوس ئې نجنې ليدې نه شي — دي جهان کړل فنا
نه به ګل د چمن پريږدي — نه بلبل و نه طوطا
نه به طفل ځني خلاص شي — نه سپين ږيري نه برنا

نه به پاتو عشق د خوان شي | نه بنه حسن د خوبا
کاه د زوي لور په غم شي | کاه د يار و د آشنا
چه به پس له ما دا څه کا | حال به څه شي د هرچا
ولي هسي فکر نه کړي | چه په دا څه دِي ځما
بخري اوس نه دِي اول دِي | چه نه ارض وَه نه سما
خپل قسمت به هر څوک موِمي | که افلاس وِي که غنا
څه اندوه د يوه نفس کړي | اي د نفس په غم شيدا
خو د نفس څله دِ ومرِي | که کشکاب وِي که حلوا
غرض تن دي تن دِ پټ وِي | که خاصه وِي که خامتا
که د نفس په نغوته دروِمي | تا به زر کاندِ رسوا
نفس په دا راغلي نه دي | چه روا يا ناروا
چه ارواح پرِ خوبني مرِمي | هغه چار کنزه اعلا
مت په علم کړه چه علم | اژدها دي هم عصا
يا په علم کښ لذّت دي | يا په عشق کښ د مولا
نور همه چارِ عبث دِي | که اعلي دِي که ادنا

که ته تریو کښېنی خوشحال
د فلک ترو څه پروا

اندیښنو ته زړه ورمه کړه
څو حیات یې په دنیا

که تل خوښ اوسي تل خاندِ
یې اسم یا مسمّا

تر هغه نادان څوک نشته
چه نن غم خوري د صبا

غم غیرة په یوه لور کړه
خاطر صاف شه له هرچا

د فردا اندوه نن مه کړه
کوره څه وشي فردا

واړه وسپاره وخدای ته
که دوستان دِي که اعدا

که لقمان شي په حکمت کښ
یا که بوعلي سینا

نه په لار د مرګي بند کړي
نه به خلاص شي له قضا

د قضا سره جنګ نه شي
د قضا ورورِه رضا

که رضا و قضا ورکړي
نور **خوشحال** یې په رښتیا

ته چه هسي په غوغا درومي سیلاب
ولي هسي په ساعت کښ شي بي آب

آفرین دِ په همت دلوي دریاب شي
چه په هیچري ئې چار نه دَه کریاب

چه په پورته د کاغذ وکوډئ درومي
که رښتیا دَه دا دِ درومي بي طناب

د طوطي ژبه استاذ غواړي د نطق
کنزه دي به لا بتر وه تر غرابَ

چه په مخ کښ دِ نابود شي واړه ستوري
د آسمان په ستوريو وخيژه آفتابَ

که لبني ور باندِ بلي کا ابري شي
د ژوندون هنر به نه شي له سيمابَ

له ياقوتَ دِ هاله سيالي شبه کا
که د اور په ناوکښ دا نه شي بي آبَ

چه مرغونه وزر بيا موري الوزي
هيڅ مقصود تر سرَ ثه شي بي اسبابَ

په ځوانيِ کښ به اوده وه په زور والي
د **خوشحالَ** ستري بيداري شوي له خوابَ

درته وښيم کيميا د سعادت
د بدانو سره مه کوه صحبت

مه بدکوي مه بدآموز مه بداندیش شه
که دِ زړه وِي چه ورنه رسي آفت

که لوئِ غواړي ځان کم کنزه تر بلَ
بل تر دا دپاسَ نشته نصيحت

په دوستانو تلطف کړه څو په تاشي
د دښمنو سره هم ښه کوه خلقت

د نيک خواه خبره آوره پرِ عمل کړه
نا نغوتانو ته طيار وِي ندامت

د نمانځه تر قضا ګرانه دا قضا ده
چه قضا شي د څلورو مصلحت

نورانِي کا هغه څاي چه سره کښيني
ديرينه څلور هوښيار په مشورت

په اخلاص چه په دعا لاسونه هسک کا
در به پرانت شي د فتحِ د نصرت

بي کنګاش به هيڅ کار په لاس وانه غځي
چه خبر دي د کنګاش په برکت

چه په نشه تواضع کښ سود حاصل دي
همره سود نشته د ډک طباخ د ست

که کنجوسه د قارون در ته انبار شي
په هر لورئ غورزوه په سخاوت

نادانان به ئي پريږدي درستو ويل ته
عاقلان به وړاندې بيا پي خپل دولت

نادانان که ئي شدت وته طيار وي
لا ئي نه دي خبردار په حقيقت

خو دوستي د دنيا ډيره وي په زړه کښ
هغه همره ډير فساد دي قباحت

شور غوغا جنګ وجدل به ترمينځ نه وه
که هر څوک سره راضي وي په قسمت

که ساتم غُندِ کرم کړي د مهرانو
د يوه دمړي په چا مه بده منّت

خو بدانو سره بد شي همره بنه دي
ولي عفو کرم ډير لري لذّت

دا نابوده دنيا هيڅ متاع نه ده
چه په کاندِ عاقلان باندِ شدّت

که دِ سرڅي که دِ مال څي که دِ نورڅه
استوار اوسه په کار د رفاقت

په ظاهر باطن کفران د نعمت مه کړه
هواخواه اوسه د چل ولي نعمت

که راحت غواړي په ځاي محنت قبول کړه
بي محنت هيڅوک نه موږي راحت

که دارو په خواست موندل شي مه ئي آخله
که دِ مرګ وته نزدي کاندِ زحمت

که آسمان دِ د زمري په خوله کښ ورکړي
د زمري په خوله کښ مه پريږده همت

دهمت ذخیره واستوه د وړاندې
دا یو څو ورځې ژوندون دي غنیمت

په اوبو چه روانه وي شونډې مه بده
په ورځ زر خونه کړه په شریعت

که ژوندون دي هم هغه دي په جهان کښې
چه یادیږي د سړي د ښو خصلت

داراحت لکه د فقر د بوریا دي
داراحت نشته په تخت د سلطنت

چه جامه ئې پاتې نه شي مرده شوي ته
خدایَ ورکړي و **خوشحال** هسې رحلت

ما چه نظر وکړ په ذات د مخلوقات
کول په جهان راغلم تړ به کول خمَ هیهات

یو څادر ترمیان دي نهم پاتې شي له کارَ
دا همره کیسې همره ادراک د سمٰوات

هیڅ نبي ولي ئې درست اسرار موندلي نه دي
لویه کارخانه دَه که وګوري کائنات

وزیږي له نوحَ د طوفان په موج فنا شي
زوي د آذر مړي له نار نه نجات

کار د بل حاکم دي چه څه کاندې هسې کاندې
واړه سردرکمُ دي دا آیا دا امّهات

د خل د ساعت د طبیعت دي که د نورڅه
نیک زیږي له بد د له بدذاتو نه نیک ذات

همره شي عالم چه فرشتو ته سبق ورکړي
بیا به خبر نه یې د جهان په تُرّهات

رد دي که مقبول دي که معقول که نامعقول دي
کوره نندارې کړه نژ دا دم مه رهه زیات

سر په سجدې کیږدې وایې نموخ کوم **خوشحال**
زړه ته نظر نه کړې په کښې خولات و منات

چه به نه کاندِ خبیث
نور به څه کاندِ خبیث
څني طمع د ښومه کړه
کله ښه کاندِ خبیث
چه د بل ښیګړه وینې
ځان اوبه کاندِ خبیث
که ئې ځاي وکړي په زړه کښې
خوښ دِ زړه کاندِ خبیث
که څما په حوله شي خدايَ دِ
زر پاندې کاندِ خبیث
چه جهان درڅني خلاص شي
خداي دِ مړه کاندِ خبیث

د میږي غُندِ **خوشحال**
الوانته کاندِ خبیث

کلک خراباتي یم له ما مه غواړه صلاح
ډکې پیالې آخلم تر صباح دتر رواح
څوک دي د نمر خوبي به ستا د مخ په خیرکا
نمو مثال چراغ دي ستا جمال لکه صباح
مه پوش زاهدَ د ښه مخ له نندارو نه
ستګي چه دا کار دي په فتوي د عشق مباح
توي کړه په هنګام د حادثې ساقي په جام کښې
مي چه باده پاڅي په زجاج کښې ښه مصباح

پاڅه
غسل
محتسبَ **خوشحال** راغي جنګ ته جوړ شه
په مي وکړه د مؤمن وضؤ سلاح

عمر هر زمان رفتن کا لکه باد
مرګ دِ هر زمان سړي لړي په یاد

چه د عمر ئې بنیاد په هوا ایښي
په دا هسي ژوندون څه دي اعتماد

د آدم خاوري د غم په اوبو نم دي
په قدرت خمیره کړي چل بامداد

انبیا و اولیا لاړل وګور ته
ته به وایي چه د دوي نه وه بنیاد

د دنیا ژوندون هیڅ نه دي که ئې ګوري
چه هیچا څنی بیا نه مونده مراد

همیشه که ژوندون غواړي درته وایم
همیشه کوه د نفس سره جهاد

مسافر چه ئې سفر دي څو د وړاندې
په مقدار د هغي کاري اخلي زاد

راشه زړه له غبرو پري کړه اي **خوشحال**
په امید ئې د دیدار لره زړه بناد

په هیڅ رنګ به د عالم له خولي خلاص نه شي
که په خوي له فرښتو شي برابر

په ځوانئ کښ که تقوی کړي دا به وایي
له هوس وُوت خاوري ئې په سر

په پیرئ کښ که هرس کړي دا به وایي
چه په سپینه ږیره څه کاګیدي خر

له خبرو که خوله ونسي خاموشي شي
نوم به زر کښیږدي په تا د غوبل ستور

که خوله پرانزي هر چا ته دا به وایي
چه ګرییږي ما غزه ته لري د سر

که له خلق کوشه ګیر شي دا به وایي
چه څان روغ په خلقو نه ویني مګر

که هر چا لره ور درومي دا به وایي
چه صبا په بیګاه ګرزي در په در

که دنیا ډیره کتې په ځان ئې نه خوري
د شوم نوم به په تا کښېږدي چل پېر

که په هر چا لوسته کړي د خپلو زور
دا به وايي چه د ځلا ئې ډېي دا زر

که توانګر شي د قارون په نام باله شي
بې شعور کم بخت باله شي ناتوانګر

که بنې بنې خبرې وکړي په ځواب کښې
وايي څه حرام زاده دي لنډه ور

که ځواب وچا ته نه ورکړي سرکوز کړي
وايي هېڅ نه دي غوولی بې هنر

که په توره مړني شي ګډوي ئې
لیوني جاهل د بوږلي هم ابتر

که له جنګ په ستنه اوسي دار کوري
وايي ځان ساتي نامرد دي نه زړه ور

که زربفت او تېلک آغوندي تکلیف کړي
وايي دا د ښځو خوي دي نه د نر

که ساده جامې آغوندي درته وايي
چه د شوم ار د ممسک دي هسې چر

که سفر د هر دیار کړي درته وايي
چه حرص ئې کرزه وي په هره لېر

که په کور کښېني هېڅ لوري وته نه ځي
وايي کښېناست پنچل کور لکه دختر

که لونډ کرزي واده ته هوس نه کړي
بیا د بوږلي هیز نامرد مُرده ذکر

که واده وکړي بیا دا در باندې وايي
آزاده ښځه نه وه شه په بلا سر

راځه زر دا هسې رنګ ملامت نور شته
که ئې کښېم درته به ساز کړم یو دفتر

زه او ته د چا په یاد په څه شماره یُو
د عالم له خولې خلاص ته وه پیغمبر

په پښتو شعر چه ما علم بلند کړ
د خبرو ملک م فتح په سمند کړ

مدعي د توري شپي اوراورکي وه
د سهيل غُندِ م خان باندِ خرکند کړ

راز د زړه هرکړ ساته نه شي په زړه کښ
په ساته کښ ئي استاذ وماته پند کړ

يو په حال اوپه ماضي کښ فائده نه وَه
څه بنکاره ئي د خبرو راته خوند کړ

د مرزا ديوان م ومانده په کوډي
سمخره م ارزاني خويشکي زمند کړ

که دولت وه که واصل وه که دانور رُو
په خبرو م د هر يوه ريشخند کړ

قتلمي م ورته سازي کړي د قندو
د اوربوشو په دوريُ چه چا شخوند کړ

لعل و در م ورته وپيل د نظم
د مشکنزو بخياره م مستمند کړ

هر کلام م واردات دي يا الهام دي
چه موزون م په تقطيع د بحر بند کړ

په تشبيه اوپه تمثيل په نزاکت کښ
عذوبت م د خبرو چند درچند کړ

په تازه تازه مضمون د پښتو شعر
په معنيٰ م د شيراز او د خجند کړ

د بوستان وني م واره پيوندي دي
حقيقت م د مجاز سره پيوند کړ

نه اندوه د مدحِ ذم نه هغه کښ يم
چه د زړه په زور م شعر چا پسند کړ

په فارسي ژبه م هم ژبه کويا ده
په پښتو ژبه م خلق بهره مند کړ

د جاهل په بخره تش سر شورول وي
آفرين م په خبرو دانشمند کړ

یا به درست په حد پور یا به جاهل وِي
چا چه زړه په دا خبرو نا خورسند کړ

جاهلان لکه کلاغ کندکي خواره دِي
شنو طوطیانو په د زړه مهر په قند کړ

نه م سود نه م مقصود شته په دا کارکښ
محبت خما په غاړه دا کمند کړ

چا خما مروند تینګ نه کړ په دا کارکښ
ما د سر سړي نه خلاص په زور مروند کړ

هم دِ زاردي هم دِ سخ که فهم وکړي
زړه چه تا د شاعرئ کار پسند کړ

سخ دِ دا چه سخندان د زماني شوي
زار دِ دا چه دِ په فکر زړه نژند کړ

تر قیامت به یادیږئ په جهان کښ
هر سړي چه خداي په فضل ارجمند کړ

عشق ته تر اورنګ زیب بادشاه بهتر یي
چه **خوشحال** دِ په عالم کښ سربلند کړ

لکه غشي لره بویه تیرانداز
هسي شعر لره بویه سحرساز

همیشه د زړه په لاس تله دوزن
زیات وکم دوزن یو توري عماز

په توراس د حقیقت ناوي سوره کا
په سپین مخ پلو ینوي د مجاز

سل جلوي سل کرشمي سل مکیزونه
په نظرکښ کا سنګاره د سترګو ناز

د صنعت زیور په خورنګ پرِ پوري
د تشبیه چندنر چوا باندِ طراز

د تزصیع حمیل په غاړه اوبود دَ راز

د مضمون د نزاکت غمزه ورڅخه
سر تر پاي درست صورت سره يو راز

اي په خپل کمان کښې پروسَ
له اصلي کارَ مايوسَ

دا نه نه يې چه دِ مغزوي
بې داني حبطه بوسَ

وخپل عيب وته ړوند شوي
د پردِي عيب جاسوسَ

چه پيدائي جاسوسي شوه
اګر بنه شه نز آبنوسَ

د طوطي برابر نه يې
که نګار لري طاؤسَ

که غوټه کړي په چرګوړو
په دا باز نه شوي ټپوسَ

لعل ودر پرِ حيطه وِي
چه رنګ نه لري عروسَ

راشه مخ په آئينه کړه
چه چهره شي درمعکوسَ

د خوشحال خټک تربيه دَه
ستا له زرقَ لـه سالوسَ

په طلب کښې دِ سستي وينم درويشَ
چه وتلي يې د دي خوني له ويشَ

نعمتونه رنګارنګ دِي په هر لوري
په غوښتونِي باندِ نه دَه جفا پيش

څو طلب همره موندل دِي په دا دور
بلکه لا تر طلب بخره مرمي بيشَ

د عسلو خوږه کله هغه مرمي
چه حذر کا د مچيِ له بدَ نيشَ

لا له وقتَ د طبيب طلب بائده دي
خو لا پايي په دنيا د زړه له ريشَ

په هيڅ دين کښ ما وفا ليدلي نه دَه
خبردارېم د هرچا له دينَ کيشَ

په هر غمشي چه زخمي شوم بيا ېم وکوت
هغه غمشي وه په تن ځما له کيشَ

هيڅ پروا نده دبل د بدو نه کړم
خوږم پا نه ځي بلا له ځانَ خويشَ

په پيغام د بوسي سود نه ځي **خوشحالَ**
چه ځما په خوله مين يي را نزدي شَ

نن ېم وکړه له استاذ نه يو خو سوالَ
سرافراز يُ په ثواب کړم د هر سالَ

وِ ېم ځوک دي چه هميش په يوه حال دي
وِ ئي تل په يوه حال دي ذوالجلال

وِ ېم ځوک دي چه هميش په بل بل حال دي
وِ ئي خوار بني آدم لري داحال

وِ ېم سر د فراغت څه وِ دري ځيزَ
تندرستي او ايمني د دنيا مال

وِ ېم کوم سړي لايق دي د باريُ
وِ ئي هر چه دروغ نه لري طيتال

وِ ېم ځوان دِ په ځوانيُ کښ کومه چار کا
وِ ئي هر زمان د علم اشتغال

وِ ېم زوړ دِ په زوړوالي کښ کوم کار کا
دِ ئي جوړ دِ کا له علمَ ځپل اعمال

وِ ېم کوم سړي به تل وِي په حرمت کښ
وِ ئي هرچه له چا نه کاندِ هيڅ سوال

وِم طمع قطع نه بویه له چا نه
وِئ هرچه بنه ئې اصل بنه خصال

وِم څه دِي د دنیا دا بني بني چاري
وِئ واړه انساني دِي خواب وخیال

وِم کوم بخت وجدل دي چه تل بنه وِی
وِئ دا د علم بحث دي جدال

وِم کوم ربنتیا چه وُ وایي پرِ سپک شِي
وِئ چل هز چه وایي دم درحال

وِم کوم یو بي نوا بللي بویه
وِئ هرچه ئې په غاړه دِير عیال

وِم کوم سړي نیکبخت بللي بویه
وِئ هرچه سخاوت کا په اموال

وِم کوم سړي لایق دي د ستاینې
وِئ هرچه په بخښلو شِي خوشحال

وِم خلاص به شم په څه له بدَ یارَ
وِئ تل څنی غوښتنه کړه د مال

وِم دار او نزس له کومَ شخصَ بویه
وِئ هرچه ورته یو حرام حلال

وِم څه څیزونه گران په مرد نرخان دِي
وِئ دین اوبل دانش دي د رجال

وِم څه دي چه دانش پرِ ضایع کیږي
وِئ لاني د دروغ و قیل و قال

وِم لاف هدو په څه تر سره کیږي
وِئ زر بویه ځوانان بویه تتال

وِم څه دي چه نشان د ځوانمردئ دي
وِئ عفو په هنگام د استقلال

وِم څه رنگَ به والوزم آسمان ته
وِئ دا شِي د همت په پر و بال

وِم کومه چار بهتره تر هرڅه دَه
وِئ هر چه نیک عمل وِي نیک افعال

وِم څه کړم چه محتاج د طبیب نه شم
وِئ لږ خوره لږ دخول کړه لږ مقال

وِم څه کړم چه هر څوک په مامین شي
وِئ مه وایه دروغ مه کړه جنجال

وِم چا سره تدبیر کوم په کار کښې
وِئ هر چه رسیدلي تر کمال

وِم چا سره نیکي د کړلو نه دَه
وِئ هر چه ابلهان دِي غیرسال

وِم کوم سړي د دښمن بللي بویه
وِئ هر چه په بنیادي دِ شي ملال

وِم چا سره خویشي دوستي د کړه دَه
وِئ هر چه تر تا کوز لري احوال

وِم کوم سړي مؤمن بللی بویه
وِئ هر چه راضي نه وِي په وبال

وِم کومه چار جنت دَه په دنیا کښې
وِئ ژکه چه ئ خوي وِي هم جمال

وِم څه دِي د **خوشحال** ختک خبري
وِئ واړه در کوهر دِي عقیق لال

څما خوب له اندیښنو نه شي بیدار شم
و عالم و ته په دا تهجد کذار شم

غرونه غرونه ګناهونه را په یاد شي
و لچل خدای ته په توبه په استغفار شم

استغفار په خوله په زړه د شر فکرونه
بیا له خپل استغفار شرمسار شم

د دي دور د شیخانو حال ړم وکوت
چه ساعت ور سره کښینم تر دار شم

چه حلال کسب ئ نه وِي شکراني خوري
زه حیران په دا شیخئ د شیخ مکار شم

دا ناتار چه په جلي ذکر شيخان کړي
کله زه په تاخت راضي په دا ناتار شم

ما دا هسي شيخي دوي ته ده بخښلي
په محشر دِ د رندانو په قطار شم

چه خرګنده سربازي کاندِ د تورو
زه **خوشحال** خټک نر هسي هنر خار شم

حيران يم نه پوهيږم چه زه څه يم څه به شم
له کومَ يم راغلي بيا په کوم لوري به ځم

خبر د هغو تللیو بيا په بيزنه چا را نه ور
له حالَ له احوالَ که ئي هر څوک وپښتم

دلي چه څوک ليده شي نن ئي شپه په دا باندې کښ
آخر ئي له دي ځايَ وار په وار واته کښزم

جهان يو کټوری شه زه په مثل د ميږي يم
حيران په کښ جاروزم لاس وپښي په کښ وهم

دنيا وته چه ګورم کار و بار ته د وګري
د وړکيو تماشي دِي زه ئي هم ور سره کرم

چه ته پرِ مبتلا يي که دِ مال دي که دِ ملک دي
داواره بي له خوبَ بي له خيالَ نه ويښم

چه نور ويښته دِ سپين شول خوي دِ نور نه شه **خوشحالَ**
باور کړه اوس ناحق د سرِي نوم در باندِ بدم

د خدايِ منت را باندِ چه ئي هست کړم له عدمَ
بل خلقت ئي نه کړم را پيدا شوم له آدمَ

پښت په پښت راغلي مسلمان محمّدِي يم
چار د چاريارانو سره واره منم سمَ

درست په دا پوهيږم چه څلور مذهبَ حق دِي
زه د حنفي مذهب دعويٰ لرم محکمَ

مینه ئې په زړه د علماؤ راکړه ډیره
مینه ئې د دور د شیخانو راکړم کمَ

نه خرابۍ نه قمار باز نه زناکارم
نه قاضي مفتي چه ئې نظر په خو درهمَ

بخره ئې د تیغ راکړه په اصل کښ پښتون یم
پلار په نیکه نه یم بې دولتَ بې حشمَ

پلارم سور کفن وګور ته لاړ نیکونه واړه
ډیر خلق پرِ ومړ خون ئې لاړ شه نړ عالم

پلارم شهباز خان په سخاوت لکه حاتم وه
زړه ئې د زمرې په توره تیز وه نړ رستمَ

تیګ ولاړ په شرعَ تل ئې کار وه په پښتیاکښ
خط سواد ئې نه وه نور دانا وه له افهمَ

خو به نیکه ستایم یحیٰ خان جنت ئې ځای شه
روغ لکه یوسف وه درست له سرَ نړ قدمَ

بل سړي که سور وه دي پیاده سره به سم ود
قد قامت ئې همره د مړاني چار پرِ لتمَ

بل نیکه خما ملک اکوچه په ختک کښ
ده راوړه دا بخره د لوئې مقدمَ

ډیرش کالو ته وشول چه م پلار دي شهید شوي
مړ کړ یوسف زیو ما هم اور کړه باندِ سمَ

نور پښتانه ډیر دِي خیوزه په کښ توره یم
واخلم ورکړم بند کړم پریږدم ووژنم نړ دمَ

ډیرو السونو علیمي را سره وکړه
سر ئې را ته کوز کړ هاله خلاص شول له ماتمَ

یو یوسف زیئ دِي چه په ما ئې منت بارکړ
لا په اکوزیو د ننګ چار ده مسلمَ

زه چه دَ غفد ۱۰۸۴ په کال په بنه د اورنګ زیب شوم
کور و خیلخانه م په کښ ډیره وَه بې دمَ

خو کالَ بندِي کړم اورنګ زیب په هندوستان کښ
روغ راغلم نړ کورَ بیا ئې خلاص شوم له ستمَ

هرچه زه ئې وژلم په زندان کښې هغه واړه
ومړل خوار شول ورک شول خالي نه دي له الم

زه لکه یوسف له بند خلاص شوم کامراني کړم
پاک پاکیزه زړوم اور مې نه کړه بها کم

زوي مې اشرف خان دي چه خورشوي کور پرېوتل شه
زه چه په بند لاړم خیلخانه مې شوه برهم

خلیشت زوي نورلرم پودي په کښې چه لوي دي
واړه برخوردار شه خدای ئې وساته له غم

اوس پنځه نمسي لرم افضل او اشرف خان دي
خدای ئې برخوردار کړه طمع ډیره تر لولم

پو مې سکه ورور دي چه ئې لار د حق نیولې
دوه ورونړه مې نور دي یو یتیم دویم بې نم

ځای مې ملک پود دي چه ئې سرای بولي وګړي
قام اولس مې پوت دي ترلکې په غره په سم

شل زره ځوانان لرم همه له یوه ذات
واړه یګانه شا په خدمت کښې راته خم

څه شو شمشیرخان ترین که پوخ پنج هزاري دي
ما وته هیڅ نه دي مګر بې اوم شلغم

څو به د منصب په زور څما برابري کا
څه مجال دګډ چه به سیالي کا له ضیغم

خوارد یوسف زي شي چه ترین ئې حاکمي کا
اوس که ښکار د بازکاند هیلئې نه ده کرم

زه د شاه جهان بادشاه دننه د زړه سرو
چارم اورنګ زیب په نادانئې کړه برهم

دم وهلي نه شم څوک مې داد دلاسا نه کا
داغ لرم په زړه کښې بې طبیب بې مرهم

څو زره سواره دي سرګردان په څو کالونه
زه که په زړه روغ وي چار به ولي وه درهم

سل کال که تیرشي دا مهم به فیصل نه شي
دا زنګ چه کیږي ګوره څه وشي له هم

خوچه په ځو کال شمشیرخان ترین یوکارکړ
مابه په ځو میاشتي واړه چار کړه مستحکم

دا مکر فریب چه دحیات ترین هنر دي
کله دا د مرد دا د ښځي دي عالم

پوهه تمیز نشته دا جهان په ستر کو روندي
ښځه د خانئ په خطاب کاندِ مکرم

دا انشا او دا املا چه دي شیطانِ بولي
تل باندِ نفرین وورِي له لوح له قلم

حال حقیقت وایم چه هرچا وته معلوم شي
زه چه شاعر نه یم هي توبه له مدح ذم

که همیش دِ همنشین وِي تور ماران
ښه دِي دا نه چه قرین وِي بدکاران

هرچه ستا عیب وتا وته ښکاره کا
په جهان کښ هم هغه کنړه یاران

په کردار کښ یار اغیار سره بیلیږي
تر یارانو ډیر لباس کا اغیاران

دکمذات یارِي به هیڅ وفا ونه کا
لا په تیره بي نمازان او میخواران

لکه تخم هسي بر هسي ئي بوټي
نه ئي زمکه خوند بدل کا نه باران

د زړه راز وچاته نه ویلي بویه
چه دَ زمکي په مخ نشته رازداران

په قیامت به یو په یو واړه جواب لي
که میږي ملخي پایمال کړي شهسواران

د خوشحال باندِ سلام شاهان د وخت دِي
په سپیرو ایرو لړلي خاکساران

بیهوده په ځان غوّه دي دا انسان
په ساړه په غارمه چینګه خوله حیران

لیوني ملال دلګیر دخوب په وړل کښې
نه د لوږي نه د تندي لوږي توان

په یوه ذرّه خبره خوار خسته شي
په یوه ذرّه سرخوږي شي په ځان

په دا هسي رنګ ځو کبر ځو لوبي کا
چه نظر ئې له خودئ وي په آسمان

واړه عمر تیروي په داغفلت کښې
ترهغه پوري چه ومري په داشان

په ژوندون چه د خپل ځان فکرونه کا
پس له مرګ به هغه کا ډیر ارمان

زاهدان او شیخان هر لوري ته ډیر دي
دخوشحال ختک پکار دي عارفان

چه م بنه په زړه کښې فهم فکر وکړ
احمقان را ته ښکاره شول په خویونو

یو هغه سړي احمق بللي بویه
چه باور کا د غلیم په سوګندونو

بل هغه سړي احمق بللي بویه
چه پاړو شي د لړمو د ماروونو

بل هغه سړي احمق بللي بویه
چه په سپینه ږیره خیال کاندِ دجونو

بل هغه سړي احمق بللي بویه
چه د ښځو سره پاځي په جنګونو

بل هغه سړي احمق بللي بویه
چه د خسر کوه به اوسي په کالونو

بل هغه سړي احمق بللي بویه
چه وینته په تورو وي په خضابونو

بل هغه سړي احمق بللي بويه چه بزرګانو سره خير شي په جنګونو
بل هغه سړي احمق بللي بويه چه يک لخته به اعتبار کا په تربرونو
بل هغه سړي احمق بللي بويه چه په هر طبيب دارُو کا د رنځونو
بل هغه سړي احمق بللي بويه چه به بي توري دعوی کا د ملکونو
بل هغه سړي احمق بللي بويه چه به جنګ وته پريکړي ځي تر ملونو
بل هغه سړي احمق بللي بويه چه لوئِ کا په لباس په کسوتونو
بل هغه سړي احمق بللي بويه چه به دي غوارِي لوئِ په نسبونو
بل هغه سړي احمق بللي بويه چه د تيښتو ګمان ورک کا له مريونو
بل هغه سړي احمق بللي بويه چه به مال د دنيا نه خورِي په کورونو
بل هغه سړي احمق بللي بويه چه بدخواه سړي به پريږدِي په رويونو
بل هغه سړي احمق بللي بويه چه بي ځايَ زغلول کا د آسونو
بل هغه سړي احمق بللي بويه چه پيران به کښينوِي په خپلو خونو
بل هغه سړي احمق بللي بويه چه بي حدَ تکلّف کا په ځايونو
بل هغه سړي احمق بللي بويه چه خبري کا په سترګو په لاسونو
بل هغه سړي احمق بللي بويه چه به لوړِي د سړو په سرونو

بل هغه سړي احمق بللي بويه
چه دغوښتو کړ به کاندِ په ډاکونو

بل هغه سړي احمق بللي بويه
چه به سُود و سَودا کاندِ د بازونو

بل هغه سړي احمق بللي بويه
چه برمنده کُنَّه لانبي په سيندونو

بل هغه سړي احمق بللي بويه
چه غوښ نه کاد **خوشحال** په داحرفونو

چه بهتر تر هر نعمت دي
نورخه نه دي روغ صورت دي

چه ئي دا نعمت دوزي وِي
سر تر پايَ عنايت دي

که ئي نه پيژني قدر
روغ صورت لوي غنيمت دي

ستا په تن کښ ځان يواځي
ترجهانَ زيات قيمت دي

که دِ ځان نه وِي جهان وِي
په عدم ئي اشارت دي

دا جهان لکه معنئ شه
ستا وجود ئي عبارت دي

چه په ځاي ئي عبارت وِي
د معنو همره قوت دي

د صورت د خوشحالئِ
مدار واړه په صحت دي

چه صحت د صورت نه وِي
ورته خس مال و دولت دي

رنځ په کور کښ هم بلا دي
لاخه نورچه په غربت دي

پښه مِ هسې رنګ په درد شوه | چه تیریږي یو ساعت دي
آس چه ورو دروِمي په لاړي | پریوانه ځني آفت دي
چه د سر بلا په پښو شوه | دا لا خیر خیریّت دي
په دا هم شکر بایده دي | یو تر بل بتر زحمت دي
ماوِ تیر شه ولې پوه شوم | لا څه پاتي مصیبت دي
ماوِ اوس خو مهربان شه | لا ئې ما سره شدت دي
هند په ما باندِ دوزخ شه | که په نور عالم جنّت دي
بندیوان ور لره راغلم | دا یو څو میاشتي فرحت دي
هغه شان لکه بندِي وم | ترِم لا تیري محنت دي
هره ورځ ورتلل دربارته | ګوره دا څه مشقت دي
د بل حکم پرِ زندان شِي | چه پرخپل حکم عادت دي
نه شیرین شیرین یاران شته | نه له چاسره صحبت دي
نه خپل ورکړل رانیول شته | نه خپل حکم حکومت دي
نه د ښکار هوا هوس شته | نه د نورڅه مصلحت دي
یو په بل پوښتنه نشته | هسې ښهر بد خصلت دي

په شماره یو څو سړي دِي
چه ئې جوړ را سره نیت دی

یو اکبر په غم شریک وه
هغه هم په خپل عشرت دي

که بادشاه دي که خانان دِي
را ښکاره ئې حال حالت دي

د هیچا برکت نشته
څان څانِي شوه قیامت دي

ما چه دا قصیده وُوِ
په دیلي مِ اقامت دي

څلورمه د رجب وَه
زر اووه اویا هجرت دي

نورڅه مه وایه **خوشحالَ**
که څه وایي قباحت دي

دانا په حال نادان کله خبر دي
چه په خپله نادانئِ کښې اوتر دي

دلیچن په سترګو وڅلیده ستورِي
وعالم ته ئې لغري وکړي چه نمر دي

دا داغونه چه مِ ایښي په جګر دِي
خو هم ما زده چه مِ پوخ څني جګر دي

که څوک خپلي سترګي وساتي غم نشته
چه په زړه تندر پریباسي خپل نظر دي

خداي دِ هیڅوک په دنیا کښې عاشق نه کا
عاشقي په خپل صورت باندِ لښکر دي

لیوني زړه مِ پرون په خندا لاړ وه
راشه ګوره چه نن بیا په ژړا سر دي

چه د فکر مرجونړا له بحرَ وکیښې
راشه ګوره د **خوشحال** کلام ګوهر دي

له غمونو به خلاص نه شي د غم خويش يي
که بدگوي و بدآموز و بداندیش يي

مه بدوايه مه بد آوره مه بد وينه
درويشي دِ مبارک شه نور درويش يي

ستا په زخم به دارُو مرهم نور کيږدِي
که په ځان دارُو مرهم دچا په ريش يي

که دِ ځان پخپله شمار تر هرچا کم کړ
نور ځما په پوهه ته تر هرچا بيسر يي

يا به دَد يا به منگور يا به لوم يي
که دارل کړي يا چيچل کړي يا په نيش يي

په خپل دين نظر لره دينونه پيردِي
څه جاسوس دچا د دين دچا د کيش يي

که هرڅو درڅني غوږوم بدخويَ
ته په هره کوڅه بيا و ماته پيش يي

په کردار توره مشکنړه يي خوشحالَ
په گفتار سره د سپينو درو ويش يي

که بادشاهان دِي که درويشان دِي
که په دا مينځ کښ بنه بنه ځوانان دِي

که په زرگونو کالونو پاِي
عاقبت واړه د گورستان دِي

چمن بی نظیر

قسم قسم غزلونکه
در دبر و شاعرانه

صدر خان | ابوالقاسم | قلندر | خواجه محمد

احمد شاه | سکندر | حسین | یوسف

عبدالقادر | صدیق | علی | ابراهیم

عبدالحمید | کامکار | خوشحال خان | عبدالرحمان

پیر محمد | فتح علی | عبدل | عثمان

عصام | اشرف | مهین | فضیل | دوست محمد

مسلم | فاضل | حسن | معز الله | غفور | دولت | بهجری | مهدی

چمن بي نظير

که فلک وګرځي ګردش په کام څما
کُنډِ کښېوزي دا آهو په دام څما

اورم بل په هر اندام د اشتیاق شي
چه جلوه کړي هغه ګل اندام څما

ماچه وصل په هجران کښې دیار بیاموند
په رڼا ورځي بدل شه شام څما

لکه نقش د نګین په نګین ډوب وي
هسې ډوب شه په ګوښه کښې نام څما

زه چه تل مخموري ستړګي دیار وینم
ډک په میو د عشرت شه جام څما

ترابدَ ستا د وروڅو و محراب ته
شه خصلت رکوع سجود قیام څما

چه دولت د بیخودئ **معزالله** راغي
مملکت دي د بنادئ مدام څما

په دریاب به څه رنګ ترشي کام څما
چه نسکور لکه حباب دي جام څما

دنګين عالم خبر ورڅني نه دي
هسې ورک شه ستا په غم کښې نام څما

د ذرّې په شان مِ تاب د آفتاب سوځي
هيڅ سبب د راحت نه شه بام څما

د لاغر صيد له شرمَ هسې آب شه
چه سرسبزه کړه دانه ګُل دام څما

صبح و شام مِ کړه همرنګ سيه روزئ
څکه نشته چرې صبح و شام څما

د سيماب په شان ئې نه مومم بې مرګَ
د حيات له لاسَ ورک آرام څما

ستاد مېنې راز مِ هسې پوشيده کړ
چه په تا نه شه خبر سلام څما

په ګلشن دي **شيدا** بيا پرتو د صبح
که په سپين لباس کا زيب ګلفام څما

ساقي زر پاڅه و ما آبِ حيات را
ورپسې نُقل د سرو شونډو نبات را

آزادي مِ خوښه نه شوه له دي پسَ
څما پښو لره زنځير د عشق حمات را

که هوڅو د هجر غم راباندِ ډير شي
لکه غر د يار په مينه کښې ثبات را

نوکرې دِ کړم دنيا مِ پکار نه دَه
يارَ ما لره د خپل ديدن برات را

غير فکر مِ له دلَ زدوده کړه
خيال په زړه د يار د مخ لکه مرآت را

په کمال چه دي نصاب دِ تا د حسن
مستحق يم آشنا ما لره زکوٰت را

ربَّ دا آرزو **کامګار** لري په زړه کښې
چه هرچا ته وِي يک سان هغه صفات را

کونړ او ړوند کړي هسي شان دنس هوا
چه لري سره دوا او ناروا

شوخ بي‌شرم کړي حوص ترهسي حدَ
چه نه شرم کړي له خدايَ نه پروا

چه د نس په زيرمه خداي درڅخه هيرشه
دَ له چا شوي وابسته له چا سوا

نه به ته دا سرکښ نس په بدو موړ کړي
نه به شِي زهر قاتل د چا دوا

څو طيار خوان و الوان درلره نه شِي
په يوه طعام دِ نه يخيږي خوا

وړي هزار تاروه تارخه د ناکسانو
وايه ولي په يوه نمړيِ حلوا

چه طلب درڅخه نس تارخه تاروه کا
زيرموي صبا حلوا بيکا بنسوروا

په حيا کښ سړي وبري تږي بنه دي
نه به شهدو شکر موړ په بد رسوا

چه په سوال اوبدوي لاس چا ته حميدَ
بنه يي وبري لاس ترڅني بي‌نوا

هيڅ په عقل په تدبير نه دي نصيب
چا تړلي په زنځير نه دي نصيب

ستوري والوزي که هر څو نمر به نه شِي
د بادشاه بخت د فقير نه دی نصيب

په سينه کښ مِ زړه نښه درته تل دي
د کږو بنړو ستا تير نه دي نصيب

د تصوير غنچه په باد ګل شوي نه دَه
چه هوس د زړه زهير نه دي نصيب

ستا د زلفو دُري ډير ډير کابه سم کړه
لا د سپي غماز تعزير نه دي نصيب

پټنګ هسې ځاي د شمعي لښي وسه
چه د چا له خولې ئې ويرنه دي نصيب

چانه ووايم د غم له بدَ حال
چه د مړه د خولې تقرير نه دي نصيب

باد څه دُوړه دَه په موټي کښې راوړي
د حباب د کور تعمير نه دي نصيب

ستا په زلفو کښې دا بند زړه غواست له چا
چه خلاصي د دي اسير نه دي نصيب

د بنړو قلم څما په اوښو لوند دی
لا د غم د حال تحرير نه دي نصيب

ستا د نوم آخسته خوله د تصوير غواړي
خو دا کار ئې له تقدير نه دي نصيب

کوم بوسيخ دَه د لاله سينه داغلي
چه مرهم ئې د ضمير نه دي نصيب

محمّدي اوښي م غم په مخ جاري کړي
و دريده د دي بهير نه دي نصيب

که د ښکلو د ديدن لري مطلب
مقيّد ئې په طلب شه روز و شب

شهد و شير قند به دِ واړه فراموش شي
که بوځل شي له محبوبَ لب په لب

د دلبر وصل منصب جاوداني دي
صدقه تردا منصب شه بل منصب

د وصال قدر پوښتنه له مهجورانو
څه پروا د اوبو کړي د وچي کب

د دلبرو په ديدن عاشقان پاڼي
نور ئې هيڅ د ژوندانه نشته سبب

ښه متاع له هر دکانَ چه وِي ښه دَه
د معشوق پوښتنه مه کړه د نسب

د عاشق دعا که و نغوږي څښتن
مبتلا کړه رقيبان په خپل غضب

مړنو له ټيټته شرم دي **يونس**
د نصيب له پيښي ماړوه جلب

نن مِ وليده په سترګو هغه يارمست
سم په لاري نه کا تله هغه مي خوارمست

په مستئ خما د ميني واړه مست شو
کورمِ مست محلّت مِ مست کوڅه بازارمست

شيخ خما د يار دلبو شراب نوش کړه
دي پرِ مست شه خرقه مسته هم زنارمست

د مستانو مجلس هسي مکان غوارِي
چمن مست عمارت مست نقش و نګارمست

د مستانو په مستئ چه زړه نشاط کا
ويل مست کا کتل مست کانډِ هرکارمست

برندي سترګي چه راپورته په مستئ کړي
ما کا مست روزګار کا مست در و ديوارمست

زه هم مست دلبرمِ مست دګلو سيل کړو
ساقي مست شرابي مست هم لاله زارمست

په مستئ خما په رقص فلک ګډ شه
مطرب مست چغانه مست دف و مزمارمست

د **صديق** مستي يواځي د ځان نه ده
قلم مست قلمدان مست لړي اشعارمست

ستا په دور ګلستان شه له ما پاتِ
سير د ګلو د بوستان شه له ما پاتِ

په ژړا کښې مِ زړه نرم لکه موم شه
هغه سخت خاطر سندان شه له ما پاتِ

له قالبَ مرور شه رانتله نه کا
په کوڅه کښې د يار ځان شه له ما پاتِ

هسې شان شوم په هجران کښې بي طاقتَ
آه فرياد ناله افغان شه له ما پاتِ

د مجنون په دود مِ ځاي په ويرانه شه
کور و کلي خان و مان شه له ما پاتِ

زه غنچه غُندِ خندان ورځني لاړم
افسوس دا **کاظم** ګريان شه له ما پاتِ

چه راپېښ د يار بيلتون شه الغياث
ځما زړه له غمَ خون شه الغياث

د وصال ساعت به څه کوري په سترګو
چه پيدا غمّاز زبون شه الغياث

د آهو په دود د هجر له دهشتَ
ځما ځاي په ميږتون شه الغياث

اوس په عشق کښې د هجران له ډيرَ غمَ
په عذاب ځما ژوندون شه الغياث

د غمّاز د بدنيتيِ د سنګ له لاسَ
ډک د وينو مِ لړمون شه الغياث

په سبب د کاهليِ د خپلي بخري
په عتاب راته ګردون شه الغياث

فتح عِلي هوس به څشکل کيدي شِي
جام د بخت دِ سرنګون شه الغياث

ستا په هجر کښې بي‌تاب يم الغياث
لکه موج په اضطراب يم الغياث

په وجود کښې مِ اثر د بقا نشته
وفا ته جوړ حباب يم الغياث

پيچ و تاب و ته د زلفو دِ نظر کړه
زه هم هسي پيچ و تاب يم الغياث

په سيلاب سره هميش دخپلو اوښو
د صورت خانه‌خراب يم الغياث

چه نه مرګ وِي له جفا نه وفا مومم
له دي عيشَ په عذاب يم الغياث

په غمزو مِ د دلبرو زړه غوڅ غوڅ شه
په نغمو سوي رباب يم الغياث

د ناصح و نصيحت ته مِ غوږ نه دي
مست د مينې په شراب يم الغياث

په تحرير د عشق غمونه نه طي کيږي
درمانده ئي په حساب يم الغياث

چه آشنا د يار د غم زه **پير محمّد** شوم
د حسرت په اور کباب يم الغياث

که ښښتن شي د دنيا د تخت و تاج
غرّه مه شه عاقبت به شِي تاراج

پس له مرګَ به همه سره يکسان شِي
که ګدا که مهاجن وِي که مهراج

چه آخر به ځي له توروخاورو لاندِ
د دنيا په چارو مه کړه ابتهاج

د اجل په سنګريزو سره به مات شِي
که هر څو وساتي لوښِي د زجاج

که حاجت روا کوي د حاجتمندو
تا به نه کا خداي هرګز د چا محتاج

چه آشنا د ربانِد پيښ شِي لوي همت کړه
چه دِ جور دي دا پنځه ورځي مزاج

ښائسته کړه خپل ايمان په عمل باندِ
بي زيورَ ناوي نه لِري رواج

دا سیاهي به دِ همه له زړه بیرون شي
که دِ بل کړ اندرون دعشق سراج

هغه چاري چه د عشق په جذبه کیږي
کله کیږي په لښکرو په افواج

که عاشق په صورت وورکي په زړه لوي دي
څه پکاردي بیهوده صورت د عاج

عشق رسوا کړه په دنیا او په عقبیٰ کښ
یو مجنون دویم منصور بن حلاج

په ځنګل کښ ښکاري څه ځنګ خبروه
که په زور آواز نه کښلي دراج

له کسرئ د عدالت نامه شوه پاتي
دا د ظلم داغ شه پوري په حجاج

د دنیا د تنستي بوده نیمګړي
په هیڅ رنګ به ئي پوره نه کا نسّاج

که عاشق ئي له ګمت مه ویریږه
د هرچا د پیغورونو شه آماج

د خواجه محمّد گناه وخداي ته څه دي
د کرم بحر ئي درومي په امواج

څکه بدم قدم د ښکلیو په دلبارګج
چه مخمور ګرزي په حال کښ د خمارګج

د کبو پګړو څښتن خاکِ سیاه کا
چه دلبر د زلفو تار کا په عذار ګج

کجي زلفي ګج مژګان لویه فتنه ده
لا ئي ګوره چه دلبر کاندِ دستارګج

د زړه فکرم د یار په لیده ورک شي
لکه جوړ فکر د کور شي په بازارګج

د رقیب له ویري هسي یار ته درومم
لکه مات دچا په پښه شي تیرِ خارګج

که

که دستار په تندي کې بېدمَ ګرم نه يم
څونډې تل وِي د بلبل په نوبهار کې

د کېږو ورځو غوڅ کړي مدام ژاړي
ولې سخت وِي د کېږي توري پرهار کې

که عاشق له هجرَ پرمخ پروت وِي بنائي
روغ صورت د مينا تل وِي په خونبار کې

که **غفور** له خلقو بيل شي باک ئي نشته
تل آواز د دوغو لګي په بيمار کې

د وفا طمع کوي له اعدا پوچَ
په بتانو پسي کړي اقتدا پوچَ

چه په کنج د حسن ناست وِي هغه ښکلي
ورښکاريږي د عاشقو غوغا پوچَ

سربکار ئي شه همېش له جګرخونَ
چه ئي شوه د يار په درکښ دعا پوچَ

زه چه غوڅ شوم د چشمانو په مصرئ
اوس مِ زيرمه ده د درد د دوا پوچَ

چه د عشق په تجارت کښ بهرمند شي
هغه وګټي د هرڅه سودا پوچَ

کل به وقت د صبحدم کښ پروا نه کا
بلبلان که ورته کاندِ ژړا پوچَ

چه د عشق په ميخانه کښ مستانه شي
هغه ګوري ودانِي د دنيا پوچَ

خو همه د عشق په لاري کښ تورتم دي
صبورِي ورپسي بيائِ رڼړا پوچَ

همېشه کاندِ رفتن په قرار نه دي
اي **عليمَ** ده د عمر بقا پوچَ

ستا ترلب لعل وگوهر هيڅ
ستا تر زلفو مښک عنبر هيڅ

حجاب واچوه له مخ
آفتاب محو کړه قمر هيڅ

خريدار چه يُ بي نياز وِي
د چشمانو دُر گوهر هيڅ

چه د عشق بدرقه نه وِي
په خونخواره لار سفر هيڅ

بي له يارَ څه اختر کا
د بي درد عالم اختر هيڅ

ستا ترقدَ تر قامتَ
صنوبر چنار عرعر هيڅ

سنگين زړه دِ نوم نه شه
په ژړا ځما احقر هيڅ

د عشق يو سبق کافِي دَي
نور د گُل جهان دفتر هيڅ

ستا گفتار **صدرِ خوشحالَ**
کان دکان کړه د شکر هيڅ

زه زړيږم ستا له غمَ تر صباحَ
ته ناترس په پهلنگ خوب کوي تر راحَ

د هجران په درياب ډوب يم غرغري کړم
جگِي جگِي لاس را واچوه ملاحَ

نيکوکار عالم وفا کا جفا پريږدِي
ولي خوند د حنظل نه شِي له تفاحَ

نه مِ ځان بي بي تا مرمَ خود پوهيږي
جدائِي د تن مشکله له ارواحَ

لا به کله ستا د خولي په جام سيراب شم
شپه او ورځ مِ دغه خواست دی له فتاحَ

ستا د حسن لوټيږو لاس په تاخت کړ
بي‌پروا ګوزي له صلح له صلاح

هزار شکر که بندي يم ستا په زلفو
په دا هسي بند کښې خوښ يم ترفلاح

د دروغو په وعده هزارداستان يي
په رښتيا دِ غنچه خوله نه کړه مفتاح

اشرف ستا په مينه مست دي لا به مست شي
په خندا که سپينه خوله کړي ورمباح

که يوځل شي مخامخ د يار له مخ
نور به نه کا رقيبان درباندِ رخ

لا به کله خدايي په ما د وصل داد کا
چه پوره کړم په رقيب د هجر سخ

د رقيب له بدخوئي مِ يار بدخوي شه
روغ سړي پمنوي د پسمن پخ

اند ښښنه مِ د ناموس له خلق نه شي
د يار ډيري حيا شوخ کړم تر ملخ

نچل ويښته د يار د راز په لطافت کښې
چوکه کيږي په عاشق لکه بنجخ

چه سپي‌توب د عاشقئ راڅخه نه ځي
څکه شم باله شاره په تو په چخ

که پري بنئ شم که بدي شم ناصح
خداي کړ عشق ځما **حميد** په مخ کښې زخ

مه کوه د دښمنانو په مرګ سخ
د دوستانو دِ هم دا ده لار په مخ

له هرچا سره سينه کړه خپله صافه
مه له چا سره حسد کوه مه زخ

ثوبيت په نااهلانو حبطه وِي
وريژه نه شي د دهقان په زور شخ

له کمينَ به بي بدو څه وانه وري
هميشه له کنجي سره ژړي پخ

پريکول ئي درد لري پريښول ئي عيب دي
ناخلف دي د پدر په مخ کښ نخ

سنا د خيال وسليمان ته مِ ځان ونيو
د ميږي په لاس کښ هيڅ نشته بي ملخ

معزالله لره طناب د زلفو ورکړه
چه پرِ ووځي له کوهي سنا د زنخ

د مجاز عاشقي عينِ حقيقت دَ
و هغي ته زينه اينبي د صورت دَ

تر ثرا تر ثريّا که فهم وکړي
په څلور کُنجَ غوغا د محبّت دَ

په جهان به هيڅوک نه وُو که عشق نه وي
دبدبه د عشق قايمه تر قيامت دَ

چه په مينه کښ يک دل ويک زبان وِي
تر هرچا د هغو چار په برکت دَ

دا يوه وينا د زړه په غوږو واوري
چه بهتره د اورنګ تر سلطنت دَ

سر دِ دروي مال دِ دروي پت دِ نه ځي
د سړي د چارو کُل خوبي په پت دَ

چه يو ځلَ زړه د چا په مينه بند کړي
په شلول څني کي دَ مروّت دَ

چه د نيّت غلطي لري بلا به ورشي
تر هرڅه بده بلا غلطي د نيّت دَ

چه ئي خداي ورکا وچا شکر دِ کاندِ
په جهان کښ لويه بخره د همّت دَ

په تيره الماس د پاس قدم ايښي
يوه څه باريکه لار د شريعت دَ

چه کنړوته نصيحت وايي **خوشحالَ**
وايه کومه فايده ستا د نصيحت دَ

ولي نه يي راضِي‌مند په هغه سود
هغه سود چه هميشه لِري بهبود

تمامِي قباحت دا دي که باور کړي
چه مريد له خپلَ پيرَ شِي مردود

چه دِ يو زمان جدا نه وِي له دلَ
په معنىٰ کښې هم دغه شه ستا معبود

په هر لوښِي کښې چه څه شِي واچولي
عاقبت شِي بيا هغه څني نمود

د مسلم نشانه څه ده بندګي ده
د اخلاص طاعت به کله کا جهود

دهغه له بادو څه له فراغت شوي
چه تر تا نه تل و تاته دي موجود

جدائِي څني ذرّه د يار و مه کړه
که هرڅو دِ شِي اندوه په زړه افزود

سلامت ته سلامت بخښلي خداي وِي
څه شِي اورته خليل واچاوه نمرود

ته تل مي د محبّت نوشه **صديقَ**
په دا څه شِي محتسب که وِي حسود

لکه خوښ شِي څوک د زرو په کاغذ
زيات ترِزه شم د دلبرو په کاغذ

د دلبر د خط سياهِي مښک وعنبرَه
سم خوشحال د مښک عنبرو په کاغذ

عاشقانو دِي د زړه په وينو ښکلي
روغ خندا کا د اوترو په کاغذ

چه د يار د در خبر و نامه لولي
نظر نه کا د کوهرو په کاغذ

د دلبر په لورِ م دوه ستوګي خلورشوي
انتظار يم د رهبرو په کاغذ

که مِ يار کتابت نه کوِي هم ښائي
اعلیٰ خان دي د احقرو په کاغذ

د سرو زرو په کاغذ شاهان خوښيږي
زه **يونس** د لب شکرو په کاغذ

چه وينته دِ په مخ سپين شو برابر
لا دِ زيانه شوه هوا د مال وسر

په پيريِ کښ که حرص کوي کوم نه يي
سړي وږي شي په وقت د نماز ديګر

سپينه ږيره همسا واخلي ټيټيږي
د روڼيِ په طلب ګرزي در په در

په زوړتيا دِ پيروِي د ګيډي وکړه
يوه ورځ نه شوي په منډه د سرور

په نمانځه کښ نيم رکوع کولي نه شي
درسته ورځ په ټيټه لوکړي مات کمر

بيا هاله که ارمان کړي واربه دِ تيروِي
چه دِ لږي د لحد په خښته سر

په دنيا پسي وينته چوي له عقل
او د دين له علم هيڅ نه يي خبر

قناعت هسي دولت دي **قلندر**
چه سړي کا په نيستيِ کښ توانګر

له ګوګلَ زړه جانان راڅخه يووړ
عشق ئې غم د دل وجان راڅخه يووړ

چه ئې خيال څما په سرکښ هميشه وه
ترکو سر په دا تاوان راڅخه يووړ

که مِ زده کړه د صبرونو داستانونه
آهوچشمو په دستان راڅخه يووړ

په چوکان د تورو زلفو هغه ښکلي
ګوي د زړه ئې په ميدان راڅخه يووړ

همېره ژاړم زه د عشق له ډيرَ غمَ
خجالت ابرِ نيسان راڅخه يووړ

هسي عشق لرم بي‌صبرَ بي سامانَ
چه ئې واړه سر سامان راڅخه يووړ

زه **کامکار** څکه رسوا لکه مجنون شوم
چه درست عقل دلستان راڅخه يووړ

په دا دورِ آخرين کښ هوښيار ګرزَ
چرِ نه ندم غلط کړي بيدار ګرزَ

که دِ څان له خنډ و خارَ پاکيزه کړ
په اصلي ګوهر کښ خوښ لکه تار ګرزَ

دچندنې په دود که څان په سنګ کسان کړي
نور بي‌غم د محبوبا په رخسار ګرزَ

له څادرَ پښي اوږدي په هورته مه کړه
لکه ته يې په خپل قدر مقدار ګرزَ

که طاقت د بل مرکب درڅخه نه وي
دغه خپلي پښي مرکب کړه پرِ سوار ګرزَ

په خپل حد حدود کښ هر سړي سلطان دی
ترخپل څان چاپير په څير د پرکار ګرزَ

که دِ رنګ بو لطافت هنر د څان کړ
نور د ګل په څير ئې پاس په دستار ګرزَ

چه هرڅوک صورت دَ حال په تاکښ کوري
صاف صافي د آئيني په کردار کوزَ
کمني هرکوره ښه څيزدي که کوري
د هرچا بارونه وړه بـرد بار کوزَ

نن صباح به خزان راشي اي **فاضلَ**
که دګل ننداره کړي پـه ګلزار کوزَ

ستا په مينه هرکز مه شه مبتلا کس
مبتلا مه کړه مولي په دا بلا کس
چه مِ غم د هجر وليد هسي وايم
چه هرکز له يارَ مه کړه رب جدا کس
چه حرام کنړي زاهد عشق د جونو
وايه کوم يو عيش په څان کاندِ روا کس
زه حيران په داخبره يم يارانو
په دنيا بي يارَ څه رنګ کا خندا کس
د وقار نهال دِ هسک وينم دلبرَ
د وصال ميوه د څشکل کا رجا کس
ستا زلفينو زخمي کړي نه رغيږي
که په ډير ضرور ئي و کاندِ دوا کس
نور ئي ډير تر ماه و مهرَ منوّر دي
څير ئي څشکله د مخ کوري ضيا کس
د بوسي وعده دايم صبا برات کا
زړه به څوکاندِ تازه په دا وينا کس
هيڅ باور په عمر نشته بي وفا دي
اميد څه رنګ په وعده کا د فردا کس
ستا د خوي جفا چه ما مشاهده کړه
په دنيا کښ همره نه لري جفا کس
جفاکار تر تا هرکز په جهان نشته
لکه نه لري **هجري** سيال په وفا کس

کامل پیر چه زه آگاه کړم له بد نسَ
د بد حِرص ولي مِ پرې کړي له دي پسَ

چه مِ مینه د صفات شوه له زړه کمه
ذات کړمخ راته څرګند له پیش و پسَ

که د ګل په دود خوشحال خندان جاروورم
کاه د ابر په شان ژاړم زه بي وسَ

پاک قرآن بي وضو مه آخله په لاس کښ
چه څښتن دي حکم کړي لا په مسَ

قناعت ګنج به ئي چري میسّر وه
که مِ زړه خلاص کړي نه وي له وسوسَ

منافق بدخوي مثال لکه لړم شه
درست بدن دده لاشه دي برمه بسَ

په دیدن ئي دیوانه شوم بي اختیارَ
په نیستئ مِ قدم کیښو له هوسَ

چه مِ نغوته د نس نه کړه روح مِ مل شه
نورانِي دیوه مِ شوه په زرقبسَ

که نادان ته هرڅو وایم پوه به نه شي
د هوښیار دپاره تش خبره بسَ

د یوي سوړي مار دوه څل چیچل نه کا
ته ئي څوځلَ خوک شوي له ناکسَ

اي **دولت** حاسدان ماران لړم دي
آشنائي ورسره مه کړه له دي پسَ

بي له یارَ رابښکاره ژوندون زبون ش
اشتیاق مِ د زړه مرګ وته افزون ش

وچ ګوګل لکه بیابان د اهار توسند
له دوه سترګو مِ روان آبِ جیحون ش

بي آرام شوم د جهان په سره زمکه
د هوسي په دود مِ خوب په میږتون ش

سرنشيب مِ سر د غم په ګرداب دروبي
سزاوار د عقوبت لکه قارون ش

چه د عشق په مکتب ماد غم داستان لوست
خو حيران رانه فرهاد دريم مجنون ش

د قلم په دود په چاکه سينه تي کړم
د مرجان په طور ويني مِ لړمون ش

د حيرت ګوتي په غاښ کړي طبيبانو
له قانون وله شفامِ رنځ بيرون ش

د آشنا ماتم چه پټ کړم لکه خاوري
سر مِ هسک ترنه طبقَ د ګردون ش

د حمد ويل به ولي شيرين نه وِي
چه د شاه فريد د عشق رنځ ئي طاعون ش

دا مِ مياشت وَه چه مِ راغله په خلوت کښ
که ډيوه شوه راته بله په ظلمت کښ

د محنت خاوري مِ وابنوي په اوښو
اوس مِ ګل ريږي په ګل د خپل محنت کښ

پس له مرګَ که مِ يار په قبر راشي
ګلستان به مِ پيدا شي په تربت کښ

قمر هم ځما له نورَ منوّر شه
همره نورئي خداي پيدا کړ په طلعت کښ

ما خپل ځان کړ د آشنا د کوڅي خاوري
که هر څومِ طعن کاندِ په خدمت کښ

له کيني مِ رقيب سپي د آشنا بولي
ولي دي لقب ئي لا کړم په عزّت کښ

د ابوالقاسم غرض د يار وصال دي
خداي ئي لا برکت کيږده په همّت کښ

یارَ ستا په رنګ به نه وِي په جهان کښ
پلو واخله یار به مرګي په ارمان کښ

همیشه سوي سینه درپسي ګرزم
ستا ځاي نه دي په زمین و په آسمان کښ

قلندر یا به ملنګ په جهان ګرزم
یا به اوښي تویوم په خپل ګریوان کښ

د سحرباد خوشبوي خبر راوړه
د زړه ګل م پرخندان کړه په بوستان کښ

چه ناري وهم یا ژاړم مراد م دا دي
چه مقیم شوي ستا دمخ په ګلستان کښ

ستا د حسن له تاراج زړه ژړا کا
که بلبل ژړا فریاد کا په خزان کښ

په جهان به زړه خلاص نه وِي له تاراج
زړونه سوزي عجب اوردي په پیزوان کښ

هیڅ د خلقو ملامت په خپل ځان نه بوِي
په نارو عاشق ولاړ په دا میدان کښ

په جفا او په ستم به لاس وا نه خلم
احمد شاه که چي جوړوم په سامان کښ

هر باغي بوزي بنده کاندِ اخلاص
هر بي شرم شرمنده کاندِ اخلاص

پوچ پروائي د حیوان په اوبو نه وِي
هغه ژوي چه زنده کاندِ اخلاص

آب و تاب ئي عالمګیر لکه آفتاب شي
هر جبین چه تابنده کاندِ اخلاص

که ئي پښو لوه را نه غي زه ضامن یم
که څوک ډیر له دونده کاندِ اخلاص

هیڅ مقراض ئي غوڅولي په خولي نه شي
هر پیوند چه پاینده کاندِ اخلاص

لکه نمر په جهان وخیژي رنړا شي
دم قدم هسي خنده کاندِ اخلاص

شکوفه کړي شکفته په شان د صبح
چه مسکئ خوله په خنده کاندِ اخلاص

هغه کار چه سحرګر کاندِ په سحر
تر هغه ئ خوچنده کاندِ اخلاص

سم له لاس زوړ کافر د زړو کالو
و اسلام ته خواهنده کاندِ اخلاص

د نفاق له اهلَ ثان ژغوره **حمیدَ**
په لباس به دِ کنده کاندِ اخلاص

ګوره څه بلند مقام دي د اخلاص
چه جهان واړه غلام دي د اخلاص

که له زمکي وآسمان ته خاته کران دِي
دا سفر په یوه ګام دي د اخلاص

چه خبرکا مخلصان له علمِ غیبَ
دا همه واړه الهام دي د اخلاص

د رواج د رسم عمر مدام نه وِي
لکه عمر چه مدام دي د اخلاص

بي اخلاصَ حلاوت د اسلام نشته
که اسلام دي خو اسلام دي د اخلاص

څه عجب دي که مستان وِي تر چاپیرَ
هر ساقِي څخه چه جام دي د اخلاص

څه عجب دي که همای ئ په دام نښلي
هر صیاد څخه چه دام دي د اخلاص

پس له مرګَ به دا مهر اخلاص نه وِي
که اخلاص کړي نن هنګام دي د اخلاص

د **رحمان** کلام په دا سبب شیرین دِي
چه ئ هر کلام کلام دي د اخلاص

په طبيب به څه کوم د شفا عرض
و دلبر ته کړم د مرګ مدّعا عرض

هيڅ احوال مِ و دلبر وته نه وايي
که هميش کوم په باد د صبا عرض

که د سلو په خوله زر عرضونه وکړم
اثر نه کا ستا په زړه کښې ځما عرض

اوس به ستا په درکومَ تل عرضونه
شه عبس ځما په حق د سوا عرض

خداي دپاره که مِ و بولي يواځي
چه به کړمَ له رقيبَ جدا عرض

حيف دي ستا په دا ژوندون باندِ **عصامَ**
چه دِ يار وته شه سپک ترګيا عرض

بي دلبرَ مِ په چا نشته غرض
که د نورو شته ځما نشته غرض

هغه چاچه ستا د لبو خواږه نوش کړه
په خوږو ئي د حلوا نشته غرض

ستا د عشق په درد دردمند بنه يم دلبرَ
چه ذړه مِ په دوا نشته غرض

عاشقان دِ په دلبار کښې انجمن کا
هيڅ په سيل ئي د صحرا نشته غرض

ستا د عشق مستان به نوره مستي څه کا
په مدام ئي د مينا نشته غرض

په نن لږ عيش ئي ډير عيش د صباح پرينبو
د رندانو په نسيا نشته غرض

کِله طمع ئي له خپل يارَ کيږي
د **يونس** په ناآشنا نشته غرض

ځما نه لګي په غوږو د چا وعظ
چه لاړ ورک مِ شه په شورِ د ژړا وعظ

هر يو دا وايي چه مه ژاړه په غم کښې
څکه نه آورم د درستي دنيا وعظ

راته مه وايه د صبر په دا اور کښې
راشه ته واوره ناصحَ له ما وعظ

غم له ځانَ وايه چا په منّت ستون کړ
نه چا نه آورِي ليوه د صحرا وعظ

په ژړا هسي ماځان پرِ آګاه نه کړ
لکه تير کا ليوني په خندا وعظ

هغه نور دِي نه يم زه چه په غم ژاړم
چه ورو ورو آورِي د شيخ وملا وعظ

زه سنا غم کړم ليوني دا عالم څه کا
په هنر مکرر هسي بيا بيا وعظ

زه پري ښي بل ئي کوم له ژړا چپ کړ
د ناصح له خولي ووزِي په خندا وعظ

محمّدِي د غم په چغو بيلتون کونړ کړ
څکه ناورِي اوس په غوږو د ستا وعظ

دا خطيب چه کرشمه کاندِ په وعظ
دي په کوم هنر ښيوه کاندِ په وعظ

چه په خوله خبري وايي عمل نه کا
چري ځان به مسخره کاندِ په وعظ

چه ئي لاړ ليدلي نه وِي رهبري کا
رنړا ورځ به توره شپه کاندِ په وعظ

نصيحت به ئي هاله په نورو خوږ شي
که په خپل صورت کړه کاندِ په وعظ

پر هادِي د خاوند هسي عنايت دي
چه غمن څرګند هغه کاندِ په وعظ

کاملان د ورځي ستورې دي په زمکه
بد و نیک به برهنه کاندِ په وعظ

عارفان يُ د باطن په سترګو ګورِي
دين دنيا چه ښايسته کاندِ په وعظ

د ګمان له جمابونو به يُ خلاص کړي
په لطيف زړه چه جلوه کاندِ په وعظ

اي **ميرزا** که ځان د پير په امر نيست کړي
دغه نيست به ځان همه کاندِ په وعظ

شرموِي هر يو سړي د دنيا طمعَ
د سپي‌توب نامه حاصل کا په دا طمعَ

چه ارهنده ني په کور کښې وِي ولاړه
د کجوري ور نه کاندِ خطا طمعَ

چه کړي به نن اوربوشي په پټي کښې
د غنمو خوشي کا ترِ صبا طمعَ

يوه ورځ به يُ نمړئ شي خوله کښې ډهر
له غليمَ چه ځوک کا د حلوا طمعَ

د هغو وربوز د سپي که د سړي دي
چه آشنا کا د دنيا له آشنا طمعَ

همّت ناک سړي که خوار وِي دولتمند دي
ځاځکي ګوره نه کوِي له دريا طمعَ

د هغه د شرم پوزه په مخ نه وِي
چه کوِي د نس د پاره له چا طمع

لکه ځوک لوبي په خپله حيا کاندِ
هسي ما وتنه ښکاريږي راستا طمعَ

لکه يو سپي چه ميچن ختي بل هغي
هسي ده د يو له بل ناصلا طمعَ

د هغو د عزت پښه ده ښوئيدلي
چه په دا ډيره له چا کاندِ بيا طمعَ

تل د خواست لاس به ئې نيولي وِي کوڅه کښې
محمدي چه څوک کا بل ته پيدا طمعَ

چه قانع په يوه څاڅکي شه صدف
قيمتي ګوهر ئې ځي په هر طرف

که عشرت غواړي قانع په خپل قسمت شه
ورکړه کړه که بزرګي غواړي شرف

بندول د دنيا بند د جهنم دي
آزاده ؤ څکه کښيښوه په کف

چه ژوندون هميشه نشته په داخه شو
په حکمت که سليمان شي که آصف

د سړي خربښت په علم په حکمت دي
د چارپايو خربيدل وِي په علف

که څوانمرد يې بل آزار مه کړه په ګلو
ځان د ښود بدو تير ته کړه هدف

د دنيا خلق مِ وليده په سترګو
يوئ جمعَ په حرص کا بل تلف

تل له خدايَ ترس کوه **عبدالقادرَ**
حق خايف ته دِي ويلي لا تخف

که آرزو لرِي د درست جهان بهتر څوک
بيا به نه مومي بل دا رنګِ دلبر څوک

د اورنګ و تخت و تاج و ته به شاکا
که غمونه د خپل يارکا تاج د سر څوک

چه د مخ رڼا دِ تيره تر آفتاب ده
نور به څه کا دلربا د ورځي نمر څوک

چه ئې غم د يار اغزي شي په بسترکښې
تر و به څه رنګِ آرام کا په بستر څوک

د جنّت در و دیوار به واړه هیرکا
که یوځل قدم کیږدي ستاپه درېځوک

تر به نه ووزي هرګز همره پوهیږم
که لږ وویني یوځل د عشق کشورځوک

چه ئې اوښو د مخ آب دي پیدا کړي
بیا به نه مومي بل دا رنګ مخورځوک

چه د ناز دستار په سرکا **قلندر**
ورته کله شي کتلي برابر څوک

د حباب په شان ئې پوه شه په خلل
مه کړه نقش په داخپل ساده محل

همیشه به ئې په غم کښې سرګردان یي
که افسر لکه آسمان کړي مکلّل

هسې شان دِ د کاشان په بازارشوردي
چه عجب شه خواب له وضع د مخمل

د وحدت جلوه په زړه د مشرک شه کا
د یوه لیده محال دِي په احول

ته د هرصورت له نقش معنیٰ غواړي
د رخسارخطونه نه وینې مهمل

مه کړه طمع د وفا له رنګ و بوي
چه پریشان شي که ته ګل یي فی المثل

سنګیني ئې د زړه نه څي دردمند نه دي
چه فریاد کا په تقلید لکه جبل

د لاله په شان ئې تل جبین داغلي
چه تیاره ئې د کور نه څي نه مشعل

لکه شمع د فانوس که په کفن شي
مرګ ئې نه وي چه ئې رانه شي اجل

دم په دم ئې له بازئ کړه **شیدا** ویره
فلک نه دي په خپل کار کښې معطل

مغني کوتي په زيرېدِي په بم هم
هم ساقي شته هم بهار وصنم هم

ستا د عشق د غشِي هسي ځاي پرهار دي
چه ريښه پرِ اينبوي نه ثِي مرهم هم

ستا د زلفو مارچيچلي نه رغيږِي
په ستانو په زيارتونو په دم هم

تاچه مخ ورته ښکاره کړ ديوانه شه
پاس د غرونو په سر کوزِي په سم هم

هغه راز د محبّت چه پټ له تا دِي
زړه خبر ورځني نه شه قلم هم

د خوښيِ پياله په لاس کښې نن ځماده
درد زحمت راځخه و تښتيده غم هم

په لذّت دِ د سرو شونډو کوثر هيڅ کړ
د حيات اوبه لا هم د زمزم هم

د يوه لاس نغاره هسي آواز کا
دا افسر کلاه به ستا نه وِي دم هم

که ناستي د يار د کوي په خاورو مومِي
باغ بهار د **سکندر** دي ارم هم

څو بي‌خودَ د سرو شونډو په مي نه شم
په نظر به د سرو سترګو سړي نه شم

د آشنا د مينې هسي خمخانه ده
چه ديدن لوه ئي ورشم ترِ تلي نه شم

چري نه چه له نظرَ شي دلبرَ
له دهشتَ دِ و مخ ته کتي نه شم

بيا به نه مومم پيرو د دلبرانو
څو په در کښې ورته پروت لکه سپي نه شم

په دربار د معشوقو کښې نه قبليږم
څو له خپلو آشنايانو پردي نه شم

په کوهي د زنخدان کښې چه څوک پريوزي
وايي دا چه ختي نه شم ختي نه شم

نوي سپاشت د شاه رکاب آسمان ئې آس دي
کښوغه څکه د ترکو نيوي نه شم

نه مِ هله دروغجن په مينه بوله
که سپند غُندِ تر سرستا لوکي نه شم

که دِ نيت د يارئِ وِي تر ما به راشي
زه **حسين** په څانکندن يم درتي نه شم

چه د عشق سودا په سرکړم کله مرديم
سرپريکړي په ميدان کښې دعشق نرديم

دعشق نوم څکه په ما باندِ صحيح شه
وچي شونډي لمدي سترګي ګونه زرديم

دپاداشت بهره به بياموم اميد دي
لکه نن چه مشغول شوي په بادګرديم

که مِ سرومال ديار په مينه لاړ شي
خداي دِ نه کاچه پرِکرم يا پرِ سرديم

تعلق هستي مِ دواړه پسِ شا کړل
جريده د عشق په لار کښې روان فوديم

دامن داخله چه په ګرد آوده نه شي
خسته پروت د ستا په در کښې لکه ګرديم

بي دردان د عشق له سوز خبر نه شول
براهيم څکه منت بار د اهل دردديم

زه هزار ځل صدقه شم تر دردمن
که مجنون دي که فرهاد غُندِ کوهکن

د دردمنو تر خولي تل آهونه خيژي
په ژړا ژړا په دوه سترګو ليچن

نل د خيال په براق سوريم پسي ګرزم
نه مِ ملک د چا پکار دي نه وطن

ستا د زلفو بوي همه واړه نجل کړي
که هزار هزار نافي وي د ختن

د چمن په سيل هرڅوک سره درومي
چه ته نه يي بي تا څه کوم چمن

ستا غمزو وژلي واړه شهيدان دِي
شهيدان واړه خبسيږي بي کفن

د ښايسته‌ؤ ديدن رنګ په رنګ پسرلي دي
باد خزان ئي نه محروم کړم له ديدن

له هيچا مِ ويره نه شي ستا په کوي کښې
که رقيب غُندِ هزار لرم د ښمن

په نورچا به څه تور برينښ کوي دلبرَ
ستا د ناز توري ته ما ونيو کردن

زه **عبدل** به له غمونو هاله خلاص شم
که مِ ستګي د ګل رخ پريږدي ديدن

چه مِ وليده دا ستا ښکلي بشرنن
عقل هوش شه په وداع ځما له سرنن

لطافت دِ تبسم په لطافت کا
هم دِ قد د باغ د سرو په شجرنن

معجزه دِ د ښائست او د رخسارهٔ
چا ليدلي دِي يوڅاي شمس وقمرنن

ستا د زلفو له حلقو راته ښکاريږي
بي موسمَ هر يو ګُل د پيغمبر نن

له حيا دِ آسمان نمرمخ په نقاب کړ
چه ښکاره شه له پردي د غبرا نمرنن

عشق پياله د ليونتوب راته په لاس کړه
مستغني يم له زمزم او له کوثر نن

که الله ئي په کرم سره قبول کا
ستاد وصل سوال مِ وکړ په سحرنن

تار د زلفو لا له راکړه پريزادَ
چه پرِ وکندمَ زه د زړه پرهر نن

د جنون جامه پرِ قطعَ شوه دلبرَ
سنا له لاسَ شه **عثمان** په صحراسرنن

بد سرِي ته ښه نصيحت وايه په ورو ورو
لکه رنګ د آشنايئِ ورسره بيايه په ورو ورو

نور ئي په تدبير د ورکولو ځان بيدار کړه
بيخ ولي ئي وکاږه له ځايه په ورو ورو

بل ځاي ګرفتار په دښمنئِ کړه که دانايي
شکر نور د خداي په درګاه وايه په ورو ورو

دا توره بلاوَه خداي ژوندي ورځني خلاص کړي
اوس ئي تماشي کوه له ورايه په ورو ورو

ښه ئي په وست ننوزه له حالَ ئي خبر شه
وِ ئي پوښته ښه تر الورايه په ورو ورو

کور محلّت همه په دښمنئِ ورته طيار کړه
دا طرحَ ئي وباسه له سرايه په ورو ورو

مرګ دِ د دښمن له لاسَ ښي بيخ پرِ ځګر کړه
ورشه خوله ئي ډکه کړه له لايه په ورو ورو

پريږده فن فريب **مهينَ** نورو ته چه کاندِ
ته خو يګانه محبوبه ستايه په ورو ورو

مينې ستا راباندِ وکړ اثر ورو ورو
چه ئي وويستم له خواب و له خور ورو ورو

دم په دم مِ ستاد عشق جنون زياتيږي
ليوني ديوانه اوس شوم اوتر ورو ورو

ننگ ناموس و ما ته څه ښيي ناصح
له ما پاتې شه د عقل دفتر ورو ورو

واړه ستا د مينې اور دې چه رالږې
مدام سول شې په سکروټو څکر ورو ورو

د غمزې په تيغ دِ ووژلم دلبر
اوس مې وکاږه له زړه نه خنجر ورو ورو

سل افسونَ سل منترَ ئې نجل کړل
چه کوي راته خبرې دلبر ورو ورو

د نارو فرياد **فضيل** حاجت نشته
ورد کړه نوم د يار په شام و سحر ورو ورو

سرو که لېده شې د چمن تازه تازه
ستا حسن ترِ ويم ماهِ من تازه تازه

نوم دِ د مهرئِ شان و شوکت دِ د پرئِ
ملا دِ ده نرئِ ښه دِ رفتن تازه تازه

زلفې دِ سنبل دې يا ښامار دې په چندو
يا دواړه نافې دې د ختن تازه تازه

ساه راځنې خېژې روح مې پاس راغې په شوندو
راوړه په خسته باندِ ديدن تازه تازه

واپې به رقيب چه له آشنا سره مه خانده
نه وې چې زده کړې د دښمن تازه تازه

کرچه که سمن د ګلستان تر و تازه دې
ستا جبين سل ځلَ تر چمن تازه تازه

کوره ستا له مينې زړه ئې ډک دې وينې وينې
رحم کړه شيرينې په کوهکن تازه تازه

سترګې د يعقوب ورباندِ څکه شوې روښانې
بوې ته د يوسف د پيراهن تازه تازه

سازدې ښه مجلس دې ښه ياران درسره جمع
وايه اې **فاضل** هر سخن تازه تازه

یوغواړم له یارَ ښه دیدن تازه تازه
بل د رقیبانو څانګندن تازه تازه

څکه بلبلان چغار کوِي په تازه ګلو
نه به مدام ګُل وِي نه چمن تازه تازه

یو زمان له مدح د دلبرو مه ودریږه
تل د یار له وصف کړه سخن تازه تازه

زړه چه د رقیب څما په بد سره ښه کیږِي
مه کړه په آزار څما دښمن تازه تازه

آه کوِي له دلَ په فریاد له زیرَ ګلَ
واوره له بلبلَ ښه ګفتن تازه تازه

بل فکر مِ نه کیږِي بي ستا له ګفتګویَ
شیرشکري وایه له دهن تازه تازه

مه کړه په جفا سره آزار د بلبلانو
څه خو په وفا کړه انجمن تازه تازه

سترګي مِ خیره شوي چه ولاړئ زه دِ ګورمِ
وکړه په دا لوري آمدن تازه تازه

زړه د **یونس** چوِي ستا د هجر له سختئِ
څه خو په خپل مهر کړه عجمن تازه تازه

نه به څوک له ناچارئِ وطن پریږدِي
نه به روح هرګز په خوښه بدن پریږدِي

که د زلفو په چین چین بوي په چین ورشي
له خجلتَ به هوسئِ ختن پریږدِي

که ستا مخ یوځلَ ووینِي په سترګو
بت‌پرست به نور سجود د وثن پریږدِي

د خوبانو د مخ هسي شان جذبه ده
چه سیماب ئي په طلب کښ وطن پریږدِي

په خاطر به مِ بي‌غمَ قراري شي
که مِ سترګي د خوبانو دیدن پریږدِي

د یوسف غنډِ به څوڅني بیرون کا
که د زني چاه ته زلفي رسن پریږدي

که دِ ولیدي سري شونډي جوهریانو
په یاقوت پسي به تله د یمن پریږدي

که دلبر په دا ښائست لاړشي چمن ته
د خوبئِ دعوي به کل د چمن پریږدي

د قیامت په شور و شر کښې کمان مه کړه
چه **کامګار** به دِ له لاس دامن پریږدي

چه دِ وګورِي و مخ نه وطن پریږدي
وطن څه دي چه روح والوزي تن پریږدي

که څښتن وِي د تومنو ستا په مینه
درویزه کاندِ اختیاره تومن پریږدي

که د زلفو بوي دِ ورشي تر ختنَ
ختنیان به پسي ملک د ختن پریږدي

بلبلان که دِ له حسنَ خبردار شي
ستا د مخ په ننداره به چمن پریږدي

څه خو مخ و بتخاني ته وجارباسه
چه د بتو پرستش برهمن پریږدي

څو شکست دِ حسن ورنه کړي په باغ کښې
د خوبئِ لافي به کله سمن پریږدي

ښه چه زړه مِ مسافر شه ستا په لورِي
عقیق لا شي قیمتي چه یمن پریږدي

د جفا د مړو ژوند څه دي **حسینَ**
که د جور خوي څما ګل بدن پریږدي

یار په ستمونو دَ خپل یار نه زهیږي
سترګي د بزو په درانه بار نه زهیږي

څو کبر لوېي ده وخوبانو خداي ورکړي
هيچرې ئې زړه په عاشق خوار نه زهيږي

څه شو که ترسل څل څاريږي په ساعت کښې
ګل د بلبلانو په چغار نه زهيږي

ښه رنګ ئې بد رنګ کاچه پروالوزي بي وقت
زړه د خزان ګوره په بهار نه زهيږي

ګراني دي هرګوره نوي چاري نو آموز ته
هرچه مدام مي خوري په خمار نه زهيږي

زردي چه خبر به شي د سترګو له احوال
هر چه د ويشتليو په آزار نه زهيږي

سرغواړه له خدايَ خولي ډيري دي **فاضل**
هرچه غم د سر کا په دستار نه زهيږي

چه ترِ تله په ډير افسوس او په ارمان دي
لايق کله زړه ترل په دي جهان دي

داچه نن کانده يو څاي جمع مجلس کا
زه ئې زرګنړم چه ټول سره پريشان دي

عملونه پرِ ګواهي د فاسقيِ لي
دوي په خولي د صالحيِ مدعيان دي

ګناه وکړي بيا لا نه ژاړي خندا کا
هم په داخوی وخصلت منافقان دي

نه ئې فکر نه ئې ذکر د عقبي وي
د دنيا په کاروبار و په سامان دي

چه اسره د دنيا نه وي کبرجن شي
د اميد په څاي عاجز وخاکساران دي

په ظاهر واړه دوستي او غمخواري کړي
په باطن کښې دښمنان وبدخواهان دي

هر يو کار دِ خداي ته وسپاره **احمد**
د دنيا آشنايان واړه د خپل ځان دي

لکه زه په يارمين يم بل به نه وِي مين هسي
لکه زه پسي غمجن يم بل به نه وِي غمجن هسي

چه مِ دوثِلي پخپله بيا په ما باندِ ژړا کا
څه ښه ياردي ښه ئي مينه کشتن هسي شيون هسي

مخ ئي درست سره ګلزاردي رنګارنګ لړي ګلونه
تفرّج د بهار وکړه ګهي نشته ګلشن هسي

زړه داغدار غرقاب په وينو لاله ګل وته نظر کړه
هيڅ شهيد نه دي را وړي له ازل کفن هسي

تورو زلفو ته ئي کوره ښائسته دواړه رخسارَ
د جهان په باغ کښ نشته سنبل هسي سمن هسي

که دګل پاڼي کړي ختنه لا به هم باندِ خرخيږي
دا نازک بدن چه ستا دي د چا نشته بدن هسي

لکه زه ئي ننداره کړم ورځ شپه په خپله خونه
خوار مجنون نه وه ليلي په درست عمر ديدن هسي

که ئي رسم يا ئي درد دي هم وفا د هندوګئِ
چه له يارَ سره کښيني څوک به څه کا سوختن هسي

چه څوک ناپ درپسي وکا سره تک وهي لاسونه
دا ژوندون دي مردن نه دي که دِ وشي مردن هسي

د لرم آرام مِ وموند ستا په غولي کښ خوشحال
خوښ له جنّتَ له قسمتَ چه ئي راکړ وطن هسي

چه **خوشحال** ختک ئي وايي به پښتو ژبه خبري
په فارسي ژبه به نه وِي که پوهيږي سخن هسي

لکه زه په يار مفتون يم بل به نه وِي مفتون هسي
لکه زه پسي محزون يم بل به نه وِي محزون هسي

چون غيږ په غيږ له يارَ نن ترميان شُو هوا دونه
دا انصاف د زماني دي چه نن هسي پرون هسي

په کاته د سترګو نده وړي په خبرو څني صبر
د جهان په مخ به نه وِي سحر هسي افسون هسي

په قيامت به هم په هوښ دمحبت ليوئ نه شي
چه به روغ شم بي ديدن خمانه دي جنون هسي

خط په مخ د دلبر راغي شور د زړه په بازار کې شه
چه د حسن بادشاه ليږدي د دي خط دي مضمون هسي

د ژوندون فائده دا ده چه ديدن کوي د ښکلیو
چه ئي دا فائده نه وي مرګ بهتر تر ژوندون هسي

آئينه د خپل زنګون و ماته جام جهان نما شوه
څکه سر لرم تل ايښي د فکرت په زنګون هسي

د دنيا په دښمنئ کښې عيسیٰ لا رشه تر آسمان
په دوستئ کښې ئي لا څي تحت الثرا ته قارون هسي

دا غزل په پښتو ژبه چه بيان **عبدالقادر** کړ
د روغجن يم که بي خان وايي بل يو پښتون هسي

ليوني کرم عالم ته ستا د ستګو افسون هسي
خداي خما تر لاس راکړ دا دولت د جنون هسي

جور جفا له اوس نه دي د خوبانو په عشاقو
له ازل مقرر دي د دي قوم تړون هسي

غنچه غرقه شوه په وينو چه ئي فکر د دهن کړ
له قامت ئي شوه سرو لکه بيد مجنون هسي

که د مخ وته ئي کوري يوه شمع کافور دي ده
په کږو ورځو ئي خير شه د لوګي دي نمون هسي

د عالم وسعت که کوري تر دوه کام زيات نه دي
لکه راغلي په پوښتنه تر به ووځي بيرون هسي

ثمره د نيک خوئي ده چه عيسیٰ په آسمان وخوت
لا به څي له بدخوي مخ په ښکته قارون هسي

پرون ناست په تخت د پاس نن برمنډ په تخته پرون دی
د فلک ګردش ته ګوره چه نن هسي پرون هسي

چه د چا غمزده زړه له مفرح دل کشا شي
د فلک حقه که کوري په کښې نشته معجون هسي

دا ځماد آه دادخواه دي چه د حسن دامنګير شه
ستا د مخ له خط ماته معلومیږي مضمون هسي

په وصال چه مشرف دِي له هجران خبر نه دِي
په ارمان به ئي جدا کاخوي مدام د ګردون هسي

په خلوت دننه راز کړي بیا بهر راسره ناز کړي
دادِ کوم عدل انصاف دي بیرون هسي درون هسي

په هجران کښې ځما عمر پاس په دارباندِ تیریږي
هیڅ د عمر په شمار نه دي چه تیریږي ژوندون هسي

روایت ځماد قتل تاراوړي دي پوهیږم
چه دِ خط په رخسار وکیښې د دي خط دی مضمون هسي

معزالله دِ خواب وکړ په پښتو عبد القادر

اوس ثاني دِ ستا پیدا شه په دا دور پښتون هسي

داسورا وردي که څه نوردي اوکه ناو د بیلتون هسي
لکه وګي چه مِ وریت کړ په تنزا کو لړمون هسي

سپیلني ځان سره لنبه کړچه طرق وچاود په لوګي کښې
زیست جدا له یار دا رنګ څه پکار دي ژوندون هسي

نه یواځي لاله ګل دي ډوب د سرو وینو په جام کښې
ستا د غم وژلي واړه ځي خښیږي ګلګون هسي

په لندود کږو ورځو د بنړو تیرو شتیو
هغه یارمِ زړه غلبیل کړچه ئي ونیو زنګون هسي

ستا د سرو شونډو په نوم آخسته عقل له ما لاړ شه
دا مستي نه د شراب شته او نه کیف د معجون هسي

که بادشاه د هفت اقلیم وِي د آسمان دوره ئي خوار کا
لکه ماغندِ به نه وِي سر د غم په زنګون هسي

نه ئي حسن ستا په شان وه نه ئي عشق زیات وه له ما نه
دلیلي قصه که شته دي په عالم د مجنون هسي

خط په مخ د نګار راغي ښائست خپل بارولیښې لاړ شه
اوس ئي څه په ملا لولم د دی خط دي مضمون هسي

په لنبه دآه ونه سه شين په هغه شان مدام دي
ستا دغم بوټي په زړه کښې چه خماشه زرغون هسي

ومړستا په بيلتانه کښې د ديدن په ارمان کوره
محمدي غُندِ لا بويه چه پيدا شه پښتون هسي

لکه زړه چه خما وسه ستا په غم کښې بيلتون هسي
مه شه وريت دجدائي په اور کښې بل يو لړمون هسي

خط په مخ دښائسته ؤ د قضا نښې هم داسي
هر کمال زوال پذيردي د دي خط دي مضمون هسي

لکه زده دي دِ ستا سترګو دجهان په مخ دلبرَ
ته دي هسي چا ليدلي جنون هسي افسون هسي

لکه ما دپار په غم کښې وجود وسه بيا ژوندي شوم
هيڅ پتنګ موندلي نه دي له چراغ ژوندون هسي

څه ساعت به د دنيا وِي چه مِ هِسک ستا په غمونو
ازلي پريوت محبوبي څوک به راوړي شګون هسي

پرون سور په انبالئ ته نن په کټ دجنازي څي
دا دنياده دائي دود دي چه نن هسي پرون هسي

چه تا وِيني کل ته ګورِي اوبه وِيني تيمم کړي
په همه مذهب مردود دي که څوک کاندِ تيبون هسي

لکه موج به بيلتانه کښې خما زړه وهي له سترګو
په دا موج کله بهيږي جيحون هسي سيحون هسي

ستا ثواب عبدالقادرَ په دا رنګ **صدرِ** خوشحال کړ
څو بي خانَ زه ويل کړم بل به نه کا پښتون هسي

دآشنا له تازه خط را معلوم شه مضمون هسي
دوصال دولت که تير شه هم به تيرشي بيلتون هسي

عشق رهبر دعاشقانو دآشنا په لوري بيائي
لکه عشق دي بل به نه وِي په دا لار رهمون هسي

که ژوندون دي خو هغه دي چه دیار په یاد تیر بړي
چه بي یادَ دیار درومي پکار نه دي ژوندون هسي

په شتو د روبو سترګو هرګنارم رسا لګي
چه هیچري خطا نه ځي دلبرونو زنګون هسي

بي سوزنَ د مژګانو د زلفینو له تارونو
په آسان به رفو نه شي زړه م چاود دي درون هسي

د ژوندون امیدم نشته چه یو څوکاهَ وپایم
که هیش هسي ګردش خوري لکه نن دي ګردون هسي

څوک ئي شاه د رست جهان کړ څوک ګدای کچکول په لاس کښ
دهر چا بخره جدا دَه موسیٰ هسي قارون هسي

لکه بازو اخلي کوتره په منګل هسي ستا ستګو
زړه څمائي له تن یووړ هم ئي عقل سکون هسي

چه تا وِ عبد القادرَ کوم پښتون به بي خوشحالَ
داشان وايي **اشرف** وُ وِ خدای پیدا کړ پښتون هسي

بي د خپل آشنا له وصلَ تیروم ژوندون هسي
چه به نه وِي په دنیا کښ بل مخزون او زبون هسي

له اولَ څو پیدا یم واړه سر په واویلا یم
ترو به څه وچاته وایم چه نن هسي پرون هسي

په خدنګو د مژګانو کړم ادا ابرو کمانو
تاسو ګورئ منصفانو دلبر کینبو زنګون هسي

ته م تن جامه مه ګوره لړمون پک لرم له اورَ
د فانوس په دود اي وروره کړم د ترګو بیلتون هسي

ستا له ډیرَ ډیرَ جورَ ملامِ مانه شوله بغرګَ
بل به نه وِي لکه زه یم زوړند سر په زنګون هسي

د آشنا له ډیرَ غم شومَ سر په غره په سمَ
هیڅوک مه شه لکه یمَ بل بي صبر و سکون هسي

حریف نه ویني ختګَ لافي ډیري وهي څکَ
چه به هیڅ پښتون و نه کَ بل غزل په مضمون هسي

چه قلم مِر په سياهي شه په کاغذ باندِ راهي شه
په **عثمان** دِ آفرين وِي چه پيدا شه پښتون هسي

لکه قد د يار موزون دي بل به نه وِي موزون هسي
که ئي درست جهان تمثيل کړم صد هزار دي افزون هسي

يوزه څه چه څوک مين شي معشوقي ترِ استغنا کا
درست جهان په حال آگاه دي ليلي هسي مجنون هسي

په صفحه د ښکلي مخ ئي خط د وينو دا تقرير کا
چه شاه قتل د عالم کا دري خط دي مضمون هسي

عقل اسباب د نام و ننگ کا مينه د واړه چنگ په چنگ کا
تحير په دا پتنگ کا عقل هسي جنون هسي

ناصح واِي صبر ډير کړه غم اندوه له دل هير کړه
خداي هم دي ځما په خير کړه چه پرتل وِي شجون هسي

بيرون تر تازه ليده شم درون پُر د زړه په وينو
د يار غم برگِ حنا کړم درون هسي بيرون هسي

راشه گوره ځما لال کمال نه دي بي زوال
د دلبر له خط و خال را معلوم شه مضمون هسي

وکړه تا گوره ختک دا خبره ډيره سپک
چه به بل پښتون و نه ک دا خواب په قانون هسي

که منصف عبدالقادر شي د **غفور** په قال ناظر شي
اميد دي چه پر شاگرشي هر يو حرف دي موزون هسي

لکه زه يم ستا په غم کښ ډک له وينو لړمون هسي
نه به پان نه به حناوِي پر په وينو درون هسي

ستا د حسن سپاه جوړدي په واخط دِ زړه پوش شه
د عشق گور به تالا کا دري خط دي مضمون هسي

په ازل به ديوانه وه په عالم به افسانه وه
بل به څوک دده په خير شي دا نصيب د مجنون هسي

چه مين په دلربا شوم په مثال گُلِ رعنا شوم
په ظاهر زيري ليده شم اندرون يم پرخون هسي

خط په مخ دښائسته صف بندِي وکړه ډيره شه
دښائست دکان به لوټ کاچه ئي وکړ شبخون هسي

عشق هاتي دي که زمري دي دهرچا دده بري دي
شيخ زاهد په پنجه واخلي نور پرِ کيږدِي زنگون هسي

عشق وعقل سره گوره څه جگړه کاخما ورور
عقل شرم حيا غواړي عشق دي خوښ په جنون هسي

څه افسون کاد يار شوندي چه کوي چاته خبري
دل ودين تردواړه يوسي چه پرِ وکړي افسون هسي

ستا خواب عبدالقادر په ښه شان دي صدر کړي
هم **عبدل** دِ خواب وکړچه پيدا شه پښتون هسي

کليدِ افغاني تمام شه

انشاء د پښتو

خط اول

✣

وِي

باندِ

سیوري د مهربانۍ د بابا صاحب دِ مدام په سر څمونږ عاجزانو سلامونه په دواړه لاسَ او تعظیمونه بي لباسَ مِ وسیله د بهبود د دنیا او د مقصود د آخرت کنړلي دِي عرض خدمتکارانو د حضور ته رَسَوم خط د میني او د محبّت چه په طلب د دي خیرخواه کښ دپاره د واده د شهبازخان د نمر په شان روښنائي را باندِ خوره کړله نو په سر او په سترګو مِ کیښود او په ادب سره مِ ښکل کړ صفائي د تن او نور د زړه مِ ورنه جمع کړ بیا دستي مِ اراده وکړله چه په دا دم له سرَ قدم جوړ کړم او په اوبو د ملاقات اور د جدائي مِ کړم لیکن په سبب د ډیروالي د خدمت د سرکار رخصت په تلوار حاصل نه شه انشاء الله تعالی پس له تیریدو د شلو ورځو به حاضر په خدمت کښ شم خاطر مبارک جمع لرئ زیاتي ویل سرخوږي زیاتول دِي فقط والسّلام ✣

خط دویم

دِ وِيْ سلامته دي کښې پاکئ

مور مهربانه مُشفِقه فیض‌رسانه چه نوم مبارک ئې په پرده دَ پس له وړاندِ کولو د مناسباتو د خدمتګارئ چه دستور د خدمتګارانو اخلاص‌مندو دي عرض هغه فکر لوي نه رسوم مُده ډیره تیره شوي دَه چه په احوال د کور خبردار شوي نه یم خیر دِ وِي بې له خوشحالئ دِ بل سبب د منع نه وِي امیدوار یم چه په خلاف د وړنبو ورځو له احوالَ خپلَ مِ خبردار لرئ چه خپکان مِ ورک او خاطر مِ جمعَ وِي دوه تهانَ ململ مِ در لیږلي دي دستي د رسیدو سره د رسید مهربانکي وکړئ او په لوستلو او لیکلو د برخوردار عبدالغفار کښې کوشش کوئ هسي نه وِي چه په شان د حجري د لونډانو وفتونه د مطلب په عبثو برباد کاندِ زیاتي بس باقي هوس +

خط دریم

دِ وِي +

نور د چشمانو بهتر د فرزندانو خاوند د تمیز عبدالعزیز سلامت

پس له دعا د عمر د زیاتیدلو او پس له شوق د سترګو د ښکلولو معلومه دِ وِي چه
په لیدو د دي خط سره تختيِ او کتاب او قلمدان او د ښکلو اسباب لکه قلم
قلم تراش قلم قط قینچي سیاهي مشوانړيِ ټول سنبال راواخله کورته را روان
شه مګر له استاذ په ادب او عزّت رخصت وغواړه څکه چه دلته کښې یو استاذ
قابل د نظم او د انشاء په لولولو او په خط ښولو کښې دانا پیښ شوي دي او په خوش نویسۍ
او په تقریر او تحریر کښې بي مثل دي هلکان د پاره د خط او د سبق ورځنه پرجمع شوي
دِي نو مونږ وائیو که ته هم راشي نو سبق به دِ په ښه شان کیږي او څمونږ سترګي به
ستا په دیدن باندِ سړیږي مګر که استاذ دِ خپه کیږي او ستا راتلل ئي نه خوښیږي
نو هم په دغه ځاي کښې اوسه د استاذ خدمت په اخلاص او په ښه نیت کوه او ورځ
په ورځ خط رالیږه چه تسلّي حاصلیږي فقط والسّلام +

خط ثلورم

د ډېرو سلامت قدردان

ورور صاحب مهربان فیض رسوونکي

پس له ډېرو سلامونو عرض دا دي چه خط د خبر د خیریت په ښه ساعت کښې راو رسیده په مطالعه د هغه سره مې زړه خوشحال شه اسباب په موجب د طلب سره درولیږلي شه امید دي چه په خدمت کښې ورسیږي خلق د دي ملک خصوصًا د کلي د کور د محلّت په جدائي ستاسو دومره خپه دي چه د لیکلو په حد کښې نه راځي حضور ستاسو که په خدمت د سرکار کښې ډېر لایق او نهایت مناسب دي لیکن شوق د مشتاقانو او مینه د دوستانو دا غواړي چه د څو ورځو دپاره په طرف د کور اجازت وغوښتلي شي او په لیدو د خپلو خپلوانو سره زړونه خوشحال شي فقط والسّلام +

خط پنځم

د اوبۍ سلامت

خان

خان بلند مکان عالیجاه والاشان امیرالله

پس له سلامِ ظاهره دِ دا خبره وِي چه یو بازو د سرکي چه ستاسو کلي دي په حد د دِکي کښې چه څمونږ کلي دي ایښودلي شوي دي نو دا کار به یا په خطائِ شوي وِي او یا به په قصد سره تاسو کړي وِي نو که په ناپوهئِ سره شوي وِي خو زمینداران خپل خبر کړه چه له هغه ځاي دیوالونه و نړوِي او که په خپل اختیار سره وِي نو یا به ئي په زور سره لاندِ کوئِ او یا به دعویٰ لرئِ که چري د زور خبره وِي نو زه هم ترِ نیمګړي نه یم او که دعوي وِي نو خود یا به په شرع خلاصیږي او یا به دستور ته وړاندِ کولي شي او یا به محکمي د حاکم ته وروړلي شي نو ددي خط ځواب د زړه د مراد سره په جلدئِ را و لیږئِ چه حال سراسر معلوم شي فقط والسّلام +

خط شپږم

دوي سلامت

صاحب د عقل او د هنر خاوند د فضل او د احسان سکندر خان

پس له سلامَ خبره دا دَه چه شکر دي چه پوهه د هر سړي په خپله اندازه سره نصیب شوي دَه او خلق وايي چه که شپه تياره دَه هم خور مور پيژاندلي شي او سنګي د هرچا په سرکښ دِي که په خو عزيزانو راسره وايي هم راضي يم او که شريعت له څې هم خوشحالَ يم او که په حاکم جګړه خلاصوي هم اختيار ستادي او که په روغه وايي نو پښتون سړي سر ورکوي او دفتر نه ورکوي - که دِ صلحَ وِي پکار نه کوم جنګ - که دِ جنګ نه نيت وِي راشه په دا درنګ - فقط والسّلام +

خط اووم

دوي

ارباب والاجناب بهتر د خاندان ارباب شاه ولي خان سلامت

پس له سلامَ او له شوقَ د ملاقات معلومه دِ دا خبره وِي چه خو تنَ صاحبان عظيم الشان مينه دار د تماشي د ښکار په دغه طرف اراده لري نو مناسب دِي چه طياروِل د خرڅ ورنې له دريم تاريخَ وشي چه بيا په تنګ وقت کښ بي آرامي او سرګوداني د اُلس په خلقو پيښه نه شي او اطلاع پکار دَه چه ښکار موندلي شي په دي وقت کښ او که نه شي فقط +

خط اتم

دِ وي ٭ سلامت

صاحب مهربان غريب پالونکي فيض رسان

د مهربانيِ خطاب چه په نامه د دي عاجز راليږلي شوي وه په نيک ساعت کښې را ورسيده په عزيزانو کښې سربلند او په دوستانو کښې سرفراز شومَ انشاء الله الرحمٰن طياري د اسباب به په ښه شان وشي چرګان او هاګيِ او کوچ او پيِ نور خيزونه چه څه پکاريږي واړه به سنبال وي او ښکار په دي ځاي کښې په ښه شان موندي شي د سيند په غاړه هيلئِ سرخاب يا نوري د اوبو مرغئِ ډيري پيښيږي او په دامان کښې زرکي تنزري سيسئِ پيدا کيږي او په دي ورځو کښې هوا د سيند د غاړي او د دامان دواړه برابري معلوميږي فقط والسّلام ٭

خط نهم

برکت بریکی ورځ میان

عالم د حکمت خبردار په علم د طبابت حکیم

پس له سلامَ عرض دا دي چه بهر له علاقې د سرکار یو سړي له سببَ د ګرمئِ یا له غلبي د خشکئِ یا له جهتَ د بل آفت په ډیرو رنځونو ګرفتار شوي دي که بخ ورکولي شي نو برینبونه ئي زیاتیږي او که ګرم ورکولي شي نو تبه پرِ غلبه کیږي په ځني دارو ئي نس جاري کیږي او په ځنو ئي دستونه بندیږي که چري ستاسو شوق د تللو کیږي نو لاړ شئِ هیڅ وسواس نشته عیش عشرت دي خیر خیریت دي نشه واهمه دَه فقط د سرخطره ده د یاغستان خلق مسافر له ډیر عزّت ورکوي اکثر په انعام کښې شهادت ورکوي لکه د خوشحال خان ختک نه چا پوښتنه وکړه چه سوات څنګه ملک دي هغه ورته په ځواب کښې وویل چه -بي حاکمَ ملک دي چه خوري خوري چه واِي واِي + بي حکیمَ ملک چه مري مري چه پاِي پاِي- د دوستانو دغه نصیحت دي باقي ستاسو په خوښه مصلحت دي فقط

والسّلام +

خط لسم

سلامت دروبي +

محبّت

یار په زړه سوړ له ملاقاتَ موړ صاحب د پټ او د مروت مُلّا

پس له سلامَ معلومه دِ وِي چه یاران په دري قسمَ دِي یا یارِ جاني وِي یا یارِ ناني وِي یا یار زباني وِي وړنبي هغه دي چه په غم په ښادیٔ کښ شریک وِي دویم هغه دي چه که چري دسترخوان غوړ وِي نو پیښه کوِي او که نه وِي نو په هغه طرف نه وړځي دریم هغه دي چه میلمه پرِ په خپل کلي کښ پیښ شي نو دي ورته وائي چه جوړ یي تازه یي خوشحالَ یي کور خیر وه لوي واړه جوړ وُو بیا ترِ پوښتنه وکړي چه شپه به دِ کوم ځاي وِي چه بیکا له مشغول شُو او دمره نه کوِي چه په خپل ځاي کښ ئ میلمه کړي اوس مونږ نه پوهیږو چه تاسو خو په دي دري واړو کښ ئ نو هغه ځلورم قسم یار ته به څه نوم ویلي شي د دوستئ په کار کښ فکر بویه فقط والسّلام +

خط یولسم

غریب پالونکیَ سلامت اوسي د خدمتګار دیوال چه په سبب د باران نړیدلی وه دا اراده لري چه دوباره ئي جوړ کاندِ لیکن شاه ګل خوی د نورګل دیوال وهلو نه مزدوران نه پریږدي بلکه مزدوران ئي ډیر ګذاره وهلي دي او پخوا له دي په شلمه ورځ د دي میاشتي څما د سوال کیفیت له کوتوالَ طلب شوي وه تر اوسَ لا نه دي را رسیدلي هرکله چه د شاه ګل پروا نشته او دا عرض رسوونکي د غلو له وسواسَ او دَ بي پرده ګیریِ له خپکانَ بي آرامَ دي نو له دي سبب عرض کولي شي چه کوتوال ته په تاکید سره حکم وشي چه هغه دیوال د جګړي پخپله وویني او د دواړو طرفو د مکان نقشه سره له کیفیتَ حضور ته په جلدیِ را ولیږي چه حق دار خپل حق ته و رسیږي فقط

عرضي د ملا جمال
په بابت د دیوال

خط دولسم

کوتوال صاحب سلامت دِ وِي +

واضحه دِ وِي دا خبره چه په لیدو د پرواني کیفیت د مقدمي د مدعِي او د مدعیٰ علیه را ولیږه بلکه پخپله هم هغه ځاي له نظرَ تیر کړه او له مشرانو سرو نه هم پوښتنه وکړه چه په چا ظلم و نه شِي فقط

خط دیارلسم

صاحبَ لوي شانَ سلامت اوسي +

پس له آدابَ عرض دا دي چه دلته خیر دي او ستاسو خیریت له دلبارَ دخداي مدام غواړو په دي ځاي کښې یو څو تنَ اراده د نوکرئِ لِرِي او انصاف دا دي چه سړِي لایق د خدمت دِي او هیڅ بدمعاشِي ترِ معلومه شوي نه دَه نوکه په دغه مقام کښې په سپارش ستاسو سره د دوي نوکرِي پیدا شِي نو دوي به په آرام شِي او په دعاګوئِ ستاسو به مدام مشغول وِي فقط والسّلام +

خط څوارلسم

وِيٓ

عالیجاه فیض الله خان سلامت دِ

پس له سلامَ مطلب دادي چه څمونږ اراده ده چه څو ورځي دپاره د سیل دغه ځاي ته درشُو نوخیمي او اسباب وړاندِ در روان شول د څوکئ اود سنبالي فکر ښه کوئ مونږ به په دري ورځي پس در و رسیږُو انشآء الله تعالیٰ فقط والسّلام +

خط پنځلسم

عالیشان الله داد خان سلامت دِ وِيٓ

پس له سلامَ ظاهره دِ داخبره وِي چه ستاسو په کلي کښ د څلوینښتو پنځوسو روپوخوید د آسونو دپاره واخلئ چه سائیسان درځي او په ګچرو باندِ بارونه د ورځي ورځي راوړي مګر په زمیندار باندِ ډیر تحقیق وکړئ چه سړي څاروي په غلا په څرګنده نقصان ته نه پریږدي او که څه زیان شي هغه به پرِ تاوان شي فقط والسّلام +

خط شپاړسم

تهانه دار صاحب سلامت دِ وِي +

پس له دي معلومه دِ دا خبره وِي چه تاسو دپاره د غور او د تحقيق ليږلِي شوِي يئِ او تاسو کنډران په سيل او په بيپروائي سره کوئِ دا عادت ستاسو په حق کښ فايده نه رسوِي نو بيا فکرمند اوسئِ او که نه وِي نو بل سړي به په ځاي ستاسو مقرّر شِي فقط

خط اولسم

عاليمکان ملک مصري خان سلامت دِ وِي

آوريدلِي شوِي دِي چه په دغه طرف بني بني چيلئِ تازه لنګي دپاره دَ پيو موندلِي کيږِي نو په رسيدو د دي خط يوه ښه چيلئِ لنګه پيوره واخلئِ او فکر د قيمت مه کوئِ که څه قدر ګرانه وِي د هغي خبر دي خو يو چه په زور وا نه خستلي شِي فقط

خط اته لسم

یار مهربان شاه پسند خان مهربان دِ اوسئ

پس له سلامَ مقصود دا دي چه یو اصیل نیک خوي سړي دپاره د نوکرئ د بنګلي را ولیږئ امید دي چه شپږ اووه روپئ به طلب مومي او که خدمت ئي مناسب کاوه نو انعام به هم کله کله ورته رسیږي فقط

خط نولسم

دِ ئ سلامت خان

عالیجاه مهربان نیک خواه د دوستانو محمد ابراهیم

پس له سلامَ او له شوقَ د ملاقات ظاهره دِ دا خبره وِي چه مونږ ته خیر خیریت دي او سلامتي ستاسو له خدایَ مدام غواړو که ژوندون باقي وِي امید دي چه په موسم د بخنئ کښې به په دغه طرف دپاره د سیل درشو لیکن اوس له سببَ د ګرمئ له بنګلي نه بهر د وتلو شان نشته فقط والسّلام

VI.—KHUSHHAL KHAN was the renowned chief of the Khatak tribe in the reigns of Sháh Jahán and Aurungzeb. He died in the year A. D. 1691 at Sarae (Akora), and was buried, at his own request, near the little village of Isuri at the foot of the Khatak hills. He was as active with his pen as with his sword, for it is said that he wrote upwards of a hundred works on various subjects. Of those now extant, the best known are the Diwán, from which selections have been made, the Fazlnáma, the Farákhnáma, and the Riyáz-ul-Haqíqat.

A complete edition of Díwán-i-Khushhál Khán has been lately published by Dr. H. W. Bellew, which will perhaps make the merits of these poems better known. They certainly deserve a greater reputation, for, whilst they embrace a much wider range of subjects, they are quite equal in poetic style and feeling to those of the great national poet, 'Abdur Rahmán.

It is related that Khushhál Khán had fifty-six sons, and that of these thirty-two were poets of reputation.

VII.—THE CHAMAN-I-BENAZIR (the unparalleled garden) is a collection of sonnets from thirty-five Pushto poets, namely, Kámgár, Muhammadi, 'Abdur Qádir, Ahmad, Sadr Hijrí, Sekandar, Abdul Hamíd, Shaidá, Khúshhál, Asám, Yúnas, Husain, Samad, Daulat, Fázil, Qalandar, Kásim, Mázulla, Khwájah Muhammad, Fath Ali, Pír Muhammad, Sádiq, Alím, Ahmad Sháh, Ibráhím, Abdul, Usmán, Ghafúr, Ashraf, Mahín, Fazíl, 'Abdur Rahmán, Abul Qásim, and Dost Muhammad. Copies of some of these authors are exceedingly scarce.

VIII.—THE INSHA-I-PUKHTO forms a supplement to the Text Book, and contains nineteen letters written in Pushto. These will be of some assistance to those who may wish to correspond with the people in their own language. Amongst the Patháns themselves, letters are usually written in Persian, but it has now become the custom for Afghán chiefs and others to correspond with English gentlemen acquainted with Pushto, in that language.

A knowledge of Pushto is a sure "key" to the sympathies and confidence of the Patháns; and it is hoped that the present work will be a "key" to the Pushto Language. The Editor has therefore decided to call this Text Book the KALID-I-AFGHANI (*i. e.*, the Afghán key).

The selections now published are accounts of the ancestors of the Pathâns of the surrounding districts. These sections have already appeared in Captain Raverty's Gulshani Roh, but they have again been published in the present Text Book, as they are almost the only portions of the Târikh-i-Murassa which have a local interest. The poetry, which in the original work is in the Persian language, has been rendered into Pushto verse for the Kalid-i-Afghâni.

IV.—THE STORY OF SHAHZADA BAHRAM and Gulandâma is a Poem written in easy and pure Pushto. Of its author, Faiyâz, nothing is known; he is supposed to have been a wandering minstrel, and to have written this love story as a song for his own use. There is a Persian poem called Bahrâm Gúr, but the Pushto story bears but little resemblance to it.

A few desirable alterations have been made, and those portions of the poem which were not written by Faiyâz, but belong to a later date, have been omitted.

V.—ABDUR RAHMAN is the great national Poet of the Afghâns. Wherever the Pushto language is spoken, there are the songs of this celebrated poet sung. Numerous copies of this author are to be found in almost every village and, within the last ten years, thousands of copies have been lithographed at Peshâwar and Bombay.

'Abdur Rahmân belonged to the Ibrahîm Khél of the Mohmands, and was a Malik of his native village, Bahadur Kilai, on the Peshâwar and Kohât road. He resided for some years in the village of Hazârkhâna, where the villagers still remember a tree which was named after him, and under which, it is said, the poet used to sit and recite his verses.

'Abdur Rahmân died in the village of Bahâdur Kilai, but his remains were buried in the grave-yard of Hazârkhâna, not far from the shrine of the Muhammadan saint, Akhund Darweza. He was a young man in the days of Khûshhâl Khân Khatak, and it is related that he once paid a visit to the Khatak chieftain at Sarae (Akora).

'Abdur Rahmân belonged to the religious sect of enthusiasts known as Sufis, and without some slight acquaintance with the doctrines of this sect many of his poems are unintelligible.

INTRODUCTION.

THE KALID-I-AFGHANI contains two Sections in colloquial Pushto prepared expressly for this work, and selections from several standard authors.

I.—THE GUNJ-I-PUKHTO (The Pukhto Treasury) has been composed by Maulvie Ahmad of Tangi in Hashtnagar, a learned Afghán poet, the author of "Ghal Qázi" and other poems. It consists of forty-nine tales rendered into colloquial Pushto, and great care has been taken to avoid the use of Arabic and Persian words not commonly spoken by the people. The style is broad and unpolished, and some of the stories may be considered long and tedious; but the reader must remember that this section of the work has been composed for the express purpose of conveying a knowledge of the vulgar dialect, and of introducing, as frequently as possible, common words and familiar phrases in use amongst uneducated Patháns.

II.—THE TARIKH-I-MAHMUD-I-GHAZNAVI has been translated by Maulvie Ahmad from the Persian History of Ferishta. It is written in the narrative style now in use amongst the Afgháns of the present day.

III.—THE TARIKH-I-MURASSA (The Gem-studded History) is an extentsive work by Afzal Khán Khatak, grandson of Khúshhál Khán. It is a miscellaneous history, and commences its narrative from the creation of the world. It is not a work of any great merit, and the author states that he derived most of his information from a History written by Maulvie Ni'amat-ullah in the time of Jahángir (A. D. 1609—11), and the Tazkira of Akhund Darweza.

The History of the Afgháns by Ni'amat-ullah was translated into English by Professor Bernhard Dorn, of the Imperial Russian University of Kharhov in 1829.

The original manuscript of the Táríkh-i-Murassa is still in posssession of Afzal Khán Khatak of Jamál Garai, but there are two other copies in existence, one of them being in possession of the Editor.

Afzal Khán, the author of this history, was a voluminous writer. His best works are the Kalila-o-Dumnah and the Asm-i-Kufi.

CONTENTS.

PROSE.

				Page.
Gunj-i-Pukhto	...	...	...	5
Táríkh-i-Mahmúd-i-Ghaznaví		...	...	129
Táríkh-i-Murassa	...	...	...	205

POETRY.

Qissa Sháhzádá Bahrám	...	...	...	241
Díwán-i-'Abdur Rahmán	...	...	...	297
Díwán-i-Khushhál Khán	...	...	...	329
Chaman-i-Benazír	...	...	...	361

APPENDIX.

Insha-i-Pukhto or the Pushto Letter-writer

PREFACE TO THE FIRST EDITION.

THE English Student of the Pushto (or Pukhto) language has long felt the want of some work written in the colloquial, and it is to supply this desideratum that the present Text Book has been compiled and published, under the sanction and patronage of the Government of the Panjáb.*

In undertaking its compilation, I have been assisted by my learned Afghán friend, Moulvi Ahmad, the author of the colloquial portions, and my best acknowledgments are due to him for his able co-operation.

The Kalíd-i-Afgháni does not profess to be a compendium of specimens of Pushto literature (Captain Raverty's Gulshani Roh being valuable selections from standard authors), but merely a Text Book for the use of students, which will enable them to acquire a practical knowledge of the language, and especially of the colloquial. With this object in view, a large portion of the work has been conceded to the two first Sections.

Although great care has been taken in revising the proof sheets, I regret to find a long list of "errata." I would therefore recommend the student to refer to the *Ghalatnáma*,† and to correct the mistakes before commencing the study of the book.

As almost every tribe has it own peculiarities of idiom, I must caution the reader against accepting merely the "dictum" of his Múnshi with respect to certain phrases and idioms which occur in the colloquial sections. That these portions of the book are free from errors is more than I dare venture to hope, but in most cases I believe that the supposed mistakes in idiom will arise from difference of tribe and district.

Peshâwar, November 9th, 1872.

T. P. H.

* The Government reward has been given to the Peshawar Mission Library.

† All these mistakes have been corrected in the Second Edition by the Publishers.

Dedicated

(WITH PERMISSION,)

TO

THE HONORABLE ROBERT HENRY DAVIES, C. S. I.,

BENGAL CIVIL SERVICE,

LIEUTENANT GOVERNOR

OF THE

PANJAB

AND ITS DEPENDENCIES,

BY

HIS OBEDIENT HUMBLE SERVANT,

T. P. HUGHES.

PK6803
.K3
1893

PRINTED AT THE MUFID-I-'AM PRESS, LAHORE,
BY MUNSHI GULAB SINGH & SONS.

0993B81
Ap 3 43

THE

KALID-I-AFGHANI,

BEING

SELECTIONS OF PUSHTO PROSE AND POETRY

FOR THE USE OF STUDENTS;

COMPILED AND EDITED

BY

THE REVD. T. P. HUGHES, C. M. S.

AFGHAN MISSION.

SECOND EDITION.

LAHORE:

MUNSHI GULAB SINGH & SONS.

1893.

All rights reserved.

THE LIBRARY OF CONGRESS
1800